# دغوايي خيرات

Ketabton.com

ليکوال: منشي پريم چند

سريزه، سمون او راښولونه: صفي الله ملاخېل

۱۳۹۴ لمريز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د غوايي خيرات

ليکوال

منشي پريم چند

پښتو ژباړن

محمد حليم ستانکزی

سريزه، سمون او تولونه

صفي الله ملاخېل

کال: ۱۳۹۴ المريز

(c) ketabton.com: The Digital Library




# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: د غوايي خيرات

ليکــوال: منشي پرېم چند

پښتوژباړن: محمد حليم ستانکزی

سريزه اوسمون: صفي الله ملاخېل

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحريك، فرهنګي څانګه

وېـبپـاڼـه: www.melitahrik.com

ډيـزايـن: ضياء ساپی

پښتۍ ډيزاين: فياض حميد

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحريك د خپرونو لړ: (۱۱۹)


يادونه: د چاپ حقوق له ملي تحريک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسوليت ليکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یادونه او مننه

له انیس ورځپاڼې د غوايي خیرات ناول د پښتو ترجمې د راټولو او د مقدمې د لیکلو په برخه کې له ما سره ګران استاد سرمحقق زلمي هېوادمل پوره مرسته کړې. ښاغلي استاد دغه ناول د متن د تدوین، تصحیح او د مقدمې د لیکلو په جریان کې ما ته لازمې رهنمایۍ کړي دي چې د نوموړي د ارزښتمنو لارښوونو له برکته دا دی د غوايي خیرات ناول پښتو ژباړه د کتاب په بڼه د ادب او فرهنګ مینه والو ته وړاندې کیږي. له ګران استاد زلمي هېوادمل څخه د زړه له کومې مننه کوم.

په درناوي

صفي الله ملاخېل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست

عنوان.......................................................................مخ
د لاربنود استاد ګزارش..........................................................الف
زما خبرې.......................................................................۱
لومړی څپرکی
د منشي پریم چند پیژندنه...........................................................۳
د منشي پریم چند زده کړې..........................................................۳
ادبي آثار.......................................................................۴
د پریم چند لنډې کیسې او ټولنیز واقعیتونه........................................۶
د پریم چند د لنډو کیسو د لیکنې بڼه...............................................۱۰
پریم چند او د اردو ژبې نني لیکوال...............................................۱۱
منشي پریم چند او هندي فلمونه...................................................۱۲
پریم چند د اردو ژبي لیکوالو له نظره.............................................۱۸
دوهم څپرکی
دغوایي خیرات لنډه شننه.........................................................۲۱
د غریبو او ناچاره کورنیو د ستونزو او...........................................۲۱
عقایدو او مقدساتو ته احترام.....................................................۲۳
د بیلابیلو ادیانو پیروان سوله ییز ژوند ته رابلل....................................۲۴
د ښاري او اطرافي ژوند تفاوتونه.................................................۲۴
پریم چند ته حیا او عزت ډېر ارزښت لري..........................................۲۴
د کورنۍ دغړو تر منځ نزاکتونه...................................................۲۵
کورنۍ اړیکې....................................................................۲۵
په ټولنه کې د ښځې په رول فلسفي بحثونه.........................................۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خرافاتو پر ضد مبارزه........................................۲۹
د ماشومانو تربیې ته توجه او شخصیت ته احترام.................۲۹
منشي پرېم چند په مینه کلک باور لري..........................۳۰
په ټولنه کې د نارینه او ښځې د رول بیانول......................۳۱
پریم چند افغان داسې انځوروي.................. ..... ..........۳۲
بشر دوستي.......................................................۳۴
د طبي بوټو د درملنې رازونه راښیي.............................۳۵
ښکار..............................................................۳۵
منشي پریم چند د ټولنې د پرمختګ لپاره.. ...... ... ...........۳۶
د فساد غندنه.....................................................۳۶
د ورزش او ورزشکار ستاینه......................................۳۶
په روشنفکرۍ باور درلودل.......................................۳۹
زده کړو ته اهمیت ورکول..... ..... .............................۳۹
مفید او ملي سیاست کول.........................................۴۰

درېیم څپرکی

ژباړه او اهمیت یې............................ ..... ..... ..... ..۴۱
د ادبي آثارو ژباړه .. ...........................................۴۲
د ښه ژباړن اوصاف ... ..........................................۴۴
د ښې ژباړې اوصاف . ........... ...............................۴۵
د پرېم چند خیرات پښتو ژباړې..................................۴۶

څلورم څپرکی

د غوایي خیرات........................... ..... ................۴۸
ماخذونه ...........................................................۱۸۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحريك يادښت

د افغانستان ملي تحريك د (۱۳۹۳ ل) کال په پيل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهير کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل ديني، علمي، ادبي او ټولنيز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحريک دا ژمنه د ياد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د يوې پرتمينې غونډې په ترڅ کې يې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحريک په ياده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهير کې به انشاء الله د خداى (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبيعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دى، ډېر زيات زيار او زحمت ته اړتيا لري، خو ملي تحريک ټينګ هوډ کړى چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دى د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دى، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحريک هيله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحريک له ټولو هغو ليکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندويانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهير کې يې يو بل سره مرسته او ملګرتيا کړې او دا فرهنګي بهير يې بريالى کړى، د زړه له کومې مننه کوي او کور وداني ورته وايي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هيله

د افغانستان ملي تحريک فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لارښود استاد ګزارش

د تېزس نوم: د منشي پريم چند خيرات

څېړونکی: صفي الله ملاخېل

د څېړنې هدف: د ماسترۍ تحصيلي دورې تېزس

د ليکلو کال: ۱۳۹۴ هـ ش

لارښود: سرمحقق زلمی هېوادمل

د دې تېزس اساسي موضوع، د منشي پريم چند د (خيرات) نومي ناول ټولونه، سمونه او تدوين دی. د دې ناول پښتو ژباړه په ۱۳۷۰ هـ ش کال په اقساطو د انيس په ورځپاڼه کې چاپ شوې وه. ده دا ناول په ډېر کړاو د انيس ورځپاڼې له بېلابېلو ګڼو راټول کړی، سم کړی او بيا يې د ناول بشپړ متن تدوين کړی او په حقيقت کې د دې ناول دا پښتو ژباړه يې تياره کړې او يو نوی متن يې زموږ فرهنګي حلقو ته وړاندې کړی دی. د انيس ورځپاڼې د يادو ګڼو ـ چې ناول په کې خپور شوی دی ـ د پيدا کېدو تکاليف او مشکلات ښاغلي څېړونکي په خپله سريزه کې ښوولي دي.

له دې سر بېره ښاغلي څېړونکي د ناول، د ناول د ليکلو او ژباړې په باب تر ممکنه حده معلومات را پيدا کړي او په مقدمه کې يې راوړي دي. د ناول د ژباړې، د ناول د محتوا د تحليل او هم په فرهنګ کې د ژباړې پر ارزښت څېړونکي په ځانګړيو څپرکيو کې خبرې کړې دي.

ميتود:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د منشي پريم چند د خيرات متن د معاصرو اصولو او روشونو سره برابر تدوين شوی دی او په مقدمه کې د شويو تحقيقاتو او مباحثو په بشپړولو کې دا تېزس د تشريحي ميتود تابع دی.

**نتيجه:**

ما چې د دې متن په تدوين، تحليل او تشريح کې د ده کارونه وکتل، د معاصر تحقيق او تدوين له اصولو سره برابر دي او د ماسترۍ د تحصيلي دورې د يوه تېزس شرايط يې زما په پوهه پوره کړي دي، نو ځکه زه محترم بورډ ته پيشنهاد کوم چې دا تېزس د دفاع غونډې ته وړاندې شي.

په درناوي

سرمحقق زلمی هېوادمل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما خبرې

د منشي پرېم چند د غوايي خيرات د ناول پښتو ژباړه په ۱۳۷۰ کال کې د انيس په ورځپاڼه کې خپره شوې وه. دغه ژباړه په يوه مشخص ځای کې خوندي شوې نه وه، بلکې خوره وره وه او علت يې هم دا و چې هغه وخت په افغانستان کې جګړې وې او د انيس اخبار په منظم ډول په هيڅ اداره کې نه و کليکسون شوی. کله چې ما د ماسترۍ د تېزس لپاره دغه موضوع وټاکله نو د ناول تر ټولو مخکې بايد د دې درک معلوم کړی وای چې د ياد ناول پښتو ترجمه بشپړه پيدا کولی شم که نه؟ نو مې يو ځل د کابل عامه کتابخانې ته سر ورښکاره کړ، هلته مې وليدل چې ياد کتابخانه کې د ۱۳۷۰ لمريز کال انيس اخبار په پوره ډول نه دی خوندي شوی، يعنې په هره مياشت کې څو ورځې له خوندي کېدو پاتې شوې، ځکه خو ناول نيمګړی و، زړه مې خفه شو؛ بيا لاړم د انيس ورځپاڼې مرکزي دفتر ته ما ويل هغوی خو به حتماً خپل اخبار په منظم ډول خوندي کړی وي، خو چې هلته لاړم د انيس ورځپاڼې يوه مسوول چې د يوه زوړ مېز تر شا ناست و، کښېنولم او د زړه خواله يې راسره وکړل.

د انيس ورځپاڼې ياد مامور د کيسو په لړ کې راته د کورنيو جګړو په وخت کې د خپل اخبار کيسه وکړه، هغه راته وويل چې د وخت ټوپکسالاران راغلل او موږ ته يې د خلقي او پرچمي په نوم ښکنځلې وکړې، وهل ډبول يې راکړل او د اخبار ټول وسايل او وسايط آن تر ستېپلره يې له ځانه سره يوړل او ودانۍ ته يې اور واچاوه.

د انيس اخبار ياد مسوول زياته کړه چې اوس ورسره د حامد کرزي له دورې وړاندې د انيس ورځپاڼې يوه پاڼه اسناد هم نه شته، يوه شوم چې دلته هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کار ونه شو. خفګان مې څو چنده شو، ځکه د انیس ورځپاڼې مرکزي دفتر چې زما ترې ډېره تمه کېده هم را سره همکاري ونه شوای کړای.
له دې وروسته راته فکر پیدا شو چې د چاپي رسنیو او اسنادو د خوندي کولو یو بل مرکز د افغانستان د علومو اکاډمۍ کتابخانه ده، په همدې خاطر څو ورځې وروسته مې دغې کتابخانې ته سر ورښکاره کړ، هلته مې د کتابخانې له یوې مسوولې څخه د انیس ورځپاڼې د ۱۳۷۰ کال کلیکسون وغوښت، هغې راته د یادې ورځپاڼې د اویایم کال درې ټوکه کلیکسون راکښته کړل.
کله چې مې دغلته یاد ناول وکوت ومې لیدل چې د ناول یوه ډېره زیاته برخه خوندي ده، خو یوه ـ نیمه
په دغه ځای کې هم نه ده خوندي شوې، له یوې خوا خوشحاله شوم خو له بلې خوا په دې خاطر اندېښمن وم چې هغه برخې چې دلته هم نه دي خوندي، هغه به څنګه پیدا کړم؟ نو مې ژر ژر هغه برخې چې د علومو اکاډمۍ په کتابخانه کې خوندي وې له ځان سره نوټ کړې، بیا لاړم د کابل عامه کتابخانې ته، هلته مې وکتل چې هغه برخې چې د علومو اکاډمۍ په کتابخانه کې خوندي شوې نه وې، دلته خوندي شوي دي، یو ځل بیا مې د اخبار ټولې ګڼې د تاریخ او ورځو په اساس دقیقې وکتې او پوه شوم چې هیڅ برخه یې کمه نه ده، نور مې نو زړه پوره ډاډه شو او د ناول په راټولولو مې پیل وکړ او دا دی نن مې خپل کار پای ته ورساوه او د غوايي خیرات ناول پښتو ژباړه مې د منشي پریم چند له لنډې پېژندنې سره د یوه اثر په توګه د علم او ادب مینه والو ته وړاندې کړ.

په درناوي

صفي الله ملاخېل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د منشي پريم چند پېژندنه

دهنپترای چې په منشي پريم چند مشهور و نه يوازې د هند په پراخه خاوره کې د اردو ژبې لومړنی کیسه لیکونکی ګڼل کيږي، بلکې هغه د خپلو آثارو په وجه په هند کې د اردو ژبې د لنډې کيسې ليکنې څانګې ته دومره شتمني ور بخښلې ده چې وروسته تر هغه هلته هېڅکله ددغه ادبي ژانر د زوال وېره احساس نه شوه.
غواړم هغه څه چې مې له اردو منابعو څخه د منشي پريم چند ژوند، ادبي کارونو او آثارو په اړوند په پښتو ژباړلي دي وړاندې کړم. څو د دغه نامتو ليکوال د نړۍ ليد، فکر، ژوند او ليکنو سره يو څه اشنا يي پيدا کړو.

## د منشي پريم چند زده کړه:

منشي پريم چند د ۱۸۸۰ عيسوي کال د جولای د مياشتې په يودېرشمه نېټه د هند د بنارس د ښار(۱:ج) څلور کيلو متره لرې د لمهې په کلي کې زيږيدلی دی. د ده اصلي نوم دهنپترای و.(۲: ۴۵۰) د د ه پلار عجايب رای د ډاک په محکمه يعنې پوستي شعبه کې د مياشتې په شل روپۍ نوکري کوله. د پلار له مړينې څخه په پنځلس کلنۍ کې د (شيوراني) په نامه نجلۍ سره واده وکړ. عجايب رای له اردو ژبې سره ډېره مينه لرله او دغه علت و چې پريم چند ته هم په اول سر کې د اردو پوهه او تعليم ورکړ شو. دغه پوهنه د پنځو کالو په عمر کې شروع شوې وه . ابتدايي درس يې له مولويانو څخه تر لاسه کړ. له هغه نه پس په کاشي کې يې په کويز کالج کې داخله واخيسته او له همدغه ځايه يې د انټرنس امتحان پاس کړ .

د انټرنس په ازموينه کې په ناکامېدو له کالج څخه ووت او د مياشتې په اتلس روپۍ يې د استادۍ نوکري شروع کړه. په ۱۸۹۹ عيسوي کال کې د ښوونځي د ښوونکي په توګه وګومارل شو چې په هغه زمانه کې د مياشتې اتلس هندي روپۍ يې معاش اخيست.. ورو ورو يې دغه کار پرېښود، بيا سب ډيپټي انسپکټر شو او بيا يې د ډيپټي انسپکټر درجې ته ځان ورساوه، له دې سره سره يې تعليم هم جاري وساته او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شخصي يعنې پرايوېټ امتحان په واسطه يې B.A وکړه. په ۱۹۲۲ عيسوي کال کــې يې د ( جليان واله) د پېښې او د ( عدم تعاون) د نهضت په نتيجه کې لــه کــار څخــه استعفا وکړه، ده د خپلو ازادانه خيالاتو له کبله پر ۱۹۲۰ ميلادي کال کــې ســرکاري نوکري پرېښوده او د عدم تعاون په تحريک کې ورګډ شــو(۳ : ۱۴۶) او بيــا د ۱۹۳۶ عيسوي کال د اکتوبر د مياشتې اتمې پورې په بيلابيلو وختونو کې د مختلفو ورځپاڼو او مجلو په ادارو کې د يو مطبوعاتي کار کوونکي( مطبوعاتچي) په توګه بوخت و.

ده د ماهوري، نس او جايرن نومو مجلو مديريت وکړ او پر ۱۹۳۹ ميلادي کال د يوې مهلکې ناروغۍ جلودر په واسطه په بنارس کې په حق ورسېد.

## ادبي آثار:

پر يم چند له کوچنيتوب نه د کيسو او ناولونو له لوستوسره شوق درلود . د ديارلســو کالو په عمر کې يې بې شماره کتابونه لوستي وو . د رتن ناتهــ سر شار، مرزا رسوا او د مولانا شرر په تصنيفاتو ډېر مين و، لکه وړاندې مو چې وويل د ده د کوچنيتوب نــوم دهنپت راى و ، خو د ده تره به دى د نواب راى په نوم ياداوه. ده ليکوالي په اردو ژبه کې پيل کړې ده او د نواب راى په نوم يې کيسې ليکلې، د ده لومړۍ کيسه " ثنار کــا سب سې انمول رتن " د اردو په مشهوره مجله " زمانه" کې پر ۱۹۰۷ ميلادي کال چاپ شوې ده . څه وخت چې د ده د اردو ژبې د کيسو يوه مجموعه انګريزي حکومت ضبط کړه، نو ده د پريم چند په نوم ادبي کار شروع کړ او په همدغه نوم يې شهرت وموند.

په هندي ژبه کې دده لومړنۍ چاپ شوې کيسه " پنچ پر ميشور" نومېده.(۴ : د) ده په خپل ژوند کې ۳۵۰ کيسې او ۱۳ ناولونه وليکل . د ده کيسې په " ماسرور مينۍ" چې اته جلده دي او " ګوپت دهن" کې چې دوه جلده دي چــاپ شــوي دي . سيواســدن، پرتګيا، وردان، نرملا، کرم بهومي، رنګ بهومي، غبن، پريم اشرم، کآيا کلپ او ګودان د ده نامتو او باشهرته ناولونه دي .(۵ : ۱۴۶) د منشي پريم چند د کيسو او نــاولونو لــه مطالعې څخه موږ دې نتيجې ته رسيږو چې د هغــه لــوى صــفت د نومــوړي پراخــه خواخوږي او همدردي ده. هغه د فرد لپاره هيڅکله هم بې رحمه نه دى. له ګناه څخه کرکه کوي؛ مګر له ګهنګار څخه نه غواړي نوموړي پوه کــړي چــې ځــان وپيژنــي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اصلاح وکړي. پریم چند د لیکنو پر مهال هڅه کوي چې ځان له هر ډول افراط څخه ازاد وساتي او پر رښتیاوو او حقایقو ولاړې لیکنې یې کړي دي.(۶ :۲۷۱)**

**د پریم چند لنډې کیسې، نندارلیکونه او ځینې نورې متفرقې لیکنې سربېره پر ادبي ارزښت د زیات تاریخي ارزښت لرونکې هم دي.(۷ : ۱۳۶)**

**۱ . د پریم چند له داستاني مجموعي چې په ۱۹۰۹ کال کې خپره شوه:**

**۲ . پریم پچیسي، د کیسو مجموعه( په دوه برخو کې)**

**۳ . پریم بتیسي، د کیسو مجموعه ( په دوه برخو کې.)**

**۴ . پریم چالیسي؛ د کیسو مجموعه ( په دوو برخو کې)**

**۵ . زاد راه، د کیسو مجموعه.**

**۶ . دود کي قیمت ( د شیدو بیه) د کیسو مجموعه.**

**۷ . فردوس خیال، د کیسو مجموعه.**

**۸ . واردات، د کیسو مجموعه.**

**۹ . اخري تحفه؛ د کیسو مجموعه.**

**۱۰ . خواب و خیال، د کیسو مجموعه.**

**۱۱ . خاک پروانه، د کیسو مجموعه.**

**۱۲ . دیهات کې افساني ( د کلي کیسې)**

**۱۳. میري بهترین افسانې ( زما ښې کیسې) په دغې مجموعه کې هغه کیسې شاملې دي چې په خپله پریم چند غوره کړې دي.**

**۱۴ . باز یافت.**

**۱۵. خون سفید.**

**۱۶ . پریم چند کي منتخب بهترین افسانې ( د پریم چند غوره شوې ښې کیسې. ) دا مجموعه په ۱۹۸۶ عیسوي کال کې د دوهم ځل لپاره په لاهور کې خپره شوې ده.**

**۱۷ . اسرار محبت؛ د پریم چند لومړنی ناول چې په۱۹۰۹عیسوي کال کې خپور شوی دی.**

**۱۸ . سیواسدن.**

**۲۰ . غبن.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۱. ګودان، په ۱۹۳۲ عیسوي کال کې خپور شوی دی.
۲۲. میدان عمل، په ۱۹۳۲ کال کې خپور شوی دی.

پریم چند سربیره پر دغو آثارو، څو نورې کیسې هم لري چې په ځانګړې توګه د فلم جوړوونکو لپاره کښل شوي دي، څو د هغو پر بنسټ فلمونه جوړ شـي چـې پـه دې برخه کې به وروسته څو خبرې ولرو.

همدا راز ځینې محققین عقیده لري چې د ( مسافر) تر عنوان لاندې یـوه داسـتاني مجموعه هم د پریم چند له آثارو څخه ده حال دا چې دغه اثر د منشي پریم چند لـه آثارو څخه نه دی، بلکې د کوم بل لیکوال اثر دی او په مبهم ډول سره د پریم چند د نوم یادونه، د هغه له نوم او شهرت څخه په ګټه اخیستو دلالت کوي.

په مجموعي توګه د پریم چند د لنډو کیسو شمیره دوه سوه پنځه اویاوو ته رسـیږي چې د اردو ژبې ډېر لږ کیسه لیکونکي د کیسو د معیار او شمیر له مخې د هغه سـره سیالي کولی شي.

## د پریم چند لنډې کیسې او ټولنیز واقعیتونه:

پریم چند تر زیاتې اندازې له ګورکي او تولستوی څخه متاثر دی. نومـوړي د دولتـي دندې تر پریښودو وروسته د هند د بزګرانو په باره کې لیکنې پیل کـړې. نومـوړي د دغه کار لپاره د کلي ژوند اختیار کړ او د هندي ټولنې نـاوړه رسـم او رواجونـه یـې غندلي دي.(۸: د)

که د پریم چند لنډې کیسې په غور سره ولوستل شي نو لوستونکی په اسانۍ سره په دې حقیقت پوهیدلی شي چې د دغه نومیالي لیکوال ځینــې کیســې د یــوې اوږدې مودې څخه وروسته نن هم د مطالعې خاوندانو ته په زړه پورې دي.

ځینې کیسې یې د کیسه لیکنې د فن له پلوه دومره بشپړې ښکاري چــې پــر هغــو باندې بل هیڅ شی نه شو زیاتولی. که د پریم چند د لنډو کیسو مجموعو ته نظر وکړو نو دا ټکی جوتیږي چې د نوموړي مجموعې د معیار او کیسه لیکنې د فن له پلوه، سره یو شان نه دي. د بیلګې په توګه د ( سوز وطن) د مجموعې د کیسې د کیسه لیکنــې دفن د ادبي معیار په لحاظ د وروستیو مجموعو د کیسو سره زیات توپیر لري او مــوږ نه شو کولی چې د (سوز وطن) کیسې د اوسنیو کیسو په کتار کې شاملې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ( پر بهم پچسي) د مجموعې کیسې د کیسه لیکنې د فن په لحاظ خامې ښکاري، خو کولی شو په هغو کې د لنډې کیسه لیکنې لومړني شرطونه ومومو. په نومـوړو کیسـو کې په کلیشه یي توګه او د رومانتیزم له دایرې څخه ژوند ته نظر شوی دی. د پېښـو تسلسل په کې طبیعي نه، بلکې تصنعي بریښي.

د ( پر بهم بتیسي) د مجموعې کیسې هم په همدې بڼه او فورم کښلې شوې دي. خو د مخکینۍ مجموعې د کیسو په پرتله ښې لیکل شوې دي. که له دغو مجموعـو څخـه تېر شو او د (پر بهم چالیسي) مجموعه مطالعه کړو، نو له داسې کیسو سره مخامخ کیږو چې د مخکینۍ مجموعې له کیسو سره زیات توپیر لري او پـه خپلـه پـر بهم چنـد د لیکوالۍ په میدان کې د زیات ریاضت څخه وروسته، نوی د لنډې کیسې لیکنې په فن باندې د منلو وړ حاکمیت موندلی دی. له دغو کیسو نه څرګندیږي چې پر بهم چنـد د مینتوب له خیالي نړۍ څخه راوځي، د ژوند ترخو حقیقتونو ته نظـر کـوي او پـه دې پوهیږي چې نړۍ د شاعرانه انصاف چاپیریال نه دی او ښایي نړۍ د بې عدالتیو ځـای وي. په دې نړۍ کې یو تن د خپل استعداد څخه زیات له هغه څـه نـه چـې زړه یـې غواړي، ګټه اخلي او بل ډېر لږ خپلو هیلو ته رسیږي. یو تن د اړتیا څخه زیات آرامي، سوکالي او خوښي تر لاسه کوي او بل خپله خوله او وینه سره یوه کوي خو بیا هم ډېر لږ مقصد ته رسیږي.

پر بهم چند له دې حقیقت سره اشنا کیږي چې د نړۍ ټولې دوسـتي اخـلاص او مینـه عارضي بڼه لري او انسان د خپلو هیلو، غوښتنو او حسد د لاس آله دی. لنډه دا چـې هغه د ژوند په حقیقت او راز ښه پوهیږي د ریالیزم د سبک د غوره کولـو پـه خـاطر هڅه او هاند کوي او په خپلو وروستیو داستاني مجموعو کې همدغه سبک په پام کې ساتي، خو د پر بهم چند د ذهني ارتقا د لوري د درک کولو په خاطر د هغـه د لومړنیـو کیسو مطالعه هم ضروري انګیرله کیږي.

( راه نجات) او ( کفن) د پر بهم چند  ریالیستیکي کیسې دي چې پـه کـې د ژوندانـه ترخه حقیقتونه په یو هنري فورم کې انځور شوي دي. د زمانې په تیریدو سره پـر بهم چند د یو مترقي لیکوال په توګه پیژندل کیږي. د مترقي انسان له نظره انسـانان پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

فطري لحاظ سره نیک وي. دا د ژوندانه د چاپیریال اغیزې دي چې هغوی د بدیو خوا ته راکاږي.

د (راه نجات) په کیسه کې ښودل شوي دي چې د انسانانو طبیعي او فطري کمزوري د تراژیدیو د رامنځته کیدو سبب کیږي او پر یو چند د اروا‌پوهنې د یـو متخصـص پـه توګه، د انسان په باطن کې پټې بدی، د تراژیدیو د ایجاد سبب ګڼي د (شیدو بیـه) او (تنګسیا) د هندوانو د عقایدو او دودونو پر اساس کښلې شوې کیسې دي. پـه هغـو ټولنو کې چې د کونډو ښځو دوهم واده نا مناسب ګڼل کیږي او د خلکو د ټیټو پرګنـو سره ناسته ولاړه غوره نه انګیرل کیږي، په هغو ټولنو کې داسې پیښې چې پـه دغـو دوو کیسو کې انځور شوي دي، زیاتې پیښیږي.

دا دوې کیسې څکه د پر یو چند په اصلاحي کیسو کې شمیرل کیږي چې هغه د خپلو دغو دوه کیسو په وجه د ټولنې د پوهو او باخبرو وګړو پاملرنه د کونډو ښـځو دوهـم واده او د ټولنې د وګړو د پرګنو تر منځ د توپیرونو له منځه وړلو ته اړوي.

«لاتري»، شکوه «شکایت» او «مشر ورور» د پر یو چند طنزیه کیسې دي. پر یو چند په خپلو دغو کیسو کې په انساني کمزوریو او نواقصو انتقاد نه کوي، بلکې د خندا او ټوکو سره د لوستونکو پام ورته اړوي. کله چې لوستونکي نوموړو نقصونو ته متوجه کیـږي نو فکر کولو ته یې اړ باسي. لوستونکی به زیات وخت ته اړتیا نه لري څو دا نتیجه تـر لاسه کړي چې انسان په بنسټیزه توګه د خطا او نسیان ناروغ دی او د انسان ظاهوري بڼه او باطن سره یو شان نه دی. انسان تل د خپلو عیبونو څخه سترګې پټوي او د نورو د عیبونو په ښکاره کولو پسې لالهانده وي.

ښځه د مېړه پر کړو وړو انتقاد کوي، حال دا چې هغه یې خوښیږي. مشر ورور ځای او بې ځایه پر کشر ورور منت کوي او د قضیې معکوس هم امکان لري او که چیرې ګټـه په منځ کې وي، نو ملګری بل ملګري ته دوکه ورکوي. غرض دا چې انسان دوسـتي، نږدیوالی او اړیکې، ډېر ځله یوې نازکې مرحلې ته رسیږي او له منځه ځي. په نړۍ کې داسې پېښې زیاتې رامنځته کیږي او که د دغو پېښو معکوسي پېښې رامنځته شي نو د تعجب وړ بریښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قزاقي يوه عاطفي کيسه ده، خو له سلګونو حقيقتونو څخه ښکلی، قزاقي د اردو ژبې په کیسو کې یوه نه هیریدونکې او ژوندۍ څېره ده. دغه کیسه د ماشومتوب د دورې د یادونو د رنګ او بوی په لرلو سره لوستونکی د ماشومتوب د زمانې یادونو ته راکاږي. د هغې زمانې یادونو ته چې په هغه کې کاینات مورِ ته د یوې نــوې تجربــې حیثیــت درلود او هر څه مورِ ته ټوله خوښي وه.

پریم چند په «لاټري»، « راه نجات»، «تنګسیا»، « د شیدو بیه» او خپلو ځو نوروکیســو کې د خپل ټولنیز ژوند د تیارو کیسه ځانګړی ارزښت لرونکې او د ریالیزم د سبک د یوه غوره بیلګه ده، چې په پوره بې رحمۍ سره د کاغذ پر مخ کښله شوې ده. دا چې غربت او تنګسیا څومره انسان ټولنې ته بې احساس او خود غرضه وړانــدې کــوي، د کیسې موضوع جوړوي.

په کیسه کې لیدل کیږي چې «ګیسو» او « مادهو» څومره بې رحمه ښکاري، خــو پــه کومه څېره کې چې را انځور شوي دي، حق د هغو په لوري بريښي. د هغوی د خبــرو اترو څخه د لیکوال د ټولنې د خلکو پر دودونو باندې نیش لرونکی طنز وریږي.

« میسرِ وویل: د مړي د سوزولو لپاره خو مو خس لاس ته راوړل. ما هو وویــل: هلتــه خس زیات شته. اوس باید کفن واخلو.

ـ څه ناوړه دود ! هغه څوک چې په خپل ټول ژوند کې د اغوستلو لپاره کوم شی ونــه موند پس له مرګه باید ورته نوی کفن واخلو.

ـ کفن هم د مړي سره سوزي.

ـ نو څه پاتې کیږي. که همدغه پنځه روپۍ مو د مخه لاسته راوړې وای نو د هغه پــه علاج او دارو درمل به مو مصرف کړې وای»

منشي پریم چند نه یوازې د ژوند تیاره اړخونه، بلکې د ژوند روښانه ګوښې هم پخپلو کیسو او ناولونو کې انځوروي. د هغه په نظر، انســان یــوازې د خپلــو هیلــو، حــرص، غوښتنو او غرض په منګولو کې راګیر نه دی، بلکې د نیکــۍ د احســاس څخــه هــم برخمن دی. دا یو حقیقت دی چې د ژوند په لاره کې په هر قدم کې د خنډونو ســره مخامخ کیږو، خو نیک انسانان هم په نړۍ کې شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که داسې نه وای نو نړۍ به د ویرې نه ډک ځای و. مینه او دوسـتي، فـرض پیژندنـه، صداقت، رښتینوالی او انصاف به هیڅ موجود نه و، که نړۍ له دومره بدیو سره سره، په زړه پورې او د خوښې ځای دی سبب یې دا دی چې نړۍ په بشپړه توګه د تیارو زړونو پناه ځای نه دی، بلکې د هر انسان په زړه کې د نیکۍ او ښیګڼې احساس هـم شـته. یوازې باید هغه ولټول شي او په مناسبه توګه سره، روښانه کړای شي. په همدې وجه، پریم چند د ژوند د روښانو ګوښو عکاسي هم کوي.

د «طلوع محبت»، «عیدګاه» او «قزاقي» په کیسو کې د ژوند د روښانه ګوښو انځورونه د لوستونکو مخې ته ایښودل کیږي. داسې ښکاري چې د پریم چند کیسې د لمـر او سیوري، خیر او شر انځورونه دي. همدې ته باید ریالیزم وویل شي او که نه نو یوازې د ژوند د تیارو ګوښو عکاسي ته ریالیزم نه شو ویلی.

## د پریم چند د لنډو کیسو د لیکنې بڼه:

د پریم چند د دوه سوه پنځه اویا کیسو د لیکنې سبک او بڼې په باب د معلوماتو ارائه کول څه آسانه کار نه دی په دې لیکنه کې یوازې د هغه د څو لنډو کیسـو پـه بـاب خبرې لرو چې د هغه د کیسه لیکنې د بڼې او فورم سره مو تر یوې اندازې پورې آشنا کوي.

د پریم چند د « نړۍ قیمتـي مرغلـره»، «راه نجـات»، «عیـدګاه»، «دوې خوینـدې»، «پنچایت»، «طلوع محبت»، «شکوه شکایت» او څو نورې کیسې پـه سـاده بڼـه او د بیانیې په شکل کښل شوي دي او په ځینو دغو کیسو کــې د کیسـو د کرکټرونـو او څېرې د خبرو اترو او عمل په لحاظ سره د کیسو په بهیر کې ډېره لـږه برخـه لـري. کیسه د خپل لیکوال او یاد کرکټرونو د یوه تن له ژبې څخه بیانیږي، خو له دغو کیسو څخه هره یوه، د لیکنې جلا بڼه لري. د بیلګې په توګه « دخانه داماد» کیسه د بیانیې په شکل پیل کیږي. په منځ کې د فلش بیک « ګذشته نګـري» تکنیــک تــه اوړي او وروسته د بیانیې په شکل پر مخ ځي. د پای نه لږ څه دمخه بیا د فلش بیک تکنیــک تعقیبوي.

د « مشر ورور» او « شکوه شکایت» کیسې د واحد متکلم له ژبې بیانیږي. دا کیسې د خپل لیکوال له ژبې څخه نه، بلکې د خپل اتل د کشر ورور او ښځې له ژبو بیانیږي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

واحد متکلم بیان د پېښو له کړۍ څخه آزاد دی او د ژوند په څېر آزاد تسلسل لـري. په دې وجه زيات حقيقي او واقعي برېښي.

منشي پريم چند خپلې کيسې په موزون او لنډ ډول او هيڅکله د تفصيلونو راوړلو ته تيار او مايل نه دی. د کيسې په بيانولو د جزئياتو د يادونې څخه يــوازې دومــره ګټــه اخيستې ده چې د پېښو اغيزه يې زياتوله. د پريم چند د کيســو پــه لوســتلو ســره لوستونکو ته دا احساس نه پيدا کيږي چې هغه به د حاشــيو او زوايــدو څخــه ګټــه اخيستې وي.

پريم چند په دې عقيده دی چې لنډه کيسه پرته له پېښو څخه وړاندې قدم نه شــي اخيستی. هغه هيڅکله کيسه په طرحه نه بدلوي او د رواني مسألو په اوږدو تشريحاتو او توضيحاتو، د پېښو د کمښت د جبران هڅه نه کوي. د هغــه د ليــد ســاحه دومــره پراخه ده چې نه پريږدي، د کيسې لوستونکی له هغه نه د باندې قدم کيــږدي. نننــي کيسه ليکونکي هم کولی شي د هغه د کيسو له لوســتلو څخــه دا زده کــړي چــې د کيسې پلات(ساحه) د کيسې د ملا د تير حيثيت لري. د حادثو د منطقي تسلســل د ساتلو نه پرته ښه کيسه ليکل زښت ګران کار دی او که د مطلب بيــانول د حــادثو د تسلسل څخه په ګټه اخيستو سره صورت ونيسي نو ليکوال کولی شي په بري ســره ښه کيسه وليکي.

## پريم چند او د اردو ژبې نننی ليکوال:

پريم چند هغه ليکوال دی چې خپل ځانګړی او د ستاينې وړ ادبي موقف يې تر پايــه وساته. تر اوسه پورې د اردو ژبې هيڅ يو کيسه ليکونکی هغه ادبي موقف ته نــه دی رسيدلی چې پريم چند تر لاسه کړی و. د اردو ژبې هيڅ يو ليکوال په يو وخت کې په کيسه ليکنه او رومان ليکنه کې د پريم چند تر انــدازې پــورې شــهرت تــه نــه دی رسيدلی.

په تيرو وروستيو کلونو کې پريم چند د ادبي ژوند او تخليقي کارونو پــه بــاب زيــات تحقيقي او تنقيدي کارونه سرته رسيدلي دي او د هند د زياتو ادبي منتقدينو پاملرنه يې ځان ته را اړولې ده. په دې برخه کې د «منشي پريم چند» تر عنوان لاندې د هند د نوميالي ليکوال « مدن ګوپال» يو تصنيف په تحقيقي لحاظ سره يو ښه اثر دی چــې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مستندو مآخذونو څخه په ګټه اخیستلو سره د پریم چند نـړدې د تولـو کیســو د کښلو نېټې هم په کې راغلي دي.
« د پریم چند غوره شوې ښې کیسې» د هغه داستاني مجموعې نوم دی چې د ډاکتــر خواجه محمد ذکریا له خوا تصنیف او په ۱۹۸۶ عیسوي کال کې د دوهم ځل لپاره په لاهور کې خپره شوې ده. په دغه کتاب کې د پریم چند پنځه ویشــت کیســې غــوره شوې دي چې د کتاب په لومړي سر کې د مصنف له خوا د پریم چند د لنډو کیسو یو لنډ جاج هم اخیستل شوی.
په همدې توګه د پریم چند د ژوند او ادبي کارونو په باب د لیکنو په لړ کې د « فلمــي ستاري» د میاشتنۍ مجلې د ۱۹۸۷ عیسوي کال د جنوري د میاشتې په ګڼه کې چې په ډیلي کې خپریږي د « منشي پریم چند او هندوستاني فلمونه» تر سرلیک لاندې د کشمیر د پوهنتون د اردو ژبې د ډیپارټمنټ د استاد ډاکټر برج پریمــي یــوه لیکنــه خپره شوې ده چې د هندوستاني فلمي نړۍ په باب د پریم چند د نظر څرګندونه کوي او د هغه ځینې نور ادبي کارونه راپه ګوته کوي. بده به نه وي چې نوموړې لیکنې تــه هم یو نظر وکړو.

## منشي پریم چند او هندي فلمونه:

د هندي فلمي نړۍ له راز راز رنګینیو څه ډکه ده چې هم یې ډېر ستر ادبي او هنــري خدمتونه سرته رسولي دي او هم یې د لوټماري اسباب راغونډ کړي دي. فلمي نــړۍ دومره زړه وړونکې ده چې هر لیدونکی له لرې څخه د هغې پر ښکلا زړه بایلي. همدا وجه ده چې هر لیدونکی له لیرې څخه د هغې پر ښکلا زړه بایلي. همدا وجه ده چــې سربیره پر نورو خلکو زیات شمیر د قلم خاوندان هم فلمي نړۍ ته مخه کوي. د ادب د نړۍ ډېر ښه او تکړه لیکوال ددغې نړۍ تر مقناطیسي اغیزې لاندې راغلی او خپل هر څه یې له لاسه ورکړي دي. په دغو لیکوالانو کــې د جــوش، ســاغر، کرشــن چنــدر، بګوتي، ججرن ورما، امرت لال ناګر، منټو، عباس، پندرناتهـ اشک، جان نثــار اختــر، مجروح، سردار او کیفي نومونه یادولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه ليکوال فلمي نړۍ ته راغلل، تر يوې مودې پورې پاتې شول او بيا له ناهيليو سره ستانه شول. د اديبانو او شاعرانو په دغې ډله کې د اردو او هندي ژبو د ادبياتو نوميالى او ستر شخصيت پريم چند هم شامل دی.

پريم چند د خپل ژوند په وروستيو کلونو کې له مړينې څخه يوازې دوه کاله دمخه په فلمي نړۍ کې قدم کېښود. تر هغه وخت پورې هغه په اردو او هندي ژبو د خپل قلـم جوهر پر نورو باندې منلى و. د هغه ناولونه او کيسې په ادبي کړيو کې هنگامه جـوړه کړې وه.

د ۱۹۳۴ عيسوي کال د جون په مياشت کې پريم چند د بمبيي په مشـهورې فلمـي کمپنۍ«اجنتا سنيټون» کې د اته زرو هندي روپيو په بدل کې د يوه کلن قرار داد پـر بنسټ فلمي نړۍ ته ور ننووت.

هغه يوازې د يوه کال لپاره قرار داد وکړ. د غږ لرونکو فلمونو زمانه رارسـيدلې وه او د فلم جوړولو صنعت يو نوي پړاو ته ننوتى و. « عالم آراء» لومړى غږ لرونکى فلم و. لـه هغه نه وروسته د شيرين او فرهاد، نور جهان، جود ياکرارجه، مآيـا مجنـدر، امـرت، منتن او حاتم طايي په شان تاريخ جوړوونکو فلمونو د هند په سينما کې يو نوى بـاب پرانيست.

د فلمي نړۍ د واک خاوندان د پريم چند د ادبي حيثيت څخه ښـه خبـر وو. هغـوى غوښتل چې د پريم چند د استعداد، محبوبيت او شهرت څخه کار واخلي. گټه ترې تر لاسه کړي او خپلې کڅوړې په روپيو ډکې کړي. هغوى د پريم چند په شان ليکوالانو ته اړتيا درلوده چې د په زړه پورو او ښو کيسو د ليکلو استعداد ولري، نو ځکه هغوى د پريم چند په فکر کې شول.

له بلې خوا څخه د پريم چند اقتصـادي وضـعه هـم ښـه نـه وه. هغـه د خپلـو دوو ورځپاڼو(هنس) او (چاگون) به وجه زيات پوروړى شوى و. په دې هيله چـې يـو څـه پيسې وگټي او د خلکو پورونه ورکړي. فلمي نړۍ ته يې د راتلو پريکړه وکړه او خپل ملگري سنياريو ليکونکي ( جيتندر کمار) ته يې په لاندې متن يو ليک وليږه.

« د بمبيي يوه فلمي کمپنۍ بلنه راکوي. د معاش خبره نه ده د قرارداد خبره ده. د کال اته زره روپۍ زه دې حال ته رسيدلى يم چې غواړم د يوه کال لپاره هلتـه ولاړ شـم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته به پس له یوه کاله داسې قرارداد وکړم چې درې څلور کیسې ولیکم او څلور پنځه زره روپۍ لاس ته راوړم، نو بیا به په هغو روپیو (جاګرن) او (هنس) دواړه ښه وچلیږي او مالي ستونزې به هم لرې شي. »

د دغه لیک څخه فلمي نړۍ ته د پریم چند د راتګ مقصد روښانه ښکاري، خو سربیره پر دې لکه څنګه چې فلم د تبلیغ او ترسیل یوه ارزښتناکه او له ځواک څخه ډکه وسیله ده، له دې کبله، د سینما څخه د هر فکر خاوند او د هرې پرګنې خلک، چې د ادب له نړۍ څخه لیرې دی ښه ګټه اخیستی شي، نو ځکه پریم چند هم غوښتل چې له سینما څخه د خپلو هیلو په تر سره کولو کې ګټه واخلي.

پریم چند د زیاتو هیلو سره بمبیي ته راغلی و. هغه د فلم د تخنیک څخه خبر نه و، نو ځکه په پیل کې یې لوی لوی پروګرامونه جوړول. څو ورځې وروسته چې پریم چند له فلمي چاپیریال سره اشنا شو، نو خپلې میرمنې(یوراني د یوې) ته یې ولیکل: « زه چې څنګه کیسې لیکم، د هغو د تمثیل لپاره داسې کومه ممثله نه شته. زما یوه کیسه دلته د ټولو خوښه شوه، خو د دې ځای ممثلین او لوبغاړي، هغه نه شي لوبولی. د هغې د تمثیلولو لپاره باید یوه باسواده او تعلیم یافته لوبغاړې وروزله شي. زه خو به همداسې کیسې لیکم. د دغو خلکو د غوښتنې سره یې سم نه شم لیکلی... .»

خو د هغه دا هیله تر سره نه شوه. د وطني نهضت زمانه وه. د مهاتما ګاندي رهبري څلورو خواوو ته انګازې خپرې کړې وې. د نورو هیوادونو د جامو څخه ګټه اخیستل پای ته رسیدلی وو، خو د هیواد په دننه کې په خپله د کورنیو فابریکو او کارخانو خاوندان د خلکو په لوټولو بوخت وو. هغوبه په دواړو لاسونو، شتمني او پیسې زېرمه کولې. د فابریکې د کارګرانو د ژوند وضعه ښه نه وه. د هغوی په معاشونو کې زیاتوالی نه رامنځته کیده. له دې کبله اعتصابونه روان وو. کله چې پریم چند د بمبیي پر ځمکه قدم کېښود، نو دا تماشې یې پخپلو سترګو ننداره کړې. د دغو تماشو په وړاندې د پریم چند عکس العمل دا و چې هغه د «مزدور» تر نامه لاندې یو فلم ولیکه، چې په هغه کې د فابریکو پر خاوندانو سخت انتقادي ګوزار شوی و او د کار ګرې طبقې بده وضعه او بربادي په کې انځور شوې وه. خو د سانسور هیات چې په راس کې یې د فابریکو د خاوندانو د انجمن رئیس( سرجي) و، نوموړي فلم مسترد کړ. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سانسور د ضربې څخه د خلاصون په غرض فلم جوړوونکي موهن بوټاني، دوه نیم کاله وروسته، نوموړی فلم د (غریب مزدور) تر نامه لاندې وړاندې کړ.
په نوموړي فلم کې د کارګراو د اتحادیې د رئیس رول په خپله پریم چند پــه غــاړه درلود. بوټاني د دغه فلم په کیسه کې څو ځایه لاس وهنې وکړې او د کیسې ځینــې برخې یې له منځه یوړې. حسام الدین غوري چې د پریم چند له نږدې ملګرو څخه و، په (پریم سوګ) نومي اثر کې لیکي: « داسې تصور کیده چې د دغه فلــم بــه د فلــم جوړولو په تاریخ کې یو نوی باب پیل کړي، خو د فلم په لیدلو سره ټــولې هیلــې ابــو یووړې. دا ځکه چې د ډایرکټر د لاسوهنو په وجه د کیسې ښه بیخې اوښتې وه او هغه خبره په فلم کې پاتې نه شوه چې په کیسه کې وه.»
په خپله پریم چند هم د همدې خبرې په خاطر غمجن و. هغه اعتراف وکړ : « هغو زما کیسې ته بیخي بدلون ورکړی دی. زه به په خپله هم هغه ونه پیژنم....» ســربیره پــر دغو خبرو کله چې فلم ننداري ته وړاندې شو نو د بمبیي په فلمــي کړیــو کــې یــې انګازې جوړې کړې او د هغه وخت د دولت له خوا د نوموړي فلم ښودنه بنده شوه. کله چې د فلم د لاهور په یوه سینما کې ننداري ته وړاندې شو نو کارګران ډلې ډلې ورته روان وو.
د پریم چند زوی« امرت رای» په دې باب داسې وایي:
« په لومړۍ ورځ په زرګونو تنه کارګران د سینما دروازې ته ولاړ وو. تر اوو ورځو پورې همدا حال و. له وېرې څخه د پنجاب حکومت د فلم پر ښودنه باندې بندیز ولګاوه.»
د اتراپردیش په آیالت کې هم همدا حال و. دې لومړنۍ تجربې، پریم چند غمجن کړی و. هغه خپله غلطي احساسوله. په هماغه زمانه کې یې خپلې ښځې (شیوراني دیوي) ته ولیکل: « دلته چې هر څه شته هغه د سینما د خاوندانو پــه واک کــې دي... ادب او لیکوال په دې ځای کې هیڅ ارزښت او اهمیت نه لري.»
خو اوس دا فکرونه بې ګټې و. د فلمي کمپنۍ د واکمن د غوښتنې په نتیجه کې پریم چند د (شیردل) یا (نو جیون) تر عنوان لاندې خپله دوهمه کیسه ولیکه. پریم چنــد په دغې کیسه کې سیاسي معاملې د تاقچې دپاسه کېښودې او د خپل لومړنۍ دورې د کیسو په شان د پخواني هندوستان سندرې یې زمزمه کړې او د شهزاده ګــانو زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ورتوب، قرباني او کلک عزم يې ننداريې ته وړاندې کړل، خو دا فلم هم بري تــه ونــه رسيد او د ډايرکټر بې ځايه تصرف د کيسې اصلي بنې ته بدلون ورکړی و. حال دا چې کيسه ډېره ښه کيسه وه. د فلم ناکامي د پر ېم چند زړه ته صدمه ورسوله او هغه ته يو ډول وېره پيدا شوه. کيسه ليکونکي جيتندر کمار ته په يوه ليک کې وليکل: «زه چې د کومې پرېکړې او کومو هيلو په خاطر دلته راغلی وم، داسې ښکاري چې له هغوی نه يوه هيله هم نه پوره کيږي. داسې پرېښې چې زه خپل ژوند تباه کــوم....» او د پــر ېم چند هيلې په ايرو بدليدلې.**

**په هغه وخت کې پرېم چند پر خپل سيواسدن(بازار حسن) ناول باندې د فلم جوړولو اجازه ورکړې وه او مهالکشمي سينيټون په فلمي ستوديو کې د (بازار حســن) فلــم جوړ کړای شو، چې په بدل کې يې پرېم چند ته پنځلس سوه يا دوه زره روپۍ ورکړی شوې.**

**کوم وخت چې نوموړي فلم ننداريې ته وړاندې شو نو پرېم چند يو ځل بيــا ونــه شــو کولی د نوموړي فلم په وجه ځان نورو ته ور وپيژني. ځکه هغه مايوسه شو، خو لا تــر اوسه د فلم له منګولو خځه نه و آزاد شوی. په دغه دوران کې د هغه پر يــوې هنــدي کيسې ( تريا چرتر) باندې د فلم جوړولو کار پيل شو.**

**نوميالي ډرامه ليکونکي امتيا علي تاج، نوموړې هندي کيسه په اسانه اردو ته واړولــه او دا کسيه د (سوامي) تر نامه لاندې وړاندې شوه. د دغه فلم ډايرکټر(کــارګردان) او مرکزي ستوري يې (ستاره) او (جي راج) وو.**

**پرېم چند په بمبيي کې د خپلې څو مياشتنۍ اســتوګنې پــه دوران کــې د بمبيــي د تصنعي فلمي نړۍ څخه بېزاره شوی و او له هغه ځايه تېښتې ته تيــار و. پــر ېم چنــد حسام الدين غوري ته په يوه ليک کې ليکلي چې : « په سينما کې د اصلاح هيله بــې ځايه ده. دا صنعت د شراب خرڅولو د دندې په څېر د پانګوالو پــه انحصــار کــې دی. هغوی په دې هکله غور نه کوي چې فلمونه د خلکو پر ذوق باندې څه اغيــزه کــوي، هغوی يوازې د خپلو پيسو په فکر کې وي. لوڅه نڅا، ښکلول، پر ښځو باندې د نارينه وو غورځنګ دا هرڅه د هغوی پر وړاندې روا کارونه دي. ما ښه فکر کړی دی. لــه دې دايرې څه دباندې وتل راته مناسب دي.»**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هر څه د پرېم چند لپاره د زغم وړ نــه وو. د خپــل قلــم د آزادۍ د مبــارزې ســره جوخت د ظلم، نا انصافۍ او جبر پر ضد استعمال کړی و. هغه د ټولنيزو دردونو د علاج کولو غوښتونکی و او په دې لاره کې يې د خپل قلم په ذريعه مبارزه کوله.
پرېم چند غوښتل چې له فلم څخه په استفادې سره هم هماغه کار ســر ته ورســوي چې د خپل قلم په وجه يې سر ته رساوه. هغه د انساني ژوند په ښو او لوړو کــړو وړو مين و، نو ځکه يې غوښتل چې د ادب نړۍ ته بيرته وګرځي. هغه خپل ملګري حسام الدين غوري ته په دې باب وليکل: « زه خو په ژوند کې د يوې نوې تجربې د تر لاســه کولو په خاطر د يوه کال لپاره دلته راغلی وم، د مې په مياشت کې به دغه موده هــم پای ته ورسيږي. زه به خپل وطن بنارس ته بيرته ولاړ شم او د پخوا په شان به خپــل ژوند په ادبي کارونو تېر کړم.»
په همدې وجه کوم وخت چې نورې فلمي کمپنۍ هغه ته بلنې ورکړې، نو پرېم چند د هغوی بلنې ونه منلې. نامتو فلم جوړوونکي(هنس رای) هغه ته ويلي وو چې: (( که نه غواړې په بمبيي کې واوسېږې، نو له بنارس څخه خپلې کيسې راوليــږه.» خــو پــرېم چند دغه پيشنهاد هم قبول نه کړ. د هغه هيلې له خاورو سره يو شوې وې او هغه پــر خپلو کړو پښيماني احساسوله.
سر بيره پر هر څه، په هغه زمانه کې او له هغه نه په وروسته زمانه کې د پرېم چنــد د قلم جادو پر فلمي نړۍ ښه وچليده. لکه څنګه چې د هغه په ژوند کې د هغه د کيسو موضوع ګانې غلا شوې او په هغو باندې فلمونه جوړ شول. د پــرېم چنــد لــه مړينــې وروسته هم، موهن بوټاني، د هغه پر ( چوګان هستي) ناول باندې يو فلــم جــوړ کــړ. نوموړي ناول د خپلې زمانې دوران جوړوونکی ناول و. خو د ناول څو کرکټرونه ترې نه و ايستل شول او د هغه اصلي روح له منځه يوړل شو، نو ځکه فلم بريالی نه شو. څــه موده وروسته د پرېم چنــد د (دوبيــل) يعنــې دوه غوايــان د کيســې پــر بنســټ د (هيراموتی) په نامه يو فلم جوړ کړی شو. د هند د سينما پخوانۍ بريالۍ خبرې بلراج ساهني، نيرو پارای او جينت په خپلو ماهرانه فنکاريو سره نوموړی فلم زيات ښــکلی کړ. فلم زيات بريالی شو. په وروسته کلونو کې د هغه د څو نورو ناولونو پر اساس څــو فلمونه جوړ شول چې د «غبين» او «ګودان» نومونه يې د ياودنې وړ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن ورځ د هند فلمي نړۍ زياته پرمختللې ده. د موضوع او تخنيک په لحــاظ هنــدي فلمونه يوه نوي پړاو ته رسيدلي دي، خو بيا هم نن د پرم چند پر کيسو باندې د داسې فلمونو د جوړولو اړتيا شته، چې په هغو کې ټول هند د خپلو ټولو خوښيو هيلو او ماتو سره په سترګو کيږي.

له سياسي او ټولنيزو مسايلو څخه که تير شو نو د پريم چند په کيسو کې د انســاني اروا په زړه پورې ځانګړتياوې تصوير شوي دي. په هر حال د دې خبرې اړتيا شته چې د پريم چند پر کيسو باندې د فلمونو جوړولو لپاره د پريم چند پــه شــان بــې ريــا او خواخوږي انسان بايد منځته ته راشي چې د هنر او انسان سره مينه ولري. پريم چند د يوه کال لپاره له هندي فلمونو سره و، خو هغه څه چې هغه هندي فلمونو ته ورکړي دي له هغه نه انکار نه شو کولی.

## پريم چند د اردو ژبې ليکوالو له نظره:

پريم چند د اردو ژبې د لنډې کيسې ليکنې د پيل کوونکي په توګه پيژندل شوی دی. د هغه لومړنۍ کيسه «غالب ګومان» په ۱۹۰۱ عيسوي کال کې خپره شوې ده. بې ځايه نه ده چې په بنسټيزه توګه پريم چند رياليست ليکوال ګڼل کيــږي. دا ځکــه چــې د خپلې زمانې هغه تضادونه چې په هندي ټولنه کې موجود وو، ښه درک کړي وو او لــه هغو څخه په راپيدا شويو کړو وړو اغيزو او محرکو ځواکونو ښه پوهيده. هغه له يــوې خوا د انګريزي استعمار پر ضد د ملي آزادۍ پــه مبــارزه کــې د يــو ملــت پــالونکي شخصيت په توګه ګډون درلود او له بلې خوا يې د يو حساس فنکار په توګه د وروسته پاتې پرګنو د بدې وضعې ننداره کوله. هغه د حقيقت پيژندونکو سترګو خاوند و. پريم چند د خپلې رسمي دندې د سرته رسولو په دوران کــې د هنــد د کليــوالي ژونــد د مطالعې وخت تر لاسه کړ، نو ځکه هغه د يو ريالست ليکوال په څېر د خپل چاپيريال انځور ګري پيل کړه او په دې توګه يې په اردو لنډو کيسو کــې د حقيقــت ليکنــې او رياليستيکو افکارو بنسټ کېښود.

که د پريم چند لنډې کيسې مطالعه شي نو په لومړنيو کيسو کې به يې يو پرمختيايي څرنګوالی احساس شي. د هغه د لومړنيو وختونو په ليکنو کې بــه د خيــالي افکــارو اغيزې ووينو چې وروسته بيا ورو ورو لږ شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په همدغې زمانه کې ډېرو نورو ریالیستو کیسه لیکونکو د هغــه تــر اغیــزې لانــدې کیسې هستې کړې. شوکت صدیقي چې د اردو ژبې په مترقي لیکوالو کې یو پیژندل شوی او منل شوی نوم دی د پریم چند په باب داســې وایــي: « مترقیتــوب د کــومې عقیدې نوم نه دی. په هر ځای کې چې ادبیات ټولنیز واقعیتونه انځــور کــړي، هلتــه مترقي افکار خامخا موندل کیږي. پریم چند له پیل څه ټولنیزو مسایلو تــه پاملرنــه کړې ده او د ټولنیزو واقعیتونو د انځورګرۍ په وجه یې په اردو کیســه لیکنــه کــې د واقعګرایي بنسټ ایښی دی. هغو مترقي کیسه لیکونکو چې لــه پــریم چنــد څخــه وروسته ډګر ته راووتل، د هغه په وضعه شویو عنعنو او ځانګړتیاوو یــې عمــل کــول کیدای شي چې ځینې لکوال د زیات تنقیدي بصیرت څښتن وي. د کیسې لیکنې په تخنیک کې لوی لاس ولري او د موادو او اسلوب له امتزاج څخه د ښــکلا نــه د ډکــې انځور ګرۍ ځواک ولري، خو له پریم چند څخه د لومړیتوب ویاړ بل هیڅوک تر لاسه کولی نه شي.»

ویل کیږي چې پریم چند له ۱۹۳۰ عیسوي کال څخه وروسته سوسیالیزم تــه مایــل شوی و. د هغه په وروستیو لیکنو کې د خیالي نړۍ څخه د هغه د راوتلو او د مســایلو په اړوند د ریالیستیکي نظریې د څرګندونو بیلګې لیدلې کیږي.

شوکت صدیقي په دې باب خپله یوه مرکه کې چې په ۱۹۸۶ کال کې خپره شــوې ده داسې وایي: «د هغه په سیاسي فکر کې ښه بدلون پیل شو و او پــه کیســو کــې یــې انقلابي تمایل راڅرګند شوی و. خو لکه څنګه چــې د وروســتیو کلونــو د ریالیســتو لیکوالو په کیسو کې د سوسیالیزم روښانه پلوې شوې وه، د غه شان د پریم چند پــه لیکنو کې نه وه شوې. د پریم چند په لیکنو کې د بنګال د فکري او سیاسي نهضتونو اغیزې په روښانه توګه شته. هغه د خپلې رسمي دندې د سرته رسولو په دوران کې له کلیوالي ژوند سره ښه اشنا شو او د هیواد کرنیز اقتصاد تضاد یې ښه درک کړ. هغه د عامو خلکو او بزګرانو د ژوند ستونزې، ربړونه او ترخې په ښه توګه احساس کولې او د همدغو تر خو د یوې بلګې انځور د هغه په (کفن) نومي کیسه کې هم مونــدل کیــږي پریم چند په دې کیسه کې د وروسته پاتې پرګنو دغه تریخ حقیقت په څرګنــد ډول بیان کړی و چې: « د ژوند ناخوالې او لوږه تش لاسي انسانان له داسې سختو حــالاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره مخامخ کوي چې هند د خپلو نړدو خپلوانو کفن خرڅوي او په پیسو یـې خپلـې ګېډې مړوي.
دا کیسه یوازې د عیني حالاتو انځور ګري نه ده، بلکې په هغـې کـې دغـه بنسـټیز حقیقت ته هم یوه اشاره شوې وه چې:
«آزادي، د مجبورۍ د احساس کولو نوم دی.
له پریم چند څخه وروسته یو زیات شمیر نوي مترقي لیکوال لکه کرشن چندر، منټو، بیدي، عصمت، سدرشن، علي عباس حسیني، اعظم کریوي، فاشي عبدالغفار، سهیل عظیم ابادي او نورو د پریم چند د حقیقـت لیکنـې او ریالیسـتیکو افکـارو پیـروان ښکاري.... »(۱: ج ــ هــ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم څپرکی

## غوايي خيرات لنډه شننه

پر ډېر چند په خپل د غوايي خيرات نومي ناول کې د يوې غريبې او محکومې کورنۍ ژوند په خورا لوړ هنري انداز سره انځور کړی دی. پر ډېر چند په دغه ناول کې د ټولنې زيات دردونه، ښکلاوې، اميدونه، دودونه، خوشحالۍ او نور مسايل په ښه ډول بيان کړي دي.

نومو‌ړي د غريب او مالدار، د لوستي او نالوستي، د منطقي او غير منطقي، د ښځې او نارينه، د خور او ورور، د اولاد او والدينو، د بزګرانو او لوستو، د عادي خلکو او روحانيونو، د ښځې او مېړه، د عاشق او معشوق، د ښار ي او کليوال او د ټولنې د ګڼو قشرونو تر منځ اړيکې کټ مټ انځور کړي دي او چې کله يې سړی ولولي فکر کوي چې هر څه يې په مخ کې واقع شوي.

دی ټول کرکټرونه په ډېر ښه شان لوبوي او انسان د هنر په مزه او خوند پوه کوي. د غوايي خيرات د ټولنې واقعيتونه بيانوي او د ښو او بدو اړخونو په اړه خلکو ته د هنر په واسطه نصيحتونه کوي.

د دې لپاره چې د پر ډېر چند د غوايي خيرات لنډ جاج واخلو، لازمه ده چې په منظم ډول د هرې موضوع په اړه لنډ غونډې بحث وکړو او پوه شو چې نوموړي د ټولنې بيلابيل مسايل په کوم انداز بيان کړي دي.

### د غريبو او ناچاره کورنيو د ستونزو او دردونو بيان:

هوري رام يو غريب او د ټولنې تر ټولو ټيټې درجې انسان دی. ښځه يې دهنيا نوميږي، د سونا او روپا په نومونو دوه لونې او د ګوبار په نوم يو زوی لري. د ده ژوند له ګڼو ستونزو سره مخ دی. هوري رام يو صادق او وفادار انسان دی چې تل د خپل بادار لپاره په صداقت سره کار کوي. دی خپله په قرضونو کې ډوب دی او لګيا دی په خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځمکه کې کار کوي او حاصل یې له خپل بادار سره ویشي، دی هغومره ترې اخلي چې یوازې ژوند یې پرې تېر شي.

هوري رام که څه هم نادار دی او د غریبې کورنۍ مشر دی، خو له بلې خوا قوي او د لوړ عزم څښتن دی، نوموړی لوړ صبر لري او په دې هیله ژوند کوي چې یوه ورځ به یې ژوند ښه شي او په کومو قرضونو کې چې دی تر ستوني غرق دی، هغه به ادا کړي.

نوموړی په هندي ټولنه کې د بادار رول مهم بولي او وايي چې که چیرې بادار یې غصه شي نو ممکن د مزدور ژوند پای ته ورسیږي، خو دی تر اخیري شیبې کوښښ کوي چې بادار خوشحاله وساتي.

خو کومه ټولنه چې پر بېم چند انځور کړې ده، د غریب انسان ژوند د خانانو لپاره هیڅ ارزښت نه لري. نوموړی پوهیږي چې د ټولنې شتمن په ټولنه باندې راج چلوي او خلک تر خپل اسارت لاندې ساتي، څو په خپله لوړ ژوند ولري. خو نوموړی په دې باور دی چې که چیرې خلک وغواړي نو خپل ژوند بدلولی شي او د بادار له بنده ځانونه خلاصولی شي، خو دغه چاره هم یو څه کار او زیار ته اړتیا لري.

د ده د ناول یوه برخه دلته د مثال په توګه راوړم:

((ګوبار چې لا تر اوسه پورې غلی و ویې ویل: «ولې دومره ډېر خپل ځان د بادار په مخکې ټیټوې؟ څه فرق کوي؟ که چېرې موږ په اجاره کې ببرته پاتې شو، ناظر لا نور هم موږ ته ښکنځل کوي او موږ تحقیروي. موږ لا تر اوسه پورې هم اجباري کار ته ګومارل کیږو او د نورو کسانو په شان مجبور یو تحفې هم یوسو. هغه ته غوړه مالي کول موږ ته څه ګټه رسوي؟»

هوري هم همدا ډول فکر کاوه. خو په دې فکر کې شو چې د ګوبار د سرکشۍ او بغاوت مخه ونیسي. ویې ویل: «که چیرې موږ داسې چلند ونه کړو ژوند به له بد نه خورا بد شي، خدای موږ مریان پیدا کړي یو او مجبور یو چې له خپل قسمت او برخه لیک سره سازش وکړو. زه د بادار دیدار ته ځم څو خپل هدف ته ورسیږم. سر خو مې په درد نه دی. د هغه کتنه آسانه نه ده. کله کله مخکې له دې نه چې هغه ما ور وبولي ګړی ګړی انتظار باسم. کله کله په بده ژبه راته وايي نه».))

(c) ketabton.com: The Digital Library

## عقايدو او مقدساتو ته احترام:

پر ېم چند په د غوايي خيرات ناول کې مذهبي مسايل هم ځای کړي او په ټولنه کې د دين او عبادت ځای يې مهم بللی. نوموړی وايي، چې عبادت انسان ته سکون ورکوي. ده په ټولنه کې د روحانيونو کرکټر مهم انځور کړی او د يوې ټولنې خير او شر يې لــه دغو کسانو سره تړلی دی. پر ېم چند باور لــري چــې کــه چيــرې دينــي عالمــان او روحانيون وغواړي کولی شي يوه ټولنه سمه يا غلطه رهنمايي کړي، خو په لــوړ هنــر سره وايي چې که چيرته روحانيون وغواړي تر نورو قشرونو زيات کولی شي ټولنه لــه شر څخه په امن کې وساتي او ټول خلک خير ته راوبلي.

مثال يې د داتادين چې روحاني شخصيت دی راوړم: (داتادين را نږدې شو: «بــولا، دا څه خبره ده؟ تا غوايان را خلاص کړل او هغه چوپ پاتې شو. آيا همداسې د ده چوپ پاتې کيدل و چې ته دومره زړه ور شوې؟ موږ پخپلو کارونو لګيا وو. که چيرې هــوري فقط يوه اشاره کړې وای، ستا د بدن هر وېښته به مو در نــه راشــکولی وای. کــه نــه غواړې چې ستونزه راپيدا شي، نو همدا اوس غوايان بيرته ورستانه کړه، ته شــرم نــه لرې؟» )

بل ځای راځي: (داتادين خپله ملا نيغه کړه او په هيجان سره يې راټــوپ کــړ او ويــې ويل: «د څه لپاره منتظر ياست؟ ويې وهئ. دی څنګه جرآت کوي چې زموږ له کلي نه غوايان بوزي؟» )

پر ېم چند د نړۍ د ټولو خلکو عقيدو ته احترام لري او په دې بــاور دی چــې د هــرې عقيدې خلک محترم دي.

دلته يو بل مثال راوړم: ( په يوه ځای کې هوري رام د غــوا پــه اړه بــولا تــه داســې وايي:«زه يوه غوا نه شم اخيستلی. په يقيني ډول چې تاسو ډېر نيکمرغه ياست چې د يوې غوا خدمت کوئ. زه آن خوشايي بودولی نه شم. څومره سپکاوی دی چې په يوه داسې لويه کورنۍ کې لکه زموږ غوا نه شته.»

بل ځای وايي: «هوري غوا ته په ځير ځير کتل او هک پک پاتې و، تا به ويلی رب النوع بڼه بدله کړې ،نو له همدې کبله غوا د ده کره راغله، څو د ده کور سپېڅلی کړي، څه عالي او ښه بخت!» )

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې تر څنګ مسلمان او اسلام ته هم پوره احترام لري.

## د بېلابېلو اديانو پيروان سوله ييز ژوند ته رابلل:

نوموړي د اسلام، بوديزم او د نورو اديانو تر منځ يــووالی غوښــتی او د ټولــو اديــانو پيروانو ته يې ور پوهولې ده چې د يو بل عقايدو ته احترام وکړي د انسان او اشــرف المخلوقاتو په توګه يو بل ته احترام وکړي.

## د ښاري او اطر افي ژوند تفاوتونه:

معلومه خبره ده چې د ښار او اطراف ژوند زيات تفاوتونه لري. پر ېم چند د ښــاري او کليوال ژوند ټول اړخونه په ډېر عالي ډول انځور کړي دي. نوموړي دا منلې ده چــې د کلي خلک له زياتو ستونزو سره لاس او ګريوان وي، د پرمختګ لپاره يــې ډېــره لاره پاتې وي، محکوم وي او ان په دې فکر کې وي چې له لوړې مرېه نه شــي، خــو د ښــار خلک تر کليوالو او اطرافيانو ښه ژوند لري او د دې ترڅنګ ورته د پرمختــګ زمينــه برابري وي، د ښار خلک کولی شی علم وکړي، فرهنګي فعاليتونه تر ســره کــړي او د نسبتاً اسانه او مسلکي ژوند له لارې خپله ډوډۍ وګټي.

نوموړي د کلي او د ښار د ژوند تر منځ تفاوتونه او نزاکتونه په خورا ښه او له هنر څخه په ډک انداز سره انځوروي او کوم تفاوت چې په علمي او فرهنګي لحاظ د دغــو دوه حوزو تر منځ په طبيعي ډول موجود وي، هغه ښيي.

## پر ېم چند ته حيا او عزت ډېر ارزښت لري:

د حيا، شرم او عزت اهميت په ډېر ښه شان سره بيانوي. نوموړی په دې ښه پوهيږي چې انسانان په طبيعي ډول حياناک دي او دغه حيا د انسان مقام لوړوي او په انساني ټولنه کې يې د عزت سبب ګرځي. نوموړی خلکو ته پوهوي چې تل حيا وکړي او خپل عزت په هر ډول چې وي وساتي.

مثال: (لکه چې هوري رام بولا ته وايي: «زما ميرمن ستا په باره کې ډېر ښه نظر لــري. هغه وايی چې دې داسې حياناک سړي ډېر کم ليدلي دي چې له هغې ســره د خبــرو کولو په وخت کې سترګې ښکته اچوي او يو ځل هم سر نه راپورته کوي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې لوړې ستاينې بولا ډېر اوچت کړ او ويې ويل: «يو شريف سړی تل ښځو ته د خپلو لونو په شان ګوري. هغه نارينه چې ښځو ته په شهواني سترګو ګوري د وژل کېدو لايق دي.» )

## د کورنۍ دغړو تر منځ نزاکتونه:

پر بېم چند د کورنۍ د غړو تر منځ نزاکتونه په دومره عالي ډول بيان کړي، چې په لوستو سره يې لوستونکی ځان په همغې فضا کې احساسوي او فکر کوي چې هر څه د ده په مخ کې روان دي، لکه چې د هوري له خوا د غوا اخيستلو د ده ورونو(هيرا او سوبا) باندې بد لګيدلي وو او دوی فکر کړی و چې هوري په شريک کور کې له دوی څخه پيسې پټې کړي دي او په بيلتون کې يې ورباندې غوا اخيستې ده.
کله چې هوري غوا واخيسته ټول کليوال يې ليدو ته راغلل، خو هيرا او سوبا مخ ور وانه راړوه، د هوري رام ښځې دهنيا د دوی د دغه کار په اړه وايي: («زر کرته مې درته ويلي چې زما په مخ کې د هغو نومونه مه اخله. ټول کلی راغی، دوی نه! آيا دوی ډېر لرې ژوند کوي؟ آيا پښې يې په نکريزو سرې دي؟»
بل وخت هيرا د کينې له وجې د هوري غوا ته کوم څه ورکوي او غوا مري، دهنيا چې کله پوه شي چې هيرا غوا وژلې داسې وايي: («نه، نه، دا واقعيت نه لري. هيرا پوچ خولی دی، خو سپک او ټيټ سړی نه دی.»
هوري «ما په خپلو سترګو وليد ستا پر سر زه قسم خورم.»
«تا هغه وليد، رښتيا وايې؟ څه وخت؟»
«کوم وخت چې زه د سوبا له کوره را روان وم ومې ليد چې دی غوا ته نږدې ولاړ و. هغه وويل چې راغلی و څو لږ اوړ زموږ له نغري نه واخلي. موږ خبرې سره وکړې او چلم مو يو ځای وڅکه. زه داسې ګومان کوم کله چې زه د سوبا کره وم ده غوا مسمومه کړې وه او راغلی و چې ووينې غوا مړه ده او که لا ژوندۍ پاتې ده.» )

## کورنۍ اړيکې:

د کورنۍ، منشي پر بېم چند د ورونو، مېړه او ښځې، والدينو او اولادونو او خونيدو او ورونو او نورو غړو تر منځ اړيکې ډېرې ښې درک کړي او پوه دی چې د کورنۍ غړي څومره د يو بل خيال ساتي او څومره د يو بل لپاره مضر تماميږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(بولا چې هوري ته له ورونو نه د بيلتون خاطرې او يادونه ور تازه کړل په زړه سوانده يې وويل: «دې بيلتون ارومرو ته ډېر ځورولی يې. تا خپل ورونه لکه خپل زامن لوی کړل.»

هوري په نيولي غږ وويل: « وروره، ډېر ځوروونکی حالت و، ما داسې احساس وکړ چې ملا مې ماته شوې وي. افسوس چې دا بيلتون زما په ژوندوني کې پېښ شو. هغه ورونه چې ما ورته خپله ځواني قربان کړې وه، زما په سختو دښمنانو بدل شول او بيلتون ټول په ډېر يو بې ارزښته موضوع باندې منځته راغی.»

## په ټولنه کې د ښځې په رول فلسفي بحثونه:

د پر بېم چند د غوايي خيرات د ښځو د موجوديت په اړه فلسفي بحثونه او دا چې ښځه کولی شي په ټولنه کې فعاله ونډه ولري يا ونه لري، مخالفين او موافقين يې ښودلې او دا يې ثباته کړې ده، چې په ټولنه کې د ښځو د کار او فعاليت پر وړاندې سختې ستونزې شته او ډېر داسې کسان پيدا کيږي چې په ټولنه کې د ښځو پراخ حضور نه شي زغملی.

پر بېم چند په د غوايي خيرات کې د ښځو له حقونو څخه کلکه دفاع کړې او د ټولنې دغه قشر يې د ټولنې د پرمختګ لپاره مهم بللی، نوموړی په دې باور دی چې بايد ښځو ته په ټولنه کې پوره ونډه ورکړل شي، څو له نارينه وو سره يوځای اوږه په اوږه کار وکړي او ټولنه پرمختګ خوا ته رهنمايي کړي.

کوم رول چې پر بېم چند په ټولنه کې ښځو ته ورکړی، تر اوسه هم په ډېرو ټولنو کې نه دی ورکړل شوی. لا هم ښځې د خپلو حقونو د لاسته راوړلو په خاطر مبارزه کوي او له نارينه وو څخه خپل حقوق غواړي.

پر بېم چند د ښځو له هغو حقونو څخه چې په غربي نړۍ کې ورته ورکول شوي، ناراضه دی او په خورا عالي هنر سره يې دا ثابته کړې ده چې په لويديځه نړۍ کې له ښځې څخه د وسيلې په توګه ګټه اخيستل کيږي، چې دا د ښځې ارزښت او مقام ته ضرر رسوي. خو کوم حقونه چې دغه قشر ته په ختيځو ټولنو کې ورکړل شوي، دا هم کافي نه بولي او ټينګار کوي چې بايد ښځو ته په ټولنه کې د تحصيل او کار زمينه برابره شي، څو ټولنه په مناسب ډول پرمختګ وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم د پرېم چند په د غوايي خيرات کې تر ډېره مرد ســالارانه او پدرســالارانه فضا جاري ده، خو د دې تر څنګ يې د ښځو رول ته هم ډېر اهميت ورکړی .

مثال: (فيلسوف هغه څوک ساروج چې خپلې خور ته د احترام نه پرته غلی ناسته وه، ونه شواى کولی نور زغم وکړي او ځان ونيسي. هغې نارې کړې: «مــوږ د رای ورکولــو حق غواړو. د نارينه سره برابر !»

د هال له هرې ګوښې نه په لوړ اواز همدا خبره تاييد شوه: «هو. موږ د رای حق غواړو!»

اون کارناتهــ ودريد او په لوړ اواز يې نــارې کــړې: «مــړه دې وي د ښــځو د نهضــت دښمنان!»

مالتي خپل لاس پر مېز وواهه: « نظم. نظم! هغه کسان چې غواړي وينا وکړي وروسته به موقع ورکړل شي.»

مهتا وويل: «د رای حق د نوي عصر مود دی. دا يو ســراب دی. ټګــي او چلبــازي ده. څوک وايي چې ستاستو شخصيت بشپړ رول نه شي لوبــولی. ځکــه چــې ستاســو د فعاليت ساحه محدوده ده؟ موږ مخکې له دې نه چې هر څه و اوسو. لومړی تــر ټولــو انساني موجودات يو. زموږ ژوند په کور کې پيل کيږي. همدلته ده چې موږ نــړی تــه راځو او روزل کيږو. همدلته ده چې د ژوند له مهمو مرحلو نه تيريږو. که چيرې دې ته محدوده ساحه وايي. زه نه پوهيږم چې کومې ساحې ته نامحدوده وويل شــي. تاســو غواړئ دا فابريکه ودروئ چې د انسان سرنوشت په کې ټاکل کيږي او جوړيږي او هغو فابريکو ته منډه واخلئ چې هلته انسان ټوټې ټوټې کيږي او وينې يې زبېښل کيږي؟»

ميرزا نارې کړې: «دا د نارينه وو استبداد او ظلم دی چې په ښځو کــې يــې د بلــوا او راپاريدنې روحيه خلق کړې ده.»

مهتا ځواب ورکړ: «زه موافق يم. نارينه د ښځو په مقابل کې له ظلم او بې عدالتی نــه کار اخيستی دی. موږ بايد خپله بې عدالتي له منځه يوسو نه دا چې کوچنی د حمــام له اوبو سره يوځای ايسته وغورځوو.»

مالتي وويل: «ښځې حقوق غواړي د دې لپاره چې له هغو نه په ښې ګټې اخيستو سره وکولی شي د نارينه وو مخه ونيسي څو د دوی حقوق تر پښو لاندې نه کړي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهتا ځواب ورکړ: « په دې نړۍ کې ستر حقوق د خدمت او فداکارۍ له لارې لاس تــه راغلی دي. او تاسو همدا اوس د دې حقونو څښتنان یاست. د رای ورکولــو حقــوق د هغو په پرتله کم ارزښته دي. زه ډېر خواشینی شم چې وایم زموږ ښځې غرب خپــل ایډیال ګرځولی دی. هلته ښځې د خپل پټ او عزت له مقام نه رالویدلې دي. هغه نوره د کور میرمن نه ده. بلکې د ځان ښودنې او ننداري یوه ټوټه ده. د جایزې نندارتون او د ساتیرۍ او خوشحالۍ وسیله ده. په غرب کې ښځه غواړي چې ازاده و اوســي څــو وکولی شي د ژوند تر اخیرنۍ حده پورې خونــد واخلــي، خــو جســماني خوشــحالي هیڅکله زموږ د ښځو ایډیال نه دی ګرځیدلی، راځئ هغه شیان را واخلو کوم چې په غربي کلتور کې ګټور دی. تل د یوه او بل کلتور تر منځ راکړه ورکړه نه شته. خــو پــه پټو سترګو د نورو پیښې کول د اخلاقي کمزورتیا او افلاس نښه ده. د غرب ښځې نور نه غواړي چې د کور د میرمنو په حیث پاتې شي. کله چې زه تعلیمیافتــه ښــځې پــه غرب کې وینم چې په ښکاره سره د خپل بدن لاسونو پښو ښکلا او طلسم نندارې ته ږدي. د دوی لپاره خواشینی کیږم. د جذباتو او پاریدنې لپــاره د دوی لوالتیــا د دوی سترګې دومره پټې کړې دي چې نور د حیا په باره کې فکر نه شي کولی. د ښځو لپاره تر دې نه لوی اهانت بل نه شته.»

مهتا خپلې وینا ته دوام ورکړ:« دا یوه دسیسه او توطیه ده چې د نارینــه وو لــه خــوا تنظیم شوې ده، هغه نارینه چې د جنسي تمایلاتو لاره تعقیبوي لکه غــوایي چــې د نورو په کروندو کې خوشې شي او هر شي چې پر مخه ورشي حملــه پــرې وکــړي. د نارینه وو دسیسه پخوا غبر کې بریالۍ شوې ده. هلته ښځې انځور شوې نانځکې دي. زه شرمیږم چې دا ناوړه باد اوس په هند کې په لګیــدو پیــل کــړی، څــو د تــوبې او فداکارۍ عنعنه له منځه یوسي. تعلیمیافته ښــځې پــه خــاص ډول ډېــر ژر پــه دې ناروغتیا اخته کیږي. د کورنۍ میرمنې ایډیالونه له لاسه ورکوي او خپل ځانونه په بې مناسبه پټنګانو بدلوي.»

ساروج په قار سره خپل اواز پورته کړ: « موږ د نارینه وو سلا مشورې نــه غــواړو. کــه نارینه غواړي آزاد و اوسي، موږ هم غواړو. زموږ نجونې نور نه غواړي واده ته حرفــوي بنه ورکړي. وروسته له دې نه مینه به د واده یواځینی اساس وي!»

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هرې خوا نه. په خاص ډول مخکې کتارونو نه چې هلته میرمنې ناستې وې ډېر لاسونه پرکیدل.)

## د خرافاتو پر ضد مبارزه:

په د غوایي خیرات نومي ناول کې تر ډېره د ټولنې په ناوړه دود، دستور او خرافاتو باندې تمرکز شوی. په دې ناول کې د کلي محافظه کار او د پرمختګ ضد کسان هم انځور شوي چې رواج ورته تر هر څه مهم وي، چې د دغه اهمیت له امله ډېرې غلطۍ پرېکړې هم کیږي.

مثال: د ګوبار له اشتباه وروسته، جونیا چې بارداره هم وي، د ګوبار دوی کور ته راځي او هلته ورته د هوري او دهنیا له خوا د خواخوږۍ او بشر دوستۍ په وجهه پناه ورکول کیږي، خو دغه کار د جونیا د کورنۍ او نورو کلیوالو له خوا غندل کیږي او لـه هـوري رام څخه په کلکه غوښتل کیږي، چې جونیا له کوره بهر کړي، خو هوري او دهنیا دغه کار ته په هیڅ قیمت نه حاضریږي، نو هماغه وي چې د کلـي خلـک دوی پـر ضـد راټولیږي او دوی په نغدي او غیر نغدي ډول جریمه کوي، څو خپل رواج تر سره کړي: (نوکي رام د رای ناظر یو خانداني او ستر برهمن و. هغه د ټاګور په دې نظر باندې چې دا موضوع رای ته ورسول شي، داسې فکر وکړ چې دا کار د ده پرستیژ تـه سـپکاوی ګڼل کیږي. هغه شاوخواته وکتل او ویې ویل: «رای ته د تک لپاره هیڅ اړتیا نه شـته. زه له دې سړي سره پوهیږم. راځئ چې په هغه باندې د سلو روپو جریمه ولګـوو. دی به خپله دا کلی پرېږدي. په عین حال کې به زه د هغه د زمکې د قبضـه کولـو لپـاره اسناد جوړ کړم.»

ښایی دا موضوع یو څو ورځې ځنډیدلي وای، خو د جونیا کره په هغه شـپه یـو زوی وشو. بله ورځ د کلي خلک په بېړه سره راټول شول او جرګه یې جوړه کړه. په جرګـه کې ډېرو خلکو ګډون کړی و. هوري او دهنیا هم را احضار شـول. د جرګـې پرېکـړه اعلان شوه چې هوري دې سل روپۍ نغده جریمه او دېرش مونده غله ورکړي.)

## د ماشومانو تربیې ته توجه او شخصیت ته احترام:

پریم چند د ماشومانو معصومیت ته احترام کوي، دوی د ټولنې تر ټولو معصوم قشـر بولي او د کورنۍ مشرانو ته توصیه کوي چې له ماشومانو سره مینه وکړي، د دوی تـر

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځ توپیر قایل نه شي او ټولو ته یو شان مینه ورکړي، دروغ ورته ونه وایي او د کومو مسایلو په اړه چې ماشومان پوښتنه کوي، هغه ورته په سمه توګه توضیح کړي. دغــه برخه یې د آدابو او د ماشومانو د شخصیت جوړونې لپاره ښه بیغام لري: (په دې وخت کې روپا خپل پلار ته مخ ور واړاوه او ورته ویې ویل: «کاکا، سونا تل ما ځوروي. وایــې چې هغه سره زر ده او زه یوازې سپین زر. زه غواړم خپل نوم بدل کړم.»
هوري ځان په قار وښوده او ویې ویل: «سونا ولې دې خپله خــور ځــوروې؟ ســره زر یوازې د نمایش لپاره وي. خو سپین زر زموږ په کار دي. که چیرې ســپین زر نــه وي دوی روپۍ جوړولی شوای؟ راځه راته ووایه؟»
سونا ژر تر ژره ځواب ورکړ: «بې له سرو زرو نه مــوږ پیــزوان، غــاړه کــۍ او بنګـړي جوړولی شو؟»
ګوبار، روپا ولمسوله: «سونا ته ووایه چې سره زر د وچو او رژېدلو پاڼو رنــګ دی. خــو سپین د لمر په شان روښانه دی.»
سونا چې له خپل دریځ نه وانه وښته ویې ویل: «خو ناوې تل یو ژیړ ساري اغوندي. آیا د دوی کله هغې ته سپین ور اغوندي؟ »
روپا په بې وسۍ سره پلار ته وکتل. هوري بې حوصلې شو او سر یې وخوځیــد. ویــې ویل: «سره زر د بډایانو لپاره دي او سپین زر زموږ غوندې خلکو لپاره. مــوږ اوربشــې خورو او بډایان غنم. اوربشو ته د غلو دانو سلطان وایو او غنمو ته نوکر. زمــوږ لپــاره، سپین زر د فلزاتو پاچا دی او سره زر یې نوکر.»

## منشي پریم چند په مینه کلک باور لري:

پریم چند مینه پیژني، بلکې په مینه عقیده لري او هر انسان ته په خپل لــوړ هنــر سره مینه ور زده کوي او ورته وایي چې په ژوند کې مینه وکړي، خو باید هر څــه پــه چوکاټ او د ټولنې له نزاکتونو سره په تمامه معنا برابر وي، یعنې داسې مینه ونه کړي چې د شرم سبب یې ورګرځي.
دی په یوه برخه کې د ګوبار او جونیا د مینې چې د یوې اشتباه له امله د دواړو ژونــد تریخیږي، ګوبار کلی پریږدي او تښتي، خو جونیا د ګوبار دوی په کور کې له یو عــالم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملامتیو سره مل ژوند کوي، ځکه نور ورته په خپله ټولنه کې د افتخار ژوند کولو لپاره هیڅ ځای نه و او نه هم چا ورته اهمیت ورکاوه.

مثال: (دهنیا پر نمجنو وښو کښیناستله. هغې وویل: «ګوبار زموږ نوم پر زمکه وهلـــی. له هغه څه چې ډاریدم، لکه چې په واقعیت بدل شوي دي.»

هوري: « څه پېښه شوې ده؟ آیا هغه له چا سره شخړه کړې ده؟»

« ښه به دا وي چې له هغې کوډګرې نه وپوښتې!»

«کومه کوډګره؟ ته لېونی شوې یې؟ ولې معما وایې؟»

«جونیا، هو څوک؟»

«جونیا دلته ده؟ د پنځو میاشتو کوچنی یې په نس کې دی او ګوبار ورک شوی.»)

په ورته وخت کې دورغجنې، کاذبې او یوازې په شهوت ولاړه مینه غندي او د دغــې مینې کوونکي په خپل هنر سره ملامتوي: ( جونیا: ګوباره، داتادین (پنــډت) وړانــدې راته ویې ویل: « زما ملکې، جونیا هره ورځ ته لرې تښتې، ښایست دې زمــا زړه وړی خو نن ته زما یې. جونیا، زما ملکې، زما خپلې، که په خپل مین لږ څه مهربانه شــې، ستا به هیڅ شی کم نه شي. په دغه خوارکي باندې هم لږ زړه سوی وکړه. خدای ته به څه ځواب ورکړې که له تا نه وپوښتي: «ما تا ته دومره زیاته ښکلا درکړې وه او تــا آن په مهربانۍ سره هم یوه برهمن ته ونه کتل.» وغرېږه، زه یو برهمن یم، ستا یوې خبرې ته تږی. زه هره ورځ پیسې صدقه او د غوایي خیرات ور کوم. دا ستا د ښکلا د غوایي خیرات او صدقه ده چې زه یې نن در نه غواړم. »

خو داتادین د جونیا له خوا په لوښي باندې په سر ویشتل کیـږي او سـبا تــه یــې د میرمنې په وړاندې ورته جونیا وایي: « پنډت جي، د پرون په باره کې دې ښــځې تــه ووایم؟ »

خو پنډیټ سر پر زمکه مښوده، وزګروید: « زما عزت ستا په لاس کې دی. که چیــرې زما ښځه خبره شي، ما به مړ کړي.»

## په ټولنه کې د نارینه او ښځې د رول بیانول:

پربېم چند په ټولنه کې د ښځې او نارینه رولونه هم په ډېر ښه شان سره بیان کړي او دا یې هم ښودلې چې ښځه د دریمې نړۍ په هیوادونو کــې د دوهــم درجــه انســان

(c) ketabton.com: The Digital Library

حیثیت لري. په دغو ټولنو کې ښځې د نارینه تر امر لاندې وي او آن زموږ د ټولنې په شمول په یو شمیر ټولنو کې ښځې تر بیلابیلو فشارونو لاندې وي، لکه یو ځـای کـې چې هوري خپله ښځه وهي ډېوي: (هوري ورته ګواښ وکړ: «دهنیا، تا ته اخطار در کوم که چیرې ... .»

دهنیا چې له قار او غضب نه خوټیده، په خپلو خبرو یې ټینګار وکـړ: «ځـو چـې دی بندیخانې ته بو نه ځم، زه آرام نه شم کولی. هغه باید درې کاله تیرې میده کړي. درې کاله. او کوم وخت چې له بندیخانې نه راوځي، دا د بې حسه ککرۍ خاوند باید زیارت ته لاړ شي څو د خپلو ګناهونو جبیره وکړي.»

سهار حالات خراب شوي وو. هوري د خپلې ښځې په وهلو پیل وکړ او هر کـــَرَت بـه چې هوري پرې حمله کوله، هغې د ښکنځلو په ویلو خپل غچ اخیسته. نجونو د خپـل پلار په پښو کې ځان ور نښولی و او ګوبار خپله مور پټه کړې وه. خو هر کـــَرَت بـه چې دهنیا خپل مېړه ته ښکنځل او بد رد ویل، هوري به ګوبار پورې واهه او څـو نـور ګوزارونه به یې پرې ور حواله کړل.)

پریم چند په دې باور دی چې د ټولنې محکومې ښځې هم کولی شي پرمختګ وکړي. مثال: (د برېښ مسوول مدیر وویل: «هغه وختونه تېر شوي دي چې کولی مـو شـوای ښځې په اسانۍ سره تېر باسو.»)

## پریم چند افغان داسې انځوروي:

پریم چند د افغانانو ژوند هم انځوروي، یو افغان چې وسله لري او پـه ناخـاپي ډول د هندوستانیانو په منځ کې راپیدا کیږي. یو بدمعاش او زړو ویـونکی. د پـریم چنـد د غوایي خیرات له دغې برخې څخه داسې ښکاري چې د هنـد خلـک افغانـان د زور ګویانو او ټوپک خوښوونکو په توګه پیژني.

که څه هم افغانانو د تاریخ په اوږدو کې په هند کې پاچاهي کړې او د هند د تمدن یوه زیاته برخه د افغان شاهانو سره اړیکه نیسي، خو دا چې ولې نوموړی افغانان د ټوپک خوښوونکي او ټوپکمار په توګه انځوروي، ممکن په دغـه هیـواد کـې د افغانـانو لـه تاریخي جنګونو څخه یې الهام اخیستی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر بم چند افغان داسې انځور کړی دی: ( دوی د دوسیهرا محفل ته د تلو لپاره تیار وو چې یو افغان ناڅاپه کوټې ته راننووت. ده چې لوړه ونه، پراخه سینه، اوږده بر ېتونه او سرې سترګې درلودې، پراخه کمیس او پرتوګ یې اغوستي وو. د هغه سـرو زرو پـه رنګ پر خامک دوزي واسکټ باندې کتار وزمه له ورایه پر ېښیده، ټوپک به یې پر اوږو پروت و او توره یې په خوا کې ځوړنده وه. هغه لکه تالنده او بر ېښنا وغوړ یده.
افغان وویل: « خوځیږه مه! زما ملګري لوټ شوي. ستاسو مشر چیرته دی؟»
رای وړاندې راغی: « څه خبره ده؟»
افغان د ټوپک کنداغ پر غولي په زوره وواهه: « خبره؟ ستاسو له سرو نه یوه زمـا لـه ملګري نه چې د یو کور خوا ته روان و زر روپۍ لوټ کړې دي. »
ټول محفل بې سده، ګنګس او ګیچ شو. د پیغلې مالتي کړتې او پړتې ویـل لـه یـاده وواته، د ښاغلي کهنه پښې ولړزیدې.
رای وویل: «موږ غله نه یو. موږ ټول دلته ښه خلک سره راټول شوي یو. زه د اسامبلې غړی یم. دا میرمن چې دلته وینې یوه ډاکټره ده، له لکنهو نـه راغلــې. مــوږ پـه دې موضوع هیڅ خبر نه یو. ښه به دا وي چې پولیس ته راپور ور کړې.»
خان خپله پونده پر زمکه ووهله :« د چرګ او د غوایي کیسې مه راته کــوه. زه کــولی شم د اسامبلې غړی داسې تر پښو لاندې اوړه کړم. بې له خدایه له هیچا نه ډاریـږم. ماته مې پیسې راکړه. زه د چتیاتو زغم نه لرم.»
حالات په خرابیدوو، هیڅ کوم نوکر هم نږدې نه و. میرزا وویل: «ما باید خپله تومانچه له ځان سره راوړې وای.»
خان نارې کړې: «تاسو ته اخطار در کوم پیسې راکړئ، که نه دا ټول کلی به لوټ کړم څوک جرآت لري چې زما په مخکې ودریږي؟»
رای نارې کړې: «هوري پولیس، پولیس!»
خان یو وارې هوري ته ټوپک ونیو: «ونه خوځیږې خوګه، کنه مړ کوم دې.»)
له بده مرغه چې افغانان تر اوسه هم په جګړه کې ښکیل دي، خو لــه نیکــه مرغــه د افغانستان او هندوستان خلک په بیلابیلو برخو کې ټینګې اړیکې لري او دغه اړیکې په صداقت ولاړې دي، لکه د مهاتما ګاندي او خان عبدالغفار خان باچاخان تــر مــنځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دوستانه او صميمي فضا وه، دواړه د عدم تشدد د فلسفې سرلاري دي او افغانان وياړي چې له هند سره د خان عبدالغفار خان په وخت کې جوړو شويو اړيکو ته ادامه ورکوي.

## بشر دوستي:

د غوايي خيرات تر ټولو زياته برخه بشر او بشر دوستۍ ته وقف شوې ده، په حقيقت کې د ټول ناول اصلي برخه د انسان او بشر د خير لپاره نصيحت دی او ظالمانو ته توصيه کوي چې پر مظلومانو ظلم ونه کړي، خانانو ته وايي چې له غريبانو سره مرسته وکړي، لويانو او والدينو ته پر کشرانو او ماشومانو د شفقت لاربښوونه کوي. پوهو او د درک خاوندانو باندې لازم بولي چې له ناپوهو کسانو سره ځانونه برابر نه کړي، د چارواکو ته ورښايي چې له خپل واک نه غلطه ګټه پورته نه کړي.

لکه چې په ښکار پسې وتلي مالتي او هيرا سره يوه ښځه مرسته کوي: (مهتا کښيناست او د هغې (مالتي) سر يې په خپلو لاسونو کې کلک ونيو. په ماهرانه ډول يې په ګوتو کېښوده. هغې خپلې سترګې پټې کړې وې.

هغه ځوانه ښځه چې لاسونه يې په اوړو خيشته وو او سترګې يې له دوده سوځيدې، راغله مالتي ته يې وکتل او ويې پوښتل: «په دې څه شوي؟»

هيرا «سر يې ډېر خوږيږي.»

«نيم سر يې که ټول؟»

«هغه وايي چې نيم سر.»

«ښۍ خوا که کيڼه؟»

« کيڼه خوا.»

«زه به څه شی راوړم.»

مهتا هغه وليدله چې غونډۍ ته پورته شوه. د يوې نانځکې په شان ښکاريده. مالتي سترګې پورته کړې. «دا چاينکه چېرته لاړه؟»

«هغه تللې چې ستا د سر د خوږ لپاره څه راوړي.»

هغه ځوانه ښځه راښکاره شوه، يو بوټۍ يې په لاس کې نيولی و. ويې ويل: «ومې مونده. اوس به درمل جوړ کړم. تاسو چيرې ځئ؟ د مرغۍ غوښه تياره ده. اوس به

(c) ketabton.com: The Digital Library

**چپاتي پاخه کړم. میرمن کولی شي شیدې راواخلي. مازیګر چې هوا لــږه ســړه شــي لاړشي.»**

## د طبي بوټو د درملنې رازونه راښيي:

**په پورته بحث کې د بشري تجربې حقیقت هم جوتیږي، بشر د تاریخ په اوږد کې تــر ننه پورې له بوټو څخه د درملو لپاره ګټه پورته کړې ده. طب او درمل پوهنه تر زیاتې اندازې په بوټو باندې تجربې کوي او له هغه څخه د انسانانو لپاره درمل جوړوي.**

**بل ځای داسې راغلي:( یو کلیوال په لاره تیریده، یوه ټوکرۍ یې پر سر وه، کهنه هغه ودراوه او ترې نه ویې پوښتل: « په ټوکرۍ کې دې څه شی دي؟ »**

**کلیوال اریان پاتې شو. په خواره ژبه یې وویل: « باداره کوم مهم شی نه دي. د بوټو څو پاڼې او ریښې دي، بازار ته یې د خرڅلاو لپاره وړم.»**

**کلیوال هغه ته خپل( درملو دکان) محتویات ور وښودل. عادي بوټي وو چــې کلیــوال یې په عطارانو باندې په ډېره ټیټه بیه خرڅوي، هغه یوه ریښه راواخیسته او ویې ویل: «مُسکن دی. دومره ګټه لري چې یو خوراک یې تبه، د زړه ټکــان، ټــوخی او بواســیر تداوي کوي او دا هم اغیزمنه ده، د بواسیر او د نس د بادو لپاره ... .»**

**رای ترې نه پوښتنه وکړه :«دا ځځلې څه کوې؟»**

**کهنه په موسکا شو: « زه به یې په سرو زرو بدلې کړم. زه کیمیاګر هم یم.»**

**« دکیمیاګرۍ نوی راز په څه کې دی؟»)**

## ښکار:

**په د غوایي خیرات کې یوه برخه ښکار ته هم ځانګړې شوې ده، څو نږدې دوستان د ساعتیرۍ لپاره له ښاره بهر یوې درې ته د ښکار لپاره ځي. په دغه برخــه کــې هغــه اندېوالان چې یو بل ته زیات نږدې دي، ځي او ښکار کوي.  د دوی موخه یوازې ښکار نه وي، بلکې د دوستانو تر منځ د صمیمي فضا پیاوړي کول او د هوا بدلول دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## منشي پریم چند د ټولنې د پرمختګ لپاره د بیـان آزادي حیـاتي بولي:

پریم چند د یوه ریالیست لیکوال په توګه د بیان په آزادۍ کلک باور لـري او وایـي چې رسنۍ او د بیان ازادي کولی شي ټولنه په سم لوري ته بوزي.
پریم چند په دې عقیده دی چې که چیرته په یوه ټولنه کـې د مطبوعـاتو آزادۍ تـه احترام وشي، نو ډېرو ستونزو ته به رسیده ګي وشي، د خلکو ستونزې به د مسوولینو غوږنو ته ورسول شي او چارواکو ته به له خپل واک څخه د ناوړه ګټه اخیستو زمینـه برابره نه شي.

## د فساد غندنه:

پریم چند د ټولنې د یوه رهنما په توګه فساد که په هر ډول او هره کچه وي، غندي او دغه پدیده د ټولنې لپاره تباه کوونکې ګڼي، نوموړی په خپل عالي هنر سره خلـک د فساد پر ضد هڅوي او په یوه صف کې یې دروي، څو له خپلې ټولنې څخه دغه نـاوړه او زشته پدیده ورکه کړي.
نه یوازې هندیان، بلکې نور ملتونه هم کولی شي د پریم چند له آثارو څخه د خپلـې ټولنې د اصلاح لپاره ګټه پورته کړي.

## د ورزش او ورزشکار ستاینه:

لکه څنګه چې ټولو ته جوته ده چې ورزش د انسانانو روغتیا ته ګټه لري او دوامـدار ورزش کول د دې سبب کیږي چې انسان په ټولنه کې لـه هـر ډول بـدبختیو څخـه وژغورل شي. پریم چند هم په خپل د غوایي خیرات کې انسانان ورزش ته رابولي، څو یوه روغه انساني ټولنه جوړه شي.
( میرزا او مهتا خپل کالي سره وایستل او میدان ته سره ووتل. هـر یـو د مسـابقې د لیکې خوا ته ودریدل. ننداره چیانو پر دې بې مهارته او بې خونده ننداري باندې غوغا جوړه کړې وه. دوی لاسونه پړکول په پیسو باندې شرطونه وهل. یوه به ویل: « زاړه بابا ته ګوره څنګه په نخرو راځي! »

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل به ویل: «او آبلې خوا ته هغه ګوره. هغه باید د هغه مشر ورور وي. د دوی هډوکي لا تر اوسه پورې د پولادو په شان دي. ښايي دوی په ژوند کې دومره غوړي خوړلي وي لکه چې مورِ اوبه څښلي دي!»

د مهتا ټیم بد حال درلود. له نیمایي نه زیات د هغه لوبغاړي مړي شوي وو. مهتا هیڅکله د کبادي لوبه نه وه کړې.

میرزا د لوبې په هر اړخ پوهیده. مالتي په عصبانیت سره رای ته وویل: « مهتا ښه لوبه نه کوي.»

رای د هغه مداخله ژر په خوښې سره ومنله، هغه له ځای نه راپورته شوه: « زه پوهیږم چې میرزا یو پیاوړی لوبغاړی دی.»

کهنه وویل: « ولې مهتا له مخکې نه فکر ونه کړ. هغه له خپل ځان نه احمق جوړوي.»

مالتي وویل: «په دې کې څه حماقت دی؟ اخر یوه لوبه ده.» یو څو شیبې غلې شوه، بیا یې وویل: « آیا په دې لوبه کې د تفریح وخت نه شته؟»

کهنه وویل: «چارت ته ګوره! له میرزا سره مسابقه هغه فکر کاوه چې دا به هم د فلسفې د درس په شان اسانه کار وي.»

مالتي بیا وویل:« آیا دوی تفریح نه لري؟»

کهنه وځوروله:« لوبه ژر پای ته رسیږي. دخندا وړ هغه وخت ده چې میرزا دی ښکته او پورته کش کړي، سر دې په زمکه ووهي او په زوره دې راپورته کړي.»

مالتي د بدخویی له مخې وویل: «تا سره څوک خبرې کوي؟ ما له رای نه پوښتنه وکړه. آیا هاف ټایم شته؟ »

هغه ځواب ورکړ: « نه، زه فکر نه کوم.»

هغې وویل: «د مهتا په ټیم کې چې په وروستیو پښو ولاړ و یوازې شل کسه ژوندي پاتې وو. د لوبې په وروستی برخه کې هیجانات زیات شول. نندارچیانو د لوبې اخرینی نتیجې ته په بې صبری سره را نږدې شوي وو او یو څو شیبې وروسته مهتا یوازینی ژوندی پاتې و. د ټیم سرنوشت په ده پورې تړلی و. دی مجبور و چې د دښمن کمپ ته لاړ شي، د دښمن لوبغاړي ګیر کړي او بیرته خپلې لیکې ته ځان راورسوي. هر څومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوبغاړي چې دی ګیر کړي، هغوی مړه کیږي او که چیرې روغ رمټ خپلـې خـوا تـه راستون شو، په هماغه اندازه د ده د ټیم لوبغاړي بیرته ژوندي شمیرل کیږي.»
د ټولو سترګې مهتا ته وې. هغه په آرامۍ سره د دښمن د کمپ خوا ته لاړ. خلک ډېر هیجاني شوي وو، خو د دښمن لیکې هماغسې ټینګې ولاړې وې او له هغو نه تېریدل اسانه کار نه و. دا هیله چې ښايي د خپل ټیم یو څو کسه بیا ژوندي کړي نه وه پـاتې. میرزا ټوپ وواهه، هغه له ملا نه ونیو. مهتا په نا امیدۍ سره ورغښت او میـرزا یـې د لوبې لیکې ته راکش کړ. په عین حال کې د میرزا د ټیم غړو ناڅاپه پرې ورټوپ کړ او هغه یې په بېړه ونیو. مهتا لا تر اوسه هم پر زمکه اوږد غورځیدل و. بیا یـې خوشـې هڅه وکړه چې د لوبې اساسي لیکه ماته کړي. که چیـرې ده دغـې لیکـې تـه ځـان رسولی وای، د خپل ټیم پنځوس کسه یې بیا را ژوندي کول. خو دی یو انچ هم وړاندې نه شوای تللی. میرزا یې پر شا ناست و. مالتي په خواشینۍ سره هغوی تـه ورغلـه او ویې ویل: « میرزا خورشید، دا ښه کار نه دی. لوبه خلاصه شوې ده.»
میرزا د مهتا اورمیږ ټینګ کړ او ویې ویل: «زه به یې تر هغو پورې پرې نـه ږدم، څـو چې دی ووايي، لوبه یې بایللې ده. دی ولې نه وايي چې ما بایللې ده؟»
مالتي چې نږدې راغله ویې ویل: «دومره بې رحمه او سخت زړه مه اوسه. ته خـو نـه غواړې چې دی په زوره ماتې ته اړباسې؟»
میرزا چې د مهتا پر شا شلم ناست و ویې ویل: «زه د قواعدو سره سم لوبه کوم. هغـه ته ووایه چې ووايي ما بایلوده، بیا به یې خوشې کړم.»
مهتا هڅه وکړه چې ځان پورته کړي او په چل ول ځان خـلاص کـړي. میـرزا د هغـه اورمیږ ښکته خوا ته پورې واهه . مالي هڅه وکړه چې میرزا کش کړي.
هغې وویل: «دا لوبه نه ده وحشت دی.»
ناڅاپه تا به ویل چې کومه معجزه وشوه میرزا پراخ پر زمکه راولوید او مهتا د لیوني په شان د اساسي کرښې خوا ته وځغاسته. ننداره چیانو خپلـې خـولۍ هـوا تـه پورتـه واچولې. هیڅوک پورته نه شو چې حالت څنګه سرچپه شو.
میرزا، مهتا راپورته کړ او دا بریالی قهرمان یې قرګاه ته بوته. نن د مهتا ورځ ده. )

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په روښنفکرۍ باور درلودل:

په ټولنه کې د نورو اقشارو تر څنګ روڼ اندي هم شته، خو دغه قشر ډېر کـم دی او که چیرته ټولنه کې روڼ اندي زیات شي له هر ډول ستونزوڅخه په اسـانۍ ژغـورل کیدای شي.

اروانښاد شمس الدین مجروح روڼ اندي داسې راپېژني: ((د روشنفکر اصطلاح نن په شرق او غرب کې ډېره معمول ده. خو آیا د دې اصطلاح په توضیح او تعریف چا فکـر کړی؟ غواړم دا اصطلاح لنډه توضیح کړم.

روشنفکران په سیاسي او علمي مسایلو کې له چا څخه په پټو سترګو تقلید نه کوي. روشنفکر ټولنیز تعاملات او خرافات په منتقدانه نظر ګوري، پر هغو بحث کوي، یا یې ردوي او یا یې د اصلاح لپاره هڅه کوي.

روشنفکر استدلال او منطق ته زیات اهمیت ورکوي او خپل احساسـات کنټرولـوي، ډېرلږ احساساتي او عصباني کیږي . عجولانه قضاوت او نتیجه ګیري نه کوي. د نـورو په انتقاد نه خفه کیږي، د فرد لیاقت او صلاحیت ته زیاته اهمیت ورکوي او پلرنی نوم او نښان نه مني. مذهبي، قومي، نژادي، ژبني او نور تعصبات غندي او د بیان او فکر په آزادۍ باندې عقیده لري، د نورو د فکر او نظر آزادۍ ته احترام لري، د ازادۍ غوښتنه خپله ایډیولوژي بولي او له متعصبو دولتونو سره مبارزه کوي.(۹ : ۲۷۷ ـ ۲۷۹)

د پرېم چند په د غوایي خیرات ناول کې هم په روښنفکرۍ باندې باور لیدل کیږي او د ټولنې ټولو وګړو ته په یو ډول پوهوي چې هر ډول تعصبات لرې پرېږدي او د ټولنې د اصلاح او امن لپاره رشنفکرانه سلوک خپل کړي.

## زده کړو ته اهمیت ورکول:

(کاول درې لونې درلودې او غوښتل یې چې دوی په انګلستان کې زده کړه وکـړي. د نورو شتمنو په شان دی هم په دې باور و چې انګریزي زده کړه یو سړی بیخي بدلوي ښايي انګلستان اقلیم په دې کار کې څه رول ولري، وايي د سړي ذکاوت زیاتوي. خو د ده د دې ارزو له درې برخو نه دوه برخو یې تحقق ونه موند. مالتي لا په انګلســتان کې وه چې په ژوند کې معیوب وه، ګونګۍ هم شوه. د خبرو کولـو د تـوان لــه لاسـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ورکول په دې مانا و چې د ژوند د معشیت او کاروبار سره هم خــدای پامــاني وکــړه. دعایداتو انډول یې له خرڅ سره برابر و. د بدې ورځې لپاره سپما د هغې عادت نه و. نتیجه دا شوه چې دوی په دې څو وروستیو کلونو کې مازې خپله ګوزاره کولــه یــانې خوله او لاس و د کورنۍ د خرڅ ټول بار په مالتي باندې پروت و په میاشت کې د هغې له څلورو تر پنځو سوو روپو عاید سره د لوړې سطحې ژوند اوس ممکن نه بر ېښــیده. خو دی په یو ډول سره د هغې د دوو خونیدنو د زده کړې خرڅ برابراوه.**

**شپه وه خو هوا تر اوسه پورې هم توده وه. مالتي او خویندې یې په چمن کې ناســتې وې. د چمن واښه د نه پاملرنې له امله مړاوي او وچ شوي وو، ځای ځای واښه دومــره وچ شوي وو چې خاوره ورڅخه را پورته کیده. مالتي وویل: « آیا باغوان د چمن ساتنه او پاملرنه نه کوي؟»**

**دوهمې خور ساروج وویل: «هغه ټول وخت ویده وي. هغه تیار دی چې د هغو کارونو د نه اجرا کولو لپاره چې باید کړي یې وي شل دلیله درته ووایي.»**

**ساروج په اجتماعي علومو کې د لیسانس زده کړه کوله. هغه د لــوړ قامــت خاونــده، ډنګره او نرۍ او په طبیعي ډول ژر خوابدې کېدونکې وه. په هر شي باندې شکمنه وه. ډاکټرانو ورته ویلي وو چې زیات فکر ونه کړي او غرنیو سیمو ته لاړه شي، خو کورنۍ یې دومره پیسې نه درلودې چې دا هلته ولیږي. )**

## مفید او ملي سیاست کول:

**پریم چند سیاست د ټولنې د خلکو د ژوند مهمه برخه بولي او دا راپوهوي چــې کــه چیرې یوه ټولنه پیاوړي او واقعي خدمتګار سیاستمداران ولــري، نــو کــولی شــي د پرمختګ لپاره چټک ګامونه پورته کړي او دغه ډول سیاسي قشر ټولنــه لــه ســترو بحرانونو ژغوري.**

**دا سمه ده چې په یوه ټولنه کې ډېر کسان دي چې ځانونه سیاستوال بولي، خو واقعي سیاستمدار هغه دی چې د ملي سیاست په چوکات کې د یوې ټــولنې د ټولــو وګــړو لپاره کار وکړي نه د قومي، سمتي، مذهبي او ژبنیو تعصباتو په اساس، ځکه دغه ډول سیاست کول ټولنه د نیکمرغۍ پر ځای بدبختیو په لور بیایي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریيم څپرکی

## ژباړه او اهمیت یې

ترجمه یا ژباړه په لغت کې: ترجمه د عربي ژبې مصدر کلمه ده چې د تفسیر له یوې ژبې څخه بلې ژبې ته د یو مطلب د انتقالولو، د چا سیرت، اخلاقو او نسب د ذکر کولو په معنا ده.

ژباړه په لغت کې اړولو ته وایي، یعنې له یوې ژپې نه بلې ژبې ته د ویناوو او مفاهیمو اړولو ته ژباړه وایي. هغه څوک چې ژباړه کوي ورته ژباړونکی ویل کیږي.

ژباړه په اصطلاح کې: ژباړه په اصطلاح کې د مبدا د ژبې لغاتو او مفاهیمو ته د مقصد په ژبه کې د دقیقو او نږدې معادلو لغاتو او مفاهیمو پیدا کول او لټول دي، په دې شرط د ویونکي اصلي مطلب ته زیان ونه رسیږي او د هغه علم په کې حفظ وي.

د ژباړې اهمیت: نن هغه وخت نه دی چې زموږ نیکونو او غور نیکونو په کې ژوند درلود.نن د کمپیوټر او انټرنټ دور دی، د عصري او موډرنې ټکنالوجۍ عصر. نو ځکه په کار ده چې د نړۍ له اوچت او چټک یون سره ځان غاړه غړۍ کړو او هڅه وکړو چې له دې یون نه په شا پاتې نه شو.

نننۍ نړۍ سره له دې چې پرمختللي او لویه ده، له دې ټولې لویۍ او پراخوالي سره سره د یوه واړه استوګنځي حیثیت لري. نن که د نړۍ په ختیځ او یا لویدیځ کې کومه څېړنه، اختراع او یا نوی کشف کیږي نو په څو شیبو کې له ټولې نړۍ سره شریکیږي، دا چې څنګه دومره په سرعت خپریږي او تر هر چا رسیږي همدا پوښتنه زموږ د لیکنې اصلي برخه ده چې پوهیدل یې پرته له ځنډه شونی بریښي دا ځکه چې نن هغه عصري ټکنالوجي زموږ ملګرتیا کوي، خو شرط یې دا دی چې موږ له خپلې مورنۍ ژبې څخه پرته په بله کومه نړیواله ژبه هم پوه و اوسو او وکولی شو د هغې مبدا ژبې مفاهیم را واخلو او په خپله ژبه یې واړوو او د هیواد د ټول ولس تر غوږه یې ورسوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که په نړۍ کې داسې څوک نه وي چې همدا د را اړولو فن یا مهارت یــې زده وي، نــو ناشونی بریښي چې همدا مډرنه ټکنالوجي هم زموږ په درد وخوري. له همدې ځایــه ده چې موږ په ژباړه او د ژباړې په اهمیت او ضرورت ښه پوهیدلی شو. هغه هیوادونــه چې په ذهني او فکري لحاظ وروسته پاتې دي او غواړي چې په عقیــدوي، فکــري او علمي لحاظ د هغو هیوادونو پیروي وکړي چې په دغو ساحو کې پرمختللــي دي. نــو وروسته لازمه ده چې لومړی د هغو په ژبه ځان پوه کړي او بیا په دې توګــه د هغــوی عقاید، افکار، خیالات، د علومو او فنونو په بیلابیلو برخــو کــې تجربــې، نظریــات او اختراع ګانې د خپلو خلکو لپاره په خپله ژبه راواړوي او ځان او ولس پرې پوه کــړي. که ژباړه او ژباړن نه وای د نورو قومونو او ملتونو له حالاتو څخه د خبریدو امکانات به نه وو، ځکه پرته له دې چې ژباړې ته مخه کړو بله لار نه لرو؛ نو ویلی شو چې په یــوه ټولنه کې د تجربه لرونکي ژباړونکي او ژباړل شویو آثارو مجودیت اړین دی.

## د ادبي آثارو ژباړه:

د علومو لمن ډېره پراخه شوې ده او د نړۍ ټول علوم په بیلابیلو څانګو وېشل شوي، په دغو څانګو کې له ډېرې زمانې راپه دیخوا د ژباړې بهیر روان دی او د هر مســلک متخصصین په خپله برخه کې ژباړه کوي، په همدې ډول ادیبان او فرهنګیان هم پــه خپله برخه کې لګیا دي ژباړې کوي، زما په نظر تر ټولو ښکلې ژباړه ادبــي ژبــاړه ده، ځکه ژباړن کولی شي تر ټولو ښکلي او مناسب لغات د خپل ذوق مطابق وټاکي او پــه مقصد ژبه کې یې وکاروي په دې ډول ژباړه کې ژباړن د لفظي او معنوي ښایستونو په کارونه کې خلاص لاس لري، خو شرط دا چې د مبدا د ژبې محتوا او مفهــوم پــه کــې ورک نه کړي، ځکه په هر ډول ژباړه کې ژباړن د امانتدارۍ د اصل په رعایتولو مکلف دی، په ادبي ژباړه کې له همدې کبله له یوه متن څخه څو ډوله ژباړه تر لاسه کیــږي، دا ځکه چې هر ژباړونکی یې په خپل فکري طرز ژباړې او خپلې خپلې موخې ترې تر لاسه کوي او د کره کتونکو لپاره د کره کتنې لاره اواروي.

د شعر ژباړه: د شعر د ژباړې په اړه دوه نظره وړاندې شوي دي، د یوه نظــر پلویــان د شعر ژباړه نه مني او دا ناشونی کار بولي، خو د دوهم نظر پلویان بیا دا نــه منــي چــې ګواکې شعر نه ژباړل کیږي، دوی په دې عقیده دي چې شعر له وړاندې ژباړل شــوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړل کیږي او بیا به هم وژباړل شي او د دې ادعا د ثابتولو لپاره د بې شماره هغو کسانو نومونه او شعرونه بادوي چې له مبدا نه مقصد ژبې ته ژباړل شوي دي. حقیقت هم همدا دی چې شعر د ژباړې وړ دی.

د شعر ژباړونکی باید پرته د مقصد د ژبې د تشبیهاتو په لطافت، د استعاراتو په رمز، د کنایو په روح او نور فنونو او همدا شان د ویونکي په لیکنه او ژبه ښه برلاسی وي او بیا په ډېر مهارت د هغه شعر خپلې ژبې ته واړوي. له بلې خوا دا لیکوال او مولف تر منځ همغږي، ګډ فکر، ګده عقیده هم د ژباړونکي په کار مثبته اغیزه ښندي او ژباړن هڅوي څو د مولف د مقصد په اړولو کې بریالی شي.

د شعر په ژباړه کې باید لاندې ټکي په نظر کې ونیول شي:

۱ . د شعر ژباړونکی باید شاعر وي او شعر پیژندونکی ، د شعر خوښوونکي شعر نه شي ژباړلی.

۲ . د شعر ژباړه د ښکلا او امانت د پارادوکس د حل لپاره یوه هڅه ده. دا کار یو عجیبه طبیعت لري، نه دې پرېږدي چې له موضوع ووزې.

۳ . د محتوا، قالب، جوړښت او مناسبه ژبه ټاکل د شعر په ژباړلو کې لوړه هڅه ده، خو انتظار مه لرئ چې په هماغه کچه چې د مبدا په ژبه کې ورته قالب محتوا، جوړښت او ژبه ټاکل شوې د مقصد په ژبه کې یې هم ورته ومومي. د بیلګې په توګه د یوه عروضي شعر ژباړه په عروضي بڼه کله کله خوږه او زړه راښکونکې نه وي او کله داسې هم پیښیږي چې یوه عبثه هڅه وبلل شي.

۴ . د شعر ژباړونکی باید د شعر د ژباړې په وخت کې له وړاندې ځان ته ژبنی قالب جوړ نه کړي، یوازې باید د ښکلا امانت خیال وساتي، ځکه که موږ هڅه وکړو چې یو داسې شعر چې د مبدا ژبه یې رسمي او فصیح وي د مقصد په ژبه هم په رسمي او فصیح ژبه وژباړو نو ښه تر ښه او که یو داسې شعر چې په سیمه ییزه ژبه لیکل شوی وي او موږ وغواړو چې هغه ته رسمي ژبه وټاکو، نو عبث زیار دی او ښه پایله نه لري.

۵ . په شعر کې کلمه یوازې د مانا د ښندلو دنده نه لري، بلکې د وینا طرز ته هم اعتبار وربخښي. دا چې شعر هنر دی او ماده یې لفظ، نو د هنر ماده هم موسیقي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو شعر په همدې اعتبار د کلام موسقي بللی شو. شاعر الفاظ د خپلې خوښې او سليقې په اساس سره را نغاړي، څو له دې ډول نظم او ترتيب څخه هغه زړه ښکونکی نغمه تر لاسه شي چې د شاعر په ذهن کې ده. نو شعر د الفاظو د ټاکنو او غوره کولو هنر دی له دوه بيلو اړخونو څخه يو معنوي اړخ او بل ظاهوري اړخ. ژباړن ته په کار ده چې همدې ټکی ته په پام د يوه شعر د ژباړلو په وخت کې د هغه شعر د الفاظو د معنوي معناوو د موندلو تر څنګ د الفاظو آهنګينې برخې ته هم پام واړوي او داسې الفاظ ورته وټاکي، څو د شعر د معنا تر څنګ د هغه آهنګ ته هم زيان ونه رسيږي.

## د ښه ژباړن اوصاف:

لکه څنګه چې يو ښه ليکوال ځانته خپلې ځانګړې او اوصاف لري، يوه ښه ژباړونکی هم د يو شمير اوصافو لرونکی دی. تر هغه پورې چې د يوه ژباړن په وجود کې دا اوصاف نه وي او له دې پوهې نه برخمن نه وي ژباړه نه شي کولی، هغه اوصاف په لاندې توګه دي:

الف: په مورنۍ ژبه برلاسی: کله چې مورنۍ ژبه يادوو موخه مو يوازې هغه ويناوې نه دي چې موږ يې د ورځنيو اړتياوو د رفع کولو لپاره له يو بل سره وايو يا هغه خبرې اترې نه دي چې موږ يې پخپلو کورنيو او چاپيريال کې استعمالوو، ځکه عاميانه محاورې او لهجوي ويناوې هيڅکله په دې معنا نه دي چې موږ پرې ادعا وکړو. د دې ويناوو په ويلو يا پوهيدول موږ په مورنۍ ژبه برلاسي يو، بلکې هغه وخت موږ دا ادعا کولی شو چې د هغې ژبې په ګرامري جوړښت، سبکي ځانګړنو او د ورځنيو اړتياوو د پوره کولو نه په لا ډيرو اصطلاحاتو، ترکيبونو، لغاتو، ادبي فنونو او د هماغه ژبې په ژبنيو جوړښتونو پوه وو. ژباړن بايد د مقصد په ژبه لاسبرى وي يعنې په هغه ژبه چې ژباړه ورباندې کوي.

ب : په بهرنۍ ژبه برلاسی: په بهرنۍ ژبه برلاسی هم د يوه ښه ژباړونکي له اوصافو څخه شميرل کيږي. يو ښه ژباړونکی بايد په يوه بهرنۍ ژبه ښه برلاسی وي. دا بر لاسی په دې معنا هم نه دی چې ژباړن يوازې د هغې ژبې په محاورې پوه وي، بلکې ژباړن بايد لکه څنګه چې د خپلې مورنۍ ژبې د بنسټيز او ګرامري جوړښت په پوهيدا مکلف دی، بايد په بهرنۍ ژبه هم ښه برلاسی وي، خو توپير په دې کې دی چې مورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبه برلاسي او د مهارتونو يادول د ژوند په اوږدو کې کيداى شي. کوم څه چې په يوه بهرنۍ ژبه کې تر ډېره بريده ناشوني بريښي. له همدې امله ويلى شو چې ژباړن بايد د بهرنۍ ژبې د ښه پوهيدو تر څنګ د هغې ژبې د ويونکو په جغرافيا، تاريخ، ادابو او روسومو ښه پوه وي، څو د هغې ژبې د عباراتو، اصطلاحاتو، استعارو او تشبيهاتو په واقعي معنا او مفهوم پوه شي.

ج : د دوو ژبو تر منځ د ګرامري قواعدو د توپير پيژندنه: هر تمدن په هر وخت او هر محيط کې خپلې ځانګړتياوې لري چې د جملو او اصطلاحاتو او معينو لغاتو په قالبونو کې خپل توپيريز اړخونه ښکاره کوي. د بيلګې په توګه په ژباړه کې لفظاً د بلې ژبې د اصطلاح او لغت نه معنا اخيستل سم کار نه دى، ځکه چې لغات او اصطلاحات زياتره په جمله کې د موقعيت او حالت له مخې ځان ته بيله معنا ايجابوي او په بله ژبه کې ورڅخه د محاورې له مخې هماغه معنا نه افاده کوي. مثلاً ټوکې ټکالې چې د لغاتو په مخصوصو معناو ولاړې دي چې کله کله په ډيره سختۍ او کله هم هيڅ نه ژباړل کيږي. همدا شان د دري (لب دريا) په پښتو کې د ( سيند شونډې) وژباړو نو ډېره غلطه معنا به مو ورکړې وي.

دغه ډول توپيرونه د مورنۍ او بهرنۍ ژبې تر منځ د ګرامري جوړښت په نتيجه کې رامنځته کيداى شي. د کلمو ځايونه په جملو کې په مرکبو او ساده جملو کې، متلونو او تشبيهاتو کې ليدل کيږي. له دغو ټولو توپيرونو سره ژباړونکى د مطلب روح، کليات او د ليکونکي سبک ته ګوري او هڅه کوي مطلب داسې وژباړي چې اصالت يې له منځه لاړ نه شى او امانت داري هم په کې خوندي وي.

## د ښې ژباړې اوصاف:

لکه څنګه چې د ژباړن لپاره ځانګړنې او اوصاف وضع شوي د ښې ژباړې لپاره هم اوصاف او ځانګړنې شته چې په لاندې ډول دي:

١ ) د يوې ښې ژباړې صفت دا دى چې اصلي مطلب په کې ټول راشي، خو لوستونکى پرې د ژباړې ګومان ونه کړي، بلکې د خپلې ژبې مضمون ورته ښکاره شي.

٢ ) د ژباړې ژبه بايد ساده آسانه او روانه وي، داسې چې لوستونکى ترې پوره مطلب په اسانۍ سره واخيستلى شي، متن بايد له ابهام څخه پاک وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ ) د ښې ژباړې يوه علمي ځانگړنه دا ده چې د معنا او محتوا له مخې له اصل سره سمه وي، په دې مفهوم چې د اصلي مضمون د مطلب کومه برخه له ژباړې پاتې نه شي او د ليکوال د علمي امانتدارۍ حق په کې په بشپړه توګه رعايت شي.
۴ ) د يوې ښې ژباړې تر ټولو مهمه ځانګړنه دا ده چې د ژبې له محاورې سره برابره وي. له محاورې څخه وتلې ژباړه د ادبپوهانو په نظر يو بې ارزښته مال ګڼل کيږي.
۵ ) د يوې ښې ژباړې لپاره بله ځانګړنه، د نثر ښکلا په نظر کې نيول دي، ژباړن بايد له کومې ژبې څخه چې ژباړه کوي هڅه وکړي چې د متن ښکلاييزه تومنه زيامنه نه شي.(۱۰ : ۲۲ــ ۳۰)

## د پرېم چند د غوايي خيرات پښتو ژباړې:

که تاريخ ته وکتل شي نو مهاجرتونو، لويو سوبو او ورسره ژباړو د مدنيتونو په وده کې ډېر لوی لاس لرلی او دليل يې هم له دې لارو د مدنيتونو تر منځ د تجربو، افکارو او پوهنو راکړه ورکړه ده. له جبل الطارق څخه تر اندونيزيا پورې د مسلمانانو د سوبو په پايله کې د عباسيانو د لوی اسلامي مدنيت رامنځته کيدل او يا د امريکا د لويې وچې موندل او تر پراخو مهاجرتونو وروسته هلته د يو پرمختللي مدنيت رامنځته کيدل د غوره بيلګو په توګه وړاندې کولی شو.
د مهاجرتونو او سوبو تر څنګ ژباړې هم د مدنيتونو، فرهنګونو او ژبو په وده کې ډېره ونډه درلودلې ده. مهاجرتونو او سوبو د ژباړو لپاره لار اواره کړې ده.  له ډېرې پخوا زمانې راهيسې د مدنيتونو په وده کې ژباړې خپل اهم رول تر سره کړی دی. يونان، روم، هند، عرب او نورو ولسونو کې ژباړې خپل برخه درلودلې ده. ژباړې د مدنيتونو او ولسونو په نږدې کولو کې ستره مرسته کړې ده، په حقيقت کې ولسونه د ژباړې له طريقه د نورو خلکو له فرهنګ سره اشنايي پيدا کړي. که چيرې موږ د پښتو ادبياتو په تاريخ کې د نورو ژبو له ادبياتو سره د پښتو ادبياتو د ارتباط د څرک ايستلو کوښښ وکړو، نو دا څرک په دريمه هجري پيړۍ کې ايستلی شو.
د دريمې هجرې پيړۍ په ترخ کې د بُست د سروان سيمې يو افغان اوبومحمدهاشم ابن الزيد الرسرواني د خپل استاد ابن خلاد يو عربي شعر په پښتو نظم ترجمه کړی دی.(۱۱ : ۴۲) تر ده وروسته هم ژباړې تر سره شوي دي، چې د ژبې، ادب او فرهنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په غنا کې يې ستره ونډه لوبولې ده، خو که په پښتو ژبه کې د ناولو ژباړه وګورو، تر اوسه پورې شاوخوا سل ناولونه، رومانونه اولنډ رومانونه پښتو ته ژباړل شوي دي، چې يو له دغو ناولونو څخه د منشي پريم چندد غوايي خيرات نومی ناول دی. دغه ناول لومړی روشن لال ملهوتره له هندي ژبې نه پښتو ته را اړولی دی. دغه ترجمه مترجم په دوه برخو کې بشپړه کړې ده، چې اوله برخه يې بشپړه پاکنويس شوې ده او د ګودان( د غوايي خيرات) د دويمې برخې ژباړه هم اوس بشپړه شوې چې ټول ټال په ۱۸۹ مخونو کې په لاس ليکل شوې ده.(۲ : ۲۱) خو تر ملهوتره وروسته په افغانستان کې محمد حليم ستانکزي هم دغه اثر پښتو ته را ژباړلی دی او د انيس اخبار د ۱۳۷۰ کال په بيلابيلو ګڼو کې خوندي شوی دی. دغه ژباړه ما له سره تر اخره ولیده ډېره پخه وه او ژباړونکي کوښښ کړی چې خپله دنده په سمه توګه تر سره کړي. ژبه يې خورا روانه ده او هيڅ ډول درانه او پيچلي لغات او اصطلاحات په کې کارول شوي نه دي. د محمد حليم ستانکزي ژباړه چې کله ولوستل شي، لوستونکی فکر نه کوي چې دا به ژباړه وي، بلکې فکر کوي چې اصلي ليکونکی يې پښتون دی.

ډېره هڅه مې وکړه چې د محمد حليم ستانکزي د ژوند او ادبي کارونو په اړه کره معلومات تر لاسه کړم، خو تر ډېرو هڅو وروسته په دې ونه توانيدم چې د نوموړي د ژوند او ادبي هڅو په اړه معلومات تر لاسه کړم، که څه هم په انټرنټ کې مې څه ناڅه معلومات تر لاسه کړل، خو زه يې په دغه کتاب کې نه راوړم، ځکه هغه کره نه دي، هيله لرم په راتلونکي کې د محمد حليم ستانکزي د ژوند او ادبي هڅو په اړه د معتبرې منبع له خوا معلومات تر لاسه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځلورم څپرکی

# د غوایي خیرات

## لومړۍ برخه

هوري رام وروسته له دې نه چې دوو غوایانو ته یې اوبه او واښه ورکړل خپلې ښځې دهنیا ته یې وویل: ((ګوبار ولیږه چې د ګنیو کبلې په رمبي ووهي. زه دباندې ځم او ښایي ناوخته راشم. زما لکړه راکړه.))
دهنیا تېۍ کولې او لاسونه یې په خوشایو ککړ وو. هغې وویل: ((بېږه د څه لپاره مخکې له دې نه چې لاړ شې لږ څه وخوره.))
هوري خپل ګونځې شوی وچولی تریو کړ او ویې ویل: (( ته د خوراک او څښاک په باره کې خبرې کوې په داسې حال کې چې زه د ځنډیدو اندېښنه کوم. که ناوخته شي نو زه به ونه شم کولی چې بادار ووینم. که چېرې په خپل عبادت مشغول شو نو بیا ښایي د ګړیو ګړیو لپاره انتظار وباسم.))
دهنیا وویل: ((د همدې لپاره وایم چې لږ څه وخوره، برسېره پر دې څه پروا لري چې نن لاړ نه شې. تېره ورځ خو ورغلی وې.))
هوري په بې صبرۍ سره وویل: (( ولې کوښښ کوې هغو شیانو ته لاس واچوې چې په تا پورې اړه نه لري؟ ما ته مې لکړه راکړه او د خپل کار وبار غم دې خوره. دا ټول د دې لپاره دي چې له بادار سره خپلې اړیکې ټینګې وساتو چې د هغه له برکته له غمونو نه خلاص یو، که نه نو مونږ به ډېر مخکې لا ژوندي پاتې نه وو. ((د کلي له دومره خلکو نه د کوم یوه نوم راته اخیستی شې چې یا له خپلې زمکې شړل شوی نه وي او یا د پور تر پربکړې پورې د زمکې د ستنولو حکم نه وي ورکړل شوی؟ کوم وخت چې ستاسو اورمیږ د مستبد او ظالم تر پوندو لاندې چیت پیت کیږي، نو د ډاډ وړ لاره دا ده چې د هغه پښې تخنوه.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو دهنیا په دنیایي چارو باندې دومره زیاته نه پوهیده، دې فکر کاوه هغه څه چې زمیندار یې ادعا کولی شي هغه به د زمکې اجاره وي. نور نو غوره مالی ته څه حاجت؟ نو ولې باید څوک د زمیندار پښو ته ور وغورځي؟ په یقیني ډول د دې شلو کلونو په ترځ کې چې د دې له واده نه تېریده، دې ته دا حقیقت په پوره توګه څرګند شوی و چې که آن د بخیلۍ ژوند یې هم غوره کړ د جامو او خوراک له پیسو نه یې سپما وکړه او یوه یوه آنه یې هم سره ټوله کړه، د زمیندار د اجارې د پور ادا کول دوی ته سخت کار و، خو بیا به هم دې ماته نه خوړه. په دې موضوع باندې به کله کله د ښځې او مېړه په منځ کې اختلاف موجود و.

د دوی له شپږو اولادونو نه یوازې درې تنه یې ژوندي پاتې شوي وو، یو زوی ګوبار چې اوس شپاړس کلن و او دوه لوڼې، سونا، دولس کلنه او روپا اته کلنه، درې زامن یې په کوچنیوالي کې مړه شوي وو. دا په دې باندې پوهیده که چیرې سم روغتیایي مراقبت او درمل وي د دوی ژوند ژغورل کیده. خو ده د زامنو لپاره آن د یوې آنې په بیه هم د درملو د اخیستلو توان نه درلود.

او دا په خپله څوکلنه وه؟ په عادي توګه هیچا هم دا یقین نه کاوه چې دا به شپږدېرش کلنه وي. خو د دې وېښتان ټول تک سپین او مخ یې ګونځې ګونځې شوی و. د دې د بدن ښکلا له منځه تللي وه، غنم رنګې څېره یې ژېړ بخونه او د سترګو لید یې کمزوری شوی وه. دا ټول د تش لاسي او غریبۍ له امله وو.

د دې ژوند سپیره او بې خونده شوی و او دې پر له پسې تش لاس د دې د ځان منڼې احساس مړاوی کړی و. نو د دې ژوند لپاره چې آن ورځنۍ یوه مړۍ ډوډۍ هم نه شي برابرولی دومره غوره مالي د څه لپاره؟ د داسې کارونو سره دې حساسیت درلود. خو د مېړه یو څو ښکنځلو به د دې سر ور خلاص کړ او دا به یې واقعي نړۍ ته راوبلله. هغه بهر په توغما سره لاړه، لکړه، شړۍ، پټکی، بوټونه او د تنباکو کڅوړه یې د هوري خوا

ته ور غورځار کړل. هوري له قهر او غصب نه اور واخیست او ویې ویل: (( آیا زه د خُسر کره ځم چې دا ټول ښه شیان دې راته راوړل؟ برسیره پر دې، هلته خو زما کومه ځوانه ښینه هم نه شته چې ښکلا یې زما زړه یوسي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضعیفه غونډې موسکا یې په تور وچ مخ باندې راښکاره شوله. دهنیا په شرمیندوکي توګه وویل: (( څومره تکړه یې او څه زړه وړونکې ځواني خو لرې چې پېغلې نجونې درباندې مینې شي!))

هوري په ډېرې پاملرنې سره خیرې شوې شړۍ قات کړه او پر کټ باندې یې کېښېښوده او ویې ویل: (( ته فکر کوې چې زه زوړ شوی یم؟ زه تر اوسه څلویښت کلن نه یم. نارینه مخکې له شپېته کلنۍ نارینه نه دي.))

(( لاړ شه او مخ دې په هینداره کې وګوره ! هغه کسان چې د ژوند په شپېته کلنۍ کې د نارینتوب معراج ته رسیږي ستا غونډې نارینه نه دي.

که چیرې زه یوه ښه خبره هم وکړم، په بدله کې یې سختې خبرې اورم.))

کنه چې هوري لکړه په اوږه له کوره ووت، دهنیا وره ته راغلله، ودریده او د ډېرځنډ لپاره یې هغه پسې کتل. د هوري نا امید کوونکو خبرو د دهنیا د زړه زخمونه را تازه کړي وو. ده په لړزیدلې ژبه ویلي چې د ښځینه فداکارۍ په ټینګ قوت سره کوښښ کوي هوري د سپیڅلتوب په ژغورونکي شپول کې کوم چې د دې د زړه له ژورو نه راخوت ونغاړي. د ځور او ربړ په دغه دریاب کې د یوې ښځې په توګه د دې موقف هغه یوازینۍ وسیله وه چې د هغو وسیله دې کولی شوای د دریاب غاړې ته د ځان رسولو هیله ولري. خو اوس داسې ښکاري چې د هوري ظالمانه خبرې که څه هم ډېرې رښتیا وي د هغه د ژغورنې یوازینۍ وسیله هم له دې نه واخیسته. ښایي د خبرو تریخ واقعیت د لا زیات ځوریدو سبب کیده.

چې د یوې سترګې خاوند هغه درد او زور د یوې سترګې په پېغور او ملنډو کې احساسوي، د دوو سترګو خاوند یې هم احساسوي؟

هوري په لاره چټک او ګړندۍ روان و. کله یې چې د لارې دواړو خواوو ته د ګنیو ځوان بوټي تک شنه ولیدل، نو دا فکر ورسره پیدا شو چې که د خدای په مرحمت سره سږ کال زیات او پر بمانه باران و اوري او حاصلات ښه شي، دی به یوه غوا واخلي. د وطني نسل غوا نه! اوه، هغه ښې غواګانې نه دي. شیدې یې لږ وي او خوسیان یې هم په هیڅ نه ارزي. دا رنګ غواوې په ګني پورې د تړلو لپاره ښې مناسبې دي. ده خپل زړه په خارجي نسل باندې بایللی و. دی به دا غوا په جلګو او جبه زارو کې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرې پاملرنې سره وپیایي. دا به ډېرې شیدي وکړي. په هر صورت، د هغې به له څلورو تر پنځو سیرو نه کمې نه وي.
خوارکی ګوبار، څومره په شیدو پسې ځوریږي او د هغو لیوال دی او که چیرې دی په دې عمر کې سم خوراک ونه کړي، نو کله به یې وخوري؟ له داسې پوره خوراک سره به دی د یوه کال په ترخ کې د مستې ځوانی یوه ښېلکه وګرزي، څومره به مغروره وي.
له خوسیانو نه به هم ښه غوایان جوړ شي داسې غوا البته چې له دوو سوو روپیو نه کمه نه وي. څه پروا لري؟ او څه نیکمرغه کار به وي چې انسان په شنه سهار کې لومړی یې په غوا سترګې ولګیږي!
هوري هم لکه هر بل کور والا له ډېرې مودې نه راپدېخوا د یوې غوا د درلودلو هیله په خپل ذهن کې د یوې خاطرې په توګه ساتلې وه. دا د ده د ژوند ستره آرزو او د هغه ستره جاه طلبي وه. په بانکي سود باندې د آرامه ژوند کولو یاد د زمکې د اخیستلو او یا د یوه ستر عالیشانه کور جوړولو ارزو ته د ده د خوارکي زړه په نریو حصارونو کې ځای موندل له تصور نه لیرې وو.
د جون د میاشتې لمر چې د ام له ګڼو ونوڅخه را لوړ شوی و له هغې سرې ځلا سره چې پر آسمان یې لمن غوړولې وه، یوځای شو.
هوا ورو ورو مخ په تودیدو وه. هوري چې په لاره روان و، هغو بزګرانو چې په کروندو کې یې کار کاوه ده ته سلام اچوه، ستړي مشي به یې ورسره کوله او د چلم څکولو ته به یې را باله. هوري وخت نه درلود. د غرور یوه ضعیفه غوندې ځلا به یې پر ډنګر مخ باندې را خوره شوه. دا ټول له بادارانو سره د نږدې اړیکو د ساتنې له کبله وه چې خلکو له ده سره په دومره احترام رویه کوله.
په هر صورت، هغه سړی چې مازې پنځه (بېګا) زمکه لري څه ارزښت لري. آن هغو بزګرانو چې درې یا څلور یوې زمکه یې درلودله. د ده صلاحیت ته به په غاړه ایښودونکي توګه سر ټیټاوه او د هغه احترام او درناوی به یې کاو.
هوري اوس د خپلې لارې په ترخ کې یوه غوچوړې ته را ورسېد چې هلته د برسات د موسم په اوږدو کې د اوبو د تراکم او ډنډیدو له امله زمکه تر اوسه پورې هم لمده وه او آن د جون په میاشت کې هلته لږ څه شنه بوټي موجود وو. له شا او خوا کلیو نه به

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې څاروي دلته د څرېدو لپاره راتلل. آن په دغه وخت کې دې ځای سړه او تازه هــوا درلوده.

هوري يو څو ژور نفسونه وکښل. ده ته د يوې شېبې لپاره د تــم کېــدو او اســتراحت احساس ور پيدا شو. ټوله ورځ د سوځوونکي باد څپېړه وخــوري. څــو بزګــران ددې زمکې د اخيستو ليوال و. دوی ډېرې ښې پيسې د دغې زمکــې لپــاره پيشــنهادولې. خدای دې رای صيب په رحمت کړي، هغه دوی ته په ډاګه ويلي وو چــې دا زمکــه د څارويو لپاره ساتل شوې ده او دا به په هيڅ بيه ونه وېشي. آيا بل کوم سرابښ(حريص) زميندار و چې ويلي يې وي: (( لعنت دې په غوا وي. زه شرنګيدلې پيســې لاس تــه راوړم، ولې يې بايد رد کړم.)) خو رای صيب لا تر اوسه پورې هم په پخوانۍ عنعنه کې نغښتی و. هغه زمنيدار چې د خپلو اجاره دارانو غم ورسره نه وي، هغه ته نــه ښــايي چې انسان وويل شي؟

نابېره د هوري سترګې په بولا ولګيدې. دی د نږدې کلي شپون و او د شيدو او کوچو د خرڅلاو کارو بار يې کاوه. که چيرې غواګانې په ښه بيه خرڅې شي، دی يې کله کلــه په بزګرانو باندې خرڅوي. هوري نه شوی کولی چې له غواګانو نه سترګې پورته کړي. څومره به ښه وای که چيرې دا لومړنۍ غوا د ده وای. دی به بولا ته د غوا پيســې پــه قستو ورکړي. په دې پوهيده چې پيسې خو نه لري. دی بايد د خپلې اجارې پور هم لا ورکړي. همدارنګه دی مجبور دی چې د (بايزسار ساها) پور چې په روپۍ کې د يــوې آنې سود هم پرې ور زياتيږي اداء کړي.

خو د دقت او پاملرنې نشتوالی د خوارۍ او غريبۍ نښه او مشخصه ده. د بــې شــرمه سرتنبه ګي او سر زورۍ احساس کوم چې د پور غوښتنه، ښــکنځل او آن وهــل بــې اهميته ګڼي. اوس هوري د يوه عمل خوا ته تحريک کاوه. هغه ايسار شــوې هيلــې او غوښتنې کومې چې د کلونو کلونو را پدېخوا يې د ده زړه توپانې کړی و. څو يــوه ورځ هغه وچوې. اوس هماغه هيلې نابېره ده د نا آرامۍ سبب شوې وې.

دی بولا ته ور نږدې شو او ورته ويې ويل: (( خبر شوی يم چې د بازار په ورځ دې نوې غوا ګانې اخيستې دي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

بولا اټکل وکړ چې د هوري په ماغزو کې څه ګرځي. هغه په لنډ ډول یې ورته وویل: ((دوه غوا ګانې او دوه خوسکي. زما نورې غواګانې وچې شوې دي. که چېرې د خرڅلاو لپاره شیدې نه وي، زه څنګه کولی شم خپل ژوند وړاندې بوزم؟))

هوري لومړنی غوا په اړخ وټپوله او ویې ویل: ((فکر کوم چې ښه د شیدو غــوا ده. دا دې په څو رانیولې ده؟))

بولا د کاروبار د بې ګټېتوب په څرګندولو سره وویل: ((میتو، سږ کال بیې ډېرې لوړې تللي. ما د دې غوا لپاره پوره اتیا روپۍ ورکړي دي. څومره ډېرې پیسې! تقریبــاً یــوه غوټه وه. د هر یوه خوسي لپاره مې هم له دېرشو نه کمې روپــۍ نــه دي ورکــړي او د اخیستونکو بې پروایی ته ګوره! دوی لا اوس هم اته ســېره شــیدې پــه یــوه روپــۍ غواړي.))

((وروره، ستاسو خلک سخت زړه لري. څه ښکلې غوا دې اخیستې ده. زه شکمن یم چې داسې بله غوا به په دې کلیو کې وي.))

دغو تبصرو بولا آسمان ته پورته کړ. هغه وویل: ((رای صیب د دغې غوا لپــاره ســل روپۍ او د هر خوسي لپاره پنځوس روپۍ راکولې. خو ما ورته وویلې چې نه کیږي. کله چې غوا بل ځل لنګه شي سل روپۍ به نورې لاس ته راوړم.))

((په یقیني ډول، همداسې ده وروره. آیــا بــادار د دې غــوا د اخیســتو زړه لــري؟ اخیستل یو شی دی او تحفې منل بیخي بل شی. تحفې بې بیه دي. دا یوازې تاســې خلک یاست چې په مازې بخت باندې د تکیې شجاعت لرئ او په یوې غوا باندې د یو موټی پیسو د ورکولو ریسک منئ. خو څه یوه غوا ! زه یوه غوا نه شم اخیســتلی. پــه یقیني ډول چې تاسو ډېر نیکمرغه یاست چې د یوې غوا خدمت کوئ.

زه آن خوشایي بودولی نه شم. څومره سپکاوی دی چې په یوه داسې لویه کورنۍ کې لکه زموږ غوا نه شته. کلونه تیریږي او موږ بې شیدو یو. زما ښځې څــو ځلــه لــه مــا غوښتي چې په دې باره کې له تا سره وغږیږم. خو زه هغه غولوم او ورته وایم کله چې بل ځل تاووینم دا کار به وکړم. هغه ستا په باره کې ډېر ښه نظر لري. هغه وایی چــې دې داسې حیاناک سړي ډېر کم لیدلي دي چې له هغې سره د خبرو کولو په وخت کې سترګې ښکته اچوي او یو ځل هم سر نه راپورته کوي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې لوړې ستاينې د بولا سر ډېر اوچت کړ او ويې ويل: (( يو شريف سړی تل ښځو ته د خپلو لوښو په شان ګوري. هغه نارينه چې ښځو ته په شهواني سترګه ګــوري د وژل کېدو لايق دي.))
(( څه عالي مفکوره، وروره! ته رښتيا وايې، يو شريف سړی د بل چا عزت خپل عزت ګڼي. ښځه د مېړه له مړينې سره د بې کسه کېدو او يتيم کېدو احساس کوي. نارينــه کله چې ښځه يې مړه شي د ګوډتوب احساس کوي. زما کور نه خو آخور جوړ شوی او برباد شوی دی. اوس زه هيڅوک نه لرم چې آن يوه پياله اوبه راکړي.))
د بولا ښځه پروسږ کال په توپان کې مړه شوې وه او هوري خبر و. خو په يوه شي چې نه و خبر هغه دا و چې پنځوس کلن سړی چې په ظاهوري توګه مازې يو اسکليت دی دومره د شهون او جذبې په اور کې سوځيدلی شي.
د ښځې غوښتنې او مينې د بولا سترګې تکې سرې کړې. ځيــرک هــوري پــه ډېــره چالاکۍ سره له دغه حالت نه ګټه واخيسته: (( هغه پخوانی متل سم دی، وروره بــې ښځې کور د مړو د اروا ځای دی. ته ولې واده نه کوې؟))
((زه يې هم په غم کې يم. خو د ښځې موندل هم دومره ژر نه کيږي. که چيرې خبره د پيسو وي زه آن چمتو يم چې لږ څه مصرف هم وکړم. البته، نور نــو د خــدای کــار دی.))
((زه به يې هم په فکر کې اوسم، که چيرې خدای وغواړي ستا به بيا کور ودان کړي.))
بولا په ډېر شوق سره وويل: (( واده به زما لپاره د خپلواکۍ مانا ولري. زما ژونــد ډېــر راحت تيريږي. زما په کور کې د شيدو لږوالی نه شته.))
(( زما د خُسر په کلي کې يوه نجلۍ ده چې مېــړه يــې درې يــا څلــور کالــه دمخــه پرېښوولې ده. رودې کلکتې ته تللې. اوس هغه خوراکۍ جواري مېچن کوي او ژونــد پرې تېروي.. کوچنيان هم نه لري او ډېره ښکلې او ګلالۍ هم ده. لنډه دا چــې وروره، رښتيانۍ لکشمي ده.))
د بولا ګونځې ګونځۍ مخ نابېره روښانه شو. اميد څه خوږ شی دی لکه جنتي خوراک.
(( زه هر څه تاته پرېږدم. که چيرې وخت لري، ولې يوځای لاړ نه شو او هغه په دغــو ورځو کې يو ځل ونه وينو.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( ورورە، ښه دا ده چې ورو ورو وړاندې لاړ شو. کله چې ما معامله خلاصه کړه تا تــه به خبر در کړم.))

(( ته په خپله ښه پوهېږې. کومه خاصه بېړه نه شته. که برګه غوا ستا ډېره خوښېږي ستا دې وي. ))

(( زما خاکساره غوندې سړی ته د داسې غوا درلودل نه ښايي. برسېره پر دې، زمــا د مسووليت او خواخوږۍ احساس ماته اجازه نه راکوي چې ته تاوان وکړې.))

(( ته داسې خبرې کوې لکه چې موږ سره پردي و اوسو. هر وخت چې کولی شې ماته پيسې راکړه. ما ته هيڅ فرق نه لري چې غوا ستا په کور کې وي او که زما. ما هغه پــه اتيا روپيو رانيولې ده. همدومره راکړه.))

(( زه اوس نغدې روپۍ نه لرم.))

(( آيا ما له تا نه همدا اوس نغدې غوښتې دي؟))

د هوري زړه له خوشحالۍ نه وپړسيده. د اتياوو هره روپۍ تــر دې ځــار وه. بــولا ډاډ ورکړ چې ډېرې زياتې شيدې به وکړي او داسې آرامه ده چــې آن کــوچني يــې هــم لوښلی شي.

واقعيت دا و چې هوري همدا اوس د څلور سوو روپيو په پور کې ډوب و. خــو ده پــور غير اجباري باله.

که چېرې د بولا واده وشي د دوو کالو لپاره به له دې پوره بې غمــه وي، خــو آن کــه چيرې د ده د واده پلان تر سره نه شي، بولا ده ته کوم تاوان ور اړولی نه شي. منتهــا بولا به د پور د ادا کولو لپاره پر ده باندې فشار راوړي، په قار به شي او که له دې هــم بد حالت راشي ده ته به ښکنځل وکړي. خو دا شيا نــن د هــر بزګــر د ژونــد عــادي مشخصات و. دی په دې ښه پوهيده چې تېروتلی دی، خو د ده غلې دانې ته څه تاوان دی. د ده لپاره يې کوم فرق نه کاوه چې ده پور د سند په امضأ کولو يا بې له هغــه نــه زيات کړی دی. هغه مصيبتونه چې د طبيعت د سختۍ له امله راپيدا شوي وو، دی يې بې زړه او ډارن کړی و. د غچ اخيستلو د الهي پساتي او شــيطاني خبــره تــل د ده د سترګو په مخ کې په نځبدو وه، خو دغې کــوچنۍ تيروتنــې چــې دی ازمــويلی و، د شخصي ګټې زېرنده وه او بس. دغه چلونه او غولوونکي پلانونه يې د ورځني ژوند يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخه وه. د ده د اخلاقو په کتاب کې د سوندو د نمجنولـو پـه واسـطه د هغـه د وزن زياتوالی او له مالوچو سره د هغې د دانو ګډول روا کار و. دغو شيانو د ژوند خونـد ور زيات کړی و. بوډا توب خپله خندوونکې بڼه لري او کمه بې کبـره ګڼـه د زړو خلکـو لپاره کومه ګناه نه ده.
بولا د غوا پړی هوري ته په لاس کې ور کړ او ويې ويل: (( ځان سره يې بوزه. له هغې ورځې نه چې لنګه شي شپږ ـ شپږ سېره شيدې به وکړي. خو ښايي سـمه بـه دا وي چې زه هغه ستا کور ته درولم. رښتيا وايم، بادار د هغې لپاره نوي روپۍ راکولې. خو د ده غوندې خلک د غوا به ارزښت پوهيږي؟ ده به دا کوم حکومتي مامور ته ورکړې وه او له وچېدو سره سم به هغه هم ځان تري نه بې غمه کړی و. خدای پوهيږي چې دا به د چا په لاس کې لوېدلې وه. وروره، پيسې هر څه نه دي. د ښه توب او نيکۍ غونـدې شی هم شته. لږ تر لږه ستا په کور کې به د هغې څارنه وشي. اجازه راکوې د بـاور لـه مخې تا ته يوه خبره وکړم؟ واقعيت داسې دی چې آن يو موټی واښه زما کره نـه دي پاتې شوي. زما ټولې پيسې په دغو اخيستنو باندې خرڅې شوې. ما فکر کاوه چـې د وچو وښو د اخيستو لپاره به له سود خواره نه پيسې واخلم. خـو هغـه زه تـش لاس پر ېښودم. دا دومره څاروي به څنګه مړوم؟ دا انديښنه ما وژني. آن که چيرې زه هـر يوه څاروي ته فقط يو موټی واښه ور واچوم. دا ټول به په ورځ کې يـو (مونـډ) واښـه شي. يوازې خدای کولی شي ما له دې بدې ورځې نه وژغوري.))
هوري د زړه سوي له مخې وويل: (( ولې دې مخکې ماته نه وو ويلي؟ ما په دې نږدې وختو کې يو اندازه وچ واښه خرڅ کړل.))
بولا په نا اميدۍ سره خپله ټنډه ووهله او ويې ويل: (( ما ونه ويلې، د دې لپـاره چـې زما نه خوښيږي د خپل وير او غم لمن هر سړي ته اواره کړم. هر سړی دې ته تيار دی چې د بل په لاس تنګۍ او بې وزلۍ پورې وخاندي، خو هېڅوک هم نه غواړي چې هغه ته د مرستې لاس ور اوږد کړي. زما نوې غوا بې وښو ژوندۍ پاتې کيدای نه شي. کـه کولی شې، يو څو روپۍ راکړه؟))
دې کې هيڅ شک نه شته چې بزګر خپل چاری او خودغرضه وي. له هغه څخه د بډې اخيستو او د هغه د تېر ايستلو لپاره چال او خوشامند په کار دی. په راکړه ورکـړه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

چنه وهلو کې پوخ استاد دی. د يوې تورې پيسې سود چې ور وبخښل شي خپل ځان سودخواره ته ټيټوي او زاری ورته کوي. نو له همدې کبله د ده ژوند ټـول د طبيعـت سره نغښتل شوی دی. ونې مېوه نيسي، خو د نورو لپاره. زمکه حاصـل ورکــوي، څــو ورې نسونه ماړه کړي. وربځې باران وروي، څو د وچې زمکې تنده ماته شي. په داسې رنګ چارو کې د خپلې چارې لپاره ځای نه شته.

هوري چې د بولا د ډېر غم او وير کيسه واوريدله خپل فکر ته يې تغييـر ورکـړ. پـه داسې حال کې چې د غوا پړی يې بېرته بولا ته ورکړ، ويې ويل: (( زه پيسې نه لـرم، خو لږ څه وابښه پاتې دي. هغه در کولی شم. خدای دې مـا وشــرموي کــه چيــرې زه دومره ټيټ او پست شم چې ستا غوا د يوه موټي وښو په بدله کې واخلم.))

د بولا له خولې څخه په ډېر زور سره غږ راووت. ((خو ستا غوا بې وښو نه شي؟ يقين لرم چې ته زيات وابښه نه لرې.))

(( وروره، داسې نه ده. سږ کال درمند ښه وه.))

(( زه څومره ساده او بې عقل وم چې د دې موضوع په باره کې وغږيدم.))

((که چيرې ته وابښه ونه لرې، زه به ډېر خپه شم. که چيرې يو ورور له بل ورور ســره مرسته ونه کړي دا به ښه کار نه وي.))

(( په هر صورت، ته غوا واخله.))

(( نه دا اوس نه. ښايي کوم بل وخت.))

(( په هغه صورت کې، پر بېرده د وښو د پيسو په بدل کې شيدې درکړم.))

(( ولې په داسې خوشې خبرو باندې اصرار کوې؟ که چيرې يو يا دوه ځله ســتا کــره ډوډۍ وخورم. نو زه بايد انتظار ولرم چې پيسې يې په ما حساب کړې؟ ))

(( خو غوا ستا ده. دا معامله همداسې فيصله شوه. هر وخت دې چې خوښه وي بو يې ځه.))

(( په دې مرحله کې ستا د غوا اخيستل دومره ګناه لري، لکه چې زه په ليلام کــې د خپل ورور غوا بيه کړم.))

آيا هوري دومره ځيرک و چې په دغې لوبه کې به بريالی شي او غوا به په بې خوابدۍ سره تر لاسه کړي او لاړ به شي، د هوري دماغي حالت داسې آس ته پاتې کېده چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاښو په مازي شنهار ودريږي او هر څه يې چې چوکه کوي ونه ښوري. دغه عقيده چې د نورو له نا چاريو نه ګټه اخيستل ګناه ده د ده د وجدان يوه نه جلا کېدونکې برخ ګرځېدلې وه.

کله چې هوري په خپله لار روانيدل بيا پيل کړل، دی په لاره خوشحاله و، څه پروا يې درلوده که دې ته اړ شو چې خپل يو څو(مونډه) وابښه له بولا سره وويشي. خو لـه دې کار سره به ده بولا د ناچارۍ له خرڅلاو نه ژغورلی و.

هغه شاته وکتل. برګه غوا په ډېر عظمت سره روانه وه، سر يې په آرامۍ سره ښوراوه او مچان يې په خپله لکۍ شړل، هغه داسې ښکاريده لکه يوه ملکه د خدمې ښځو په منځ کې.

دوهمه برخه

سيماري او بيلاري چې پنځه ميله يو له بله لرې دي، د (اود) په سيمه کـې دوه بېـل کلي وو. هوري په بيلاري او رای صيب امرپال سنګ، په سيماري کـې ژونـد کـاوه. د تېرسايتاګراها د جنبش په موده کې ده په مقننه شورا کې له خپله غړيتوب نه استعفا کړې وه او بندي شوی و. له همغـې مـودې نـه د اجـاره دارانـو پـه مـنځ کـې د ده ونډه(اجاره) زياته شوې وه.

داسې هم نه ده چې د ده په ملک باندې د اجاره دارانـو آزادي زياتـه شـوې وه يـا د جبري کار له سختۍ نه ژغورل شوې وه. د داسې سختو کړو وړو بدنامي د ده دنماينده ګانو په غاړه وه او په هيڅ ډول يې د رای صيب ښه نوم ته تاوان نه دی رسيدلی.

آيا رای صيب په خپله د شرايطو او چاپيريال مريی نه و؟

رای صيب چې د ښه زړه خاوند و، داسې مفکوره نه درلوده چې په ورځنۍ ژوند کې له خپلې سمې لارې نه کوږ شي. د ژوند چارې بايد په سمه او قانوني لارې تر سره شـي. نو له همدې کبله که څه هم د ده صلاحيت او شتو ته تاوان نه و رسيدلی، خو پرستيژ يې ضربه خوړلې وه. آيا دا کافي نه وه چې هغه له خپلو اجاره دارانو سره په مهربـانۍ خبرې کولې؟

زمری بايد ښکار وکړي. که چيرې زمری د غړومبيدو او د داړو د ښکاره کولو په بـدل کې خوږې او خوندورې خبرې وکړي او خپل ښکار تر لاسه کړي ډېر آسانه کار به وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره له دې چې راى صيب يو نېشنلست و، خو خپلې اجتماعي اړيکې يې له حکومتي مامورينو سره ساتلې وې.
دوى ته مروجې تحفې ورکول کيدې او وړو حکومتي مامورينو ته کلنۍ ثابتې پيسې ورسيدې. د راى صيب له موسيقۍ او ادبياتو سره ډېره جوړه وه او پر تئياتر مين و. دى يو فصيح ژبى نطاق، قوي ليکوال او يو عالي شارت ( د سينما د يوې صحنې د فلم.) و. د ده ښځه لس کاله مخکې مړه شوې وه، خو ده پرېکړه کړې وه چې مجرد به پاتې شي. دغو مشغولتياوو ده سره مرسته کړې وه چې د غمجن ژوند ستوماني او ربړونه هير کړي.
کله چې هوري ورسيد د( دوسيهرا) د جشن نيولو لپاره تيارى بيخي پاى ته رسيدلى و.
په يوه ځاى کې ستيج درول شوى و او په بل ځاى کې ننداړتون، ميلمستون او د شيانو د رانيولو لپاره په لوخو پټې شوې غرفې. راى صيب بې له دې نه چې د سوځوونکي لمر پروا وکړي، په خپله يې د چارو د سمون نظارت کاوه.
د پلارني شتو او جايداد تر څنګ راى صيب ته د (راما) عبادت چې هر کال يې په مذهبي پروګرام کې خاص ځاى درلود او په ضمني ډول د خوښۍ او سات تيري وسيله هم وه په ميراث پاتې وه.
په همدې هکله زياتو دوستانو او عاليرتبه حکومتي مامورينو ته بلنليکونه ور استول شوي وو. د يو دوو ورځو لپاره دا ځاى د خوشحاليو او زمزمو نه ډک و. راى صيب لويه کورنۍ درلوده. ډېر اکاګان او وروڼه، زيات شمير د اکا زامن او ليرې او نږدې خپلوان سره راټول شوي وو.
ددغو له منځ نه د راى صيب يو اکا چې د (رادا) ډېر ستر ارادتمند و په دايمي توګه په (برنيدابانن) کې هستوګنه درلوده. ده د مذهبي شعرونو د کمپوز ذوق او مينه درلوده کله کله به يې هغه چاپول او د دوستانو په منځ کې به يې په وړيا توګه وېشل.
بل اکا يې د (راما) مريد او ارادتمند و او اوس اوس په پارسي ژبه د ( رامآيانا) په ژباړه بوخت و. حکومت د دوى د هر يوه لپاره ثابتې پيسې په نظر کې نيولې وې. د ژوند د سمبالولو لپاره دغو پيسو ته کومه اړتيا نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په ناڅاپي توګه د راى صيب، هوري ته پام شو او ورته ويې ويل: (( هوري تـه راغلـى يې. ما همدا اوس تا پسې سړى درلېږه. دا ځل به د چانک پاچا د باغوان رول لوبـوې. ته پوهيږې چې زه څه وايم؟ ته به د ګلو له ګېډۍ سره ولاړ يې او کلـه چـې ملـک( جانکي) معبد ته د عبادت لپاره راشي ته به هغې ته د ګلو ګېـډۍ ور وړانـدې کـړې. راځه له ماسره کوټې ته لاړ شه. تاسره يوه خبره لرم.))**

**هوري په راى صيب پسې روان شو. راى صيب د ونې تر ګڼ سيوري لانـدې پـه يـوه څوکۍ کښېناست او هوري ته يې اشاره وکړه چې پر زمکه کښېني او ورته ويې ويـل: (( زما شل زره روپۍ په کار دي. نه پوهيږم چې څرنګه يې لاس ته راوړم. تـه ښـايى تعجب وکړې چې ولې بادار دا خبره تا ته کوي. تا ته به د خندا وړ وي. خو هغه څه چې زه يې نه شم زغملی هغه زما د سيالانو خندا ده، ځکه هغه له حسد او پېغور نه ډکـه ده. ولې نه؟**

**زه ډېرو خلکو پورې چې کوم وخت په کړاوونو اخته شي خانـدم. هـوري، شـته او د ملګرتوب احساس هيڅکله موږ سخاوت او د غوايي خيرات لرو، خو يوازې د سـيالانو سره د سيالۍ لپاره.**

**زموږ سخاوت او زړه سوی صرف د ژبې ټکونه ده. که چيرې زموږ نه په يوه کس کومه عدلي فيصله د عزل حکم صادر شي يا د ماليې د نه ورکولو په اثر بندي شي، نو ټـول په هغه پورې خاندو.**

**که چيرې د چا زوی نا څاپې مړ شي يا کومې بدلمنې او فاحشې تېر ايستلی وي، يا يې کونډې لور باندې څه شوې وي، نو موږ ټولو ته د خنـدا او مسـخرو مضـمون را پيـدا کيږي.**

**د پام د غلطولو خبره خو داده چې په ظاهوري ډول موږ داسې ځان ښيو چې ګـواکې دې ته تيار يو چې پر يو بل باندې د وينې تر آخري څانګې پورې ولاړ يو. هغه څه چې ما ځوروي دا دي چې آن زما خپل تربرونه کوم چې زما په مال او دولت بانـدې مـزې چړچې کوي زما جسد خوري. که چېرې زه نن مړ شم، دوی به له ډېر خوشـحالۍ نـه سرکونډۍ ووهي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی فکر کوي چې زه د بدمرغۍ په مقابل کې معافیت لرم. که چیرې زه وژاړم، دا په غم پورې مسخرې او ملندې وهل دي. که چیرې زه ناجوړ شم، دا د دې لپاره ده چې زه په ناروغتیا کې آسوده ګي او راحت مومم!

که واده نه کوم، زه سوګت یم، که یې وکړم غیر روحاني سړی یم، که زه شراب نه څښم، زه خسیس یم، که یې وڅښم وایي د خپلو خلکو وینې مې څښم. په دواړو حالتونو کې مې تر ستوني راغلې ده. دوی له ما نه غواړي هر شي ته په ړنده سترګه وګورم، څو دوی ما تر هډوکو پورې پوست او بربنډ کړي. زه فکر نه کوم چې دوی به په دې خوښ شي چې زه غیر له یوه هلک نه بل څه و اوسم.))

رای صیب خوله له دوپونونه ډکه کړه او په ځیر یې د هوري څېرې ته وکتل تا به ویلي چې غواړي د هغه ماغزه ولولي.

هوري ځان ته جرآت ور کړ او ویې ویل: (( زه پوهېدم چې داسې شیان د غریبو خلکو، لکه زموږ په منځ کې واقعیت لري، په دې لږ پوهیدم چې دا خبرې د بډآیانو په منځ کې هم شته دي.))

رای صیب وویل: (( د شیانو ظاهوري بڼې پسې مه ځه، زموږ نومونه لوی دي. خو کردار مو لږ دی. غریبان خپل چارې او کینه ور دي. دا د ځان ژغورنې او ځان ساتنې د غریزې تاثیر دی. زه دارنګه شخصي ګټه د بخښنې وړ بولم. که چیرې څوک ستا ډوډۍ له تا نه چوروي البته چې ته هم وزګار نه کښېنې او د هغه له خولې نه یې را باسې، خو د زمیندار تربګنې او حسادت د خوشحالۍ او خوند لپاره ده. موږ اوس دومره ستر شوي یو چې غولونه او تیر ابستنه زموږ د ژوند مالګه ګرځېدلې ده. په واقعیت کې موږ د روحانیت هغې مرحلې ته رسیدلي یو چې د نورو خلکو اوښکې یوازې زموږ خوښي او مستي را پاروي. ))

((هوري، ته پوهیږې چې دا څنګه ده! په یوه کورنۍ کې لکه زموږ یو یا بل تل ناروغه وي. خو موږ له عادي ناروغۍ نه رنځ نه وړو. که چیرې لږ څه تبه د سینه بغل تداوي کوو. د یوې عادې زخې یا دانې سره د پوستکي لاندې د کلکې دانې چلند کوو. عاجل او هیجاني تلګرامونه د جراح مرستیال، جراح او سر جراح ته لیږل کیږي. د حکیمانو د راوستلو لپاره ډیلي او کلکتې ته پیغامونه استول کیږي. په کورني معبد کې مرسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتل کيږي. هغه په خالي کتنو مشغوليږي د ده له خوا نه د ناروغ د ژوغورنې لپاره آريانوونکې کارونه تر سره کيږي. د عادي ناجوړتيا د نبنې له ښکاريدو سره ډاکټران دې ته متوجه دي چې څو پوړيزه ماڼۍ به لړزوي. پوهيږې، دا ټولې پيسې زميندار لـه بزګر نه په زور اخلي او هغوی زبيښي. ))

چپراسي راغی او خبر يې راوړ هغه اجاره داران چې د جبري کار لپاره ګومارل شـوي وو، له کارکوولو نه يې ډډه کړې ده. دوی غوښتل چې بايد ډوډۍ هم ورکړل شي. کوم وخت چې چپراسي تهديد کړل، کار يې پرېښود.

د رای صيب وچولی له قار او غضب نه ګونځې شو او ويې ويل: (( راځــه زه بــه د دې رذيلانو حق ور ورښيم. دوی ته پخوا چا ډوډۍ ورکوله. په کوم حق دوی اوس له ما نه دا غوښتنه کوي. دوی ته په ورځ کې يوه آنه ورکول کېده، يوه توره پيسه به هم اوس زياته وا نه خلي. کار به دوی وکړي، که يې خوښه وي اوکه نه وي. ))

هوري ته يې مخ راواړاوه او ويې ويل: (( ته اوس تلی شي. خو هغه څه مې چې درتــه ويلي دي په ياد ولره. ستاسو له کلي نه د شلو زرو روپو د ټولولو ته ســترګې پــه لاره يم.))

رای صيب په قار او توغما له هغه ځايه لاړ. هوري د رای صيب د کړو وړو او چال چلند کې آني تغيير وليد. څو ګړۍ يې د دندې د ښه توب په باره کې اغيزناکې او فصــيحې خبرې وکړې او ځان يې غټاوه، خو يوه دقيقه تېره نه شوه چې د چپراسي له خبر سره يې له قاره اور واخيست!

کوم وخت چې هوري له دغه ځای نه روان شو، ټکنده غرمه وه. د لمر تودوخې د ويدو او الوول شويو پاڼو له منځه شُغلې وهلې. د لمر وړانګې د ماسپښين په خوب او غبــار کې ځليدې.

دريیمه برخه

کله چې هوري خپل کلي ته ورسيد، ګوبار له دوو نجونو سره لا تر اوسه هم پــه پټيــو کې کبلې په رمبي وهلې. لمر زمکه سوځوله او د توند باد چورليدو دغه ځای په تناره بدل کړی و. دوی ولې په دغې تودوخه کې د دومره کار په کولو سره ځانونه مرګ تــه ورکړي وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوري ور نارې کړې: (( کور ته راځئ! آیا تاسې نه ګورئ چې د ماسپښین لمر زموږ پر سر باندې ولاړ دی؟))
دوی درې واړو خپل رمبې را واخیستل او هوري سره په لاره روان شول. ګوبار چې غنمرنګی، جګ او د تار په شان ډنګر و داسې نه ښکاریده چې د کار ډېر شوقمن وي. د ده په څېره کې نارضایتي او بې پروایي له ورایه بر ېښیده. هغه کار کاوه. خو خپله بې تفاوتي د ژوند په هکله ښکاره کړي.
مشره نجلۍ سونا، غنم رنګې، زړه سوانده او خوشحاله وه. په کور کې اوبدل شوی سور ساري کوم چې له زنګنو نه پاس یې راقات کړې و. د دې په کوچني بدن بانـدې دروند ښکاریده..
شپږ کلنه روپا چې وېښتان یې جړ وو او یو ټوټه ټوکر یې تر نرۍ ملا را تاو کړی و. بې نظمه ښکاریده، له څېرې نه په زړه کلکه مالومیده.
روپا د خپل پلار په غېږ کې ځان ور وغورځار کړ او ویې ویل: (( کاکا، یوه کوټـه هـم پاتې نه شوه. سونا ټینګار کاوه چې تر ونې لاندې کښېنم، خو که موږ کار ونه کړو پټې به حاصل ورکړي؟))
هوري هغه خپلې غېږې ته ور پورته کړه او ورته ویې ویل: (( لورې، تا ډېـر ښـه کـار وکړ. راځه چې اوس کور ته لاړ شو.))
ګوبار چې لا تر اوسه پورې غلی و، ویې ویل: (( ولې دومره ډېر خپل ځان د بادار پـه مخکې ټیټوې؟ څه فرق کوي؟ که چېرې موږ په اجاره کې ببرته پاتې شو، ناظر لا نـور هم موږ ته ښکنځل کوي او موږ تحقیروي. موږ لا تر اوسه پورې هم اجباري کـار تـه ګومارل کیږو او د نورو کسانو په شان مجبور یو تحفې هم یوسو. هغه ته غـوړه مـالي کول موږ ته څه ګټه رسوي؟))
هوري هم همدا ډول فکر کاو. خو په دې فکر کې شو چې د ګوبار د سرکشۍ او بغاوت مخه ونیسي. ویې ویل: (( که چیرې موږ داسې چلند ونه کړو ژوند به له بد نه خورا بد شي، خدای موږ مریيان پیدا کړي یو او مجبور یو چې له خپل قسمت او برخـه لیـک سره سازش وکړو. زه د بادار دیدار ته ځم څو خپل هدف ته ورسیږم. سر خو مـې پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

درد نه دی. د هغه کتنه آسانه نه ده. کله کله مخکې له دې نه چې هغه مـا ور وبـولي ګړۍ ګړۍ انتظار باسم. کله کله په بده ژبه راته وايي نه.))

ګوبار د پيغور په ډول وويل: (( ارومرو د شتمنو د ځان منني په نازولو او تخنولو کـې ځان غولوونکې خوشحالي شته، ښايي همدا سبب وي چې خلک ولې د انتخاباتو لپاره راولاړيږي.))

(( زويه، ته ډېرې بدې خبرې کوې. زه هم چې ځوان وم د تاغوندې خبرې مې کولې. خو کوم وخت چې له واقعيتونو سره مخامخ شې بيا به پوه شې. ښکته تر پښو لانـدې شوی سر زوري نه شي کولی.))

ګوبار چې خپله خبره وکړه لږ يې د آرامۍ احساس وکړ او د خپل پلار تر څنـګ پټـه خوله په لار روان و. روپا د پلار څنګ ته ور نږدې شوه سونا هغې ته په ځير وکتـل او ويې ويل: ((ولې په لاره نه ځې؟ پښې دې ماتې شوې؟))

(( نه، نه ځم. هر څه دې چې زړه غواړي ويې کړه!))

په دې وخت کې يې خپل پلار ته مخ ور واړاوه او ورته ويې ويل: (( کاکا، سونا تل مـا ځوروي. وايي چې هغه سره زر ده او زه يوازې سپين زر. زه غـواړم خپـل نـوم بـدل کړم.))

هوري ځان په قار وښوده او ويې ويل: (( سونا ولې دې خپله خور ځـوروې؟ سـره زر يوازې د نمايش لپاره وي. خو سپين زر زموږ په کار دي. که چيرې سـپين زر نـه وي دوی روپۍ جوړولی شوای؟ راځه راته ووايه؟))

سونا ژر تر ژره ځواب ورکړ: (( بې له سرو زرو نه موږ پيـزوان، غـاړه کـۍ او بنګـړي جوړولی شو؟))

ګوبار، روپا ولمسوله: (( سونا ته ووايه چې سره زر د وچو او رژېدلو پاڼو رنګ دی. خو سپين د لمر په شان روښانه دی.))

سونا چې له خپل دريځ نه وانه وښته ويې ويل: (( خو ناوې تل يو ژړ ساري اغونـدي. آيا د دوی کله هغې ته سپين ور اغوندي؟ ))

روپا په بې وسۍ سره پلار ته وکتل. هوري بې حوصلې شو او سر يې وخوځيـد. ويـې ويل: (( سره زر د بډآيانو لپاره دي او سپين زر زموږ غوندې خلکو لپاره. موږ اوربشې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خورو او بدآيان غنم. اوربشو ته د غلو دانو سلطان وايو او غنمو ته نوکر. زموږ لپاره، سپين زر د فلزاتو پاچا دی او سره زر يې نوکر.))

روپا په خپل دغه بري باندې دومره د غرور احساس وکړ چې د پلار له غيږې نه رابښکته شوه او په داسې حال کې چې چک چکې يې کولې لرې وځغاسته.

دهنيا د دوی په انتظار په وره کې ولاړه وه. هغې وويل: (( ګوباره، ولې مو دومره ځنډ وکړ. تاسو په کار باندې خپل ځانونه وژنئ.))

هوري ته يې په ځير ځير وکتل او ورته ويې ويل: (( د دې پر ځای چې سيده کور ته راشې ته هم يو وارې د پټيو خوا ته ځې. باور ولره چې پټی به پښې ونه کړي او وبه نه تښتي.))

د کور تر څنګ يوه څاه وه. هوري او ګوبار يو څو منګيه اوبه پر ځان واچولې او ډوډۍ ته کښېناستل. چپاتی د اوربشو وو، خو تک سپين اونرم، خو په دالو کې د خامو امو رېښکي وې. روپا له هغه (تالي) نه چې پلار به يې په کې خواړه خوړل، وخوړل. سونا هغې ته په حسادت سره وکتل څنګه ناز ورکوې!

دهنيا پوښتنه وکړه چې د بادار کره څه خبره وه؟ هوري يوه لوټکه اوبه وڅښلې او ځواب يې ورکړ: (( کومه خاص خبره نه وه. هماغه پخوانۍ کيسه وه. د اجباري راټولول او بس. ته فکر کوې چې بدآيان نيکمرغه دي؟ دوی له موږ نه خورا بد حالت لري. زموږ يوازينۍ اندېښنه ورځنۍ ډوډۍ ده، خو رای صيب وايي چې د زرو شيطانانو اندېښنه ورسره شته.))

ګوبار ناري کړې: (( که داسې ده نو رای صيب خپل ځای ولې له موږ سره نه بدلوي.؟ موږ به په ډېره خوشحالۍ سره خپله زمکه، يوې او غوايان هغه ته ورکړو. په حقيقت کې هر څه چې لرو. آيا له دغې معاملې سره موافق دی؟ څه رذيل ! هغه څوک چې په مانۍ کې ژوند کوي، يو درجن موټر لري. مجلله ډوډۍ خوري او وخت يې داسې ښه تېرېږي چې په ژوند کې به موږ ته ميسر نه شي، خپل ځان بدمرغه بولې!))

هوري وويل: (( زويه، له تا سره بحث کول بې فايدې دي. آيا څوک خپل پلرنی ملکيت کله چا ته ورکوي؟ د مثال په ډول، موږ ته وګوره. موږ له خپلې زمکې نه څه حاصل اخلو؟ حاصل يې آن د سړي پر سر د يوې آنې مزدوري نه کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو نوكر په مياشت كې د لسو روپيو له تنخوا سره له مور نه ډېر ښه دي. خو مور خپله زمكه نه پر ېږدو او د كار لپاره ښار ته نه ځو. آيا ځو؟ زمور آبرو په همدې كې خوندي ده. ښه، عين حالت د زميندار په برخه كې هم صدق كوي.))

ګوبار وويلې: (( پلاره، هغه څه چې تا وويلې هيڅ مانا نه لري. مور په ډېرې سختۍ سره د ماړه نس ډوډۍ خورو يا زړوكې او ريتاړې مو اغوستې دي. خو د زميندار لپاره په سلهاوو مزدوران په انتظار كې دي او په زر هاوو كسه د حكم لپاره ولاړ. البته، ښايي دى د زيات شتمن كېدو توان به نه لري. خو هغه همدا اوس بيخي لوكس ژوند لري. پيسې د نور څه لپاره؟))

(( ښه نو ته فكر كوې چې د هغه او زمور په منځ كې هيڅ فرق نه شته.))

(( هيڅ، خداى مور ټول برابر خلق كړي يو.))

((زويه، دا واقعيت نه لري. دا خداى دى چې بداى او غريب پيدا كوي. انسان وروسته له ډېرې توبې او پښېمانۍ نه بداى كيږي. دا زمور په تېر ژوند كې زمور د عملونو مېوه ده. مور څه نه دي كرلي او د رېبلو لپاره هم څه نه لرو. ))

(( دا ټول خيالونه دي، زويه د دفاع د تسكين او تسلي وركولو لپاره، خداى مور ټول يو برابر پيدا كړي يو. هغه څوك چې قدرت لري، غريب تر پښو لاندې كوي، شتمن كيږي.))

(( ته غلط وايې، بادار داسې انسان دى چې له خدايه ويريږي، هغه هره ورځ د څلورو ساتو لپاره عبادت كوي صدقه او د غوايي خيرات وركوي.))

(( او څوك د زبېښل كيدو احساس كوي؟))

(( هيڅ څوك نه زبېښل كيږي.))

(( بزګران او كارګران زبېښل كيږي. دا چې دى عبادت كوي. صدقه او د غوايي خيرات وركوي د دې لپاره ده چې د خپلو شيطانتونو په خاطر خپل وجدان پاک كړي. راځه وګورو چې دى په وږي نس عبادت كوي.

ماته د ورځې دوه ځله په ماړه نس خواړه راكړه، زه به ټوله ورځ په ډېرې خوشحالۍ سره په عبادت تيره كړم، يوه ورځ كار كول په كرونده كې او د ده تقوا او د خداى وېره به د ده له خولو سره يوځاى ووځي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( له تا سره د بحث کولو هيڅ فايده نه شته. ته په خدايي چارو کې ګوتې وهې او دعوا کوې.))
کله چې ماښام نږدې شو ګوبار د کروندې خوا ته په روانيدو و.
هوري ورته وويل: (( زويه، لږ تم شه. خو مخکې له دې نه چې ځې، لږ واښه در سره يوسه بولا ته يې ور کړه.))
(( خو موږ د خرڅلاو لپاره واښه نه لرو.))
(( زه يې نه خرڅوم. خوشې يې ورکوم. بولا ډېر اړ دی.))
(( ولې موږ بولا ته واښه ورکړو؟ آيا ده کله موږ ته کوم شي راکړي دي؟ کومه غوا؟))
((هغه ماته غوا راکوله. ما ونه منله. ))
(( هغه، يوه غوا!))
دهنيا په تريو تندي وويل، ګوبار ژر خبره ور پرې کړه : (( راځۍ نو چې يوه سمه معامله وکړو، موږ به په هغه باندې د شلو روپيو واښه خرڅ کړو او نورې به يې کرار کرار ور کړو. پر بېرده چې يوه غوا راکړي.))
هوري په مرموزه توګه وويل: (( زه کولی شم غوا د يوې سندرې په بدل کې واخلم. ټول هغه څه چې زه يې بايد وکړم هغه د بولا د واده د ترتيباتو برابرول دي. ټول کار همدا دی او بس. زه هغه ته يو څو( مونډه) واښه ورکوم څو اعتبار پوخ کړم.))
ګوبار وويلې: (( ښه نو ته د يوې ښې جوړې برابرول غواړې!))
دهنيا په خبرو کې ځان ور وغورځاوه: (( ښايي دا يوازينی کار و چې له ده نه پاتې و.))
(( خو که چيرې موږ له بولا سره د هغه د کور په ودانولو کې مرسته وکړو، په دې کې څه بدي ده؟))
ګوبار چلم راپور ته کړ او لاړ چې ډک يې کړي. دغه کارونه د ده نه خوښيدل.
هوري وويلې: (( بولا يو ښه سړی دی. هر کله چې دی ماويني ستا په باره کې ډېرې ښې خبرې کوي.))
د دهنيا پر مخ يوه بې شيمې موسکا راخوره شوه. هغې وويل: (( زه د ده ستاينې ته اړتيا نه لرم. هغه بايد د خپل کار و بار په غم کې و اوسي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( ما هغه ته همداسې وويلې. خو هغه په خپلو سترګو لګيا و. ته پوهيږې ښځې يې په ټول ژوند کې پر هغه پرچ وهلي او دى ځومره له هغې وېرسيده، خو تــه بيخـــي فــرق لرې. هغه وويل، په سهار کې ستا ليدونه تل هغه ته نيکمرغي ور په برخه کوي. زه هر سهار ستا مخ وينم. خو هېڅکله مې نيکمرغي په نصيب نه شوه.))

(( که چيرې ستا بخت اوښتى وي زه څه کولى شم؟))

هوري خپلو خبرو ته دوام ورکړ: (( بولا يو عاجز او خاکساره سړى دى. هر څوک که د ده پر ځاى وي هغه به يې د يوې ورځې لپاره هم و ستايي، هغه لس کاله له ما نه مشر دى، خو تل لومړى ماته سلام اچوي.))

دهنيا لا تر اوسه پورې د بولا هغو تبصرو نه چې د دې په باره کې يې کړې وې، خونــد اخيست.

دهنيا په اندېښنې سره وويلې: (( هغه زما په باره کې څه وويلې. کوم وخت چې زمــا مخ ويني څه پېښيږي....))

په دغه وخت کې (( ګوبار د بولا د راتلو اعلان وکړ او دهنيا د هغې د ستايل کېدو لــه امله را وپاريدله او وراخطا غوندې شوه. ګوبار ته يې وويلې چې د ميلمــه ښــه عــزت وکړې او له روپا نه يې وغوښتل چې ژر لږ تنباکو راوړي.))

بولا له چلم نه يو اوږد کش وکړ او ويې ويل: (( وروره، يوه ښه ښځه لکشمي ده، هغــه پوهيږي چې د څنګه د ميلمنو عزت وکړي.))

دهنيا د وره تر شا ولاړه وه او له خوښۍ نه لړزيدله.

کله چې هوري د بولا لپاره د وښو راوړو پسې روان شو دا هم ورپسې ور روانه شوه.

هوري تعجب وکړ چې بولا دا دومره لويه ټوکرۍ له کوم ځاى نه را برابره کړې ده. کــه چيرې هغه ته دوه ډکې ټوکرۍ ورکړي. دوه( مونډه) واښه به يې پاک خلاص شي.

هغې د هوري کار وغانده او ويې ويل: (( ميلمه ته پته مه ورکوه او که يې ورکوې، نــو ښه عزت يې وکړه. ولې بايد هغه وړه ټوکرۍ راوړي؟ هغه خو څه ګلان نه ټولوي لږ تر لږه درې ډکې ټوکرۍ واښه ورکړه. خوارکى، څرنګه به دا دومره بار يوسي. بايد خپــل زامن يې ورسره راوستلي وي.))

(( زه نه شم کولى چې درې ټوکرۍ واښه ورکړم.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( ستا مقصد خو به دا نه وي چې هغه له يوې ټوکرۍ سره وليږې، کــه همداســې ده؟ ګوبار ته ووايه چې خپله ټوکرۍ هم ډکه کړي او له بو لا سره لاړ شي.))

(( خو ګوبار کروندې ته ځي.))

(( که چيرې يوه ورځ پاتې شي، د ګنيو کبنت نه وچيږي.))

(( خو هغه بايد ځوک ورسره راوستلې واى. هغه دوه تکړه او غټ زامن لري.))

(( ښايي هغوى بازار ته تللي وي.))

(( دا مسخرې دي. زه به هغه ته خپل واښه ورکړم او د هغه کور ته به يې هم يوسم.))

(( ښه ده، پرې يې ږده. زه به يې په خپله سمبال کړم. د لويانو خدمت کوم شــرم نــه دى.))

((خو لږ څه فکر وکړه، که چيرې يه هغه ته درې ډکې ټوکرۍ واښه ورکړم، زما خپلــو غوايانو ته به څه پاتې شي؟))

(( تا بايد مخکې له دې نه چې هغه ته بلنه ورکړې واى، دا فکر به دې کړى و.))

(( د مرستې او مهربانۍ لپاره هم يو سرحد شته! ته خو به نه غواړې چې زما کور تــالا شي.))

(( که چيرې د زميندار ناظر وې له بار سره به ورسره ځغلليدې. ته او ســتا زوى او آن لونه دي! او بې له کومې دعوا او بنګيدو به دې يو يا دوه( مونډه) ور اچول.))

(( د زميندار حالت فرق کوي.))

(( نه، د دې لپاره چې زه د هغه زمکه وکړم.))

((ته د هغې اجاره ورکوې.))

د هوري لپاره د تېښتې لار نه وه پاتې. هغه مجوره شو چې درې تــوکرۍ واښــه بيــل کړي. کله چې هوري او ګوبار لومړى ټوکرۍ را و ايستله. بولا ژر خپل د غاړې دسمال را واخيست او منجيله يې ترې جوړه کړه او پر سر يې کېښوده او ويې ويل: (( زه بــه يې خپله يوسم. په يوه دقيقه کې راستنيږم.))

هوري په پراخ تندي وويلې: (( دوې ټوکرۍ دې دننه ډکې پرتې دي. زه او ګوبار به يې کور ته در سره يوسو.))

هوري څنګه مهربانه دى، بولا اريان شوى دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی د لارې په اوږدو کې د ( دوسیهرا) د راتلونکي جشن په باره کې چې په هغه کې هوري ته یو کوچنی برخه ور کړل شوې وه، خبرې کولې.
بولا ترې پوښتنه وکړه: (( خو تا د تحفې بند او بست کړی دی. له هغې نه خو ځان نه شي ژغورلی.))
هوري خولې له خپل مخ نه پاکې کړې او ویې ویل: (( وروره، زه د هغه په باره کې اندېښنه لرم. غله وتلل شوه او مخکې له دې نه چې ګودام ته راوړل شي تالا شوه. زمیندار خپله برخه واخیسته او سود خواره هم خپله، یوازې سپېره زما قسمت و. د خدای شکر دی چې واښه مې د شپې پټ رانه ایستلي وو کنه یو زره به یې هم نه وو پاتې.
بې له زمینداره، درې سود خواره هم شته چې زه یې پوروړی یم. ما تر اوسه د دې توان نه دی موندلی چې د دوی سود ورکړم. د زمیندار نیمایي اجاره هم بې ورکړې پاتې کیږي. زه بیا مجبوره یم له سود خواره نه پور وکړم. زه به هر شی سپما کوم ،خو هیڅ فایده نه لري.
بډای موږ ته لاښوونه او نصیحت کوي چې سپما وکړو، خو د سپما یوه بېلګه هم نه شي راکولی. رای صیب د خپل زوی په واده کې شل زره روپۍ ولګولې او هیڅچا یوه ګوته هم پورته نه کړه. ملګرو، هم سودخور، د پلار په مړینه کې پنځه زره روپۍ خرڅې کړې او هیڅا له هغه نه پوښتنه ونه کړه. آخر غریب هم زوی او پلار لري.))
(( وروره، موږ له بډای سره ځان نه شو برابرولی.))
(( ته داسې فکر کوې انسان بې شتو قدرت او تعلیم نه انسان نه دی. موږ له غوایانو نه زیات نه یو، دې نړۍ ته راغلي یو چې ځغ راباندې وتړي.))
تېر یادونه، د حال غمونه او د راتلونکې نه وېره هغه مضمون دی چې د زړو خلکو لپاره ترې نه ښه مضمون نه شي موندل کیدای.
بولا چې هوري ته له ورونو نه د بیلتون خاطرې او یادونه ور تازه کړل په زړه سوانده یې وویل: (( دې بیلتون ارومرو ته ډېر ځورولی یې. تا خپل ورونه لکه خپل زامن لوی کړل.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوري په نيولي غږ وويل: (( وروره، ډېر ځوروونکی حالت و، ما داسې احساس وکړ چې ملا مې ماته شوې وي. افسوس چې دا بيلتون زما په ژوندوني کې پېښ شو. هغه ورونه چې ما ورته خپله ځواني قربان کړې وه، زما په سختو دښمنانو بدل شول او بيلتون ټول په ډېر يو بې ارزښته موضوع باندې منځته راغی. دوی غوښتل چې زما ښځه دې په ما لږ څه کار وکړي. اوس، ته ووايه چا دا پوښتنه کولی شواى، که نه چې آيا د کور د کار لپاره څوک نه دی په کار؟ په هر صورت، دې خو خپل وخت خوشې نه تيراوه. خواړه پخول، کور پاکول، د کوچنيانو مراقبت زيات وخت نيسي. آيا د سوبا او هيرا ښځې د کور په غم کې وې؟
کوم وخت چې مور ګډ ژوند کاوه د هغوی ښځې به هر څلور ګړی وروسته وږې کيدلې. ولې دوی اوس په ورځ کې څلور کرته خواړه نه خوري؟
وروره، ته د هغه حالت چې د ګوبار مور درلود تصور نه شې کولی! ښه ده چې سره بيل شوو. زه خوشحاله يم چې د هغو له غمه خلاص شوم.))
بولا ځواب ورکړ: (( په هر کور کې دا کيسه شته. ولې ورونه! آن زما زامن له ما سره د نظر اخلاف لري. دا زما بد عادت دی چې د دوی له کردار نه سترګې نه پټوم. زه دوی ته وايم، که په عياشۍ کې ډوب شوئ او هغه ژوند مو غوره کړ، پيسې تاسو په خپله وګټئ. خو ګټلی يې نه شئ او خرڅول يې ارومرو کولی شئ. نو اوس ما ته ووايه، زه په داسې حال کې څه وکړم؟ زما مشر زوی، کماما، کله چې له بازار نه راستون شي، د نيمايي خرڅلاو حساب نه شي راکولی. ويې پوښته، چوپ پاتې کيږي!
کوچنی زوی مې جنګی، د موسيقۍ شوقمن دی، تل تال او درم ورسره وي. موسيقي مخالف نه يم، خو هر شي ځانته وخت لري. زه مجبوره يم څارويو ته واښه ورکړم، غواوې ولوښم او بازار ته لاړ شم.
وروره، تا ته رښتيا وايم، دغه دندې او کارونه زما د ژوند د بربادۍ سبب شوي دي، لکه چې د چا په خوله کې د سرو زرو ماهی وي چې نه يې تيرولی شي او نه يې غورځولی. ته خو زما لور، جونيا، هغه بدمرغه پيژنې. البته واده ته يې راغلی وې. څه ښې کورنۍ سره د هغې واده وکړ. د هغې مېړه په بمبيي کې د شيدو هټۍ درلوده. د هندوانو او مسلمانانو جګړو په ترخ کې چا سوری سوری کړی و او مړ شو. کورنۍ يې ټوټې ټوټې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوه. هغه مې بیرته خپل کورته راوستله په دې فکر چې هغه به بیا واده کـړم. دواړه وریندارګانې یې کله چې وخت مومي د مرګ تر سرحده یـې ځـورويې. کـور اوس د جګړې تئیاتر ته ورته دی. هغه اوس ورو ورو د لیونتوب خوا ته درومي.))

دغو خبرو اترو د بولا کلي ته تر رسیدو پورې دوام وکړ. د بولا کلي کـوچنی خـو زړه وړونکی او زیات د غواګانو د رمو ځای و. بولا د دغه کلي مشر و، د کور نه د باندې پـه یوه لویه محوطه کې په تخمیني ډول یو درجن څاروي تړل شوي او به خـوراک لګیـا وو. په دهلیز کې یو لوی د لرګي تخته پوش ایښودل شوی و او دومره قوي و چې ایله لسو کسو پورته کولی شوای. په یوه میخ کې درم او په بل کـې تـال ځوړنـد وو. پـه تاخچه کې په یوه ټوکر کې پېچل شوی کتاب چې ډېر زیـات (رامآیانـا) تـه ورتـه و ایښودل شوی و. د کور دواړه نرېندې په تپې کولو لګیا وې. جونیـا د وره خـولې تـه ولاړه وه، سترګې یې تکې سرې وې. ښایي له ژړا نه. شونډې یې غټې او پنډې، مخ یې ګرد، سترګې یې وړې او ننوتلې او وچولی یې نری او کمسوری و. خو د هغې لـه نـازه ډکه غبږ او د بدن غزیدونکی پوستوالی هغې ته زړه راښکونکی طلسم ورکړی و. هغې مخې ته ټوپ را وواهه او له پلار سره یې ټوکرۍ ونیوله.

بولا ورته وویلې: (( لورې چلم راوړه او څه شربت هم راتیار کړه. البته، هوري میتو خو پیژنې؟))

جونیا چې به یوه لاس کې یې چلم او په بل لاس کې یې یوه رسۍ او کوزړۍ را نیـولې وه، راستنه شوه.

ګوبار چې لاس یې کوزړۍ تـه ور اوږد کـړی و پـه ډاډه زړه وویـل: (( همدلتـه یـې پر پرېده.))

خو جونیا کوزړۍ کلکه نیولې وه. په جابکۍ سره یې د څاه غاړې ته منډه کـړه او پـه خوند یې شا ته بیرته وکتل او ویې ویل: (( خو ته زموږ میلمه یې.))

(( ګاونډیان میلمانه نه وي.))

(( اوه، هو، میلمانه دي. که چیرې په میاشت کې یو وارې راشي.))

(( خو آن ګاونډی هم هره ورځ نه شي راتلی.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

جونیا له یوې ګوښې نه ورته وکتل او ویې ویل: (( زما مقصد هم کټ مټ همداسې دی. په میاشت کې یو وارې راشه، تا ته به ښه یو سوړ شربت در کړم. که په دوو اوونیو کې یو ځل راغلې چلم به درته راوړم او که په اونۍ کې یو ځل راغلې ښه ځای به درته برابر کړم او که چېرې هره ورځ راغلې، نو هیڅ شی به تر لاسه نه کړې.))

(( هیڅ شی؟ آن ستا یو سرسري نظر هم نه؟))

جونیا خپل سر ته ټکان ورکړ او ویې ویل: (( دا تر ټولو سخت کار دی.))

وروسته له هغه چې دوی څه وخښل، بولا وویل: (( غوا اوس واښه خوري، ګوباره سبا ته راشه او هغه بوزه.))

د ګوبار سترګې په غوا نښتې وې.

هوري چې خپله لوالتیا پټوله وویل: (( هیڅ بېړه نه شته. بیا به یې یو وخت راولېږم.))

بولا په ډېر زیات ټینګار سره وویل: (( خو زه بېړه لرم. هغه چې ستا په کور کې ولاړه وي تا ته به ستا وعده در په یادوي.))

(( وروره، د هغه کار لپاره ما قول درکړی. نه یې هېروم.))

هوري او ګوبار دواړو له بولا نه رخصت واخیست. دواړه خوشحاله وو، هوري د دې لپاره چې د ډېرې مودې هیله یې په دومره لږ قیمت تر سره شوې وه او ګوبار د دې لپاره چې لا نور هم د بې قیمته خزانې څښتن کیږي. د غوا د درلودلو هوس په ده کې راپاریدلی و. هغه بیر ته شا ته په غلا یو نظر واچاوه.

جونیا په وره کې ولاړه وه. د ده په باره کې د هغې په احساس پوهیده. د امید په شان بې صبره او زړه نازړه .

خلورمه برخه

هوري هغه شپه یوه سترګه خوب هم ونه کړ. دی چې د ترخه زیتون تر ونې لاندې پر کټ باندې اوږد غزیدلی و. ستورو ته یې کتل او د غوا په باره کې یې فکر کاوه. هغې ته له غوایانو نه لرې اخور جوړ کړي؟ خو چیرته یې وتړي؟ په اوړي کې پرابلم نه شته، د باندې به یې هم د وره تر خوا وتړي. خو په باراني موسم کې؟ که چیرې د یوه لعنتي او ښیرا وهلي شیطاني سترګې پرې ولګیږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

برسیره پر دې د زمیندار ناظر به هم راشي او په پړسیدلي غومبوریو به نارې سورې وهي او ورغوری به ګرځوي. دا به هیڅکله د هغه د دښمنۍ د راپارولو سبب نه شي. ډېر ښه کار به دا وي چې په انګړ کې د لوښو او وښو یوه ځپره ورته جوړه شي.

دا غوا به په لومړني لنګوال کې له پنځو( سیرو) لږ شیدې ونه کړي. ګوبار به لږ تر لږه د ورځې یو (سېر) شیدو ته اړتیا لري او روپا که یې خوښیږي، ډک ډک لوښي به وڅښي. خو آیا دا یوه تېروتنه نه وه چې دهنیا مو دومره ژر په دې راز پوه کړه؟ کوم وخت چې دې لیدلې وې چې غوا انګړ ته راننوتې، د دې د حالت لیدنه به ښه د خندا وړ وه، ښه هغه څه چې شوې وه، شوې ده.

اوس مهمه موضوع د غوا ساتنه وه. دی په دې فکر کې شو چې کاشکې ګوبار خو ډېر غښتلی او پیاوړی وای. ښایي یې پلار دومره سختګیره هم ونه اوسي په هر صورت، هلکان هلکان دي. آیا د پلار په ژوند کې دی په خپله اخوا دې خوشې نه ګرځیده.

هر چا ویلي که چېرې کورنۍ تباه او تالا شوه مسوولیت به یې د ده پر غاړه وي، خو کوم وخت چې مسوولیت د ده پر غاړه ور ولوید، دی بیخي بدل شو.... نو ښایي ګوبار هم بدل شي. که څه هم ډېر د خواشینۍ ځای و چې د ده دواړه ورونه له کورنۍ نه بیل شوي وو. د یوې پر ځای به درې وو په زمکه کې لیکې جوړولې. د سباوون رڼا راخپره شوه. دا وخت د ځپرې د تیارولو و.

آیا دی د غوا تر راوستو پورې انتظار نه باسي، که چیرې بولا خپل فکر بدل کړي، دی به د ټول کلي د خندا مضمون وګرځي.

ګوبار چې د راوینښېدو په حال کې و، ویې ویل: ((پلاره سهار دی، ځپره دې جوړه کړه؟))

(( نه، زویه، تر اوسه نه، فکر مې وکړ د غوا تر راوستو پورې انتظار وباسم. هېڅکله د بولا په خبره باور کیدای نه شي.))

د ګوبار سترګې تنګې ــ تنګې شوې (( ځنډ د څه لپاره؟ موږ غوا راولو.))

(( ته بولا نه پیژنې، ښایي شیطان د هغه په غوږ کې څه ووایي.))

ګوبار چټک راپورته شو، خپل کوټک یې راواخیست او په قاطعیت سره روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوري کله چې زوی يې له ځنګ نه تېر شو، په سرلوړي يې هغه ته وکتل. لـه ده نـه اوس يوه ښه تکړه ځوان جوړ شوی و. د واده لپاره پيسې نه درلودې. پـه کـور کـې د وېش او بيلتون د راتلو له امله دوی په بده ورځ اخته شوي وو، خلک د ګوبار د ليـدو لپاره راتلل او هغه يې خوښاوه، کله به يې چې وليد کور کې څه نه شته او هيڅ شی نه دي ورته پاتې. له ګوبار نه به يې لاس پرېوی. هغو به چې ومنله د ناوې لپاره بـه يـې دومره زياتې پيسې وغوښتلې چې هوري به عاجز پاتې شو.
دی مجبوره و چې سونا هم د خپل بخت کور ته وليږي. کـه زوی واده نـه وای کـړی. ډېره بده وه، خو که چيرې پيغله لور بې مېړه پاتې شوې وای، مقدساتو ته سپکاوی و. پيغله او بې مېړه نجلې يې په کور کې وه. ده ځنګه کولی شوای چې دوستانو تـه مـخ ولري؟
هوري په همدې چرتونو کې ډوب و چې (دمري) د ټوکريـو اوبـدونکې ده تـه سـلام واچاوه او له هغه يې وپوښتل چې چيرې لړ څه د بانکس لرګي د خرڅلاو لپاره ولـرې. دمري تور، ټيټه ونه او ډکې سترګې يې درلودې او په ځير ځير به يې درته کتل. مـخ يې چاغ او لنډ و او بريت يې هم درلودل.
د نرۍ ملا په وندنۍ کې يې يو اوږد چاکو ګرځاوه. په کال کې يو يا دوه ځله به يـې د ځوکيو، ټوکريو او نورو بانکسی شيانو د جوړولو لپاره د بانکسی د اخيستو لپاره دوره وهله.
هوري، دمري د بانکس پر ګڼو ونو را وګرزاوه او سل دانې په پنځه ويشت روپيو معامله وشوه. هوري ورته وويل: (( د دې لپاره چې ته يو پخوانی پيرودونکی يې، نو در سـره چنه نه وهم. زما د بانکسي سل دانې له دېرشو روپيو نه کـم نـه خرڅيـږي. پـه هـر صورت، آيا ستا زوی راستون شوی، کوم چې واده کړی و؟))
دمري وويل: (( ميتو، هغه زوی زما د سر ټيټی سبب دی، هغه خپله ښځه پرې ايښې او اوس له بلې ښځې سره په ښار کې دی. بده خو لا داده چې ښځه يې له بـل سـړي سره تښتيدلې ده. ما له هغې نه وغوښتل چې يوه ښځه و اوسي او خپل ځـان آرامـه ونيسي، که نه زه به چا ته مخ ونه لرم. خو هغې زما خبرو ته غو ونه نيو، داسې ښـځې ناوړه دي، وفا نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای دې ښځې ته هر څه ورکړي، خو نه ښایسته څېره، که چېرې د ښې څېرې خاونده وي، د هغې ساتل آساننه کار نه دی. آیا د بانکس ونې ستاسو ورونو په منځ کې ویشل شوې دي؟))
(( هو، مورِ هر يو برابره برخه لرو. زه به د خپل ورور برخه وا نه خلم. کولی شم دوی ته ووایم چې ما بانکس په (شل) روپیو خرڅ کړي دي او دوی هم دومره هوښیار نه دي چې پرې پوه شي. البته، دا خبره دې زما او ستا په منځ کې وي.))
هوري د دمري خوا ته ځغلنده نظر واچاوه څو د ده عکس العمل معلوم کړي. هغه د يوه ماړه نس خاوند سوالګر ته پاتې کیده چې د صدقې او د غوایي خیرات غوښتنه کوي.
دمري، هوري راګوښه کړ او ورته ویې ویل: ((میتو، په ما اعبتار وکړه. زه به ونه غواړم چې سر ټيټې شې. خو د لږې فایدې لپاره ده چې انسان په يوه بې پته معامله لاس پورې کوي. که چیرې ته لږ ښکته راشې یانې(۲۰) روپۍ، زه به هغو ته (۱۵) روپۍ ووایم.))
معامله جوړه شوه، دمري تر نرۍ ملا پورې ځان لوڅ کړ او د بانکس په پرې کولو یې پیل وکړ.
پونیا، د هیرا ښځه د څاه خوا ته روانه وه. له پلو لاندې یې دمري د بانکس په ونو کې ولید. هغې ناري کړې: (( ودرېږه! څوک یې؟ له دې ونو نه ووځه!))
دمري ژر ودرید او ویې ویل: (( زه حق لرم. ما په پیسو اخیستې دي.))
دا د هیرا د ښځې په خاطر و چې ورونه سره بیل شول. هیرا کله کله هغه ډېره وهې. سره له دې، د هغې خبره په کور کې آخیري خبره وه. هیرا هغې ته مطیع او تسلیم شوې وه او هغه آس ته پاتې کېده چې خپل بادار په لغته وهي، خو پر خپله شا هغه ته د سپریدو اجازه ورکوي.
هغې په لوړ آواز وویل: (( زه بانکس نه خرڅوم.))
دمري پوه شو چې ښه به دا وي له ښځې سره بحث ونه کړي. هغې ته یې په بدخويۍ وویلې: ((غواړم ستا له میړه سره وغږیږم.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

پونیا د مېخ په شان کلکه وه. د ژوند ناخوالو او محرومیتونو د هغې ټول احساسات ور وژلي وو.
د دمري لاس ته يې په ځير ځير وکتل: (( زه چې دلته يم، مېږه ته مې د غړ کولو څه حاجت شته. له ونو نه دې لاسونه ايسته کړه. خبره همدا ده!))
کله چې دا د دمري له اعتراض سره سره لاړه نه شوه، دمري پورې وهله او هغه خوره وره او شواړه پر ېوتله. راپورته شوه، دمري ته يې ښکنځل وکړل. خپلې څپلکې يې را و ايستې او له ډېر قار او غضب نه يې دمري څو څو ځله پرې وواهه. دمري دا وهل بې له دې چې کومه خواشيني څرګنده کړي تير کړل. هغه په دې پوهيده چې د دغه ډېر بد عمل په وړاندې بايد له حوصلې او زغم څخه کار واخلي.
هوري چې د پونيا ژړاوې اورېدلې په منډه راغی. پونيا په لـوړ آواز ژړا انګـولا کولـه. لومړی له قاره تک شين شو. خرڅې شوې برخې نښې نښانې يې ټوټې ټـوټې کـړې، دمري يې په لغته وواهه او په چيغه يې وويل: (( که ژوند درباندې ګران دی، نو تېښته کوه. په کوم جرآت تا زموږ د کورنی په يوه ښځه لاس پورته کړی دی؟))
په دغه وخت کې هيرا راورسېد د خپل قار او عصبانيت له څپو نه ډاريده. سترګې يې تکې سرې شوې وې. د اورمېږه رګونه يې درزېدل، دی په دمري په قار نه و، خو خپلې ښځې پونيا ته ډېر په قار شوی و. دې څه کار درلود چې له يوه نارينه سره يې شـخړه کوله؟
سيده پونيا ته ورغی، هغه يې ليرې راکښ کړه او په متروکه يې د هغې په وهلو پيـل وکړ، پونيا انګولا کوله هغې چيغې او بغارې وهلې: (( خدای دې تـا د نـړی پـه ټولـو مصيبتونو اخته کړي. جزام دې ستا اندامونه يو يو در وخوري.))
د جزام د نيولو په اوريدو سره د هيرا د عصبانيت سرې لمبې په مړه کېدو شـوې لـه سينه بغل او کولرا سره انجام چټک و، خو د جزام تدريجي مرګ يې نه خوښيده. يـو ځل بيا يې پرې اخ او ډب جوړ کړ.
بيا يې دمري ته مخ راواړاوه او ورته ويې ويل: (( ما ته دې ولې خوله وازه پاتې ده؟ څه خپل کار دې کوه. بيه خو يې پوهيږې. پنځلس روپۍ ده.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

پونیا خپل سر وښکاوه: (( که چیرې ته غواړې چې خپل کور ته اور ور واچــوې، وايــې چوه، ویې سوزوه. په مایې څه؟ څه بده برخه، څه بده برخه! د تا غوندې د یوه قصــاب په منګولو کې لویدلې یم.)) د کور خوا ته روانه شوه.

هیرا پرې پرچ وهل: (( چیرته روان یې. ځاه ته لاړه شه. همدا اوس.))

دې چې د وهلو ټکولو مزه لیدلې وه، د نورو وهلو شوقمنه نه وه. په آرامۍ یې لوښــي راپورته کړ او په سلګۍ وهلو د ځاه خوا ته روانه شوه.

هوري پرې نارې کړې. (( اوس بل جنجال جوړ نه کړې!))

دهنیا د وره له خولې ور نارې کړې: (( څوک د تا خبرو ته غوږ نه نیسي او ته لګیا یې نارې سورې وهې. ته هغه نه پېژنې؟ دا هماغه پونیا ده چې ټوله ورځ یې در ته ښکنځل کړي وو. په خپل حق ورسیده. څه خبره ده؟))

هوري چې وره ته راورسید په هغې لړ په قار شو او ورته ویې ویل: (( څنګه هغه وهل چې هغې وخوړل، لکه چې ستا زړه هم ورته کیږي؟))

(( که چیرې ما مخکې نه وي خوړلې!))

(( دومره ډېر نه. که وهل وخوري، تښتي، همداسې نه ده؟))

(( ما له دې نه خورا ډېر خوړلي دي. که چیرې هیرا خپله ښځه وهي. پرې ګرانه هــم ده. ته یوازې په وهلو پوهیږې، نه په مینه.))

((نه داسې ادعا نه شې کولی. دا ته وې چې د پلار کره لاړې او کور ته د راتګ فکر در سره نه و. زه درغلم او ته مې راوستې.))

(( هو، هغه وخت چې تا بې ما ژوند نه شوای کولی نه دا چې زه پر تا ګرانه وم.))

د واده ژوند مخکینۍ دوره له ځوانۍ او شوق سره پــه درزیــدو وي، کــټ مــټ لکــه سباوون چې د ژوند دوره په کې داسې ښکاري ته به وایي له ګلابي رنګ او ځلا ســره غوړول کیږي. د ژوند ماسپښین په خپلو غځول شویو وړانګو کې وهم او خیال ویلوی او موږ واقعیت ته مخامخ دروي. د شپې سوله او آرامتیا راکښته کیــږي چــې پــه دې وخت کې موږ د ستړیو لارو یو په شان چې د یوه ګړنګ پر سر ناست وي په تیر وخت باندې چورت وهو او په هغه کې ډوبیږو او په اتفاقي توګه ښکته چــې ډېــره لــرې او پردې دی د ژوند خوځیدا او چورلیدا ځارو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دهنیا سترګې نمجنې شوې او ویې ویل: (( ته ځنګه خبرې کوې. تا هیڅکله آن زما یوه کوچنۍ خطا هم نه ده بخښلې.))
هوري وویل: (( دهنیا ته عادلانه قضاوت نه کوې. بولا وپوښته چې زه تل ستا څومره صفت کوم. ))
دهنیا چې موضوع بدله کړه ویې ویل: (( پرېږده چې وګورو ګوبار له غوا سره راستون شوی او که تش لاس راغلی دی.))
سمدستي چې دا دننه انګړ ته ننوته دمري چې ډېرې زیاتې خولې یې کړې وې راورسید. هغه وویل: ((میتو راځه چې بانکس وشمیرو. سبا ته به یې په کراچۍ کې یوسم.))
هوري د بانکس د لرګیو د شمیرلو ضرورت ونه لیده او دمري چې خپله کڅوړه خلاصه کړه اووه روپۍ او اته آنې یې دهوري په لاس کې ورکېښودې.
هوري وویل: (( ټول همدومره؟ نه، نه، دوه روپۍ او اته آنې نورې.))
دمري په بې مزه ګۍ وویل: (( ولې؟ معامله په (۱۵) روپو فیصله شوه. همداسې نه وه؟))
(( نه، شل روپۍ وې.))
(( پنځلس، موږ د هیرا او روستا په مخ کې په دغې بیه موافقه وکړه. ورغږ کړم؟))
(( ته ښه پوهیږې چې موږ په شلو روپو پرېکړه کړې وه. دا چې ته اوس ډېر سپیتوب کوې د دې مانا نه لري چې ټول شیان باید ستا په خوښه وشي. دوه روپۍ او اته آنې پاتې دي. خو ماته پوره دوه روپۍ نورې راکړه.))
دمري داسې مندکه وه چې ماتول یې آسانه کار نه و. هغه پوهیده چې هوري په نا پاکه وجدان سره نه شي کولی هغه سره په ښکاره دعوا وکړي.
هیرا ورته تندی تریو کړ او ویې ویل: (( چودري، دا ښه کار نه دی. زما له دوو روپیو سره به مهاراجه نه شي.))
((او نه به ته د خپلو ورونو سره په ټګۍ باندې.))
دمري لاړه خو هوري سرخوړی تر ونې لاندې کښیناست د موضوع په هکله یې چورت واهه، پیسې یې په مخکې بې له دې چې لاس ور وړي پرتې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې دهنیا له انګړ نه راووته ویې لید چې پیسې پر زمکه پرتې دي. ویې ویـل: ((خو دا باید لس روپۍ وای. نورې یې چېرته دي؟))
هوري جرآت نه درلود هغې ته ووایي چې دمري ځنګه راګیر کړی دی. دی هغه غل ته پاتې کېده چې دام د غلاکولو لپاره ونې ته وخېژي او چې ښکته را ولـوېږي کوښـښ کوي خپل بد عمل د کالیو نه د ګرد په ټکولو پټ کړي.
په ځوړند مخ یې وویل: ((څه کولی شم؟ هیرا په ۱۵ روپیو موافقه کړې ده.))
((هیرا که وغواړي په ۵ روپیو یې هم خرڅولی شي. خو موږ ولې؟ ))
((توده شخړه روانه وه. د دې چنې وهلو او دعوا وخت نه و.))
((البته، ته ځنګه کولی شې؟ که چېری تا ویلي نه وو، ستا ګران ورور به ځـومره کـم راغلی و؟ په خاصه توګه چې ستا ګرانې ورېنداره د مرګ وهل خوړلي و!))
هوري ګېنۍ اخیستې و او له قاره خوټېده خو بې له دې چـې څـه ووایـي او خپلـې سترګې پورته کړي په پټه خوله یې د هغې خبرې وزغملې. رمبی یې راواخیست چې کروندې ته لاړ شي.
دهنیا چې رمبی ترې نه واخیست وویل: ((چیرته ځې؟ لاړ شه. ځان دې پر ېمینځـه. خواړه تیار دي.))
((زه خو وږی نه یم.))
دهنیا شوکارې پرې ولګولې: ((نه یـې وږی؟ ورور دې اورمـرو لـډوان در کـړي دي. خدای دې هر چا ته داسې ښه ورونه ور کړي.))
هوري له قاره خوټېد او ویې ویل: ((ښکاریږي چې اندامونه دې خارښت کوي.))
دهنیا له درواغجن معصومیت سره وویلې: ((زما هیڅ ګناه نه شته. تا په خپلې مینې تباه کړې یم.))
((اوه، ما یوازې پر ېږدې، که لاړ شم؟))
((زه څوک یم چې تا وباسم؟ کور ستا دی. ته خاوند یې.))
ټوله پوهه او ځیرکي یې مخکې د ورځې د پیښو له امله پڅه او کمزورې شوې وه. نـو له همدې کبله هوري د ملنډو او ټوکو لپاره وخت نه درلود. رمبی یې ایسته غوځار کړ او ځان پر ېولو ته ولاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګوبار راستنېدل ډېر ځنډ شو. لا تر اوسه پورې يې درک هم نه و. دا هلک څه کوي؟ د جونيا په ښکار مشغول دی؟ بې له ګوباره خوړو خوند نه ورکاوه په نيمه اشتها يې يو څو وړې وړې ګولۍ وخوړې او د ترخه زيتون د ونې تر سيوري لاندې اوږد وغځېد.
روپا چې ول ول شوي وېښتان يې جړ شوي وو. په ژړا راغله هغې له سونا نه شـــکايت درلود، سونا ور ته ويلي وو کله چې غوا راشي هغې ته به اجازه ور نه کړي چې تپـــې وکړي. دا ډېره بده وه. روپا په کوم شي کې له سونا نه کمه وه؟ سونا چې پخلی کــاوه، نو آيا روپا لوښي نه مينځل؟ سونا چې اوبه را ايستلې، آيا روپا منګی نــه راوړ؟ ســـونا چې به په کروندې کې کبلې په رمې وهلې، آيا روپا وزه نه پووله؟
هوري چې د هغې په ساده ګۍ يې لوبې کولې، وويل: (( ته به تپې وکړې. کــه چيـــرې سونا غوا ته نږدې راغله ويې شړه.))
روپا چې خپل لاسونه يې دهوري په غاړه کې ور اچولي وو، وويل: (( زه به يې لوښــم هم.))
((ارومرو، ننوڅه څوک کولی شي چې ولوښي.))
(( نو غوا زما ده.))
(( ولې نه.))
روپا چې له خوشحالۍ نه پړکېدله. منډه يې کړه څو پړې او مغلوبې شوې خـــور تـــه دا خبر يوسي.
سونا لا تر اوسه پورې د نوې ځوانۍ به دوره کې وه. بدن يې پوره د ځوانۍ نجلۍ و، خو ماغزه يې د وړې داسې لکه چې په هغې کې ښځه او کوچنۍ يو له بله سره په مقابلـــه کې وي. په ځينې موضوع ګانو کې دومره ځيرکه او هوښياره وه چې يو يا دوه شـــيان ډېر پوه سړي ته درس ورکړي، خو په ځينو نورو موضوع ګانو کې بـــه دومـــره خـــوش باوره وه چې آن يوه کوچني کولی شواې هغه وغولوي.
د هغې مخ اوږد او زيړ، خو خوشحاله وه او د هوسايني او قناعت نښې په کې له ورايه برېښېدې. وېښتان يې هيڅ نه غوړول په سترګو يې هيڅ کجل نه پورې کول او هـــيڅ سينګار يې نه کاوه. داسې ښـــکاريده چـــې د کـــورنۍ ســـتونزې د هغـــې د مســـتۍ او خوشحالۍ خنډ شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې روپا ته وويل: (( کله چې ته په تپې کولو لګيا شې، زه به د غوا تـولې شـيدې را ولوښم.))

(( زه به غوا په کوټه کې کلپ کړم.))

زه به ور ور مات کړم. سونا په تراټ د ام ونو ته لاړه. ام د توپاني بادونو له برکته لږ څه ژېړ شوی و.

کوچينيانو به تل د هغو په ښاخونو ځانونه راځوړند کړی وو. کله به چې باد يو څو دانې را وغورځول، نو څه تېل وهل او خاپوړې به وې. روپا به تل هغه څه کول چې خور يـې ورته ويل، هغه د سونا پسې د ام ونو ته روانه شوله. د سونا د واده لپاره پلانونه تر لاس لاندې وو.

روپا ځوريدله چې ولې هيڅوک د هغې د واده په باره کې خبرې نه کوي. کله کله بـه هغې خپله دا موضوع منځته را واچوله. هغې به دا موضوع ډېره په خوند يادولـه چـې زوم به څه ښکاريږي د هغې د خوراک او اغوستو لپاره به څه ښکلي شـيان راوړي. د کوچنيانو په منځ کې دا د خپلو خيالونو له کبله ممتازه وه.

ماسپښين په تيريدو و، خو د هوري زړه نه کيده چې کرونډې ته لاړ شي. هغه غوايانو ته واښه ور واچول او چلم يې د ځان لپاره تازه کړ. هغه لا تر اوسه پورې هم په پور کې ډوب و. پور د درې سوو روپو په شا وخوا کې و او هر کال به د سلو روپو سود پـرې ور زياتيده. پنځه کاله مخکې يې شپيته روپۍ له منګرو، سود خور نه د غوايی د اخيستو لپاره پور کړې وې. تر اوسه پورې يې شپېته روپۍ د هغو سود ورکړی . هغه د دېرشـو روپو پور چې له پنډت داتادين څخه يې د پټاټو د کرلو لپاره کړی و اوس سلو روپو ته ختلې و نور پورونه هم وو. د ماليې يوه برخه لا تر اوسه نه وه ور کړل شـوې، ښـه ده چې دی د پور د چورتونو په لړۍ کې د څو مخکې شـېبو اووه روپـو او اتـه آنـو تـه راورسېد.

آيا دا به د دوسهيرا په جشن کې زميندار ته د هغه د تحفې ورکولو پرابلم حل کـړي. خو حل به يې نه کړي؟ آن که يو څو روپۍ يې له کوم ځای نه را پيـدا کـړې هـم وای خبرې به يې په ټول کلي کې تيت شوې وې او پوروړي به ډله ډله ورته را روان وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو دی به دا روپۍ د تحفې لپاره وساتي. دی لا دوه نور مسوولیتونه هم لري. د ګوبــار او سونا واده. دا دوه کاره هم له درې سوو روپو نه زیات خرڅ په کار لــري. ده ځــومره هیله درلوده چې وکولی شي د دا دومره پورونه ټول پــرې کــړي. خــو د ده لــه ټولــو کوښښنو نو سره سره، پورونه په ده پورې نغښتي وو.

د خدای لپاره، که چیرې حالات همداسې وړاندې لاړ شي، د ده د پورونــو پېتــی بــه دروندېږي او یوه ورځ ښايي دې ته اړ شي خپل کور لیلام کړي او له کوچنیانو نه یــې سوالګر جوړ شي.

د ورځني کار له ستړیا نه وروسته کله چې ده چلم څکولو، دی چرتونــو او اندېښــنو داسې راچاپیر کړ لکه چې تور دیوال ترې راچاپیر شوی وي او د تېښتې لار هم ونــه لري.

د ده یوازینی تسلیت او ډاډ دا و چې دی یوازینی بدمرغه انسان نه وه. نور کرونــدګر هم په همدې ښېړۍ کې سپاره وو. ځینې یې په واقعي توګه په ډوبیدو وو . سوبا او هیرا د ده ورونه، څلور سوه پوروړي وو. پر جینتکر باندې زر روپۍ پور وې.

جیوان میتو داسې غریب و چې مجبوره و سوالګر خالي لاس وباسي.

پور پر کلي باندې د یوه نفرین په شان لمنه غوړولې وه.

سونا او روپا په ناڅاپي توګه خوشحاله را ننوتې او ویې ویــل: (( ورور لــه غــوا ســره راغی!)) دوی ښېرته د ام ونو ته لاړلې.

هوري او دهنیا دواړه بې قراره وو. دهنیا په خوشحالۍ سره وویلې : (( غوا په لمر کې را روانه ده. زه به لړ اوړه او غوړې ورته برابر کړم. ته ژر شه څپره جوړه کړه. ))

هوري : (( په کور کې کوم ځای کې یو دانه زنګ پروت و. د هغې په غاړه کې به یې ور واچاوه.))

دهنیا : (( سونا چیرته ته ده؟ هغې ته ووایه چې یو تور ټوکر له هټۍ نه راوړي. ډېــره ښه ده چې له همدې اوسه نه هغه له بدو سترګو نه وساتل شي.))

هوري: (( زموږ د ژوند له ورځو نه همدا ورځ وه. ما هغه شی په لاس راوړ چې دومــره موده ورته په انتظار کې وم.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو دهنیا راز ساتونکې وه او لـه اربـاب الانواعـو څخـه چـې د دې د نیکمرغـۍ او خوشحالۍ سره یې حسادت درلود ډاریده چې ښايي مصیبت ته امر وکړي خوښـي او نیکمرغي تر پښو لاندې کړي.

دهنیا اوږه او غوږي واخیستل چې ګوبار را ورسید او یوه ډلـه هلکـان ور پسـې وو. هوري مخکې منډه واخیسته او د غره تر لمنې وخوت. دهنیا ژر له تور ټیکري نه یـوه ریټاږه راخیرې کړه او د غوا تر غاړې یې وتړله.

هوري غوا ته په ځیر ځیر کتل او هک پک پاتې و، تا به ویلی رب النوع بڼه بدله کړې، نو له همدې کبله غوا د ده کره راغله، څو د ده کور سپېڅلی کړي، څه عـالي او ښـه بخت!

دهنیا چې آریانه شوې غوندې وه، وویل: (( څه ته دې خوله وازه پاتې ده؟ ځه لاړ شه او په انګړ کې څپره جوړه کړه. ))

(( په انګړ کې؟ هلته ځای نه شته، زه به یې دباندې وتړم.))

د هوري لپاره، غوا نه یوازې د عبادت شی و، خو د نمایش بڼه یې هم درلوده او هغه ته د نیکمرغۍ او بریالیتوب ژوندی سمبول هم و. هغه غوښتل چې خلک د ده د کور خوا ته ګوته ونیسي او ووايي، دا دی د هوري میتو کور.

دهنیا شکمنه وه. که چیرې د دې له وسه پوره وای دې به دا غوا تـر اوو انګـړو ننـه ایستلې وه او آن په کوټه کې به یې پټه کړې وه.

هغې به په دې غوښتنه ټینګار کاوه چې څپره دباندې جوړه کړي دا هم په دې خبـره ولاړه وه، څو چې هوري را ننووت. غوا خو پټه په ډولې کې نه وه راغلې د هغې راتـګ په کلي کې انګازې جوړې کړې. کلیوال سره راغونډ شـوي وو، څـو د هغـې ننـداره وکړي.

هغه یوه عادي غوا نه وه. د هغې رارسیدل یوه پېښه، یوه یادګاري ورځ وه. آیـا د دې بیه رښتیا اتیا روپۍ وه؟ آیا هوري په همدې بیه خوشحاله و؟ هوري غوا تـه پـه کـره کتنه او خوشحالۍ سره یوځای کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اويا کلن او ډنګرمخي پنډت دامتادين په خپله امسا تيکه کــړې وه او پــه بــې نــوره سترګو يې هغه ته کتل. هغه وويلې: (( هوري، اجازه راکړه چې هغه يــو وارې وګــورم اوريدلي مې دي چې ډېره ښايسته غوا ده.))
هوري د دغه زاړه سړي لاس ونيو او هغه يې انګړ ته رانته ايست. زاړه پنډت ښکته او پورته ورته وکتل، له ښاخو نه نيولې ښکته تر پښو پورې. هغه خپل ســر د تاييــد پــه توګه وښوراوه او ويې ويل: (( هغه بې عيبه ده. بيخي ښه ده. تــا تــه وايــم د دې هــر خوسکی به د سلو روپيو ارزښت ولري. هغه وساته، په هيڅ صورت د هغې واښه کم نه کړې.))
هوري مننه وکړه: (( مهاراج دا ټول ستا د دعا او برکت له امله دي.))
متادين د تنباکو شيره چې په خوله کې يې پاتې وه تويې کړه او ويې ويل: (( نه، زويه، دا د خدای مهرباني ده. تا ارومرو نغدې پيسې پرې ورکړې دي.))
((هو، مهاراج، نغدې پيسې پوره اتيا روپۍ د بولا غوا ده.))
هوري بايد ښه پوه شوی وي، ځکه متادين په درواغو خبرو ډېر ژر پوهيده. خو ځــان ښودل هغه ته له دې نه ښه ښکاريده.
هغه وويل: (( زويه، هيڅ تاوان دې نه دی کړی. بيخي سمه ده. له هغې نــه بــه پنځــه سيره شيدې واخلې يانې د خوسکي له مړيدو وروسته.))
دهنيا د خبرو په منځ کې رانتوته: (( اوه، نه، مهاراج، يوه زړه غوا څرنګه پنځه ســېره شيدي کولی شي؟ په خاص ډول چې موږ د هغې د نس مړولو لپاره پوره واښه نه لرو.))
(( په هر صورت، زما نصيحت ته غوږ کيږده او هغه دباندې مه تړه.))
دهنيا، هوري ته په مانا داره حالت وکتل لکه چې غوښتل يې ووايي، اوس به دې خبره کې څه وايي.
ټول کليوال راغلل. خو سوبا او هيرا، د ده خپل ورونه نه. هوري د هغوی لپاره ښه ځای جوړ کړی و او د هغو راتګ به دې ډېر خوشحاله کړی وای، ماښام دواړه ورونه د ده له وره نه تېر شول بې له دې چې د ده کور خوا ته يو وار هم راوګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هیرا او سوبا بې تفاوتي دی ځوراوه. د مال او دولت وېش سره څوک خپلې اړیکې داسې ژر نه پرې کوي. ور ووتل، ورور دې هغه په دې باره کې له دهنیا سره خبرې وکړې.

دهنیا خپله پزه غونچه کړه او ویې ویل: (( زر کرته مې درته ویلي چې زما په مخ کې د هغو نومونه مه اخله. ټول کلی راغی، دوی نه! آیا دوی ډېر لرې ژوند کوي؟ آیا پښې یې په نکریزو سرې دي؟ زما خبره ومنه دوی له حسد نه تک شنه شوي.))

د څراغ لګولو وخت و، لاړه چې له هتۍ نه د خاورو تېل راوړي.

هوري، روپا په غېږ کې ونیوله. هغه یې دلاسا کوله او ورته ویې ویل: (( د کاکا ... کره دې په منډه لاړه شه او وګوره چې کاله کې شته که نه؟ د کاکا سوبا کره هم لاړه شه ورته ووایه چې دلته راشي، که چېرې دوی ونه منله دوی دلاسه که کلک یې ونیسه او رایې وله.))

((زه نه ځم، وړه اکانی مې زوروي. هغې ته څه مه وایې، تره کره دې ورشه او د سوبا تره پر ښځې خو ګرانه یې. همداسې نه ده؟))

((پر هغې باندې ګرانه یم، خو سوبا اکا مې ډېر ځوروي. هغه ماته وایي . . نه، تاته یې نه وایم.))

(( راته ووایه.))

((نه، نه یې وایم.))

(( هغه دې خنګه ځوروي؟ راځه، روپا، راته ووایه.))

(( هغه وایي چې یو موږک یې زما لپاره ساتلی. ماته وایي چې په غوړو کې یې کباب کړم او ویې خورم.))

هوري وخندل: (( تا به ورته ویلي وو چې لومړی یې و ازمایه.))

(( خو مور مې نه غواړي چې د هغو کره لاړه شم.))

(( ته د مور لور یې که زما؟))

روپا د هوري په غاړه کې لاس ور واچول او په موسکا یې وویل: (( البته چې د هغې.))

(( نو زما له غیږې ښکته شه. همدا اوس ښکته شه. زه تا نه پر بېږدم چې زما له لوښي نه خواړه وخورې.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

روپا ژر خپله خبره اصلاح کړه. (( نه زه ستا لور يم. نه د مور... .))

((نو هغه څه چې مور دې درته ووايي کوې او که زه درته ووايم؟))

(( پلاره، هر څه چې ووايې.))

(( نو ژر د اکا ګانو کره دې لاړه شه.))

(( که چيرې مور ښکنځل راته وکړل؟))

(( هغه به پوه نه شي.))

دهنيا له دوکانه راستنيدله چې روپا يې په لاره کې وليده چې د هيرا اکا کور خوا تـه روانه ده، روپا ته يې ښکنځل وکړل: (( د هيرا کور ته ځې؟ له ما سره کور ته راځه.))

هوري د ځپرې په جوړولو بوخت و. هغه په دې معامله کې ځان ښخي بې خبره وښوده او شکايت يې وکړ: (( اوس دې بيا خوله وازه کړه. هر وخت چيغې وهې! آيا تل تا بايد خوله وازه کړې وي، لکه تور سپی چې باد ته غاپي؟))

د شپې لومړني ساتونه تېر شول، څپره جوړه شوه، خواړه وخوړل شول. خو غوا خپـه غوندې ښکاريده. د داسې ناوې په شان چې په لومړۍ ورځ د خُسر کور ته راغلې وي.

هوري او ګوبار د هغې په مخکې چپاتي ځوړند نيلي وو. خو هغې د چپاتيو خوا تـه آن ونه سونګل. هوري د باندې ووت د کټ پر سر ناست و چلم يې څکاوه او د ورونو په باره کې يې فکر کاوه.

له يوې شيبې نه وروسته يې چلم د کټ خوا ته کېښود او د هيرا د کـور خـوا تـه ور روان شو. هيرا او سوبا له خپلو کورونو نه د باندې پر ګټو غزيدلي وو. پـه تيـاره کـې دوی د هوري راتګ ونه ليد. دوی ګپ شپ لګاوه او خبرې هم د ده په بـاره کــې وې. هوري په خپله نرۍ لاره کې ودريد.

هيرا: (( کوم وخت چې مورِ سره يوځای وه، هغه آن يوه اوزه هم نه اخيسته. اوس غوا اخلي. هېڅوک به د خپل ورور د پيسو په غلا نيکمرغه نه شي.))

سوبا: (( وروره، ته د هوري په برخه کې عادلانه قضاوت نه کوې. هغه آن يوه يوه روپۍ سره ټولې کړې دي.))

هيرا: (( دا ستا فکر دی. خو زه فکر کوم چې دا غوا ده له هغو پيسو نه اخيسـتې ده، کوم چې ده په ګډ ژوند کې ځانته پټې کړې وې.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوبا: (( ته باید په هغه باندې داسې تور ونه لګوې.))
هیرا: (( نو دومره ډېرې پیسې له کوم ځایه راغلې؟ آیا له اسمان نه راتــویې شــوې؟ زموږ زمکه یو برابره ده. حاصل یې هم یوه اندازه دی. دا نو څرنګه کیدای شي چې موږ د کفن د اخیستو پیسې نه لرو په داسې حال کې چې هغه ځي او غوا اخلي.))
سوبا: (( امکان لري په پور یې اخیستې وي.))
هیرا: (( بولا هم پور ورکوي.))
سوبا: (( خو ډېره ښه غوا ده. کله چې ګوبار کلي ته راوستله ما ولیده.))
هیرا: ((هغه به ژر لاس ترې پر بمینځي. حرامې پیسې ډېرې دوام نه کوي.))
هوري نور نه شوای دریدلی. د هغو ناوړه خبرو د هغه زړه ور سوری کړ. بیرته راستون شو بیا په خپل کټ باندې کښېناست او چلم یې وڅکاوه، وروسته له هغــه نــه یــې د بیدیدو کوښښ وکړ. خوب ورنغی، غوایان یې پر بوول. خو ناوړه فکرونه یــې لــه خپلــو ماغزونه لرې کولی نه شوای.
چلم یې تازه کړ، خو دا ځل تنباکو تندوالی او تېزوالی نه درلود. په دې وخت کې د ده حالت هغو اوبو ته پاتې کیده چې د سوري یا د لار د موندلو په اثر له یوه سوري په زور په چورلیدا ووځي. همدغه وضعیت په ده باندې سخت تاثیر کړی و او تصمیم یې ونیو چې غوا بیرته بولا ته ور ولي او په خپل ځای کې را پورته شو.
دهنیا وویل: (( شپه کې دومره ناوخته پورې څه کوې؟))
هوري د وره خوا ته یو ګام مخکې واخیست او ویې ویل: (( غوا بولا ته بېرته ستنوم.))
دهنیا یې مخې ته ودریده: (( ولې؟ آیا د همدې لپاره دې راوســته چــې بېرتــه یــې ورولې؟))
(( هو! دا ډېر ښه کار دی.))
(( ته مسخره یې. ته د هغې د راوستلو لپاره دومره شوقمن وې او اوس غــواړې چــې هغه بیرته ورستنه کړې. آیا بولا سملاسي پیسې غواړي؟))
(( نه، بولا هیڅ نه دی راغلی.))
(( د هغو په ښنو کې ولویږه که چیرې دوی کستمن دي، پر بېرده یې څومره چــې یــې زړه غواړي حسادت دې وکړي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

((مهاراني، دومره په لوړ اواز نه. خلک به وايي موږ بيا شخړه جوړه کړې ده. هغه څه چې ما واوريدل کاشکي ته يوازې پرې پوهيدای، د هر چا په خوله کې دا خبره پرته ده چې خپل ورونه مې غولولي دي او اوس د دوی د برخې په پيسو ژوند کوم.))

(( دا خبره هيرا بايد کړې وي.))

(( ولې يوازې د هيرا نوم اخلې. ټول کلی په دې اړه غږيږي.))

(( زه پوهيږم چې دا د هيرا خبره ده. په دې خبرو کې هغه د ټولو سرماشه دی.))

دهنيا غوا په موږې باندې وتړله او مخکې له دې نه چې دی د هغې مخه ونيسي. هغه له وره نه وتلې وه. څنګه چې دی د هغې په ناڅاپي غصه بلد و، مزاجي حالت يې ده ته اجازه نه ورکوله چې هغې پسې لاړ شي او بله شخړه جوړه کړي.

يوازې به چې هغه راوپاريده، محشر به يې جوړ کړ، هيرا هم کم حوصله و. که چيرې يې په دهنيا لاس پورته کړی وای... .

هوري له قاره ريږديده او په فکر کې ډوب شوی و. پر خپل ځان يې لعنت ويلې چې ولې يې د هيرا خبرې دهنيا ته وکړې. په داسې حال کې چې خپل سر يې نيولی و، پر زمکه باندې کښيناست.

له هغه څه نه چې ډېر وېريده هغه پېښ شوي وو. ناڅاپه د دهنيا ناوړه غږ په هوا کې راپورته شو او پر هغه پسې د هيرا په لوړ آواز چيغيدل او بيا د پونيا کړيکې او چيغې وهل. هوري ناڅاپه د ګوبار په فکر کې شو. منډه يې کړه د ګوبار کټ خالي و. هغه دلته نه ليدل کيده. په کلي کې غوغا جوړه شوې وه.

هوري د هر بل بزګر په شان طبيعتاً سوله خوښوونکي و، هغه پوهيده چې د شورماشور پای تل بد د پوليسو له ځورولو، په محکمه کې د وخت د تيرولو او د زمکې له کار و باره پاتې کيدلو سره يو ځای دی. نو د ده هيله دا وه چې له شورماشور او شخړې نه ځان وساتي، خو دې لرې ساتنې هم حد درلود.

د ديوال له څنګ نه يې د شخړې صحنې ته کتل. د يوه فرصت پيژندونکي جنرال په شان هغه غوښتل له موقعيت نه ښه ګټه واخلي. که چيرې شخړه د دهنيا په ګټه وي. ده ته حاجت نه و چې ځان شخړې ته ور ګډ کړي. خو که چيرې هغه د ماتې خوړو په حال کې وه، هغې ته د لږ څه قوت ليږل ضروري بريښيده. ډېر خلک سره راټول شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو. دی غضبناکه ولاړ و. دهنیا په هیرا باندې سره سره کېده. د هغې دعـوایې ژبـه ګړیدله. خو د هغې ډانګ پېیلې او سوځوونکې خبرې د خلکو زړه سوی یې له منځـه یووړ او دا یې یوه بده ښځه وبلله.
هیرا په لوړ آواز په قار او غضب سره وویل: (( زما له کوره ورکه شه. که نه وځـې پـه بوټ وهلو به دې وباسم. څنګه ماته بد او رد وایې!))
هوري د باروتو د بیرل په شانې وچود. وړاندې ورغی ورته ویې ویل: (( هیرا، له حد نه زیات وړاندې لاړې. زه نور دا خبرې نه شم اوریدلی.))
دور بدل شو هر یوه د هیرا خوا ته مخه کړه. که یوه د ډلې له منځ نه هغه یو بې شرمه ظالم باله، بل هغه ته ګوندا او دریم هم ورته شیطان ویلې. یوه بده خبره چې د دهنیـا له خولې راووته، خلک د هیرا په خوا شول. کله به چې د هیرا له خولې نه بیـا نـاوړه خبرې راووتې، خلکو به د دهنیا پلوي کوله.
هغې هوري ته مخ راواړاوه او ورته ویې ویل: (( وادې ورېدل چې ورور دې ماته څنګه ښکنځل وکړل؟ هغه غواړی چې ما په بوټو باندې ووهي.))
هوري ژر ورته وویل: (( بیا داسې بدې خبرې مه کوه، کور ته لاړه شه.))
خو دهنیا په سر تنبه ګی پر زمکه کښیناسته (( تر اوسه مـې د بوټـو وهـل نـه دي خوړلي! دی پر ېرده چې خپله زړه ورتیا ښکاره کړي. زما زویه، ګوباره، وا دې ورېدل؟ ستا مور د بوټو وهل خوري!))
هیرا ډاریده چې د خلکو غضبناکه ډله شاته تلله. خو دهنیا د یوه غضبناکه زمري پـه شان پر ده رامنډه کړه او هغه یې په ډېر شدت سره ټیله کړه. هیرا پر زمکه خوره وره ولوېده. دهنیا پرې چیغه کړه: (( ولې رغړې؟ ما په بوټو ووهه! راځه، ومې وهه! جرآت دې ولې له لاسه ورکړی!)) هوري هغه له لاسه راونیوله او د کور خوا ته یې کش کړه.
پنځمه برخه
ګوبار کومه ورځ چې غوا د بولا له کلي نه راوستله له جونیا سره یې ډېره مرکه کـړې وه. جونیا دغه نا ارامه او سرکښه غوا له ګوبار سره تر نیمایي لارې بدرګه کړې وه. په لاره کې جونیا د ګوبار خوا ته یو مانا داره نظر اچولی و او ورته ویلي یې وو: (( پوهیږم چې ته به دې خوا ته نور را نه شې.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوبار چې لا تر اوسه بې تجربې او خام و د کلي ښځينه وو ته يې د خويندو يا د نـورو خلکو د ښځو په سترګه کتلي وو. کله کله به د ده او د ځينې بې حيا ښځو په منځ کې د ناز او مکيز خبرې رد او بدلې کېدې چې دې خبرو هـم زيـاتره د معصـوميت بڼـه درلودله. ډېر وخت په کار وو چې دا جګ او نرى ګوبار نارينتوب ته ورسيږي. او البتـه هيڅوک هم تر هغو ونه په تيرو نه ولي چې ميوه يې نه وي نيولي. جونيا د مـين رتـل تجربه کړي وو. د ورينډارو بې حيا ملنډو او خنداوو هغه بې باکه او زړه وره کړې وه او ناڅاپه يې د ځوان ګوبار خوا ته تمايل پيدا کړ او همداسې يې نا څاپه د ګوبار د زړه تار راکښ کړ. لکه چې يو ويده زخمي ځناور خپل غوږونه د يوې پاڼې له شـنهار سـره را څک کړي.

ګوبار وويلې: (( د غوايي خيرات او صدقې د لاس ته راوړلو په خاطر يو سـوالګر پـه شپو او ورځو د غوايي خيرات ور کوونکي وره ته درېږي.))

جونيا وويلې: (( ته د باد په خوا الوزې او پرواز هم نه شي کولى.))

د ګوبار په رګونو کې د سوځيدو احساس راپيدا شو او ويې ويل: (( هغـه وړى انسـان چې د صدقې او د غوايي خيرات لپاره يې لاسونه اوږد کړى وي، د بخښلو حق لري.))

جونيا خپل جال اوږد وغځاوه او ويې ويل: (( خوکه چيرې سـوالګر لـس ورونـه ونـه ټکوي، وړى به پاتې شى. زه له دغسې سوالګرو سره څه وکړم؟ لارې او کوڅې تـرې ډکې دي او دوى په بدل کې څه درکوي؟ دُعا ګانې. آيا دُعاګانې لوږه له منځه وړي؟

د جونيا تبصرو د لږ ادراک خاوند ګوبار پر سر باندې څه ونه کړل. جونيا له وړوکتـوب نه د خپل پلار مشتريانو ته شيدې ور وړلې. آن همدا اوس يې هـم شـاوخوا مسـتې خرخولې. له رنګ، رنګ خلکو سره د دې کار و. د پيسو د ګټلو تـر څنـګ، دا کـار د سات تيرى وسيله هم وه. خو دا شيان بې پايښته وو، لکه يو امانتي شـى. دا د يـوې حقيقي مينې په لټه کې وه چې وکولى شي د هغې لپاره ژوند وکړي او د هغـې لپـاره مړه شي. د اور بلکې مينه نه، خو کراره او کلکه مينه، لکه د يوه خاورين څراغ شُغلې. اصلاً له کورني ټيپ نه وه. د هغو ځوانانو پاملرنې هم چې د دې شـاوخوا چورليـدل د دې دا هيله او ارزو له منځه نه وه وړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګوبار په څېره کې د لوالتیا نښې راښکاره شوې او ویې ویل: (( که چېرې سوالګر له یوې کورنۍ نه په کافي اندازه څه تر لاسه کړي، نو د ډېرو ورو ټکولو ته څه حاجت؟))
څه ساده انسان ! ولې یې هغه درک نه شوای کړای؟ هغې وویل: (( له هر وره نه بــه د یوې ګوتمۍ په اندازه څه لاس ته راوړې، د ډېر شي د لاسته لاوړلو په بدل کــې هغــه مجبوره دی ډېر څه ورکړي.))
(( جونیا، زه خو د ورکولو لپاره هیڅ شی نه لرم. ))
((ته یې نه لرې؟ ته هغه څوک یې چې هغه شی چې ډېر شــتمن او بـډآیان یــې لــه ورکولو نه عاجز دي، ور کولی شي؟))
ګوبار په اریانتیا ور ته وکتل.
جونیا ور زیاته کړه: (( البته چې ته کولی شي. خو بیه یې باید ور کړی شي. ته به زما و اوسې او که چیرې دې ووینم چې د نورو په وره کې ودریږې، نو بیا به د تل لپاره لــه تا نه لاس پرې مینځم.))
ګوبار چې دومره وخت یې په تیاره کې لاسونه ټپول، پوه شو چې په ناڅاپي ډول یــې هغه څه موندلي دي چې ده غوښتل. بدن یې له خوشحالۍ او ډار نه په لړزیدا شو. آیا ده وکولی شوی هغه ومني؟
آیا د کلي رټل به د ده په مخکې خنډ نه شي؟ ټکر به پیل شي. آن د ده مور به د ده پر مخ ور وتړي. البته، ده له دې نه اندېښنه نه کوله. کــه چیــرې جونیــا، یــوه ښــځه، د ستونزو منلو ته تیاره وي، نو دی ولې ځان باسي ډېر بد حالت به دا وي چې دی به لــه کلي نه وباسي. د یوې هوښیارې نجلۍ لکه جونیا په خاطر د رټلو لپاره تیاره وه جهان ډېر ارت دی او که چیرې دوی هغه له کلي نه وباسي، کولی شي په بل کلي کې ژونــد وکړي. خو موضوع به تر دې سرحده پورې ورسیږي؟ آیا متادین چې یو برهمن دی له یوې موچي ښځې سره واده نه دی کړی؟
دامتادین په بې جرآتۍ کې غاښ چیچی وکړ، خو هیڅ یې ونه شو کولی. داسې شیان د متادین د اعتبار لپاره ویل شوي دي، که څه هم ده اجازه نه ده ورکــړې چــې د ده دین خراب شی. دی خپل خواړه په خپله پخوي او څو چې خپل عبــادت ونــه کــړي خواړه نه خوري. آن متادین هم ور سره په همدې حالت کې موافقه کړې وه. بیا هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناکور جهینګوري سنګ حالت را واخله هغه یوه برهمن ښځه ساتلې ده. آیا دی لـه دغه حالت نه ځوریږي؟ د هغه احترام لا تر اوسه پورې شته که بل څه نه وي، پرستیژ یې لوړ تللی. مخکې له دې نه چې هغه ښځه له ده سره ژوند پیل کـړي، دی د شـا او خوا د کار په لټه کې و، خو اوس د هغې له پیسو سره بډای شوی او په سود خور بـدل شوی دی! د ناکور درنښت او عزت د یوه سود خواره له وېرې او احترام سره ګډ شوی دی.

ګوبار وپوښتل: (( آیا ته وېرېږې، جونیا؟ زه ستایم. خو ته به زما شې؟))

(( څنګه پوه شم چې ته زما یې؟))

(( ته یوازې له ما وغواړه زه به خپل ژوند د تا لپاره قربان کړم.))

(( رښتیا! ته پوهیږې چې څه وایې؟))

((ښه پوهیږم، خو که کولی شې ما ته ترې نه ښه دُر راکړه.))

(( هو، زه کولی شم. غوږ ونیسه، دا په دې مانا ده چې زما تر څنګ ودریږې هرڅه چې کیږي. په مینه کې ټینګ او کلکه اوسه. آن که هر څوک هم ستا مخه ونیسي. آن که چیرې دې ته اړتیا شي چې د خپل کور خلک او دوستان دې پرېـږدې. زه لــه ډېـرو خلکو سره مخامخ شوی یم چې غټې خبرې کوي. دوی هغو غومبسو ته پاتې کیـږي چې د ګلانو د شیرې له اخیستلو وروسته لیرې الوزي. ته متیقین یې چې د هغــو لــه ډلې نه یو ته یې؟))

ګوبار د غوا پړی په یوه لاس کې نیولی و. په بل لاس یې ژر د جونیا لاس ونیو. د هغې د بدن سره دې لومړني تماس په ده کې لړزه را پیدا کړه داسې لکه چې د برېښنا لــه لوخ مزي سره یې تماس نیولی وي. څه ښه پوست!

جونیا خپل لاس بیرته ونه کیښ. هغې په ډېره جدي لهجه وویل: ((په یاد ولره، نن تا زما لاس په خپلو لاسونو کې نیولی دی.))

(( زه به یې په یاد ولرم. جونیا، د تل لپاره د ژوند تر پایه پورې.))

نرۍ او لږ شکمنه موسکا یې پر مخ راخوره شوه. هغې وویل: (( ګوبار، ټــول دغســې خبرې کوي. آن له دې نه نرمې او خوږې خبرې که څه شی نا ویلــې پــاتې وي همــدا اوس یې راته ووایه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به ډېر دقت او پاملرنه وکړم، زه خپل زړه غولوونکو او چالبازانو ته نه ورکوم. زه له دوی سره ملنډې وهم، ور سره خاندم کلونه کلونه کېږي چې زه بازار ته شـیدې وړم. ما ډېر کسان لیدلي دي چې زما سره یې د مینې اظهار کړی دی، لکه کاتبان، تاکوران، سودخوران، ټول غـواړي مـا وغـولي یـو خپـل لاس پـه خپلـه زړه بانـدې ږدي او وایي:«جونیا، په ما زړه سوی وکړه!» بل په هیجاني او شهواني سترګو راتـه ګـوري او داسې ښکاري چې ګواکې زما د مینې لپاره لیونی دی.

یو مې په پیسو، بل مې په زیور اغوا کوي. ټول غواړي په دې دنیا او بله دنیا کې زمـا غلامان شي. زه دا ټول پېژنم. زه هم ورته موسکۍ کېږی. لږ څه ملنډې ورسره وهـم. دوی کوښښ کوي ما وغولوي. زه دوی ته ښه او مناسب درس ورکوم. خو زه د پیسـو وږې نه یم. نه د زیورو. هغه ټول څه چې زه یې غواړم یو عالي انسان دی چې وکـولی شم ادعا وکړم چې زما دی زه به د تل لپاره د هغه تر څنګ ودرېږم.))

(( زه به د پنډت جي په باره کې درته ووایم. هغه خپل وچولی د سندل په خیري سور کوي. او هره ورځ نیم سېره شیدې له ما نه اخلي.))

یوه ورځ زه د هغه کورته ورغلم او شیدې مې ور وړې. هغه له دننه ور وتـاړه. زه پـوه شوم چې ښځه یې د باندې د دوستانو لیدو ته تللې وه. د سترګو په رپ کـې زه پـوه شوم. چیغې مې ووهلې: (( ولې دې ور وتاړه؟ که شیدې دې په کار وي وایې خله، که نه زه ځم.))

هغه چې وړاندې راته ویې ویل: (( زما ملکې، جونیا هره ورځ ته لرې تښتې، ښایست دې زما زړه وړی، خو نن ته زما یې.))

(( ګوباره، به ما باور وکړه دا زما د ځیرکۍ اخرینۍ ورځ وه.))

ګوبار په خواشینې سره وویل: (( دغه رذیل ماته راپه ګوته کـړه. زه بـه یـې پوسـت کړم.))

جونیا وویل: (( پربړده چې زه کیسه خلاصه کړم. له دغو لوچکو او بدذاتو سره، زه په خپله پوهیږم، ښه زه ډېره ډاره شوې وم، خو ځانته مې جرآت ورکړ او ومې ویـل: (( پنډت جي، کومه غلطي درنه سر ونه وهي. زه د یوه شپون لور یم. ما پربړده چې لاړه شم. که نه په بریتو کې به دې یو وېښته هم پرې نه ږدم. آیا دا هغه درس دی چې لـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقدسو کتابونو نه دې اخيستى دى؟ بې وزلو نجونو ته لاس وراچول او په کوټه کــې د هغو کلپول؟ دا د سندل سره نښه ستا پر وچولي د څه لپاره ده؟ د تقدس د ښودلو يــا د ناپاکۍ د پټولو لپاره؟))

(( هغه زما په پښو کې ولويد او په زګرويدو يې وويل، جونيا، زما ملکې، زما خپلې، که په خپل مين لږ څه مهربانه شې، ستا به هيڅ شى کم نه شي. په دغه خوارکي بانــدې هم لږ زړه سوى وکړه. خداى ته به څه ځواب ورکړې که له تا نه وپوښتي: «مــا تــا تــه دومره زياته ښکلا درکړې وه او تا آن په مهربانۍ سره هم يوه برهمن ته ونــه کتــل.» وغرېږه، زه يو برهمن يم، ستا يوې خبرې ته تــږى. زه هــره ورځ پيســې صــدقه او د غوايي خيرات ور کوم. دا ستا د ښکلا د غوايي خيرات او صدقه ده چې زه يې نن در نه غواړم. ))

(( لوښى مې له شيدو او ټولو شيانو سره د ده پر مخ ور ګوزار کړ. نا څاپه کښيناست، مخ يې په شيدو ککړ او سخت ژوبل شوى و. خپل سر يې په لاس کې نيــولى او د درد له لاسه زګرويده. دوه نورې لغتې مې هم پر شا ورکړې، ور مې خلاص کړ او رامنډه مې کړه.))

ګوبار کټ کټ په خندا شو: (( تا سم کار وکړ. د ده د خولې سرې نښــې بــه ارو مــرو پر ړولل شوي وي. خو تا ولې د هغه د بربڼتو ويښتان راوانه شکول؟))

(( بله ورځ بيا د هغو کور ته ورغلم. ميرمن يې په کور وه. دى په مخکينۍ کوټــه کــې پروت و. سر يې تړلى و، پوښتنه مې ترې نه وکړه پنډت جي، د پرون په باره کــې دې ښځې ته وواېم؟ سر يې پر زمکه منښوده، وزګرويد، زما عزت ستا په لاس کې دى. که چيرې زما ښځه خبره شي، ما به مړ کړي، په هغه مې زړه وسوځيد.))

ګوبار د هغه په باره کې زړه سوى تائيد نه کړ: (( ولې دې د هغه ميرمنې ته ونه ويــل؟ په داسې پنډتانو باندې زړه سوى په کار نه دى. سبا يې ماته راوښيه. زه به يې کار ور جوړ کړم.))

جونيا د هغه بدن ته وکتل او ويې ويل: (( ته د هغه جوړه نه يې. هغه يو ديو دى. دېــر ښه شيان مفت خوري، پوهيږې!))

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوبار لاپې ووهلې: (( غټ سړی تل قوي نه وي. ما ته وګوره، زما هډوکي د پولاد په شان دي. زه هر سهار درې سوه (دانده) وهم که چیرې زه شیدې وڅښم، زما تېر به همداسې وي.))
جونیا په شکمن حالت هغه ته وکتل: (( ډېره ښه. زه به دا سړی یوه ورځ تا ته وښیم. خو دا شان خلک ډېر زیات دي. ته نه شي کولی له دغو ټولو سره مقابله وکړې. پوهیږې، زه زیات هغو ته نه ګورم، خو ناز او نخرې پرې کوم.))
ګوبار اعتراض وکړ: (( څوک دومره زیاته ښکلې کیدای شي؟))
جونیا په ټوکه سره ګوبار پر شا وټپاوه: (( تا نو اوس د نورو غونډې غوړه مالي را اخیستې ده. زه پوهیږم چې ځنګه معلومیږم. خو هغه څه چې دا خلک غواړي دا دي چې له یوې ځوانې نجلۍ سره د درواغو معاشقه وکړي. د هغه نورو صفاتو ته هغه وخت متوجه کیږي چې د واده موضوع را منځته شي. ))
ما ډېر اوریدلي او لیدلي دي چې د شتمنو کورنۍ په دې هکله تخصص لري. په هغې کوڅه کې چې د خُسر کور و، یو کشمیرۍ کورنۍ ژوند کاوه. نوم یې ګاپر و او یو غټ سړی و. هره ورځ مې پنځه سېره شیدې په دوی خرڅولې. هغه درې لوڼې درلودلې، ټولې ځوانې او ښکلې وې. دوی پوهنتون ته تللې. فکر کوم د هغو یوې هماغلته درس ورکاوه او د میاشتې درې سوه روپۍ یې لاسته راړلې! دوی سېتار او آرمونیه غږوله، بدلې یې ویلې او نڅا یې کوله، خو یوه یې هم نه غوښتل چې واده وکړي.
یو وخت مې له مشرې خور نه پوښتنه وکړه. هغه په موسکا شوه او ویې ویل: (( اوه، زه د واده په باره کې فکر نه کوم. واده د اورمېږه درد دی.)) خو د دوی ټولو وخت ډېر خوشحاله تېریده.
مشرې خور آن د نارینه غوندې جامې اغوستلې او د آس سپرلۍ به یې هم کوله. په ټول ښار کې د دوی خبرې خپرې وې. ګاپرو به له شرمه سر نه شوای جګولی. هغه خپلې لوڼې بې آبه کولې او ملامتولې.
دوی له دې نه وېره نه کوي چې څه وایي، خو هغه څه چې زه پرې نه پوهیږم دا دی چې انسان ولې دومره بدلیدونکی دی. آیا دی له ځناورو هم خورا بد دی؟ فکر وکړه، زه شکایت نه کوم ځینې خلک شته چې په ډېرو ساده شیانو خوشحالیږي. ځینې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کسان د ساده ګی زغم نه شي کولی، زما د وریندارګانو حالت ته ګوره، زما ورونه ګوډ او معیوب نه دي، خو د دوی ښځې په ډېره سختۍ سره له دوی سره ګــوزاره کــوي. د دوی په نظر یو ښه مېړه هغه څوک دی چې دوی ته د سرو زرو غوړواله، ښه ساري او هر ورځ ښه خواړه راوړي. ((زما هم غوړواله او خواړه ډېر خوښېږي، خو نه زما د عزت نفس او پت په بیه. ))

د جونیا خبرو ګوبار ته د یوې بیخې نوې نړۍ کړکۍ خلاصه کړه. د هغې خبرو ته یــې په چورتي ډول پاملرنه کوله او کله کله به د خبرو په منځ کې به تعجب سره ودریــد. جونیا د نړۍ په باره کې د خپل صداقت له امله ګوبار حیران کړی و.

کله چې دې ته معلومه شوه چې ګوبار بیخي د دې د خبرو تر تــاثیر لانــدې راغلــی، حیرانه شوله او خپله ګوته یې په غاښ کړه او ویې ویل: (( اوه، وګــوره، مــوږ نــږدې ستاسو کلي ته رسیدلي یو. څنګه خراب سړی یې، آن یو وارې دې هم راته ونه ویــل چې بیرته وګرځم.))

دې ځان بېرته تګ ته تیار کړ. ګوبار ټینګار وکړ: (( ولې د یوې دقیقې لپاره زموږ کره نه ځې؟ زما مور به ستا په لیدو ډېره خوشحاله شي.))

جونیا خپلې سترګې له شرمه ورپولې او ویې ویل: (( نه، اوس نه، داسې نه، ماته ښه نه ده چې دومره لیرې راشم. خو ماته ووایه، څه وخت به زموږ کلي ته راشې؟ نــن شــپه زموږ د کور نه دباندې د سندرو ویلو میله ده. راشه. ارومرو، زه به د کــور شــاته ولاړه یم.))

(( او که چیرې نه وې؟))

(( بیا بیرته لاړ شه.))

(( هو هو هو))

(( ته راځې. ارو مرو راځې.))

(( وعده وکړه چې ته به هلته اوسې.))

(( وعده نه شم کولی.))

((نو زه هم نه شم راتلی.))

(( مه راځه، څه پروا لري.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

جونیا خپله غته ګوته ورته کړه ور وخوځوله او ترې نه روانه شوله.
په لومړنی کتنه کې دوی خپلې خبرې یو بل ته سره وکړې.
جونیا پوهیده چې دی به راشي ارومرو به راځي.
ګوبار پوهیده چې جونیا به د ده لیدنې ته راشي. ارومرو به راشي.
ګوبار چې خپل سفر ته یوازې دوام ورکړ، داسې احساس یې وکړ، لکه چې له آسمانه رالویدلی وي.
شپږمه برخه
د سیماري سړکونه او کوڅې چې تر اوسه پورې د جون د میاشتې په سوځوونکې لمر کې ګدې وډې او ویجاړې پرتې وې، نن د اوبو په شیندلو سره را ژوندی شوې وې، په نندارتون. ګلدانونه په دایروي شکل سره ایښودل شوي او د محل ښـکلا یـې زیاتـه کړې وه. پولیس په ژیړو کورتیو او آسماني رنګه پټکیو کې د جمعیت په منځ کې لکه ستنې دریدلي وو او د رای نوکرانو چې سوتره او پاک کمپسونه او زیرپیرانی او رنګـه پټکي یې اغوستي وو، په ډېر ښه صورت د میلمنو عزت کاو.
د عمومي وره تر منځ یو موټر ودرید او د سیمې درې مهم او نامتو کسان ترې راکـوز شول. پنډت خپلی او خادر اغوستي وو. اون کارناتهـ د (بریښ) د ورځپاڼې مسـوول مدیر و. ده په خپله شپه او ورځ د هیواد د اقتصادي نیمګړتیاو لپاره کار کاو، بـل یـې ښاغلی شیلم بهاري تانکا، د بیمې نماینده و، هغه خپل کار د یوه قانون پوه په څېـړه کې پیل کړ خو ناکامه شو، نو بیا یې بیمې ته مخه وکړه.
همدارنګه ده د زمیندارانو لپاره له بانکونو او سودخوارانو څخه پورونه برابـرول. لـه رسمي کار نه، دا کار ورته ډېر ګټور ثابت شوی و. دریم میلمه، ښاغلی بـې. مهتـار و. چې وربښمین (آچکن) او تنګ کالي یـې اغوسـتي وو. ده پـه پوهنتـون کـې درس ورکاوه.
دوی د (رای) همصنفیان وو. نن شپه به د دې سـیمې اجـاره دارانـو رای تـه تحفـې ورکولې. د میلې ښه پروګرام د ( رامایانا) څخه یوه نمایشنامه وه چې په هغـې کـې د راما او سیتا واده ښودل کېده او ورپسې د میلمستیا د ډوډی خوړل وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**راى، ميلمانه يوې وړې خيمې ته چې د باندې درول شوې وه، رهنمـايي كـول. هلتـه څوكۍ هم ايښودل شوې وې. بنډت اون كارناتهـ په څوكۍ كې ځان وغورځاوه او ويې ويل: (( دا ځل مو كوم نمايش برابر كړى دى. (ډرامه) زما يوازينۍ غوښتنه ده.))**

**راى وويل: (( د نمايشنامې انتخاب يو پرابلم و. ځينې دومـره اوږدې وي چـې پنځـه ساته يې نيول او ځينو نورو دومره ژور فكر غوښـت چـې د ننـدارچيانو سـر يـې ور خوړاوه. ما په خپله يوه نمايشنامه وليكله او دا ستونزه مې حل كړه. دا يوه خندوونكې لوبه ده. تقريبا دوه ګړۍ وخت نيسي. ))**

**پنډت اون كارناتهـ فكر نه كاوه چې راى به لوبه وليكلى شي. دى په دې عقيده و چې د ځليدونكي چينجي په شان چې په توره تياره شپه كې ځليږي، روشنفكري فعاليت او ځلا د خوارې طبقې ميـراث دى. هغـه پـه كبـرجن حالـت مـخ راواړاوه او خپـل احساسات يې پټ نه كړل.**

**ښاغلي تانكا وويل: (( په واقعيت كې، د يوې لوبې برياليتوب د هغې د لوبغاړو په رول پورې تړلى دى، تاسو پوهيږئ هندي تئياتر به خپله اصلي څېره غوره نه كړي، مګر دا چې تعليميافته ښځې د ستيج سرته را نه شي.**

**دا سوچه ستاينه د ښاغلي مهتا لپاره ډېر شى و. كلونه كلونه هغه د فلسفې په كتـاب باندې كار كړى و، ده هيله درلودله چې يو تود بازار به پيدا كړي، بيا به نور كښيني او خوند به ترې اخلي. خو د هغه كتاب له ماتې سره مخامخ شو او دى يـې انديښـمن او غمجن كړ.**

**هغه وويل: (( زما په عقيده ژوند بايد په ټاكليو اساساتو او پرنسيپونو باندې ولاړ وي. تاسو د بزګرانو د ژوند ښه والى او هوساينه غواړئ، كه چيرې ته په دې عقيده يې چې بزګرانو ته دې خپل حق وركړل شي، نو ولې كار په خپل ځان نه عملي كوې؟ دوى ته د اجاره داري حقوق وركړه بې له دې چې له هغو تحفې ومني د ماليې د لوړولو ملاتـړ مه كوه، د څړځايونو لپاره د زمكې اجباري كار له منځه يوسه، پريږده راى خواشـيني شي.))**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښاغلي تانکا وروځې پورته لاړې او ويې ويل: (( زه فکر کوم راى له بزګرانو سره ښه چلند لري. که چيرې نور زمينداران د ده غوندې چلند وکړي، نور نو هيڅ ستونزه نــه شته.))

راى صيب ډېر هوښيار سړى و، له داسې مخالفينو سره به يې په ډېره نرمــۍ او زغــم چلند کاوه. هغه د يوې شېبې لپاره غلى نه و او وروسته يې وويل: (( ښــاغلى مهتــا، فکر کوم تاسو بيخي حق په جانب ياستۍ. ستاسو دا چلند مې ډېر خوښيږي چې تور ته تور وايئ او سپين ته سپين. خو تاسو يو شى مه هيروئ، لکه څنګه چې سفر هــم پړاوونه لري، همدارنګه انساني مفکوره هم د تکامل پړاوونه لــري. زمــا پــلار دومــره سخاومتمن او د ورکړې څښتن و، چې د وچکالۍ او د کروندو د مصيبت په وخت کــې به له نيمايى ماليې يا آن ټولې څخه تير شو. هغه آن غله ويشله او خپل زېورات يــې خرڅ کړل، څو د کلي د نجونو د واده مصرف پوره کي.

زما د نړۍ ليد او مفکورې له مخې ما دا ټول شا ته پرې ايښې دي. زه په دې باور شوى يم چې د بزګرانو برخه ليک او ژوند د پرهيزګارۍ د تمايلاتو له لارې نه، بلکې هغــوى ته د دوى د ميراثي حق په توګه د امتيازونو په ورکولو سمون او اصلاح موندلى شــي. دا چې مستبد دى په خپله اراده او خوښه له خپلې ګټې تېر شي بې ځايه غوښتنه ده. له دومره ښو تمايلاتو سره سره نه شم کولى له خپلې ګټې نه تير شم. دا بايد را څخه واخيستل شي. بې زړه توب يې وبوله. زه يې بې وستوب بولم. زه يې منم چې هيڅوک حق نه لري د نورو په زېښناک شتمن شي. د پرازيت غوندې ژوند کول سپکوالى او بې حرمتي ده. کار کول د انسان لومړنۍ دنده او مکلفيت دى. هغه ټولنه چې په هغې کې ډېر يې د تندي په خولو ګټې او لږ يې په راحت او عيش کې ژوند کــوي، هيڅکلــه د نيکمرغۍ مخ نه شي ليدلى.

اوسني حالات موږ ټولو ته بدکردار دي او خوشامنديې ګرځولي يو. خو د دغو دليلونو په اساس زه د دې حالت سره مخالفت نه لرم. زه خپل دليلونه لرم. کــه چيــرې مــوږ حکومتي مامورينو ته قيمتي تحفې ور نه کړو. نو موږ باغي بلل کيږو. که چيرې موږ له ورځې سره سم ژوند ونه کړو، بدمرغه ګڼل کيږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ساسي ويښتوب او بيدارۍ له يوې ورې نښتې نښانې سره له ډاره ريږدو او د ساتنې او محافظت لپاره حکومت ته منډې وهو. مور د پوډري شيدو خوړونکو کوچنيانو په څېر يو چې په ظاهوري ډول روغ ښکارو او په باطن کې سوست او کمزوري وي.))

ښاغلي مهتا خپل لاسونه وپړکول او ويې ويل: (( کاشکي ماغزه دې هم د ژبې په نيمايي تېز واى.))

پنډت کارنات وويل: (( ښاغلي مهتا، يوازې مبارز بې وسه دى. همداسې چې د ټولنې د نيکمرغۍ او سعادت لپاره د ټولو همکاري ضروري بريښي. همدارنګه د هغې د ستونزو لپاره هم ګډ کار ضروري دى. راته ووايه، ته څرنګه په مياشت کې د اتو سوو روپيو تنخوا عدالت بولې په داسې حال کې چې په ميليونو هنديان په مياشت کې له اتو روپيو سره ژوند کوي؟))

راى چې خپلې خبرې يې په غولوونکي ډول تقبيح کړې، وويل: (( پنډت جي، راځه چې ځان ځاني خبرې پرېږدو. مور په مجموع کې په ټولنه باندې بحث کوو.))

ښاغلي مهتا په آرامۍ سره وويل: (( اوه، پروا نه لري. افراد ټولنه جوړوي او کوم وخت چې پر ټولنه باندې بحث کيږي، افراد لرې نه شو غورځولى. ما ته په مياشت کې د اتو سوو روپيو تنخوا ځکه د منلو وړ ده چې زه د ټولنې په اوسني نظام باندې عقيده لرم.))

دا د پنډت اون کارناتهـ لپاره يوه نوى څيز و: (( پوه شوم. نو ته د ټولنې اوسني حالت او نظام څخه ملاتړ کوې؟))

(( زه په دغه توري باندې باور لرم چې شتمن او غريب به تل زموږ سره وي. او همداسې هم بايد وي. د امتيازونو له منځه وړل به د ټولنيزې ګډوډۍ او بشپړې بې نظمۍ سبب شي.))

(( ته آن په شلمه پېړۍ کې هم زوړ فکر لرې؟))

(( په خپل ټول قوت سره او له زړه نه په دې باوري يم. هغه کوم شيان چې تاسو پرې عقيده لرئ هم ډېر عصري نه دي. دا ټول په انسان کې د سرابښتوب( حرص) له رېږيدو سره پيل شوي دي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

بودا، افلاطون او مسیح د موجوداتو په منځ کې د مینې وعظ کولو او خپرولو په اثر به ستونزې له منځه یوسي.

یونان، روم او آسور یې مینې ته یو امتحان ورکړ او ویې لیدل چې کار یې ور نه کړ.))

(( ستاسو مفکوره ما اریانوي.))

(( آریانتوب د ناپوهۍ بل وهم دی.))

(( ګوره، کولی شې په همدې موضوع باندې یو ځو مضمونونه ولیکې.))

(( که چیرې تاسو د هغو ښه حق الزحمه راکړئ.))

(( ته کولی شې ډېرې پیسې تر لاسه کړې. ستا مفکورې بې له کومې ستونزې شهرت پیدا کولی شي.))

(( په هره وسیله چې وي ښایي د شتو په وېش کې بریالی شې. خو څنګه د پوهې او کرکټر، ښکلا او روغتیا مساویانه وېش تر سره کولی شې؟ دا یوازې شته نه دي چې نا برابرتیا، ښکته او پورته رامنځته کوي. میلیونران مې لیدلي دي چې لوڅو او بربنډو او پاچاهان ښکلا ته سر ښکته کوي. دا عجیبه نه ده؟ زه پوهیږم چې تاسو به روسیه راته مثال راوړئ. خو روسیې هم زما تیوري نه ده رد کړې. هلته پروني میلیونران د نن ورځې بیروکراتان دي. پوهې په پخوا وختونو کې عالي مقام درلود، نن یې هم لري او سبا ته به هم دا لوړ مقام وساتي.))

پان یې راوړ. رای هغه میلمنو ته وړاندې کړ. هغه وویل: (( پوهه یې فردي ګټې صرف ماته یوه خبره ده. موږ د سادوانو احترام کوو، ځکه چې دوی د دنیا د پرېښودلو لپاره د ارادې قدرت لري. ولې د شتو او رهبرۍ پر ستنو باندې د پوهې اینښودل په پام کې ولرو؟ البته، نه ملکیت. د پوهې قدرت د فرد له مړینې سره له منځه ځي. خو د ملکیت د تصرف او درلودلو آرزو په میراث پاتې کیږي. ټولنه بې له پوهې نه ترقي او پرمختګ نه شي کولی.

د ښاغلي کهنه موټر راورسید. دی د یوه بانک منیجر او د بورې د یوې فابریکې رئیس و. دوې ښځې هم ورسره وې. کامیني د هغه ځه چې (ځادر) یې اغوست او د تفکر او تامل وړ وه. بله یې پیغله مالتي وه، چې جګ پوندي بوټونه یې اغوستي وو، ژوندۍ او تازه ښکاریدله، قیمتي کالي یې اغوستي، هوښیاره او ځیرکه وه، له نارینه وو سره په

(c) ketabton.com: The Digital Library

چال چلند او راشه درشه کې تکړه وه، د ژوند د ښو شيانو ليواله وه، ناز او نخرې يــې پوره زده وې، لنډه دا چې ډېره عصري وه. هغه په طب کې له زده کــړې وروســته لــه انګليند نه راستنه شوې وه او شخصي کتنځی يې د ځــان لپــاره برابــر کــړی و او د زميندارو کورنۍ د دې د مراجعينو او ناروغانو په منځ کې په ګوته کولی شو.

هغې له ښاغلي مهتا سره لاس ورکړ او ورته ويې ويل: (( ته بيخي لکه يــو فيلســوف ښکارې. ستا نوی کتاب مې لوستی دی، هغه کتاب چې په هغه کې دې د ميتا فزيــک پوهان ټکولي دي. زه تا سره دعوا لرم. آيا فلاسفه بايد ارومرو خاورين او بــې روحــه وي؟))

ښاغلي مهتا له شرمه تک سور شو. هغه واده نه وه کړی. له نجونو څخه په خاص ډول له عصري نجونو څخه به ډېر لرې ګرځيده. د نارينه وو په مجلس کې يې بې واکه او بې پروا خبرې کولې خو کله به چې يوه ښځه راننوته، ژبه به يې ګونګۍ شوه.

د ښاغلي کهنه پيغلې مالتي ډېره زياته خوښيده، هر چېرې بــه چــې هغــه تللــه، د سيوري غوندې به يې تعقيبوله. هغه مالتي ته سترګک وواهه او ويې ويل: (( اوه، ورته ووايه يو شی چې د فيلسوفانو په باره کې شته دا دي چې دوی هيڅکله تاسو غلط نه راهنمايي کوي.))

(( فيلسوفان لکه ګرد او خاوره وچ دي. تل ورک شوي دي. دوی هر څه ته ګوري، خو په هيڅ شي نه پوهيږي. دوی هر چيرې دي، خو هيڅ شی لاس ته نه ورځي. دوی پــه خلا کې ژوند کوي.))

ښاغلي کهنه وويل: (( ښاغلي مهتا مجرد دی.))

بيغلې مالتي وخندل: (( ټول فيلسوفان د مجردۍ له ناروغۍ نه ځوريږي.))

همداسې ښاغلي مهتا مالتي ته وويل: (( خو ته هم د مجردۍ له نــاروغۍ ځــوريږې، همداسې نه ده؟))

(( هو، خو زه به له يو فيلسوف سره واده وکړم. دا طائفه د واده لــه اوريــدو نــه ډېــر ډاريږي. (ښاغلی مېړه) له ښځو نه ډېر ډاريده. ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغې شېبه کې چې يوه ښځينه به يې تر سترګو شوه، خپلې کوتې ته به يې منـډه کړه. واقعاً يو ساده سړی و، خو عايد يې زرهاوو ته رسيده. خو ما تل دی په يـوه لاس دريشي کې ليده. کونډې خور به يې کور ورته ساته.

رای وويل: ((ښاغلی مهتا ښه معاشرتي انسان دی، که نه دی به هـم لـه خلکـو نـه تښتيده.))

پيغلې مالتي خبره ور خلاصه کړه: (( نو دی معاشرتي فيلسوف دی.))

پنډت اون کارناتهـ له ښاغلي کهنه سره ډېر تود مجلس جوړ کړی و. هغه وويل: (( د يوه مسوول مدير ژوند هم ډېر سخت او ستړي ژوند دی. خلک له ده نه غوښتنه کوي چې د هر حرکت او جنبش سرکښ او د سر سړی وي. دی بايـد بنديخانـه ومنـي او ملکيت او دارايي يې بايد ضبط شي. هغه بايد هر څه وي او هر چيرته وي، د پوهې او هنر له هرې څانګې سره اشنا وي. خو د ژوند کولو له حق نه يې انکار کيږي. تاسو پـه دې ورځو کې زيات نه ليکئ. ولې تاسو ما له دې وياړ نه محروموئ چـې ستاسـو پـه خدمت کې و اوسم.))

د مراسمو لپاره د تياري نيولو وخت و. د مراسمو پروګرام داسې و: د شپې له لسو بجو تر يوې بجې پورې مذهبي پروګرام، له يوې بجې تر دريو بجو پورې ډرامه. په بنګلـه کې د ميلمنو لپاره جلا جلا خونې وې. او دوه خونې يو له بل نه جلا د کهنه لپـاره وې. ډېر ميلمانه را وختل. دوی خپلو کوټو تـه لاړل، څـو د شـپې د ډوډۍ لپـاره تيـاری ونيسي. دوی ډوډۍ يو ځای وخوړه يوازې پنډت اون کارناتهـ و چې هغه خپله ډوډۍ په کوټه کې وخوړه. د ميرمن کهنه هم سر خوږيده او راښکته نه شوه. پـه تخيمنـي ډول د پنځه ويشتو ميلمنو لپاره ډوډۍ ورکړل شوه. څو ډوله غوښتې وې: د خوسـې، زرکې، پسه او آن د دطاووس غوښې.

مالتي پوښتنه وکړه: ((پنډت اون کارناتهـ چيرته دی؟ رای هيله کوم هغه پسې څـو وليږئ.))

(( خو هغه سابه خوړونکی دی، که چيرې هغه له موږ سره يوځای شي، د هغه (دهرما) به لاړه شي.))

شاوخوا ته يې وکتل: (( ورشئ ورغږ کړئ دا به ستر مسخره توب وي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( ميرزا خورشيد، څومره ښه ده چې تاسو دلته وينم! تاسو لاړ نه شـئ او هغـه لاس نيولی راولئ. وبه ګورو چې څه کولی شي!))

ميرزا خورشيد، ښه سړی د نصواري برېتو شنو سترګو بيخي لغړ سر خاوند، اچکن او چوريدار يې اغوستي و، رښتينی مسلمان و، دوه ځله حج ته هم تللی و. ټوپی يې پـر سر وه، د انتخاباتو په وخت کې ډېر فعال شوی و او نيشناليست ته يې رايه ورکړه.

هغه خپل کار په بصره کې د يوه قراردادي په څېر پيل کړ. خو له يوې انګرېزی ښځې سره يې مينه پيدا کړه. ناپوهي او ناداني محکمې ته ورساوه. هغه په دې محکوم شـو چې بايد له هغه هيواد نه په څلورويشت ساتونو کې ووځي. پنځه زره روپــی ورســره وې، خو د هغه اجنټانو په بمبيي کې پيسې په چل ترې نه لوټې کړې. دی چې نا اميده شوی و، د لکنهو په خوا را روان شو به اورګاډي کې يو جعل کاره سادو ترې نه د لاس سات، ګوته او هغه لږ نغده چې ورسره پاتې وه، لوټ کړل. دی د رای پخوانی ملګر و. د هغه په مرسته يې د بوټو د خرڅولو يوه مغازه پرانيستله. کارو بار يې رونق ونيو، ډېـر ژر مشهور شو داسې چې د شورا غړيتوب يې تر لاسه کړ او يو غټ زميندار تــه يـې ماتې ور کړه.

هغه بې له دې چې له خپلې څوکی نه وخوځيږي، وويل: (( نه، پيغلــې مــالتي، زه نــه غواړم د چا په دهرما کې مداخله وکړم. خو دا ستاسو کار دی. دا به د خندا وړ وي که چيرې تاسو دی ښښلو ته اړ باسي.))

ټولو دا خبره ومنله او تائيد يې کړه. ((او زه به څه لاس ته راوړم. که چيرې ما دا کــار وکړ؟))

(( سل روپی.))

(( سل روپی د قيمت نه لرونکي دهرما د بې پته کولو لپاره؟ زه يې نه غواړم. ))

(( تاسو يې اندازه وټاکئ.))

(( زر روپی يا هيڅ دا کار نه کوم.))

(( معامله وشوه. ))

(( لومړی پيسې له ښاغلي مهتا سره امانت کيږده.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلي میرزا د سلو روپو لوټ له خپل جېب نه راوویست او هغه یې د حاضرینو مخکې وښوراوه: (( دوستانو، زموږ عزت په خطر کې دی. مه پرېږده چې ښکته راشي که چیرې ماپیسې درلودای د هغې د یوه نظر لپاره به مې یولک د هغې پښو ته ایښې وای. تاسو به بیا په یاد راوړئ هغه شاعر چې د خپلې معشوقې د باړخو په خال مین و، د سمرقند او بخارا ولایتونه یې هغه ته ور وبخښل، ستاسو زړه ورتیا او د ښکلا په نوم، د پت په نوم، د پیغلې مالتي د جادو او طلسم په نوم له تاسو نه غوښتنه کوم! هر څومره چې کولی شي راکړئ.

وړاندې راشئ! شتمن راځي او ځي. خو پت پر ځای پاتې کیږي. کوم شی چې تاسو به یې شاهد و اوسئ هغه د یو لک لپاره راکړه ورکړه ده.

راشئ، راشئ، راشئ. وګورئ د لکنهو کوډګري د خپل سحر او طلسم جال ټینګ غوړولی دی!))

ښاغلي میرزا د هر یوه جېب ولټاوه او له ښاغلي کهنه نه یې پیل کړه چې یوازې پنځه روپۍ ورسره وې.

(( ښاغلي کهنه، څومره شرم. یوازې پنځه روپۍ د کمپنۍ د رئیس په جېب کې! ښاغلي مهتا، له میرمن کهنه نه سل روپۍ واخله.))

ښاغلي کهنه سر ټیټی ښکاریده. (( هغه یوه توره پیسه هم نه لري. موږ څه پوهیدو چې ته به داسې پیسې شکوې؟))

(( راځئ چې خپل بخت و ازمایو.))

(( زه ورشم ترې وبه پوښتم.))

(( ته همدلته چې ولاړ یې اوسه. مهتا ته یې راګیر کړه او مه پرېږده چې موږ یې بایلو.))

ښاغلی مهتا چې مست شوی و، خوشحاله شو او خواشینیتوب یې په ښادۍ بدل شو. هغه راستون شو، خو سترګې یې د میرې غوندې مړې وې.

میرزا په جګ غږ وویل: (( تش لاس؟ ته ښه سړی یې.))

رای په پټه خوله وخندل او ویې ویل: (( د زاهد په کور کې آن موږکان هم هوښیار دي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلی مهتا کټ کټ په خندا شو او د پنځه سوو روپو لوټونه يې د ميرزا په مخ کې وښورول. ميرزا هغه په غيږ کې کلک ونيو او لوټونه يې ترې نه واخيستل او هغه يې مچ کړل.
ښاغلي کهنه په پښيمانتيا سره وويل: ((که زموږ د پروفيسورانو دغه حال وي، خدای دې موږ له پوهنتونونو څخه وساتي.))
کله چې رای کوټې ته ننووت ويني چې پنډت اون کارناتهـ چې ميوه او منـدکې يې ډېرې خوړلې دي، ځانکې وانګې پر بستر پروت دی، ورته ويې ويل، چې پيغلهه مالتي غواړي تا ووينې.
هغه په موسکا شو: ((ما؟ پيغله مالتي غواړي ما ووينې؟ ))
د ميزونو له سره نه د خوراک لوښی لرې شوی وي. پيغله مالتي وړانـدې راغلـه ځـو پنډت اون کارناتهـ ته ښه راغلاست ووايي. پنډت اون کارناتهـ په مؤدبانه توګه وويل: (( خو تاسو کښينئ. هيڅ ضرورت نه شته چې تاسو له ما سره رسمي چلند وکړئ. زه دومره مهم سړی نه يم.))
مالتي وويل: ((ستا په عزت ورکولو زه ځان ته عزت ورکوم. تاسو بايد دومره مؤدبـه ونه اوسئ. ټول هغه کسان چې دلته حاضر دي ډېر ښه پوهيږي چې تاسو د هيـواد او ادبياتو لپاره څه خدمتونه تر سره کړي دي.
خلک ښايي اوس د هغو په قدر پوه نه شي، خو وخت به يې راشي ځوک څه پـوهيږي که يې اوس وخت را رسيدلی وي چې هر ښار به خپل واټونه او کوڅې ستاسو په نـوم ونوموي او ستاسو عکسونه به د ښار په سـالونونو کـې ځوړنـد وي. ستاسـو ځينـې علاقمندان په ډېرې مينې سره تاسو ته سترګې په لاره دي چې د کليـوالي جنـبش رهبري په غاړه واخلئ.
دوی غواړي چې کار په منظم ډول پيل کړي او يوه ټولنه جوړه کړي او غـواړي چـې تاسو ددغې ټولنې رياست په غاړه واخلئ. ))
د ده په ژوند کې دا لومړنی ځل و چې پنډت اون کارناتهـ د اشرافيت له پلوه دومـره عزت شوی و. البته چې ده په عامه ميتينګونو کې وينا وې کړې او همدارنګـه د ځـو کلوپونو منشي يا د منشي مرستيال و. خو روښانفکري قشر تر اوسه پورې د ده سوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

حمايت کړی و. هغه عادت کړی و چې پخپلو خطابو کې د هغو پر ضد ودريــږي او پــه ورځپاڼه کې يې وغندي. د هغه قلم تېز و. ژبه يې سوځوونکې وه. د دغو لوړو او ټيټو افراطي نظرياتو له امله ډېرو د يوه ناطق په حيث نه پيژانده. خو بخت اوس د ده پر مخ خندلي وو. يو حکيم او پوه وايي: زيار او سخت کار هيڅکله بې ځايه نه ځي. له خپــل ځايه راپورته شو. دی چې په فکرونو کې ډوب شوی و، ويې ويل: (( ديوي جي، ولې ما په دې موضوع کې راښکيلوئ؟ زه د اداري چارو رياست په غاړه نه شم اخيستلی، زه يو ټولنيز کار کوونکی يم او همداسې به پاتې شم.))

پيغلې مالتي ورته غوږ ونه نيو. دی بايد د ټولنې د دفتر رياست په غاړه واخلي. تر هغه ځايه پورې چې دا پوهيږي په ښار کې دی د نفوذ خاوند سړی و. ده تيره ژبه او قــوي قلم او عالي شخصيت درلود. داسې وخت و چې شته او نفوذ لاس په لاس ګرځيــدل، خو نن ورځ پوهې ګام وړاندې ايښی. دوی پخپل منځ کې د زرو روپو پانګــه د ټــولنې لپاره ټوله کړې وه او ټول ولايت يې تر مخ و چې ورو ورو د هغو لــه منــابعو نــه ګټــه واخلي.

پنډت اون کارناتهــ وويل: (( پيغلې مالتي، دا د ډېر مسووليت دفتر دی. تاسو بايــد د دې کار لپاره زيات وخت وقف کړئ، تر هغه ځايه چې په مــا پــورې اړه لــري، زه بــه لومړنی کس يم چې د خطابې کوټې ته ځان را ورسوم.))

پيغلې مالتي دوام ورکړ: (( ستاسو ورځپاڼه به زموږ د هدفونو د لاسته راوړلو پــه لاره کې له موږ سره مرسته وکړي. موږ بايد د هغې تيراژ لږ تر لږه شلو زرو ته لوړ کــړو. د ښاروالیو او دسيمه ييزو بوردونو رئيسان زموږ دوستان دي.

د هغو ځينې له موږ سره همدلته شته. که چيرې هر يو د دوی د خپلې ســيمې لپــاره پنځه سوه کاپۍ واخلي، پنځه ويشت زره کاپۍ کيږي! رای او ښاغلي ميرزا نظر ورکــړ چې يوه مصوبه په اسامبله کې پاس کړي چې په هغه کې حکومت تــه دنــده ورکــړل شي، څو د ولايت د هر کلي لپاره د( بريښ) يوه کاپي واخلي.))

پنډت اون کارناتهــ وويل: (( موږ به همدارنګه د عاليجناب والي د مرکې انتظــار هــم ولرو.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلي میرزا موافقه وکړه، پیغلې مالتي وویل: (( همدارنګه مــوږ پرېکــړه کــړې ده څرنګه چې په اسامبله کې څوکۍ خالي شي، تاسو باید د انتخابیدو لپاره تیار اوســئ تاسو هو ووایئ، نور یې په موږ پورې اړه لري، موږ به پاتې کارونه سمبال کړو.))
د پنډت اون کارناتهــ سترګې روښې شوې. پیغلې مالتي دا د خوشحالۍ ځای دی: (( زه بیخي ستاسو په خدمت کې یم.))
دوی د دوسیهرا محفل ته د تلو لپاره تیار وو چې یو افغان ناڅاپه کوټې ته راننوت. ده چې لوړه ونه، پراخه سینه، اوږده برېتونه او سرې سترګې درلودې، پــراخ کمــیس او پرتوګ یې اغوستی و. د هغه د سرو زرو په رنګ پر خامک دوزي واسکټ باندې قطار وزمه له ورایه پرېښیده، ټوپک به یې پر اوږو پروت و او توره یې په خوا کې ځوړنــده وه. هغه لکه تالنده او برېښنا وغوړیده. (( خوځیږه مه! زما ملګري لوټ شوي. ستاسو مشر چیرته دی؟))
رای وړاندې راغی: (( څه خبره ده؟))
افغان د ټوپک کنداغ پر غولي په زوره وواهه: (( خبره؟ ستاسو له سړو نه یوه زما لــه ملګري نه چې د یو کور خوا ته روان و، زر روپۍ لوټ کړې دي. ټول محفل بې ســده، ګنګس او ګیچ شو. د پیغلې مالتي کړتې او پړتې ویل له یاده ووتل، د ښــاغلي کهنــه پښې ولړزیدې. رای هم چې تش لاس او په خپل ټاکور والي باندې مغرور و لا تر اوسه پورې ونه شو کولی پوه شي چې څرنګه له هغه سره مخامخ شی. هغه جــرآت وکــړ او ویې ویل: ((موږ غله نه یو. موږ ټول دلته ښه خلک سره راټول شوي یو. زه د اسامبلې غړی یم. دا میرمن چې دلته وینې یوه ډاکتره ده، له لکنهو نــه راغلــې. مــوږ پــه دې موضوع هیڅ خبر نه یو. ښه به دا وي چې پولیس ته راپور ور کړې.))
خان خپله پونده پر زمکه ووهله : (( د چرګ او د غوایي کیسې مه راته کوه. زه کــولی شم د اسامبلې غړی داسې تر پښو لاندې اوړه کړم. بې له خدایه له هیچا نه ډاریــږم. ماته مې پیسې راکړه. زه د چتیاتو زغم نه لرم.))
حالت په خرابیدو، هیڅ کوم نوکر هم نږدې نه و. میرزا وویل: (( ما باید خپله تومانچه له ځان سره راوړې وای.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خان ناري کړې: (( تاسو ته اخطار در کوم پیسې راکړئ، که نه دا ټول کلی بــه لــوټ کړم، څوک جرآت لري چې زما په مخکې ودریږي؟))**
**ښاغلی کهنه کوښښ وکړ چې ځان ښوی تېر کړی. خان پرې غږ وکړ: (( تا ته وایــم ! غواړې ګولی دې تر ملا تېره کړم؟ د چا سلا او مشوره زما نه ده په کار. د همدې سلا او مشورې په اساس له وایسرا سره هم چلند کوم.))**
**پیغلې مالتي ځان بدل کړ. لکه د باز غوندې یې پرې غوټه وکړه: (( ته دغو رذیلانو ته ووایه چې پیسې بیرته راکړي، که نه زه به تا له ځان سره بوځم. زه په تا مین یم. زه د خپل ټبر مشر یم، زه به د کابل له امیر سره وجنګیږم، زه تاسو ته اخطار درکوم، زمــا پیسې راکړئ، که نه کلی به لوټ کړم.))**
**ښاغلی کهنه پر شا لاړ. له ځان سره وبنګید: (( ځان یې له شره خلاص کړی.))**
**پیغله مالتي له قاره تکه شنه شوه. (( زه دلته یم، تور مخیو او هیڅوک نه ښوري. ولې ټوپک له هغه نه اخلئ؟))**
**ښاغلي کهنه وویل: (( ژوند ګران دی. هغه ته زر روپۍ ورکړئ او ځان ترې نه خــلاص کړئ.))**
**رای په زړه ورتوب وویل: (( که چیرې دی مالتي ته لاس ور وړي، نو زه به یې نه شــم زغملی. نه یې شم زغملی، آن که چیرې زما د ژوند په بیه هم تمامه شي.))**
**کهنه ورته د اخطار په ډول وویل: (( احمق کیږې مه، که چیرې هغه وپارول شي. موږ به ووژني.))**
**هغه وبنګید: (( ور یې کړه، پیغله مالتي ور یې کړه. پیغلې په سپکه سترګه او کرکــه هغه ته وکتل، نه پوهیدم چې تاسو دومره ډارن یاست.))**
**تانکا ژر ځواب ورکړ: ((زه نه پوهیدم چې پیسې دومــره پــر تــا ګرانــې دي. د نــورو پیسې.))**
**خان چې د دوی ګونګسې ته غوږ نیولی و، ناري یې کړې: (( یوه دقیقه نور وخت لرئ، فکر مو وکړئ. تاسو پیسې مه راکوئ، زما سړی به همدلته راشــي.)) هغــه اشــپیلاق راوویست.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالتي ته يې مخ ور واړاوه ويې ويل: (( راځه له ما سره، زما مينې، زما زړه ستا په پښو کې پروت دی. ))

(( ته نه پوهيږې چې واقعي مينه څه شی ده. زه به خپل زړه په خنجر ووهم څو يې وينې ستا په پښو کې تويې شي. ))

تانکا وويل : (( مالتي د خدای لپاره، هغه ته روپۍ ورکړه.))

کهنه په غبرګو لاسونو د خدای روی وروړ او زاری يې ورته وکړې: (( مالتي، په مور باندې رحم وکړه.))

خو رای په ډانګ پيلې وويل: (( مور پيسې نه ورکوو. که چيرې دا زما د ژوند اخرينی کار هم وي، زه به دې بدماش ته يو درس ورکړم.))

خان مخ ته راغی څو مالتي، له لاسه ونيسي چې په همدې وخت کې هوري صحنې ته راغی. هغه راغلی و څو ميلمنو ته د محفل د تياري په باب خبر ور کړي. هغه وليدل چې دوی ټول لکه مجسمې ارامه ولاړ دی په داسې حال کې چې خان مالتي له لاسه ونيوله رای نارې کړې: (( هوري پوليس، پوليس!))

خان يو وارې هوري ته ټوپک ونيو: (( ونه خوځيږې خوګه، کنه مړ کوم دې.))

هوري يو کليوالي او ساده سړی و. د هر کليوال غوندې له پوليس نه ډاريده خو نه د دې لپاره چې ډارن و. د بادار له يوې خبرې سره به يو لوی پيل را چپه کړي.

پر هغه يې ورټوب کړ او کاري لغته يې ورکړه چې خان پر غولي پراخ راولويد. هوري يې پر سينه ور کيناست او د هغه ږيره يې ونيوله. ږيره وشکيده، خان خپل پټکی ايسته واچاوه، هوري ټکان وخوړ او ودريد. دا ښاغلي مهتا و. دوی پرې راټول شول، خو ښاغلي مهتا داسې عمل وکړ چې ګواکې هيڅ شی نه دي پيښ شوي.

پيغلې مالتي په ظاهوري قار ورته وکتل: (( د مرګ ټکان دې راکړ. زما زړه تر اوسه دربيږي.))

ښاغلي مهتا وويل: (( فقط ستاسو زړه ورټوب مې ازمايه. بخښنه غواړم که چيرې ما بد چلند کړی وي.))

اوومه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې وخت کې چې دا پېښه پای ته ورسیده د شنې زرغونې جشـــن هـــم پـــای تـــه ورسید او دهرما لپاره تیاری نیول کېده، خو د میلمنو له ډلې نه یو هم پـــه دې حالـــت کې نه و چې دا ډرامه ووینې.

ښاغلي مهتا یې لیدو ته لاړ، ډېر خوند یې ترې واخیست او تر پایه ورته کښیناست. د کلي د زمیندار هجوو او په هغه پورې ادبې ملنډې ډېره اغیزه ناکې وې. په هر ګام کې جزایي قانون ته مراجعه، د غرمې د ډوډۍ د لړ وروسته کیدو سبب د هغې ښځې تـــه دعوا جوړول، د وکیلانو زښتې ډېرې غوښتنې او شاهدانو خیالي چالونه دا ټول هغـــه شان وو چې ننداره چیان یې له خندا ووژل د خندا وړ صـــحنه دا وه کلـــه چـــې وکیـــل شاهدان دې ته اړل کړل چې خپلې څرګندونې د طوطي په شان بیان کړي، کله چې د دوی مسخرو ته ده دواړه لاسون ورته غوځول، کله چې د ده شاهدان د شهودو ځـــای ته پورته شول او د ده په دښمنانو بدل شول او ورته وازه خوله پاتې و. دا ټولې صحنې د خندا وړ وې. کله چې ننداره پای ته ورسیده او د اصلي لوبغاړو لپاره د مډالونو اعلان کیده، له دې کبله چې صحنې ډېرې ژوندۍ او ریالیستیکې وې، ښاغلی مهتا ناڅاپـــه له خوشحالۍ نه له خپلې څوکۍ راپاڅید. رای لوبغاړو ته اشاره کوله. مهتا هغه په غیږ کې ونیو او ورته ویې ویل: (( هیڅکله دا تصور نه و چې ستا لید به دومره ژور وي.))

بله ورځ له سبا نارې نه وروسته دوی د ښکار لپاره ووتل، زیاتره میلمانـــه تللـــي وو. د رای ډېر صمیمي ملګرې چې پاتې و د ښکار ډله جوړوله. د میرمن کهنه لا تـــر اوســـه پورې هم سر خوږی دی او نه شوای تللی، پنډت اون کارناتهــ د یوې مقالې په لیکلـــو بوخت و څو د پرون شپې په مجرمانو باندې خپل زړه سوړ کړي.

پر ښاغلي کهنه باندې د ټوپک د ډز له اوریدو سره حمله راغله، خو پیغلې مالتي چې پرېکړه کړې وه له دې ښکاري ډلې سره به یو ځای شي، نو څرنګه ده کـــولی شـــوای پاتې شي؟

ښاغلي تانکا په خپله خوښه له دې ډلې سره یو ځای شو، ځکه چې لا تر اوسه پـــورې ده د راتلونکې انتخاباتي مبارزې د موضوع په باره کې د غږیدو او خبرو اترو فرصت نه و موندلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلي میرزا د دې لپاره له دې ډلې سره یو ځای شو چې د نویو تجربو لیوال و، په خاص ډول هغه تجربې چې په هغه کې خاطرې هم موجود وي او پیغلــه مــالتي د دې لپاره چې خوشحاله وه شاخوا یې مینه وال پرې راټول وو.

ښاغلي مهتا په دوی کې یوازینی د ښکار واقعي سړی و.

رای پر پرېکړه کړې وه چې له ځان سره د اشپزانو او نوکرانو ډله هم بوزي. خــو ښــاغلي مهتا دا مفکوره رده کړه.

ښاغلي کهنه په مرورتیا سره وویل: (( ته غواړې له لوړې مړه شو؟))

مهتا وویل: (( تاسو به له لوږې مړه نه شئ، پیغله مالتي به زموږ لپــاره خــواړه پاخــه کړي.))

پیغلې مالتي اعتراض وکړ: (( تا ښکا شپه زما لاس ډېر کلک نیولی و، مړوند مې اوس لا هم خوږیږي.))

په پای کې ښاغلي میرزا له نوې او ښې مفکورې سره راغی او ویې ویل چــې دوی بــه یوه غرڅه ښکار کړي او د خوسۍ غوښه به د غرمې لپاره وخوري.

دوی په دوو موټرو کې سپاره شول. پیغلې مالتي د یوه موټر چلوونکې وه او رای د بل. له شلو میلو نه وروسته سړک په کړیدو او راکړیدو شو او دوی غونډیو ته ورسیدل. د سړک دواړو خواوو ته غرونه پراته وو. پر یوه نیغ ځوړي له پورته کېدو وروسته سړک ښېرته کښته شوی و او له هغه ځای نه د سیند یوه منحني لیکه ښــکاریده چــې لکــه ناروغ سړي رنګ الوتی او نری و. دوی د یــوې ډاروونکــي ونــې تــر ســیوري لانــدې ودریدل. ډله په دوو برخو ووېشل شول او موافقه وشوه چې دوی به همدې ځای ته د غرمې په شاوخوا کې ځانونه راورسوي. مالتی له مهتا سره لاړه. کهنه له پټې ناامیدۍ نه خوټیده، خو دی له رای سره یوځای شو، ځکه هغه هم په هر صورت کوم بد ملګری نه و. میرزا او تانکا دریم ګروپ ځان ته جوړ کړ. دوی د څو شیبو لپاره وګرځیدل.

مالتي وویلې: (( باید دومره چټک لاړ شو؟ غواړم لږ څه دمه وکړم.))

مهتا په موسکا شو: (( ستړې یې؟ دومره ژر؟ موږ یو میل لاره نه ده وهلې.))

(( نه، ستړې نه یم. فقط د استراحت احساس کوم، همدومره او بس.))

(( راځه چې لومړی لږ څه ښکار وکړو. ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( ته پوهيږې، زه هيڅ د ښکار لپاره نه يم راغلې.))

(( ډېر ښه. نو د څه لپاره راغلې يې؟))

هغه له شرمه تکه سره شوله. دوی يوه غرڅه وليدله، د يوې تيږې تر شا يې ځای ونيو. مهتا ډز وکړ. غرڅه راولويده.

مالتي وويل: (( دغسې؟))

(( راځه چې وړاندې لاړ شو. يو بل ښکار.))

دوی په چوپه چوپتيا کې روان و. مالتي وويل: (( څومره هوا توده ده! راځه چې د ونې تر سيوري لاندې کښينو.))

(( تاسو کښينئ. نه زه.))

(( ما ته هيڅ پروا نه لري!))

(( ما خو درته وويلې. څو چې يو بل ښکار ونه کړم دمه نه نيسم.))

(( راته ووايه، ولې دې بېګا شپه وځورولم؟زه ډېره خواشينې وم. ستا په ياد دي؟ زما مينې، راځه له ما سره. دا څنګه شوخي وه! راته ووايه، آيا تا زه رښتيا بوولم؟))

مهتا چوب پاتې شو. د تيږو پر سر لاره وه هوا ډېره توده شوې وه. مالتي ستړې شوې وه، کښيناستله.

مهتا هغې ته وکتل: ((( ډېر ښه، ته همدلته دمه وکړه. زه به وروسته راشم.))

(( ته غواړې چې ما يوازې پرېږدې؟))

(( البته چې همداسې ده. زه باور لرم چې ته دا قدرت لرې چې ځان وساتې.))

(( ته څنګه پوهيږې؟))

(( عصري نجونې د نارينه وو حمايت ته اړتيا نه لري. دوی له نارينه سره لاس په لاس ځي.))

مالتي له شرمه تکه سره شوه: (( مهتا، ته ډېرې عمومي خبرې کوې؟ واقعاً!))

په يوې ونې کې طاووس ناست و. مهتا هدف ونيو، ماشه يې کـش کـړه. مرغـه لـرې والوت.

مالتي لاسونه وپړکول: ((ډېر ښه شوې. زما لعنت دې پر تا وي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهتا خپل ټوپک پر اوږو کېښود او ويې ويل: (( نه ډېر لعنت پر تا دی. که چيرې لاس ته راغی، نو تا ته به د لسو دقيقو د دمې او استراحت اجازه در کړم اوس راپورته شه.))

مالتي د مهتا لاس ونيو: (( ته احساس نه لرې؟ ښه ده چې ته هيڅکله واده ونه کړې. ته به د هغې مړينه وګورې. خو زه به تا پرې نه ږدم چې لاړه شې.))

مهتا په يوه چټکه سره د هغې لاس خوشې کړ او په منډو روان شو. د هغې له سترګو لږ اوښکې راتويې شوې. نارې يې کړې: (( ودريږه. هيله کوم ودريږه. که چېرې نه دريږې، سر به مې په دې تيږه ووهم.))

مهتا خپل ګامونه چټک کړل. هغې ور ته وکتل، بيا يې ور پسې منډې کړې، کله چې هغه ته ورسيده ويې ويل: (( ته يو ظالم يې! ))

(( کوم وخت مې چې غرڅه حلاله کړه، پوستکی به يې تا ته در کړم.))

(( ځوک پوستکی غواړي! زه تا سره نه غږيږم.))

د دوی تر مخ يوه پراخه وياله روانه وه اوبه يې ډېرې چټکې وې. د تيږو تېرې تېرې څوکې د يوې ځناور غاښونو ته ورته وې. د لمر تودو وړانګو په ډېره تُندی سره د هغې پر مخ وړې وړې ځپې جوړولې.

مالتي په خوشحالی سره وويل: (( اوس به نو بېرته ګرځې.))

(( موږ به له دې ځای نه تير شو.))

(( د اوبو جريان ډېر چټک دی ما به يوسي.))

(( ته همدلته پاتې شه. زه به لاړ شم.))

(( ورځه. پروا نه لري. زما ژوند زما لپاره څه مانا لري.))

مهتا اوبو ته ورګډ شو. په احتياط سره وړاندې لاړ. ډېر ژر يې اوبه تر سينې پورې راورسيدې. مالتي وډاره شوه، نارې يې کړې: (( اوبه ډېرې دي، صبر وکړه زه درځم.))

(( مه راځه! د اوبو جريان قوي دی!))

(( خوځيږه مه، زه درغلم.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل ساري يې پورته نيولی و او د وياړلې خندې ته ورغله اوبه يې تر نری مـلا را تـاو شوې. مهتا چې وډار شو، هغې ته يې د ليونې په شان لاس وښوراوه چې بيرته سـتنه شي.

هغه نارې کړې: (( حماقت مه کوه. اوبه دلته تر ستوني پورې دي.))

هغې يو بل ګام واخيست او ويې ويل: (( ما ته پروا نه لري که چيرې ښايي مړه شم. د تا تر څنګ به مړه شم.))

مهتا شا ته راغی، هغه يې له يوه لاس نه ونيوله او لږ څه آرامه غوندې شـوه. هغـې د مهتا خوا ته په خوابدی سره وکتل: (( تا غوندې دومره د سخت زړه خاوند سړی مـې نه دی ليدلی. ستا زړه د تيږې دی. ما وڅوروه زما پر پرهار مالګه ودوړوه. يوه ورځ بـه زما وار هم راشي.))

ښښې يې سوستې شوې پر هغه يې تکيه وکړه. مهتا ورته وويل: (( اوبه به دې يوسي. پريږده چې پر اوږو دې يوسم.))

(( آيا ته بايد هغې بلې غاړې ته لاړ شې؟ دا ضروري ده؟))

مهتا هغه خپلې اوږدې ته پورته کړه. مالتي چې خپله خوشحالي پټوله ويې ويـل: (( که چېرې څوک موږ ووينې؟))

(( يقيناً چې ورته عجيبه به وي.))

مالتي په ريږديدلي اواز وويل: (( که چيرې زه ډوبه شم، ته به راته خواشـينی شـې؟ فکر کوم چې ستا لپاره فرق نه کوي؟))

مهتا په اندېښمن حالت وويلې: (( فکر نه کوې چې زه انسان يم؟))

(( فکر نه کوم.))

(( مالتي رښتيا وايې؟))

اوبه يې تر ستوني رسيدلې وې. د مالتي زړه غورځيده. هغې غوښتنه وکړه: (( وړاندې مه ځه، زه به ټوپ ووهم.))

ورو ورو اوبه په کمېيدو شوې هغه چې لږ څه ارامه شوې وه، ويې ويل: (( اوس کـولی شم ښکته شم.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهتا وويل: (( تر اوسه، نه. هر چیرته چې ناسته یې اوسیږه. امکان لري په ویاله کې غوچ ځایونه وي.))
(( ته باید فکر وکړې زه خپل چاری او خود غرضه یم.))
(( که چیرې دا دې وځوروي، نو د دغه ربړ لپاره اجر راکړه.))
(( څومره؟))
(( ډېر زیات نه. یوازې اجازه راکړه پوه شم چې بیا به په داسې حالت کې راشي.))
دوی اوس د ویالې هغې څنډې ته رسیدلي وو. مالتي د خپل ساري اوبه وزبېښلې.
مهتا وویل: (( ښایی د تودوخې تاثیر وي.))
(( دومره پوهیږم چې تا دلته راوستلم څو ما مړه کړې.))
مهتا کښیناست او د هغې سر یې پخپلو لاسونو کې کلک ونیو. په ماهرانه ډول یې په ګوتو کېښوده. هغې خپلې سترګې پټې کړې وې.
هغه ځوانه ښځه چې لاسونه یې په اوږو خیشته وو او سترګې یې له دوده سوځیدې، راغله مالتي ته یې وکتل او ویې پوښتل: (( په دې څه شوي؟))
(( سر یې ډېر خوږیږي.))
(( نیم سر یې که ټول؟))
(( هغه وایي چې نیم سر.))
(( ښی خوا که کینه.))
(( کینه خوا.))
(( زه به څه شی راوړم.))
مهتا هغه ولیدله چې غونډۍ ته پورته شوه. د یوې نانځکې په شان ښکاریده. مالتي سترګې پورته کړې. (( دا چاینګه چېرته لاړه؟))
(( هغه تللې چې ستا د سر د خوږ لپاره څه راوړي.))
(( دا بوټی د همدې ځنګلیانو لپاره ښه دی. زما لپاره فایده نه کوي، خو ته ولې په دې ښځه باندې دومره ولاړ یې. څومره د شرم وړ ده!))
مهتا چې د کورنۍ حقیقتونو په ویلو کې هیڅکله ځنډ نه کاوه، په ډاګه یې وویل: (( که چېرې تا د هغې ځینې صفتونه درلودی، ته به الهه وې.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( د هغې صفتونه دې په هغې مبارک وي. زه نه غواړم چې الهه و اوسم.))

(( که چیرې غواړې زه به په موټر پسې لاړ شم. خو شکمن یم چې موتر به تر دې ځایه پورې راشي.))

(( ولې هغه چاینکه نه لیږې؟))

(( هغه بوټو پسې تللې. برسیره پر دې هغه باید خواړه پاخه کړي.))

(( نو ته داسې وایې چې د هغې میلمه یې. ښایي ستا زړه وشي چې شپه هم دلته تیره کړې. انسان کولی شي په شپه کې ښه ښکار وکړي.))

مهتا په هیجاني ډول وویل: (( زه دې نجلۍ ته ډېر احترام قایل یم. د هغې ډېره ستاینه کوم. زما سترګې دې ووځي که چېرې هغې ته ما په بد نظر کتلي وي. آن د ډېرو نږدې او صمیمي ملګرو په خاطر هم چې وي په دې تودوخه کې به دومره لوړ نه وی ختلی او دا نجلۍ دا ټول د یوه تصادفي لاروي لپاره سرته رسوي. دا به دا ربړ او زحمت آن د یوې بېوزلې ښځې لپاره هم پر ځان ومني. زه په زیات کتابونو د نړیوالو وروړګلوۍ او نړیوالې مینې او دوستۍ په باره کې لیکم او درس ورکوم. خو دا یې عملي کوي. درس ورکول تر عمل ډېره اسانه ده. ته پوهیږې.))

مالتي په ټوکو او ملنډو وویل: (( ستا لویه او غټه وینا زما لپاره بیخي بس او کافي ده. هغه صرف د تا لپاره یو شی ده. هغه ځواني، روغتیا او زړه راښکونکی طلسم او جذابیت لري. دا هغه شی دی چې په یوه واقعي ښځه کې لټول کیږي.))

مهتا راپورته شو او په داسې حال کې چې په قار و ټوپک یې را واخیست او د تلو لپاره تیار شو.

(( نور څوک ځي؟))

(( هغه، واقعي ښځه.))

هغه ځوانه ښځه راښکاره شوه، یو بوټی یې په لاس کې نیولی و. ویې ویل: (( ومې مونده. اوس به درمل جوړ کړم. تاسو چیرې ځئ؟ د مرغۍ غوښه تیاره ده. اوس به چپاتي پاخه کړم. میرمن کولی شي شیدې راواخلي. مازدیګر چې هوا لږه سړه شي لاړشئ.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې په لطافت سره د مهتا د آچکن یو ځو تڼۍ خلاصې کړې. مهتا د هغــې د پښــو د مچولو لپاره تقریبا نه مقاومت کوونکي تمایل او شوق درلود.
مالتي په بې خوندۍ سره وویل: (( یوازې دا بوټي پریږده. د ویروونکې ونې لانــدې د لویې ویالې تر غاړې موټر ولاړ دی. خلک به هم هلته وي. هغوی ته ووایه چــې مــوټر دلته راولي.))
هغې ځواني ښځې مهتا ته د زارۍ او غذر په ډول وکتل. هغې بوټي پر زمکه کېښــود. ((خو، بهایی جي اجازه ده مخکې له دې نه چې لاړه شم دا چپــاتي پــوخ کــړم او پــه خوښۍ لاړه شم.))
هغه جونګړې ته دننه ننوتله او د شیدو د لوښي سره راووتله. مالتي د دغه زاړه او بې ډوله لوښي په لیدو سره پزه کش کړه، خو له شیدو نه یې سترګې نــه شــوی پټــولی. مهتا د جونګړې د وره په خوله کې خواړه وخوړل هغه ښځه ورته ولاړه وه او پکه یــې پرې وهله.
مالتي هغې ته وویل: (( هغه یوازې پرېږده. دی به ونــه تښــتي. منــډه کــړه او مــوټر راوله.))
هغې وویل: (( بهایی جي، خو نه د احسان او منننې یا د یوه ناروغ په سترګو، بلکې په سپین سترګۍ سره! ))
هغې وویل: (( بهایی جي، زه خو ستا مریۍ نه یم، تا ته ځان یــو شــی ښــکاریږي. زه موټر پسې نه شم تللی.))
مالتي هغې ته ښکنځل وکړل: (( څنګه دا جرآت کوې؟ دا د چا سیمه ده؟))
(( د رای.))
(( ښه! زه به دې په هغه باندې ووهم.))
((ډېره ښه، بهایي جي، که چېرې ته پرې راضي کیږي. د یوې ببوزلې ښځې لکه ما د وهلو لپاره هغه کوم لښکر ته اړتیا نه لري.))
مهتا، کله چې دا خبرې د هغه غوږ ته ورسیدې، خپله ډوډۍ یې پیل کړې وه. مړۍ یې په ستوني بنده پاتې شوه. زر زر یې خپل لاسونه پرې مینځل.
هغه وویل: (( له دې نجلۍ سره کلکیږه مه. زه به په خپله لاړ شم او موټر به راولم.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالتي ودريده: (( هغه بايد لاړه شي!))
مهتا په کلکه سره وويل: (( هغه به لاړه نه شي. د هغې له دومره ميلمه پالنې نه وروسته هغې سره د چلند دا لار نه ده. ))
مهتا اريان پاتې و چې يوه نجلۍ لکه مالتي چې دومره د پراخه نظر خاونده وي ولې په خپلو ماغزو کې داسې ناوړه او کلک حسادت ته ځای ورکړي.
مالتي په تريو تندي وويل: (( ډېره ښه، زه به لاړه شم آن د دريدو توان نه لرم. ته کولی شي خپل وخت دلته تېر کړې او وروسته له دې نه چې د هغې پښو ته ور ولوېدې او عبادت دې وکړ راشي.))
وروسته هغه لاړه. مهتا په ډېرې منښې سره ځوانې ښځې ته راغی او ورته ويې ويل: ((خورې، اجازه راکړه چې اوس له تا نه رخصت شم.)) د هغې په سترګو کې او ښکې ډنډې شوې.
رای او کهنه په دوهم ګروپ کې وو. کهنه چې پر مخ يې لږ د دانې داغ و، خو بيا هم ښکلی ښکاريده. يو ښه مجلسي او نطاق و.
ده د ښکار هغه کالي اغوستي وو چې ظاهراً يې د همدې جشن لپاره جوړ کړي و، ځکه دی ښکار ته ډېر کم ته هغه انسان چې ټول وخت يې د مشتريانو په ښکار کې تېر شوي وي، هيڅ د دې وخت ورته نه پيدا کيږي چې د ځارويو په ښکار بوخت شي.
خبرې د مهتا په باره کې چې له پرون نه را په دې خوا يې د کهنه اعصاب ور خراب کړی و، را وځرخيدې. کهنه وويل: (( عجيبه مرغه ده. دوه مخې غوندې راته ښکاري.))
رای ته مهتا د پاک زړه خاوند او سم سړی ښکاريده. خو هغه له کهنه سره د کسب او کار اړيکې درلودې. هغه په دفاعيه لهجه وويل: (( زه مهتا خراب سړی نه ګڼم. ماسره يې زيات بحث نه دی کړی. آن که زه بحث هم ورسره وکړم، د هغې لوړ او عالي مهارت او پوهې ته نه شم رسيدلی. خو زه تعجب کوم هغه انسان چې د ژوند هيڅ عملي تجربه نه لري، داسې ښې او قوي نظريې وړاندې کوي. هغه مجرد دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروا يې هم نه شته او په سره سينه هره مياشت خالص زر روپۍ په جېب کې اچوي. نو هغه د وخت د تېرولو لپاره څه وکړي. پر ته له دې نه چې د ژوند په باره کې فلسفي مسايل طرحه کړي؟))

((ما اوريدلي دي چې د هغه کرکتړ ښه نه ده.))

(( ښه، د يوه بې مسوولیته او آزاد سړي لپاره خپل سري يو غير طبيعي خبره نه ده. ))

(( زه نه پوهيږم چې مالتي ولې ورسره دومره توده دی.))

(( مالتي د هغه ليواله نه ده. ستا د حسادت د راپارولو لپاره له هغه نه استفاده کوي.))

(( اوس نو ځوک يې په فکر کې دي! هغه ماته له نانځکې نه زياته نه ده. هر وخت چې زړه مې وغواړي هغه نڅولی شم.))

((ښاغلی کهنه، خو پر تا باندې، گران دی. ته له دې نه انکار نه شي کولی.))

(( زه هم ستاسو په باره کې همدا نظر درلودلی شم.))

(( تاسو کولی شئ. خو ماته په ربښتيا نانځکه ده. په داسې حال کې چې هغه تا ته يوه الهه ده.))

کهنه په لوړ آواز وخندل که څه هم د خندا ځای نه و او ويې پوښتل: (( که چېرې زه هيله ولرم چې دغې الهې ته يوه وړه تحفه وړاندې کړم، زه څه له لاسه ورکوم.))

رای وخندل. هغه وويل: (( که هغه نه پيژنې هر څومره چې زيات شاوخوا ته يې وڅرخې، هغومره تا له نظره غورځوي. پروا يې مه کوه، خوشې يې کړه، دا به په خپله درپسې راشي.))

(( په هغه صورت کې، دا بايد تاسو پسې راشي.))

(( زه ؟ زه په دې لوبه کې نه يم. ما د هوښيارۍ له مخې له دې لوبې نه ځان ايستلی . زما ټوله انرژۍ او ماغزه زما د مال او جايداد په ساتنه کې په کار لويږي. زما د کورنۍ ټول غړي په سپکو او مبتذلو کسبونو او چارو لگيا دي. ځينې يې د خپلو ارواحو په پاکۍ او اصلاح بوخت دي او ځينې نورو يې له جسماني پلوه د عياشۍ په لومه کې نښتي دي. زه مجبور يم چې د دغو پرازيتو د ساتنې او محافظت غم وخورم، منم چې نور زمينداران بيخي شيطانان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی تر دوو غوړو په پور کې ډوب شوي او تل په یوه تیاره کې ژوند کوي. خــو زه لــه هغو کسانو نه، نه یم چې خپل قبر ځانته په خپله کیندي. له داسې رسوایۍ نه مړینې ته ترجیح ورکوم.

د وجدان لړ رڼا لا تر اوسه پورې هم ما راپاروي، څو خپل هیواد او خپلو هیوادوالو تــه خدمت وکړم. هغه وخت چې د (ساتیاګراها) جنبش پیل شــو او ټــول زمنــداران تــر ستوني پورې په شرابو او ښځو کې ډوب وو، ما د خپل هیواد غوښتنې ته ځواب ورکړ او بندیخانې ته وغورځیدم له مالي پلوه ډېر زیانمن شوم، څو لکه، ما لا تر اوسه پورې هم دغه زیان نه دی پوره کړی. خو پښېمانه هم نه یم، آن لړ هم.

زیاتره په هغه افتخار کوم. ښاغلي کهنه په مود سره کالي اغوســتي وو او فرانســوي واین یې لړ لړ ځښل. ده د ساتیاګراها په جنبش کې ګډون کړی و، په جیل کې که څه هم د (الف) د صنف بندي پېژندل شوی و، خو ده د (ج) د صنف د ډوډۍ په خوړلو کې ټینګار کاوه. که څه هم دی په دې باور و چې لړ څه شوخي او ساتیری په ژوند کــې د بریالیتوب اصلي عنصر ګڼل کیږي. آن د جګړې دوه ارابه یې په کې څو چې ارابې یې ګریس کاري نه شي، په لاره تللی نه شي.

هغه وویل: (( زه په دې عقیده یم هغه څوک چې له ښځې سره مینه کولی نه شي لــه هیواد سره هم هیڅکله مینه نه شي درلودای.))

رای په موسکا شو: (( غواړې زما په خپله لکړه ما ووهې؟))

(( نه، زه یو ساده واقعیت بیانوم.))

(( ښایي ته سم ووایې.))

(( زړه دې ولټوه او وبه وینې چې زه سم وایم.))

(( زه پوهیږم چې زه یو کامل انسان نه یم. خــو عیاشــي او جســم پرســتي زمــا لــه کمزوریو نه یوه نه ده.))

(( زړه مې در باندې سوځي. ښایي همدا دلیل وي چې ته خواشینی او خپه یې، خو زه به په اسانۍ سره لاس وانه خلم آن که د دې خندوونکې لوبې پای تراژیدي هم وي. زه نه پوهیدم چې څرنګه پر هغې باندې برې ومومم، ځکه چې تر اوســه پــورې د هغــې خوی او مزاج ما ته معلوم نه و.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( څو چې ته پوهيږې هغه به دمهتا مال وي.))
دوی يوه توره غرڅه وليده چې له دوی نه ليرې ګرځيده. رای هدف ونيو، کهنه نـارې کړې: (( ډزې مه کوه! پر ېږده چې وځري. هوا ډېره توده ده راځه د هغې ونــې لانـدې کښينو. غواړم ستاسره د څه شي په باره کې وغږيږم. )) خو رای ډزې وکړې او خطـا لاړ حيوان وتښتيد.
کهنه چې د رضايت په توګه ژبه ټکوله، وويل: (( ښه شو. تا به له يوه حيوان نه د ژوند اخيستو ګناه پر غاړه اخيستې وای. په هر صورت آيا ته په خپل ملک کې ګني کرې؟ )
(( زيات.))
(( ولې زموږ د بورې جوړولو په فابريکه کې ځان نه شريکوې؟))
((د اسهامو خرڅول په منډه روان دي. که زيات نه اخلــې لــږ تــر لــږه زر منــه خــو واخله.))
(( ښه يې ده، خو زه پيسې نه لرم.))
((مهتا غوندې زميندار ډېرې پيسې لري.))
((د اسهامو بيه پنځوس زره ده، خو ته کولی شې په سلو کــې پنځــه ويشــت نغـدې ورکړې.))
(( زه پيسې نه لرم.))
(( هر څومره دې چې زړه وي له ما نه يې واخله. زما بانک ستا په اختيار کې دی آيـا ستا ژوند بيمه دی؟ زموږ د بيمې له کمپنۍ نه يو ښه بيمه لکی واخله. فکر کوم کولی شې په اسانۍ سره هره مياشت کې له دوه سوه تر درې سوه روپو پورې د بيمې پيسې سپما کړې. ستا د کوچنيانو لپاره د بيمې تر پاليسۍ نه بله ښه پانګه اچــول نــه شــې موندلی. زموږ د بيمه ليکونو شرطونه وګوره او زما مشوره په غوږ کې ونيسه. لــږ څــه احتکار وکړه. دا دومره ميليونران چې ته هره ورځ وينې حرام شته يــې د احتکــار د لارې موندلي دي. د مالوچو، بورې، غلې او ربړ بازار په اوسني وخت کې تود دی. يــوه ښه معامله او په لکونو ګټه. البته چې احتکار يو پيچلــی کــار دی. مبتــدايان او تــازه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاران د مالونو او اسهامو په تبادله کې ژر مایوسه کیږي او تاوان کوي، خو د یوه تعلیمیافته او دور اندېشه سړي لپاره لکه ته، تر احتکار نه بل فایده من کار نه شته.))

یو کلیوال په لاره تیریده، یوه ټوکرۍ یې پر سر وه، کهنه هغه ودراوه او ترې نه ویې پوښتل: (( په ټوکرۍ کې دې څه شی دي؟ ))

کلیوال اریان پاتې شو. په خواره ژبه یې وویل: (( باداره کوم مهم شی نه دي. د بوټو څو پاڼې او ریښې دي، بازار ته یې د خرڅلاو لپاره وړم.))

کلیوال هغه ته خپل( درملو دوکان) محتویات ور وښودل. عادي بوټي و چې کلیوال یې په عطارانو باندې په ډېره ټیټه بیه خرڅوي، هغه یوه ریښه راواخیسته او ویې ویل: ((مُسکن دی. دومره ګټه لري چې یو خوراک یې تبه، د زړه ټکان، ټوخی او بواسیر تداوي کوي او دا هم اغیزمنه ده، د بواسیر او د نس د بادو لپاره ... .))

هغه سړي د دغو ټولو لپاره اته آنې غوښتې، کهنه یوه روپۍ راکړه او له هغه یې وغوښتل چې ټوکرۍ کیږدي. رای ترې نه پوښتنه وکړه : ((دا ځځلې څه کوې؟))

کهنه په موسکا شو: (( زه به یې په سرو زرو بدلې کړم. زه کیمیاګر هم یم.))

(( دکیمیاګرۍ نوی راز په څه کې دی؟))

(( ته کولی شي زده یې کړې. خو لومړی باید رسمي زما شاګرد شې، یو سېر او یو چارک لډو د معمولي ګوړې د کېښودو په ډول ماته راوړې. زه مجبور یم له هر رنګ خلکو سره معامله ولرم. ځینې خلک شته چې د ځینو بوټو په معالجوي ارزښت سخته عقدیه لري. زه به دا بوټی په هغو باندې خرڅ کړم که چیرې په یوې روپۍ زه یو درجن ناپوه خلک وغولوم او د هغو مننه او کوروداني تر لاسه کړم. دا یوه بده معامله نه ده.))

(( خو ته څرنګه کولی شي د دومره زیاتو بوټو خواص په یاد وساتې؟))

کهنه وخندل: (( څه ساده سړیه! آیا د بوټو خواص هم کومه موضوع ده؟ کولی شي هر بوټي ته هر رنګ خواص ورکړې. زموږ سوامي چې پر دوی باندې ډېر خاندي. تاسو له سوامي جي سره نه دي کتلي. کله چې بل وخت زموږ لیدو ته راشي زه به سوامي جي تا ته در وپیژنم. له هغه وخت نه چې دی راغلی دی. خلک پرې راټول شوي دي هغه کلونه کلونه د هیمالیا په ګوښه کې په طبي بوټو باندې مطالعه کړې ده. هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقیقت درک کړی دی. ته باید له هغه سره وګورې. په اول نظـر، هغــه ســتا د تیــرو وختونو په باره کې خبرې وکړې او راتلونکي به دې پیشګویي کړي.

مخکې له دې نه چې دی خپله جمله پـای تــه ورســوې، د دوی پــه مخکــې بــوټي وښوریدل. کهنه په یوه ټوپ سره د رای شا ته ودرید، پړانګ راښکاره او پــه کــراری سره له دوی نه تیر شو. رای خپل ټوپک جګ کړ، خو کهنه خپل لاس د رای پــه اوږه کښېښود او په ورو یې ورته وویل: (( څه کوې؟ هغه مه پاروه که شا ته را وګوري زموږ کار تمام دی.))

(( په یوه ډز به راچپه شي.))

(( پر بېږده چې لومړی زه ورته پورته شم زه د ښکار شوقي نه یم.))

(( نو ولې له موږ سره راغلې؟))

(( دا زما قسمت و.))

پړانګ د ټوپک د ډز له ساحې نه لرې شو. رای چې ټوپک یې پر اوږه ایښی و، وویــل: (( موږ ډېر ښه چانس له لاسه ورکړ.))

دوی په چوپتیا کې لاره وهله نابېره، کهنه وویل: (( څه وخت به بیا زمــوږ لیــدو تــه راشې. غواړم که چیرې امکان ولري بیمې او اسهامو لپاره د غوښتنلیکونو فورمې نــن ډکې کړې. دواړه فورمې زما په جېب کې دي. ))

رای په پای کې وویل: (( اجازه راکړه چې پر موضوع باندې فکر وکړم.))

په دریم ګروپ کې خورشید میرزا او تانکا تنظـیم شــوي وو. د میــرزا لپــاره تیــر او راتلونکی وخت د بې خونده او خوشې کاغذ په شان و. په مقننه شورا کې د هغه ثقلت او د دوستانو په منځ کې د هغه ورین تندی سره عوضي نیول کیدل د بــې بــاکۍ تــر سرحده مزاجه او د اطاعت تر سحده مودبه وه. خو هغه باټو او لاپو وهونکو تــه هــیڅ وخت نه ورکاوه. د پور په موضوع کې هغه ته په یاد نه و چې نور څومره د ده پوروړي دي. د هغه یوازینۍ مشغولتیا شعر او شراب و.

د ښځو مینه له ډېرې پخوا نه په ده کې سړه شوې وه. تانکا د ماکیا ویلي له ډلې نه و. دی د تجارتي معاملاتو په پای ته رسولو، د منازعو او شخړو په حل او په څرخونو کې د پزې د پر ځای کولو ماهر او متخصص و. داسې ښوی و، لکــه مــار مــاهی. ده کــولی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوای د ریګ پر سره بېړۍ وچلوي او د پرښو پر سر واښه شنه کړي. له سود خورو نه د زمیندارانو لپاره د پورو برابرول، د شپې میلمستیاوو او مجلسونو ته ځان رسول او د انتخاباتو لپاره د کاندیدانو ټاکل د ده د ژوند تیرولو خاصې وسلې وې. انتخاباتو د ده لپاره ډېره ګټه رسوله. ده به د احتمالي وړونکي ښه ملاتړ کاوه، د هغه لپاره به یې سخته مبارزه کوله او یو څو زره به یې په خپل بانکي حساب ور زیاتولې، کله به چې د ملي کانګرس لاس بر و، ده به د کانګرس د کاندیدانو ملاتړ کاوه، خو کله به چې د پانګه والو بر لاسی و، دی به د (هندومهاسابا) تر څنګ ولاړ و، خو ده به د خپلو مخ ګرځونو او د جبهې د بدلون او اوښتنې په باره کې دومره جدي مناقشې کولې چې هیچا به نه شو کولی دی ملامت کړي. له عالیرتبه مامورینو او متنفذینو سره به یې ښې اړیکې ساتلې. په دې کې هیڅ شک نه و چې خلکو د هغه د بې اعتبارۍ په باره کې خبرې کولې، خو د هغه د زیات ادب او تهذیب په نظر کې نیول سره هیچا دغه موضوع په ښکاره نه مطرح کوله.

میرزا له خپل وچولي نه خولې پاکې کړې او ویې ویل: (( دا د ښکار ورځ نه ده. نن ورځ موږ باید د شاعرانو سیمپوزیم جوړ کړی وای.))

(( دا به ډېر خوندور و.))

(( موږ کولی شوای دا سیمپوزیم په یوه باغ کې جوړ کړو.))

په پای کې تانکا مهم ټکی په ګوته کړ: (( دا ځل به انتخابات له ډېرو ستونزو سره مخامخ شي، ستاسو لپاره به هم اسانه نه وي.))

میرزا په بې تفاوتۍ سره وویل: (( دا ځل د کاندیدېدو هیڅ تمایل نه لرم.))

(( ولې؟))

(( انتخابات خوابدوونکي او ځوروونکي دي. ما په دیموکراسۍ خپل باور له لاسه ورکړی. د غره په شان کار د غرڅو یوه ډله لیرې څریدله، میرزا په خپل مخ کې د سوي احساس وکړ او میرې میرې شو، سترګې یې له اریانتیا نه وازې پاتې شوې. هدف یې سم ونیو. د ټوپک له ډزې سره د ځنګله چوپه چوپتیا له منځه لاړه یوه توره غرڅه ټکنۍ شوه او راولویده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**میرزا په وحشتناکه توګه د هغې خوا ته ور منډه کړه د هیجاني شوي کوچني په څېر یې لاسونه پړکول او پورته پورته غورځیده.**

**په یوې نږدې ونې باندې یوه سرې د ونې ښاخونه را ماتول هغه له ونې را کوز شو او د میرزا تر څنګ یې منډې کړې. غرڅه چې په اور میږه کې لګیدلې وه، اخیرینی سلګی یې وهلې، سترګې یې ورو ورو ځلیدلې.**

**لرګي ماتوونکی چې غرڅې ته یې په زړه سوي باندې کتل وویل: (( ښه حیوان و. ښه غوښه لري. آیا غواړئ چې تاسو ته یې یوسم؟ ))**

**میرزا لرګي ماتوونکي ته وکتل او ویې ویل: (( ډېر ښه، پورته یې کړه. خو چیرته یې باید یوسو؟))**

**(( ښاغلیه، هر چیرې چې تاسو وایئ؟))**

**(( هر چیرې چې ستا خوښه وي. زه یې تا ته در کوم دا ستا ده.))**

**لرګی ماتوونکی په اریانتیا میرزا ته وکتل او ویې ویل: (( اوه، ښاغلیه دا چې تا ویشتلې ده، زه یې څرنګه وړی شم؟))**

**(( زه یې تا ته درکومه ستا کور له دې ځای نه څومره لرې دی؟))**

**لرګي ماتوونکي په ځیر ځیر میرزا ته وکتل: (( اوه، زه پوهیږم دا حلاله نه ده. همدا سبب دی چې نه یې وړې؟)) هغه دا خبره په ډېرې خوشحالۍ سره وکړه.**

**د اسلام دین مسلمان ته دا لارښوونه کوي چې د مړینې په حال کې پر حیوان باندې مبارکه کلمه ووایي او د هغې ستونی ور پرې کړي بې له هغې نه یې غوښه پاکه نه ده او خوړل یې منع دي. خو میرزا د داسې ضمیر او وجدان خاوند نه و. په لسو وروستیو کلونو کې یې یو ځلي هم لمونځ نه و کړی او یوازې یو ځلي یې دوه میاشتې روژه نیولې وه. میرزا په خوشحالۍ سره وویل: (( همدا اوس یې په سبب پوه شوې.))**

**د لرګي ماتوونکي وجدان آرامه شو او حیوان یې پورته کړ پر اوږو یې واچاوه او د خپل کور خوا ته روان شو. تانګا تر ونې لاندې د دوی لپاره منتظر و. هغه چې ویې لیدل دوی په مخالف لوري روان دي په هغو پسې یې منډه کړه. (( تاسو چیرته ځئ؟ لار مو ورکه کړې؟))**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**میرزا په مقصرانه ډول وویل: (( ما دا حیوان دې سړي ته ورکړ. د هغه کور ته ځم، ته هم له موږ سره راتلی شي.))**

**(( آیا ستا حواس پر ځای دي؟))**

**(( کاشکي وای.))**

**(( د حیوان په ورکولو کې زه هیڅ دلیل نه وینم.))**

**(( دی به تر تا یا ما په دې حیوان زیات خوشحاله شي.))**

**تانکا خپه او غمجن شو: (( موږ باید له کتاب نه خوند اخیستی وای، پـه هـر صـورت هیله کوم چې رای یا مهتا یو څه راوړي ... زه غواړم له تاسره د انتخاباتو په بـاره کـې وغږیږم. که ته نه غواړې چې ځان کاندید کړې، زه په تا باندې فشار نه شم راوړی. خو موږ له سیالو کاندیدانو څخه ښې زیاتې پیسې لاس ته راوړی شو. زه ستا نـه یـوازې غواړم هیڅا ته دا واقعیت مه څرګندوه چې نه غواړې. دا ځل ځـان کاندیـد کـړه. دا مهرباني له ما سره وکړه خواجه جمال طاهر له همـدې انتخابـاتي حـوزې نـه ځـان کاندیدوي. د ښار شتمن خلک به هغه ته رایه ورکړي، خو په عامه خلکو او پرګنو کې ستا له نفوذ نه ډېر ځوریږي. ته کولی شې په اخیرینې شیبه کې د هغه په ګټـه تېـر شې او په آسانۍ سره لس یا شل زره روپۍ لاس ته راوړې. هیله کوم، ماته غوږ ونیسه ته هیڅ کار مه کوه. زه به د هر څه بندوبست وکړم، زه به ستا په غیاب کـې اعلامیـه ولیکم او خپره به یې کړم او په هماغه شپه لس زره روپۍ له ما نه واخله.))**

**میرزا هغه ته په سپکه سترګ وکتل او ویې ویل: (( لعنت دې وي پـر تـا او سـتا پـه پیسو!))**

**هغه وویل: (( له زړه نه دې ماته ښکنځل وکړل، خو د پیسو په لغته وهلو یوازې خپل ځان زیانمنوې.))**

**(( زه په زهرو لړلې پیسې په انبور نه شم راشکولی.))**

**(( خو ته د مذهبي قوانینو مراعات هم دومره نه کوې؟))**

**(( د تور بازار د پیسو غندل له مذهب نه کوم خلاف کار نه دی.))**

**(( نو ته پخپل تصمیم باندې تجدید نظر نه کوې؟))**

**(( نه.))**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( نو هیر یې کړه. خو ته د یوې بیمې د کمپنۍ د رئیس کیدو سره کوم مخالفت نه لرې؟ ته یوه آنه هم په اسهامو (ونډو) کې پانګه نه اچوې، ټول هغه څه چې زه یې غواړم ستا د نوم نه استفاده ده.))

(( زه خواشینی یم چې موافقه نه شم کولی.))

تانکا د دې جرآت نه درلود چې نور پیشنهادونه وړاندې کړي. میرزا ناڅاپه په خپله درناوي او ستایلو کې ډوب شو. هغه څرنګه کولی شواې د هغه چا احترام وکړي کوم چې د پیسو په ارزښت نه پوهیده؟ لرګي ماتوونکي چې غرڅه یې په اوږو باندې وه ژر ژر روان و او د لاښ تر پیټي لاندې دې او هغې خوا ته ښوریده. لرګي ماتوونکي لاښ د ونې پر یوه مونډه باندې کېښود او دمه یې وکړه.

میرزا چې ورته راورسید ویې ویل: (( ستړی شوې؟))

(( ښاغلیه، لاښ دروند دی.))

((یو څه لار به یې زه یوسم.))

لرګی ماتوونکی په موسکا شو. میرزا وویل: (( ولې خاندې؟ ته فکر کوې چې زه یې نه شم وړلی؟))

((ښاغلیه، دا پېټی ستاسې غونډې خلکو لپاره نه دی. دا پیټی زموږ لپاره دی.))

میرزا لاښ پر خپلو اوږو راپورته کړ او په لاره روان شو. خو پنځوس ګامه یې لا نه وو اخیستی چې اورمیږ یې په خوږیدو شو. بدن یې وریږدید او په سترګو یې توره تیاره راخوره شوه. شل ګامه وروسته، میرزا لاښ په یوه پرښه باندې کښېښود، خپله غاړه یې وښوروله او اوږې یې په ګوتو کښېښودلې څو یې ښخې ووځي.

په دغه وخت کې تانکا هم راورسید. میرزا وویل: (( ملګریه، ته هم مجبور یې چې دا بار تر یو ځایه یوسي.))

میرزا نور د تانکا په سترګو کې ځای نه درلود.

(( تاسو باید ما وبخښئ. ماته خپل فزیکي قدرت او توان معلوم دی، د ازمویلو حاجت یې نه شته.))

(( خو دا دومره دروند نه دی. زما خبره ومنه.))

تانکا لاښ ته په ځغلنده نظر وکتل او ویې ویل: (( ته ما تېر ایستلی نه شې.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( ځو شيبې مخکې تا ځو پيشنهادونه وکړل. زه به د هغو پيشنهادونو نه هر يو ومنم که چيرې تا دا بار سل ګامه يووړ.))
تانکا را وپاريده: ((که چيرې ميرزا دا بار وړی شي، نو دی يې ولې نه شي وړلی؟ يوزې دسلو ګامونو خبره ده.))
تانکا خپله کورتۍ لرګي ماتوونکي ته ورکړه، په دقت سره يې د خپلو بوټونو بندونه کلک وتړل، د پتلون پايڅې يې سره را ونغاړلې او خپل مخ يې وچ کړ. هغه لاښ ته داسې بد بد کتل لکه چې يو مجرم قاتل خپل جلاد ته ګوري.
د زړه ورتوب په لاپې وهلو سره يې وويل: (( ګوره، دغه ده ځم!))
ده چې په يوه زنګون تکيهه کړې وه ګوښښ يې وکړ ځو لاښ راپورته کړي او پر خپلو اوږو يې کيږدي. له دوه ځلو خواريو وروسته پـه دې بريـالی شـو چـې لاښ پـر اوږو کيږدي. خو د اورميږ پورته کول ورته ګـران و. نـږدې و چـې لاښ بيرتـه پـر زمکـه وغورځوي چې ميرزا دی جګ کړ او په پښو يې ودراوه. تانکا لومړنی ګام واخيست تا به ويل پښه يې په جبه زاره کې ننښتې ده.
ميرزا وړاندې تګ ته تشويق کړ: (( آفرين، زما زلميه! وړاندې ځه!))
تانکا يو بل ګام واخيست احساس يې وکړ چې په اورميږه کې يې وبر ښښيده.
ميرزا بيا تشويق کړ: (( در وړاندې ځه، ته هدف ته ډېر نږدې شوی يې.))
تانکا دوه نور ګامونه هم واخيستل، سترګې يې رډې راووتلې. ميرزا پرې نارې کـړې: ((لږ څه زيات زور ووهه او بريا ستا ده. زه به ټاکلی واټـن پنځـوښ ګامـه کـم کـړم. پنځوس ! وړاندې ځه !))
تانکا همدا اوس په ډېر بد حالت کې و. هغه داسې احساس کاوه چې پر اوږو يې مـړه شوې غرڅه نه، خو يو زمری دی چې د هغه په ورميږ کې يې پنجې خښې کړې دي.
خو د پيسو مينه، د يوه پولادي ګاډر په شان دی يې په پښو درولی و، خو نه د ډېـرې مودې لپاره. سر يې وخوځيده په سترګو يې توره تياره را خـوره شـوه او پښـې يـې وريږديدې. په زمکه ولګيد او د لاښ لاندې ژوبل شو. ميرزا په کښيناستلو کې ورسره مرسته وکړه او پخپل دستمال يې پکه کړ. هغه ورته وويل: (( ملګريه تا خپل کوښښ وکړ. دا ستا قصور نه دی. ستا د بخت مزه نه شته. ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

تانکا د زور وهلو له لاسه تیکا وهله او ساه یې بنده بنده کیدله. میرزا وخندل: (( ورور جانه، ما تر ډېره ځایه راوور.))

تانکا په غوړه مالي سره وویل: (( ستا د احترام په خاطر ما دا کار وکړ. تا غوښتل چې پر ما سات تیري جوړه کړې. ما ته خوشحاله کړې. اوس نو پر خپله وعده وفا وکړه.))

(( خو تا شرط بایللی دی.))

(( خو ما خپل زیات کوښښ وکړ، همداسې نه ده؟))

(( دا بله خبره ده.))

لرګي ماتوونکی بیا پر خپله لار روان شو. دوی له یوې ژورې ویالې نه پـورې وتـل. د لرګي ماتوونکي کور د ویالې تر غاړې په یوه کلي کې و. یو څو کوچنیانو چې د املې تر ونې لاندې یې لوبې کولې د لرګي ماتوونکي د سترې مشي لپاره رامنډه کړه: (( پلاره، غرڅه چا وویشتله؟))

لرګي ماتوونکي لنډ لنډ ځوابونه ورکول. هغه غرڅه د ونې لانـدې کېښـوده، خپلـې کوډلې ته یې منډه کړه څو یو کټ راوړي. میرزا پرېکړه وکړه چې ماسپښـین بـه پـه کلي کې تېروي. ماښام کله چې دوی روانیدل د کلي خلک تر ډېـره ځایـه ورسـره د مخه ښې لپاره راغلل.

دوه نور ګروپونه وخته راستانه شوي وو. د مهتا شونډې ځوړندې وې. پیغلې مالتې له نورو نه جلا ناسته وه چې دې ته بیخي غیر معمولي کار و. رای او کهنه وږي وو او پـه سختۍ سره یې خبره له خولې وتله. تانکا تندی تریو نیولی و، ځکه میرزا تیر ایستلی و. یوازې د میرزا څېره خندانه او خوشحاله ښکاریده.

اتمه برخه

د غوا له راتګ سره دهنیا ډېره بدله او مغروره شوې وه. د غوا له خبرو پرته یې هـیڅ خبرې په خوله نه راتلې. یوه ورځ ناڅاپه وریځې راښکاره شوې او دموسـمي بـارانونو لومړني څاڅکي راتوی شول. بزګران د خپلو یویو په خوا کې روان شول، خو مخکې له دې چې به کرونده باندې پښې کیږې دي، د رای ناظر اعلان وکړ تر هغو پـورې چـې دوی خپلې اجارې ور نه کړي، هیڅوک اجازه نه لري چې د منې د کښت لپاره کروندو ته لاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بزگران چې اريان شوي وو د هغو کسانو په شان چې چاره يې هڅ ته رسيدلې وي په نا اوميدۍ سره سود خورو ته ور منډې کړې. ځينو د منکر وسا ور وټکاوه. د هغه کاروبار په سونډي بوټو او همدارنګه په غنمو او زغرو کې ډېر ښه و. خو د کلی لوی سود خور تاګور جهينګوري سنګ و چې د خپل کاروبار تر څنګ يې د ښار د لوی سود خــور د اجنټ په توګه هم فعاليت کاوه.

د ده فرعي اجنټان به د پورونو د ورکولو لپاره د يــوه کلــي نــه بــل کلــي تــه تلــل. جهينګوري سنګ به هيڅکله بې له سختو قانوني فورموليتو نه چا ته پور نه ور کــاوه. جهينګوري سنګ خپل غاښونه په مسواک پاکول چې هوري ور ورســيد. دی چــاغ، پلن او تور سړی و، اوږده پزه يې درلوده او بريتونه يې هم اوږده وو او ده تــه يــې لــه مسخرې نه ډکه څېره ورکړې وه.

هوري خپل ناوړه حالت هغه ته بيان کړ. جهينګوري سنګ د ټګۍ موسکا وکړه او ويې ويل: (( خو پاسره پيسې دې څه کړې؟))

هوري په خوره ژبه وويل: (( کومې پيسې، تاګو؟ که چيرې ماپيسې درلودی، مــا بــه ځان د سود خوارانو له منګولو څخه لا ډېر مخکې خلاص کړی و.هيڅوک نــه غــواړي چې سود پرې زيات شي.))

((پاسره کول ستاسو خلکو عادت شوی. تاسو ښه ګڼۍ پرته له دې نــه چــې خپلــې پيسې راوباسئ، پور واخلئ.))

جهينګوري سنګ د هوري پر غوا سترګې خښې کړې وې. هغه غوښتل د پيســو پــه لوبه کې بريا تر لاسه کړي.

هغه وويل: ((ښه، نو، زما پيسې ستا په اختيار کــې دي. هــر څــومره چــې وغــواړې اخيستلی شې. خو ستا د ښه توب لپاره يو شی در ته وايم، د پور په مقابل کې يو څــه ګرو کېږده، فرضاً يو يا دوه ټوټې زېور، د پور معامله وروستنۍ ستونزې لري. برســيره پر هغه ته مجبوره نه يې چې سود ورکړې. هوري هغه ته ډاډ ورکړ چې يوه ټوټه ارزان بيه ګاڼه هم په کور کې نه شته. البته دهنيا د نيکلو دوه بنګړي لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جهينګوري د نوې مفکورې په موندلو سره داسې وويل: ((نو يو بل کار وکړه، غوا دې پر ما خرڅه کړه. په ښه بيه به يې واخلم. پوهيږم چــې لــه هغــې نــه لاس نــه شــې اخيستلی. خو ته کومه بله لاره موندلې شې؟))
هوري وويل: ((پريږده چې له ښځې سره مې هم په دې هکله خبرې اترې وکړم.))
ددې خبرې يادولو، په کور کې غوغا جوړه کړه. غوا د نجونو ډېره خوښيده او په هيڅ بيه يې هغه له لاسه نه ورکوله. سونا په تريو تندي وويل: (( ولې ما د غوا پر ځای نــه خرڅوې؟ د هغې له بيې نه به زما بيه زياته وي.))
دهنيا وروسته له ډېر تشويق نه د غوا خرڅولو مفکوره ومنله. ګوبار چې په دې ورځو کې په نورو کارونو بوخت و له يوه لنډ مقاومت نه موافقه وکړه . داسې پرېکړه وشــوه چې هوري دې د شپې له مخې کله چې نجونې په خــوب ويــدې وي، غــوا لــه کــوره وباسي. هوري د غوا خرڅلاو ته بيخي تيار و، خو فکر يې آرام نه و. هغــه لاړ او د غــوا مخې ته ودريد. داسې ښکاريده چې د هغې تورې او اغيزناکې سترګې له اوښکو ډکې وې. هوري داسې احساس وکړ لکه چې غوا ورته وايي: (( دومره ژر له ما نه موړ شوې؟ تا خو وعده کړې وه چې څو په تا کې ساه چليږي ما به خرڅه نه کړې. آيا ستا وعــده همداسې ده؟ آيا ما له تا نه څه ډېر شی غوښتي دي؟ زه بې له کومې خبرې د خپــل سرنوشت استقبال ته ځم. راته ووايه، ولې غواړې ما ووژنې؟))
د هوري نه ناڅاپه آواز پورته شو: (( زه دا کار نه شم کولی! نه شم کولی ! آيا ســترګې يې نه وينې؟ زه به دا خرڅه نه کړم. د درې سوو روپو څه پروا لرم؟ د خدای په مرست به د دې پور هره آنه ادأ کړم، که چيرې د ګنيو حاصل ښه وي.))
دهنيا چې په ډېر غرور سره مېړه ته کتل، وويل: (( هو، مه يې خرڅوه، سبا تــه پــور واخله، که چيرې موړ وکولی شو نور پورونه ادأ کړو، دا پوره هم ادأ کولی شو.))
سوبا د هغه د ورور له نفستنګۍ نه ځوريده او هوري د هغه ليدو تــه ورغــی. د ســمې تداوۍ او خوراک د نشتوالي له امله سوبا حالت ورځ په ورځ خرابيده. هوري لــه هغــه سره د ډېر ځنډ لپاره کښيناست. د مالي ستونزو او د رای د آخريني فرمان په باره کې ورسره وغږيد او نا وخت راستون شو. کله چې غوښتل يې کور ته ننوزي، په تياره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې غوا ته نږدې يو نيم مخې ځېره تر سترګو شوه، پرې غږ يې وکړ: (( هلته څوک دي؟))

(( زه يم، وروره. راغلی وم چې ستاسو له نغري نه لږ اور واخلم.))

آه، دا هيرا و د هغه کشر ورور.

ګوبار په منډه راننووت هغه چې خواشينی او عصبي ښکاريده به هيجاني حالت سره وويل: (( زمونږ په غوا څه شوي؟ له درده تاويږي او راتاويږي. آيا کومو بدو سترګو وهلې؟))

هوري تال له مخې لرې کړ او چې پورته کيده، نو ويې ويل: (( ولې داسې خرابې خبرې کوې. څو شيبې مخکې خو بيخي ښه وه. ما وليدله چې هلته ولاړه وه.))

دوی غوا د خاورين څراغ تر رڼا لاندې سر تر پښو وکتله، خوله يې له ځګو ډکه وه. سترګې يې ځليدې او نس يې پړسيدلی و. هغه پرته وه او پښې يې ټينګې راغونډې کړې وې. د هنيا په نا اميدۍ سره خپل سر وټکاوه.

هوري منډه کړه څو پنډت داتادين چې خپل ځان يې د کلي ويترنر بالـه راولـي. دا خبره په ټول کلي کې خپره شوه او خلک د هوري د کور وره ته سره راټول شول. ښکاره وه چې غوا مسمومه شوې وه.

هوري نا اميده او او خواشينی پر کټ اوږد وغځيد، کله چې دهنيا راغله چې د اوبو لوټکه تر کټ لاندې کيږدي. ده ورو د هغې لاس ونيو، ته به وايې چې دسيسه جوړوي په ورو يې ورته وويل: (( آيا يو راز ساتلی شې؟ ))

دهنيا چې د خبر اوريدو ته لوياله وه، وويل: (( آيا ما تر اوسه ستا راز افشا کړی دی؟ څه غواړې ووايې؟))

(( آيا په چا باندې شکمنه يې؟))

(( د هيچا په باره کې فکر نه شم کولی. ښايي د يوه بيروني سړي کار وي.))

(( ته خو به چاته نه وايې؟))

(( تا ته خو مې وويل نه وايم.))

(( که چيرې چا ته ووايې، تا ته اخطار درکوم چې له وهلو به دې تکه شنه واړوم.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( زما وژل به کومه ګټه ونه رسوي. ته به په دې برياله نه شې چې ما غونډې بله ښځه پيدا کړې. ماته ووايه.))
(( زه فکر کوم دا د هيرا کار دی.))
(( نه، نه، دا واقعيت نه لري. هيرا پوچ خولې دی، خو سپک او ټيټ سړی نه دی.))
(( ما په خپلو سترګو وليد ستا پر سر زه قسم خورم.))
(( تا هغه وليد، رښتيا وايې؟ څه وخت؟))
(( کوم وخت چې زه د سوبا له کوره را روان وم ومې ليد چې دی غوا ته نـږدې ولاړ و. هغه وويل چې راغلی و څو لږ اور زموږ له نغري نه واخلي. موږ خبرې سـره وکـړې او چلم مو يو ځای وڅکه. زه داسې ګومان کوم کلـه چـې زه د سـوبا کـره وم ده غـوا مسمومه کړې وه او راغلی و چې ووينې غوا مړه ده او که لا ژوندۍ پاتې ده. ))
دهنيا چې په سختۍ سره نفس وکيښ وويل: (( ښه، نو، ستا ورور همداسې يو سـړی دی، څه سخت زړه لري. ته ګوره! ما له کوچنيوالي نه د مور په شان روزلی دی.))
((ښه، اوس، لاړه شه، ويده شه او هيچا ته دې دا خبره له خولې ونه وزي!))
دهنيا خپل سر لکه د منګوري مار چې راپاړول شوي وي جګ کړی او وی ويل: (( زه؟ که له سپيده داغ سره دی د پوليسو ماموريت ته حاضر نه کړم، زه به د پلار لور نه يم. هغه ستا ورور نه دی هغه د لستوڼي مار دی!))
هوري ورته ګواښ وکړ: ((دهنيا، تا ته اخطار در کوم که چيرې ... .))
دهنيا چې له قار او غصب نه خوټيده، په خپلو خبرو يې ټينګار وکړ: (( څـو چـې دی بنديخانې ته بو نه ځم، زه آرام نه شم کولی. هغه بايد درې کاله تيرې ميده کړي. درې کاله. او کوم وخت چې له بنديخانې نه راوځي، دا د بې حسه ککرۍ خاوند بايد زيارت ته لاړ شي څو د خپلو ګناهونو جبيره وکړي.))
هغې ور په خرپ پورې کړ. هوري وپوهيد چې په ژوند کې يې ډيره لويه تېروتنه يـې همدا وه. کلی په تياره کې ډوب و. غوا مړه شوې وه او هوري لس فوټه له هغه لرې پـر کټ باندې نا آرامه دا خوا او هغه خوا را اوښت.
نهمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهار حالات خراب شوي وو. هوري د خپلې ښځې په وهلو پیل وکړ او هر کـــَرَت بــه چې هوري پرې حمله کوله، هغې د ښکنځلو په ویلو خپل غچ اخیسته. نجونو د خپــل پلار په پښو کې ځان ور نښولی او ګوبار خپله مور پټه کړې وه. خو هر کــَرَت به چـــې دهنیا خپل مېړه ته ښکنځل او بد رد ویل، هوري به ګوبــار پــورې واهــه او ځــو نــور ګوزارونه به یې پرې ور حواله کړل.

کلیوال د شور ماشور د غلي کولو لپاره راغلل، خو د خندوونکې صحنې په لیدو ســره کرار ودریدل. داتادین هوري ملامت کړ او ورته یې وویل: (( هــوري، مــاغزه دې پــه ککرۍ کې شته؟ دا د کور لکشمي ځوک وهي! آیا دهیرا سیوری پر تــا هــم لویــدلی دی؟))

هوري د داتادین پښو ته ور ټیټ شو او ویې ویل: (( مهاراج، زموږ په منځ کې خبــرې مه کوه، ځو چې دا سمه نه کړم، آرام به ونه کړم. هر څومره مې چې د دې تېروتنې په پام کې ونه نیولې، هماغومره دا لا پسې تیره شوه او تېروتنې یې زیاتې شولې.))

دهنیا چې سترګې یې له اوښکو ډکې وې وویل: (( مهاراج، ته خو زما شاهد یې. زه به د اوبو یوه څاڅکي ته هم لاس ور نه وړم، څو دی او د ده ورونه د زندان د میلو تر شــا ونه وینم. زه پولیس ته ور روانه وم څو د غوا د مړینې په باره کې راپور ورکړم چې دې قاتل زما په وهلو پیل وکړ. ما خپل ټول ژوند د ده لپاره برباد کړی او دا دی د هغه انعام چې دی اوس یې راکوي. ))

هوري خپل غاښونه وچیچل: (( تا بیا هم له خپلې ککرې نه د خبرو په کولو پیل وکړ. آیا تا لیدلی چې هغه غوا مسمومه کړه؟ ))

(( تا وویل چې هیرا دې لیدلی چې غوا ته نږدې ولاړه و. قسم وخوره چې تــا نــه دی لیدلی!))

(( زه قسم خورم چې ما نه دی لیدلی.))

(( لیدلی دې نه دی؟ د زوی پر سر دې قسم وخوره!))

هوري خپل لاس د ګوبار پر وچولي کښېښود او قسم یې وخوړ چې هیرا یې غــوا تــه نږدې نه دی لیدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهنیا پر زمکه باندې پرتلې ووهلې او ويې ويل: (( څومره درواغ وايي! څومره په بې شرمۍ سره له خپلې خبرې منکر یږي.))
ټول کلي کرار د دهنیا په خوا شو. دوی سره اوس نور هیڅ شک نه و پاتې چې هیرا غوا مسمونه کړې ده او هوري له عدلي قضاوت نه مخکې د جرم ارتکاب کړی دی. کله چې داتادین هغه راپورته کړه، هوري په کرارۍ سره ووت.
سوبا هم هلته و، دهنیا وویل: (( پنډت دادا، زه پوره یقین لرم چې دا د هیرا کار دی. د هغه له وروستنۍ شخړې نه راهیسې د فرصت منتظر و.))
داتادین وویل: (( که چیرې دا رښتیا وي، هغه ډېره لویه ګناه کړې ده. آن که چیرې پولیس یې بندي هم نه کړي دهرما داسې جنایتونه بخښلی نه شي. روپا، ورشه او هیرا ته ووایه چې دلته راشي. هغه ته ووایه چې پنډت داتادین غواړي تا ووینې. که چیرې ده غوا نه وي مسمومه کړي پر ېږده چې د کلي د خلکو تر مخ د ګنګا په پاکو او مقدسو اوبو قسم وخوري.))
دهنیا اعتراض وکړ: (( هیرا ډېر بد سړی دی. ))
داتادین په خپله لاړ او له دې خبر سره بیرته راستون شو چې هیرا له کوره وتلی دی. هغه لوټکه، رسۍ او امساء له ځان سره اخیستي دي. دی چې چېرته ځي ښځې ته حال نه وایي. هغه پنځه روپۍ هم چې ده په ګوښه خونه کې پټې ساتلې وې، نه وې.
دهنیا وویل: (( هغه باید وروسته له مخ توری نه لیږدیدلی وای.))
هوري او د ده کورنۍ په هغه ورځ ډوډۍ ونه خوړه. د غوا مړینه او د هیرا غایبېدل د ورځې خبره وه. پونیا، د هیرا ښځې وژړل.
داتادین، جهینګوري سنګ نوکهي رام، د رای ناظر، د هغه څلور عسکر او د مالیې مامور پاتیشواري ټول د هغه په مخ کې په غوړه مالۍ سره ولاړ وو. هوري پسې یې سړې ولیږل. د هوري په ژوندانه کې دا لومړنی ځل و چې د پولیسو تر مخې راغوښتل کیده، لکه یو مجرم چې د دار کړۍ یې په غاړه کې وي، له ډاره ریږدیده او ولاړ و. هوري ته ځان لکه کیشب غوندې ښکاره شو.
پاتیشواري له جهینګوري سره ژر تر ژره مشوره وکړه او جهینګوري، هوري یوې خوا کړ. هوري یې خپل کور ته بوت او دېرش روپۍ یې ورته وشمېرلې او ويې ویل: (( زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاته پیسې په دې اعتبار درکوم چې ته یو صادق سړی یې، خو هیر دې نه شــي چــې ببرته راشې او د پور سند امضاء کړې.))
لسمه برخه
ورځې تېرې شوې خو دهیرا هیڅ درک نه وو. د هوري ځومره چې له لاســه پــوره وه ورپسې وګرځید، خو په اخر کې نا امیده شو. دی مجبور شو چې د خپلې زمکې غــم هم وخوري او اوس نو د هیرا غم هم پرې وربانډې بار و. خو یو انسان په یوه وخت کې څومره ډېر کارونه باید سرته ورسوي؟ دی د خپلې زمکې نه د هیرا د زمکې پــه بــاره کې زیاته اندېښنه کوله. پونیا چې یوازې پاتې وه له پخوا نه به ژر ژر خوابدې کېده. د هیرا په نه موجودیت کې کمزورې شوې وه، خو د هغه په غیابت کې یې ځان نــه شــو ساتلی او ژر ژر به عصبي کیدله او هوري ورسره ډېر په تکلیف او ربړ اخته و. هوري به زیات کوښښ کاوه چې د دې طبیعت سم او آرامه وساتي، خو هغې به ده ته ســتونزه پیدا کوله .
هوري او هیرا زمکې په ګډه سره په اجاره اخیستې دي او د پاسنی زمکې لپاره به یې یو له بل سره سیالي کوله. خو پونیا یو ښځه وه نو د هوري لپاره د منلو وړ نه وه چې د هغې له بېوزلۍ نه ګټه واخلي دا لویه نیکمرغي ده چې ناظر هم د پاتې اجارې حساب داسې ژر نه غوښته او پونیا هم ترې نه ځان بې غمه کړی و. که څــه هــم د هــوري د اعتبار لپاره باید وویل شي چې ده هیله درلوده د پونیا د مالیې د ورکولو لپاره بل پور واخلي.
د بارانونو د اورېدو وخت راورسید. د شولو د نیالګیو د کښینولو وخت تیر شوی و او د دوی د کار وخت هم محدود شوی و. هوري ونه شو کولی چې خپل نیالګي کښــینوي. که څه هم د پونیا کرنه یې له یاده نه وه وتلې. ده خپله زمکه لــه یــاده ایســتلې او د شپې تر ډېر نا وخته پورې به یې د پونیا د شولو غم خوړ. نتیجه داسې شوه کله چې د کښت د لو نه وروسته، د ده درمند لغړ غوندې و د پونیا په کادانه کې د شولو واښه نه ځاییدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغې ورځې له شخړې نه وروسته د دهنيا اړيکې له هوري سره خرابې شوې وې. ګوبار هم له خپل پلار نه ځان لرې ساته او داسې ښکاريده چې زوی او مور دواړو د هوري د تخريبولو او له هغه سره د اړيکو د شلولو دسيسه طرحه کړې وه.
هغه نو اوس په کور کې د يوه پردي سړي حيثيت درلود. د ده حيثيت په کلي کې تيټ راغلی خو له بلې خوا د دهنيا پرستيژ ډېر لوړ تللی و، نه يوازې د ښځو په منځ کې، بلکې د نارينه وو په منځ کې هم. په همدې وخت کې و چې ملاريا کلي ته راغله او هوري د هغې ښکار شو. دې وروسته له څو کلونو نه ناروغ شوی او ناروغۍ دا ځل د کسات اخيستو په ډول د هغه پخواني زخمونه راتازه کړی وو. دی د يوې مياشتې لپاره په بستر کې پريوت. تبې د ده رنګ تک ژېړ او بدن يې نا توانه او کمزوری کړ، خو په عين وخت کې د دهنيا زړه هم نرم کړ.
په داسې حالت کې آن د دښمن په ليدو به د هغې زړه ويلې شوی وي. هوري خو آخر د دې مېړه و. يو آواز يې تر غوږو شو، دا دهنيا وه.
هوري وويل: (( په دې سړه هوا کې څنګه ويده کيدا شم! ولې د شپې په دې وخت کې د باندې راوتلې يې؟ څه پېښه شوې؟ ولې دې ګوبار را ونه ليږه.))
دهنيا پر نمجنو ښو کښيناستله. هغې وويل: (( ګوابار زموږ نوم پر زمکه وهلی. له هغه څه چې ډاريدم، لکه چې په واقعيت بدل شوي دي.))
(( څه پېښه شوې ده؟ آيا هغه له چا سره شخړه کړې ده؟))
(( ښه به دا وي چې له هغې ګوډګرې نه وپوښتې!))
(( کومه کوډګره؟ ته لېونۍ شوې يې؟ ولې معما وايې؟))
(( جونيا، هو څوک؟))
(( جونيا دلته ده؟ د پنځو مياشتو کوچنی يې په نس کې دی او ګوبار ورک شوی.))
هوري به ګوبار ډېر ځله ليده چې د هغه شپون کلي ته به روان و او دی هم شکمن شوی و. خو له ده سره هيڅکله دا تصور نه و چې د ګوبار تيروتنه به تر دې حده پورې ورسيږي.
آيا د دې ساده ځوان نه به چې لا تر اوسه هم د ده په نظر کوچنی دی داسې يو بد عمله انسان جوړ شي؟ که څه هم هوري کليوالو ته د يوې جزايي ميلمستيا پرېکړه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

آن په کور کې د جونیا د ساتلو په باره کې اندېښنه نه کوله. ده سره د ګوبار اندېښنه ډېره وه. هغه وویل: (( آیا جونیا نه پوهیږي چې دی چیرته دی؟ هغه باید ورته ویلـــي وي.))

هغې ورته په قار وویل: (( آیا ستا ککری له بوسو ډکه ده؟ د هغه معشوقه چـــې دلتــه وي، دی به چیرې ولاړ شي؟ په دې شاوخوا کې باید پټ وي. هغه به ورک نه شـــي. زه له دې تور مخې جونیا نه ډاریږم. یوه دقیقه به هم اجازه ور نه کړم چې زما کـــور کـــې پاتې شي. دوی دا ګناه په هماغه ورځ کړې ده چې ګوبار د غوا د راوستلو لپاره د دوی کلي ته ورغلی و او که چیرې د جونیا نس راپورته شوی نه وای، موږ به هیڅ پرې خبر شوي نه وو. سهار ته به اوازه او انګازه خپره شي. زه به هغه په خپل کور کې پـــرې نـــه ږدم. که چیرې ته په دې کار کې مداخله کوې، یو له موږ نه بایـــد پـــه دې کـــار کـــې و اوسو.))

دوی د خپل کور خوا ته روان شول. له نیمې شپې نه هم تیره شوې وه او کراره کراري وه. ناڅاپه دهنیا د هوري لاس ونیو او ورته ویې ویل: (( هیله کوم چې کومـــه صـــحنه جوړه نه کړي، که نه ټول کلی به زموږ پر سر راټول شي.))

هوري په قار او غصب وویل: (( هغه به له کلي نـــه د بانـــدې وشـــړم! دا راز بـــه ژر یـــا وروسته رابرسیره شي. نو ولې نن رابرسیره نه شي؟))

دهنیا د هغه لاس کلک ونیو او ورته ویې ویل: (( که چیرې هغې ته لاس ور وړي پـــه نارو سورو به پیل وکړي.))

(( پر پرده چې نارې سورې پیل کړي.))

(( دا به چیرته لاړه شي، په دې توره تیاره شپه کې ؟))

(( پر پرده، هر چیرې چې ځي لاړه دې شي. هغه زموږ کار نه دی.))

(( دا ښه کار نه دی چې د شپې یې له کور نه وباسو. د هغې په نس کې کوچنی دی او که چیرې څه پیښ شي د هغې لپاره به خطرناکه وي.))

(( دا په موږ پورې څه اړه ولري چې دا مري که ژوندی پاتې کیږي. زه ولـــې دا پیغـــور ځانته پر پردم او خپل ځان بدنامه کړم؟ زه به ګوبار هم له کور نه وباسم!))

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ناڅاپه دهنیا خپل لاسونه د هغه په غاړه ور واچول او ویې ویل: (( وعده وکړه چې هغه به نه وهي هغه همدا اوس پښیمانه ده. دا د هغې بدمرغي ده چې په دې حال کې اخته شوې ده.))**

**د هوري سترګې نمجنې شوې. د دهنیا مورنی احساس او مینه د هغه ځراغ په شان چې خپلې وړانګې هرې خوا ته خپروي، له ورایه پرېښیده.**

**هوري ته په دې زاړه عمر کې یوځل بیا هغه د تنکي زړه خاونده نجلۍ دهنیا، چې ده پنځه ویشت کاله مخکې د ناوې په څېره کې کور ته راوستلې وه، ور په یاد شو. دوی د وره له سوري نه وکتل. د خاورین ځراغ تر کمرنګه نور لاندې جونیا ناسته وه، خپل سر یې پر زنګنو ایښی و. آیا دا په تیاره کې د هغې خوښی په لټه کې ده کومه چې د یوې شېبې لپاره یې هغې ته خپله غولوونکې څېره ور ښوولې وه او وروسته بیا په دایمي تپه تیاره بدله شوه؟**

**جونیا چې له ډاره ریږدیدله پورته شوه او د هوري پښو ته ور ولویدله او په ژړا یې وویل: (( دادا، ستاسو له کور نه پرته بل ځای کې د اوسیدو ځای نه لرم، ما له کوره مه باسئ.))**

**هوري ور ټیټ شو او هغه یې پر شا وټپوله او ورته ویې ویل: (( لورې هیڅ ډاریږه مه. دا ستا کور دی، ته هماغسې چې د بولا لور یې زما لور هم یې.))**

**هغه د هوري پر پښو ولویده او ویې ویل: (( دادا، زه یوه یتیمه یم. ما ته ځای راکړئ. پلار او ورونه به مې ژوندۍ پرې نه ږدي.))**

**دهنیا چې خپل احساسات نه شوای کنټرولولی، وویل: (( زمو په کور کې اوسه او له پلار او ورونو سره به دې کوم وخت چې دلته راشي زه خبرې وکړم. له هغو سره چال چلند زما کار دی.))**

**دا خبرې د هغې په زخمي زړه باندې نرم ملهم و. هغې هوري پرېښوده او د دهنیا په پښو کې ولویده، دهنیا هغه راپورته کړه او په غیږ کې یې خپل زړه ته کلکه ونیوله. لکه زړه مرغۍ چې پر خپلو بچیانو باندې وزرونه را خواره کړي. هوري دهنیا ته اشاره وکړه چې هغې ته د لږ څه خوړو بندوبست وکړي. بیا یې هغې ته مخ ور واړاوه او ترې نه یې وپوښتل، (( ته د ګوبار په باره کې څه پوهیږې؟))**

(c) ketabton.com: The Digital Library

جونیا په ژړا شوه: (( نه، زه هیڅ نه پوهیږم. زه ستاسو د ...))
د سیلاب غوندې اوښکې یې له سترګو را جاري شوې.
خو هوري خپل خپګان او اندیښنه نه شوای پټولی. هغه ترې نه وپوښتل: (( کله چې تا د آخري ځل لپاره ولید آیا اندېښمن نه ښکاریده؟))
(( نه خو زه نه پوهیږم چې هغه څرنګه احساس درلود.))
(( ته فکر کوې چې هغه به لا تر اوسه په کلي کې وي؟))
هغې په ژړا او انګولا سره وویل: (( فکر کوم تللی دی.))
(( زه هم همداسې فکر کوم، څومره احمق دی. موږ د ده دښمنان نه یو. هر څه چې شوي، اوس خو شوي دي. څوک باید د ګل تر څنګ اغزي هم ومني. له خپلې تېښتې سره یې موږ ټول بدمرغه کړو.))
دهنیا چې جونیا یې دننه راهنمایي کوله، وویل: (( ډارن هغه باید ستا تر څنګ ولاړ وای. که چېرې راغی، د باندې اوسېدای شي.))
هوري بېرته خپرې ته ستون شو او په چورت کې و « ګوبار چېرته دی؟» دا موضوع د ده په فکر کې دومره ګرځیده را ګرځیده، لکه یو مرغه چې په لوی آسمان کې الوتنه وکړي.
د میاشتو میاشتو لپاره دغه غیر عادي پېښه د خلکو په ماغزو کې د یوې نوې او تازه پېښې په شان پاتې وه. د جونیا ورونو چې د لاتیس په وسله سمبال و، شا و خوا ټول ځایونه په ګوبار پسې وپلټل. د ګوبار پته ونه لګیده بولا قسم خوړلی و چې نور به هېڅلکه د هوري کلي ته ور نه شي او د هغه مخ به ونه ویني! له هوري سره د ده د کوژدې خبرې اترې هم پای ته ورسیدې اوس نو دی د خپلې غوا بیه په سملاسي او نغده توګه غواړي، هغه ته یې اخطار ورکړ که چېرې ټګي وکړي، سمدلاسه به پرې عریضه وکړي او کور به یې د پور تر ستنیدو پورې ترې نه واخلي.
کلیوالو په رښتیانو سره هوري رټلی و په کلي کې داسې پټې خبرې روانې وې چې ګواکې د کلي د څاه ګانو اوبه دې پر هوري باندې وچې شي. یوازې دهنیا چې اور اخیستونکې وه د یوه داسې جدي او اغیزناک تصمیم مخنیوی یې کاوه. په دغې ستونزه کې د دوی ټولو نه بدمرغه جونیا وه. یوه ورځ دهنیا چې د کلي له مارکېټ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راستنېدله پندت داتادين په مخه ورغی. هغې خپل سرټيټ وا چاوه او غوښتل يې چې ورو ترې نه تيره شي، خو داتادين داسې سړی نه و چې داسې يو فرصت يې له لاسه ورکړی وای. هغه په بدنيتۍ سره وويل: ((د ګوبار کومه پته لګيدلې ده؟ څه بدمرغه دی. هغه د کورنۍ نوم پر زمکه وواهه.))

دهنيا هم ډېر ځله د ګوبار په باره کې داسې فکر کاو هغې په خواشينۍ سره وويل: ((دادا، کله چې پر يوه سړي بده ورځ راشي عقل کوچ کوي، نو ما ته د ويلو څه پاتې دي؟))

داتادين وويل: (( ښه کار مو ونه کړ چې هغه ناوړه نجلۍ مو په کور کې وساتله. که چيرې د شيدو په يوه ګيلاس کې مچ ولويږي، څوک شيدې له مچ سره ايسته نه اچوي. مچ ترې نه اخلي او شيدې ساتي. په کور کې د هغې له ساتلو سره تاسو ټولو ځانونه د خندا وړ ګرځولي دي. که چېرې تاسو دې ته پناه نه وای ورکړې، کار به دې سرحد ته نه و را رسيدلی. زه نه وايم چې هلکان کله کله بد کارونه نه کوي. خو هغه بيله خبره ده. څو چې خلکو ته وريجې ونه ويشئ او برهمنانو ته ميلمستيا ور نه کړئ، خپله( دهرما) ژغورلی نه شئ. زه پوهيږم چې هوري بې فکره دی، خو زه په تا باندې ډېر حساب کوم.))

د داتادين زوی ماتادين له يوې موچۍ سره پټې اړيکې درلودې. خو په وچولي يې د صندل خميره وهلې وه، مقدس کتابونه يې بار کړي وو، ګمها يې لوسته، مذهبي سندرې يې په ډېر ځير سره ويلې او د خپلو ګناهونو د پاکولو لپاره يې د ګنګا په مقدسو اوبو کې لامبل. نو د هغه دهرما نا ککړه او بې داغه پاتې شوې وه. دهنيا پوهيدله چې جونيا د دې د ستونزو مسووله وه، خو په دې هم پوهيده چې ټولنه په دوو بيلو بيلو اخلاقي معيارونو باندې پر بډای او خوار باندې قضاوت کوي.

دهنيا ځواب ورکړ: (( زه دې ته تياره نه يم، چې د يوه درواغجن پرستيژ د لاس ته راوړلو لپاره د يوې ځوانې نجلۍ ژوند قرباني کړم. زه پوهيږم چې جونيا په قانوني ډول زما له زوی سره واده نه دی کړی. خو د هغې لاس مو په خپل لاس کې نيولی دی. زه څرنګه کولی شم هغه په خپل لاس له خپل کور نه وباسم؟ کوم وخت چې بډای بد کار وکړي، هيڅوک يې نه ملامتوي؛ خو که چېرې همدغه بد کار يو خوار او غريب وکړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو مخ نه لري. داتادين دومره بې عاطفې انسان و چې ژر د داسې ساده خبرو تر تاثير لاندې نه راته. غيبت او تر شا خبرې کــول د هغــه دوهــم طبيعــت گرځيــدلى و. ده هيڅکله داسې کار نه و کړى چې د ده په فکر په هغه کــې خطــر موجــود وي، خــو د خلکو په لوټلو کې د برخې اخيستو نه يې هيڅ وېره نه درلوده. کوم وخت بــه چــې د زميندار ناظر د پورونو د ټولو لپاره راغى، ځان به يې خوار او غريب وښوده او هغه بــه يې تهديد کړ که چيرې له ده نه پور وغواړي ځان به په ځاه کې واچــوي او ځــان بــه ووژني. خو ده به په خپله خلکو ته پورونه ورکول. دى د سازش خاونــد و او لــه دواړو خواوو نه يې ښه گټه اخيسته. د هغه په کړو وړو کې د ميلمستياوو او تحفو ورکول او اخيستل شامل وو. دى چې له ځان نه يې په درواغو ډاکټر جوړ کړى و د کلي ناروغان به يې په جعلي دارو درملو تداوي کول، هيچا په ده باور نه درلــود خــو ســره د دې د داسې خوږې ژبې خاوند و چې خلک به تل د ده په لومه کې راگير کيدل.

هغه په ډېرې هوښيارۍ سره خپل سر وښوراوه او ويې ويل: (( دهنيا، ته رښتيا وايي، خو هيڅلکه داسې نه شي کيداى چې د خلکو دود او دستور ته په سپک نظر وگورو.))

هوري د ماليې له کاتب پاتيشواري سره همدا ډول مقابله درلوده. پاتيشواري د خپلې تقوا او پرهيزگارۍ له امله مشهور و، د هرې خوارلسمې شپې د سپوږمۍ د راختو پــه شپه به يې د ساتيانارا ين قرائت تنظيم کاوه، د ناروغ پوښتنه به يې کوله او د ملاريا په موسم کې به يې حکومتي وړيا کونين وېشل. د پوليسو له مداخلې نه پرته بــه يــې د بزگرانو په منځ کې شخړې او ستونزې حل او فصل کولې او د واده په وخت کې به يې د والۍ او نور تيزيني ټک و پوک او پسول د ناوې کورنۍ ته پور ورکول، خو د دې ټولو کارونو مانا دا نه وه چې ده به له خپل موقف نه د ماليې د کاتــب پــه حيــث گټــه نــه اخيسته. ده به خپلې زمکې د اجباري کار نه په گټه اخيستو سره يوې او اوبه کولې. د يوه او بل بزگر په منځ کې د تفاهم د راپيدا کولو په برخه کې يې سترمهارت درلود او له دواړو نه به يې لږ لږ څه اخيستل. همدارنگه ده به لږ لږ پورونه هم بزگرانو ته ورکول او د وخت په تېريدو سره يې ښايسته ډېر څه ځان ته ټول کړي وو، هــر کــال بــه ده د حاصل په وخت کې له بزگرانو نه تحفې اخيستلې او هغه به يې بيا د خپلې تحفې پــه نوم د پوليسو او محکمې مامورينو ته ورکولې. د محلي مامورينو تر ملاتړ لانــدې يــې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان مړاوه. ټول له هغه نه ډاریدل ځکه دی په سرتمبه ګی، سختی او موذیتوب کـېـ ټولو ته معلوم و. دی نا شکره نه و، هغه بزګران لوټول او زبېښل، خـو د ضـرورت پـر وخت کې د دوی تر څنګ هم دریده.
پاتیشواري وپوښتل: (( هوري ولې دې ځانته په خپله دا ستونزه پیدا کړه؟))
هوري شاته وکتل او ويې ویل: (( څه دې وویل؟))
هغه خپل ګامونه اوچت کړل څو هوري ته ځان ور ورسوي او بیا یې ورته وویل: (( آیا ته هم د دهنیا غوندې فکر لرې؟ ولې جونیا ببرته د خپل پلار کور ته نه لیږې؟ خدای پوهیږي چې د چا کوچنی د هغې په نس کې دی او ستا د لور حال به څنګه وي؟ دغه نجلۍ چې ستا په کور کې وي څوک به ستا د لور واده ته زړه ښه کړي؟))
هوري له داسې دوه مخې او بې مرستې زړه سوي څخه موړ شوی و. هغه په ځواب کې ورته وویل: (( لالا، زه پوهیږم خو څه کولی شم؟ آیا هغه ببرته خپل کور ته پر یـږدم. زه پوهیږم د بولا زامن د هغې د وژنې خیال لري، څرنګه کولی شم هغه د مرګ خولې ته ور واچوم؟ زما بې کاره زوی هغه یوازې پر ېښودله او که چېرې زه یې هم له کـوره وباسم، هغه ښایي له نا امیدۍ نه ځان ووژني او بیا به ټوله ملامتي په ما باندې وي. که چېرې ته کولی شې بولا دې ته اړباسه او پرې ويې منه چې هغه بیرته خپل کـور تـه پر یږدي، زه به ډېر ممنون شم. او پاتې شوه زما د لور خبره، هغه خدای ته سپارم. هغه به ما ته لار راوښیي. تر اوسه پورې خو زموږ په ټولنه کې کومه نجلۍ بـې واده نـه ده پاتې شوې.))
ټولو ته معلوم وو چې هوري د سولې سړی دی او هیچا هم د هغه بد نه غوښـتل. خـو ټولنه به څنګه له داسې کار نه سترګې پټې کړي.
تاګور جهینګواري سنګ دوه ښځې درلودې. د هغه لومړنۍ ښځه مړه شوې وه او پنځه اولادونه ترې پاتې وو. په هغه وخت کې دی پنځه څلویښت کلن و. ده بیا واده وکړ خو دا ښځه یې وچه پاتې شوه او دریم واده یې وکړ. اوس پنځوس کلن دی او دوه ښـځې لري. د دوی په باره کې ډېرې ناوړې خبرې خپرې شـوې دي. خـو د تـاګور لـه ډاره هیڅوک نه شي کولی چې دا خبرې هغه ته ورسوي. د داسې مېړه په درلودو سره یې پر سترګو د دود پرده خوره وي، ښځې کولی شي بې له کوم ډار نه هواخوري وکـړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم ټاګور عقیده درلوده چې له ښځو سره په معامله کې د اوسپنیز لاس خاوند د،ی نو ده په دې ټینګ باور درلود چې هیڅ آن د ده د ښځو مخ هم نه دی لیدلی، خو دا چې د ده تر شا څه کېدل دا نو بله خبره ده.
هغه په هیجاني حالت سره وویل: (( د جونیا غوندې نجلۍ باید سر پـرې شــوی وای. هوري هغې ته په پناه ورکولو سره معصومه کړې ده. که چېرې دا دلته و اوسي زمــوږ کلی به ناولی شي. باید(رای) په دې موضوع خبر کړو. موږ به هغه مخکې له مخکې پوه کړو چې په کلي کې د دغه ناوړه باد په لګیدو سره د هیڅا عزت خوندي نه شي پاتې کیدای. ((
پنډت نوکي رام د رای ناظر یو خانداني او ستر برهمن و. هغه د ټاګور په دې نظر باندې چې دا موضوع رای ته ورسول شي، داسې فکر وکــړ چــې دا کــار د ده پرســتیژ تــه سپکاوی ګڼل کیږي. هغه شاوخواته وکتل او ویې ویل: (( رای ته د تــګ لپــاره هــیڅ اړتیا نه شته. زه له دې سړي سره پوهیږم. راځئ چې په هغه باندې د سلو روپو جریمه ولګوو. دی به خپله دا کلی پریږدي. په عین حال کې به زه د هغــه د زمکــې د قبضــه کولو لپاره اسناد جوړ کړم.))
ښایی دا موضوع یو څو ورځې څنډېلي وای، خو د جونیا کره په هغه شپه یو زوی وشو. بله ورځ د کلي خلک په بېړه سره راټول شول او جرګه یې جوړه کړه. په جرګــه کــې ډېرو خلکو ګډون کړی و. هوري او دهنیا هم را احضار شول. د جرګې پرېکړه اعــلان شوه چې هوري دې سل روپۍ نغده جریمه او دېرش مونده غله ورکړي.
دهنیا په زېږ غږ په داسې حال کې چې سترګې یې له اوښکو ډکې وې وویل: ((جرګه والو د خوارانو په زیبښاک به مو ښه ورځ په نصیب نه شي. موږ به پوپناه او له منځه لاړ شو، خو تاسې به هم په ارامۍ سره ژوند ونه کړئ. زه به یوه دانه غلــه او یــوه روپــۍ جریمه ور نه کړم. دا څه ډول خندوونکې لوبه ده؟ تاسو فکر کوئ چې د جرمــانې پــه لګولو او ټولو سره موږ له خپل ملک او جایداد نه محرومولی شئ.))
هوري کوښښ وکړ چې هغه ارامه کړي، ویې ویل: (( موږ ټول د ټولنې اندامونــه یــو. څنګه کولی شو له هغې نه جلا شو؟ ته باید د جرګه والو پرېکړې ته غاړه کېږدې. لــه داسې ژوند نه چې د بدنامۍ تور پرې لګیدلی وي، مرګ هر وخت ښه دی.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هغه جرگه والو ته مخ واړاوه او ویې ویل: (( جرگه والو زه یوازې په گودام کې غله لرم. زه دې هیڅ وخت د خپل زوی مخ ونه وینم که به دروغ ووایم. زه ستاسو د امر اطاعت ته تیار یم. خو که چېرې ستاسو په زړه کې لږ څه زړه سوی وي لږ څه زما د کوچنیانو لپاره پر پرېږدئ.))**

**دهنیا په ډېر رقار او غضب سره جرگه پر ښوده او لاړه. خو هوري د شپې تر ناوخت پورې غَله له خپل گودام نه د جهینگواري سنگ گودام ته ور وړله. شل مونده غنم، پنځه مونده اوربشې او همدومره نخود و.))**

**هوري له جهینگواري سنگ سره ناست و او کور یې په اتیا روپو په گرو کې اچولی و. د جرمانې د پرې کولو لپاره بله لارنه نه وه پاتې. لږ څه غنم او نخود یې په شل روپې خرخ کړل. اتیا روپۍ نورې باید د کور له گروۍ نه لاس ته راغلې وای. نوکي رام غوښتل چې غوا یې پرې خرڅه کړي، خو پاتیشواري او داتادین مناقشه کوله چې که چېرې غوایي خرڅ کړي خپله زمکه به څنگه یوې کړي؟ ښه به دا وي چې کور گرو کړي. خو د غوایانو خرڅول به دا مانا ولري چې دی له کلي نه وباسو.**

**کله چې هوري د کور د گروۍ د سند له امضأ کولو نه وروسته راستون شو، دهنیا ترې پوښتنه وکړه چې د شپې تر دې وخت پورې چېرته و.**

**هوري په داسې حال کې چې خپل محرومیت یې نه ښکاره کاوه ویې ویل: (( د هغه لندغر ناوړه کارونو تلافي مې کوله. هغه اور ولگاوه او خپله ورک شو، زه باید دا اور مړ کړم. کور مې په اتیا روپۍ گرو کړ. نور مې څه کولی شوای؟ اوس مې ټولنه چیرته منې.))**

**یوولسمه برخه**

**گوبار په شپه کې را روان شو، له ډاره یې پښې لړزیدې. دی په دې فکر کې ډوب و چې په هغه شیبه کې چې د جونیا پښه کلي ته ننوزي څه حال به وي؟ دی په شور او غوغا نه پوهیده. ده انتظار درلود چې مور به یې ډېره په قار او غضب شي. دې مفکورې د ده په پښو کې زولنې اچولې دي. دی له پلار نه لږ ډاریده. هوري به ناځاپه اور اخیست او بیا به آرام شو. خو دهنیا به زهر وخوري او یا به کور ته ارو واچوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه له مور سره د مخامخ کیدو جرآت نه درلود. هغه سوړ اسویلی و ایست که چیرې دهنیا دا په جارو سره د کور له وره نه د باندې وشړي دا خوارکۍ نجلۍ به چېرته لاړه شي؟ آیا د ده مور په دومره بې رحمه وي؟ ارو مرو به یو جنجال جوړ کـړي. خـو کـه چېرې جونیا چیغې ووهي او د هغې په پښو کې ولویږي ښایي زړه سوی راشي. البتـه دی د دغه توپان تر کراریدو چېرته ځان پټ کړی.

جونیا وویل: (( زړه مې نا ارامه دی. ډېره بده شېبه وه چې له تا سره مخامخ شوم. که چېرته د غوا د راوستلو لپاره نه وی راغلی، دا پېښه به نه وه شوې. ته لاړ شه او د دوی د راتګ لپاره لاره اواره کړه. بیا به زه وروسته درشم.))

ګوبار اصرار وکړ: (( نه ښه ده چې ته لومړی لاړه شې. ته داسې وښیه چې له بازار نـه راستنه شوې یې او ودې نه شوای کولی چې په دې ناوخت کې کور ته لاړه شې. زه به درشم.))

جونیا چې ویریدله ویې ویل: (( ستا مور ډېره بې پروا ده. که چېرې یې زما په وهلـو پی وکړ، نو بیا به څنګ کیږي؟ ))

ګوبار هغې ته بیا ډاډ ور کړ: (( هغه به تا ونه وهي.))

دوی د کلي شا او خوا ته رسیدلي وو، ګوبار وویل: ((اوس نو ته ځه.))

جونیا هغه ته وویل: (( زما نه لیرې کیږه مه.))

(( په یوه دقیقه کې به راشم. ته لاړه شه.))

(( فکر کوم له ستونزې سره مخامخ کیږم. زه له تا نه ډېره کرکه لرم چـې زه دې دې حال ته راوستلې یم.))

((په قار کیږه مه. زه به ستا تر څنګ ودریږم.))

هغې وپوښتل: (( آیا مورې بل چېرته تښتیدلی نه شو؟))

((په داسې حال کې چې مورې خپل کور لرو؟ د هیڅ شي په باره کې اندیښنه مه کوه.))

(( ژر بیرته راشه.))

ګوبار ځواب ورکړ: ((راځم.))

(( ته خو به ما نه نا امیده کوې؟ که چېرته ته را نه شې زه به څنګه وکړم؟))

(c) ketabton.com: The Digital Library

((جونیا په ما باور ولره. زه خو سپک او تیټ سړی نه یم. د ژوند تر اخرینـــې شـــیبې پورې له تا سره یم.))
ګوبار چې بې ارادې ولاړ و، کتل یې چې جونیا زړه نا زړه وړاندې ځي او کورته نږدې د شپې په تیاره کې ورکه شوله. په ناڅاپه یې د مور اواز تر غوږ شو چې جونیا تــه یــې ښکنځل کول. وینه یې مړه شوه. یوه شیبه وروسته یې ولیدل چې دهنیـــا د کرونـــدو خوا ته منډې وهلې. هغه هم د کروندو په منځ د غنمو او اوربشو غله تر پښـــو لانـــدې کړل. دهنیا د هوري مخې ته رسیدلې وه. هغه شا ته ودرید او غوږ یې ونیو.
دهنیا غرږیدله. اوه، خدایه د هغې خبرې څومره له بې رحمۍ نه ډکې وې! آیـــا آن پـــه یوې بدمرغې نجلۍ باندې هم د هغې زړه سوی نه راته؟ هغه په پټه په خپل پلار پسې روان شو. خو کله چې کورته نږدې شوه جرآت یې له لاسه ورکړ. دیوال ته یې تیکـــه وکړه او ودرید. اوس به نو دوی ارو مرو هغه خوارکۍ نجلۍ ووهي، په داسې حال کـــې چې دی له کور نه د باندې ولاړ دی او هیڅ شی یې په وس کې نه دي.
ګوبار د بې فکرۍ په حال کې و او په داسې یوه شیبه کې چې د راتلونکې اندېښنه ور سره نه وه یوې سپرغۍ ته یې لاس اچولی و. بې له دې نه چې پوره پوه شـــي چـــې دا سپرغۍ به یوه ورځ ډېر ستر او دروند اور ولګوي او ټول کور به په کې وســـوځیږي او اوس ده ته د وړاندې تګ جرآت نه درلود .ګوبار چې د خوږې ژبې خاوند و. هغـــه پـــه ډېرې هوښیارۍ سره خپل سر وښوراوه او ویې ویل: (( دهنیا، ته رښـــتیا وایـــي خـــو هیڅلکه داسې نه شي کیدای چې د خلکو دود دستور ته په سپک نظر وګورو. ))
څه ور پاتې شوي دي. په کومو سترګو ورګوري؟ بیرته راوګرځید. لږ څه وړاندې لاړ او د ګناه په اساس کې ډوب و، داسې روان و لکه یو سرتیری چې د جګړې له میدان نـــه راتښتیدلی وي. په دې فکر کې ډوب و، چې ده څرنګه جونیا تـــه د مینـــې او محبـــت اظهار کړی او څومره له باټو ډکې وعدې یې ورکړې وې. ده ته هغه خوندورې شپې ور په یاد شوې چې په پاک زړه او له مینې ډک نظر سره یې خپل زړه پر هغې بـــایللی و. مخکې له دې چې د هغې ژوند خوشحاله او روښانه کړي هغه یې لکـــه یـــوازې او بـــې مینې مرغۍ په یوه وړه ځاله کې پرېښودله. هغه بېرته د کور خوا ته روان شـــو. ویـــې لیدل چې ور تړلی دی او د کوټې له درز نه یې رڼا تر سترګو شوه. درز ته ور نږدې شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او جونيا يې د خپلې مور تر څنګ وليدله چې پر مخ يې اوښکې را روانې وې. پلار يې هغې ته نږدې ولاړ و. مور يې ويل: (( لورې زمونږ کره اوسه. که پلار او ورونه دې راشي. زه ورسره پوهيږم. تر هغه چې مونږ ژوندي يو. ته هيڅ وېره مه کوه.))

ګوبار خوشحاله شو. اخر جونيا وساتل شوه. که چېرې ده سره زر در لوداى، په ډېـرې خوشحالۍ سره به يې پر هغوى شيندلي واى. خو سره له دې هم ده له خپل ځان سره په ټينګه دا پرېکړه وکړه چې تر هغو پورې به کور ته نه ننووزي څو يې د دې بدنامۍ د لرې کولو لپاره ښې ډېرې پيسې نه وي ګټلې. تر اوسه پورې يې زړه نا زړه لــه خپـل پلار سره کار کاوه او د يوه حق په عنوان يې په پلار باندې ژوند کاوه بې له دې چې د کورنۍ د مسووليت احساس ورسره وي. د پلار او مور بخښنه او هغه هم په دومره لوړه روحيه د ده ژوند ته يو نوى مفهوم ورکړ. نن د لومړي ځل لپاره يو شى لکه سپرغۍ د ده په زړه کې روښانه شوه.

کله چې دهنيا او نور په خوب ويده شول، دى د هورې خبرې تــه راســتون شــو او د راتلونکې لپاره يې په خيال پلونو پيل وکړ. هغه چيرته اوريدل وو. چې په ښار کــې د قراردادي يو کارګر په ورځ کې شپږ آنې اخلي. که چيرې دى پــه ورځ کــې يــوه آنــه ډوډۍ وخوري، پنځه آنې ورته پاتې کيږي چې په مياشت کې لس روپۍ او په يوه کال کې (١٢٠) روپيو په شاوخوا کې ترې نه جوړيږي. که چيرې له (١٢٠) روپو سره کاله ته راستون شي، هيڅوک به دا جرآت ونه کړي چې ده ته په کمــه ســترګه وګــوري. آن داتادين او پاتيشواري به هم د ده احترام او البته مور به پرې فخر وکړي.

که چيرې دى همداسې پيسې وګټي، نور به نو د ده کورنۍ خواره پاتې نه شي. خلــک به ده ته مزدور ووايي. څه پروا لري؟ کار کول ګناه نه ده. د ده مزدوري به هم شپږ آنې ثابتې پاتې نه شي. څومره چې د ده تجربه زياتيږي، هغومره به يې مزدوري پورته لاړه شي. نهمه غرمه وه. ګوبار چې د شپې هم ډوډۍ نه وه خوړلې ډېر له دغو چرتونو سره پرمخې ويده شو. په دغې ترخه سړه هوا کې ښه خوب ورغى. سپيده داغ د لکنهو په خوا چې شل ميله لرې و، روان شو. ده ځان سره حساب کــړى و چــې د ماښــام پــه شاوخوا کې به ښار ته ورسيږي. هيڅا ته به څه ونه وايي چې چيرته ځي. د ده پلار به د ده پته معلومه کړي او دى به بيرته کلي ته راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیمه غرمه وه. ګوبار چې د شپې هم ډوډۍ نه وه خوړلې، ډېر د لـوږې احسـاس یـې کاوه، خو د ډوډۍ د اخیستو لپاره یې پیسې نه درلودې، د لوږې د لیرې کولو لپاره یې یو څو دانې وحشي الوګان راوشکول او ویې خوړل.

په نږدې کلي کې له ګنیو نه ګوړه جوړوله او د هغې بوی یې سـپږمو تـه راغـی. ژر د کینې خوا ته چیرته چې د بورې شربت په یوه لوی لوښي کې ایشېده لاړ او د ډولچې او رسۍ پوښتنه یې وکړه ، څو له څاه نه اوبه راوباسي. د لاسو ورغوي یې پیالـه کـړل څو یوه لپه اوبه وڅښي چې یوه بزګر ورته وویل: (( ملګریه، پـه وړې نـس اوبـه مـه څښه. دا ده لږ ګوړه در واخله. دا به اخري ځل وي چې موږ ګوړه جوړوو. کال ته بـه د بورې فابریکه په فعالیت پیل وکړي. دوی به د ګنیو ټول حاصلات چې په زمکه کې وي واخلي. د ګوړې په بیه بوره تولیدیږي، نو څوک به ګوړه واخلي.))

دولسمه برخه

د لارې پر سر له ډېرو خلکو سره چې د کار په لټه کې لګنهو ته روان و مخامخ شو. له دوی سره په خبرو خبرو مخکې له نهو بجو نه د امین آباد بازار ته ورسیدل. په بـازار کې ډېره ګڼه ګوڼه وه. ګوبار آریان شو چې دا دومره خلک له کوم ځای نه راتلی شي. له څلورو تر پنځه سوو خلک د کار په لټه کې وو. په دوی کې ختګر، ترکاڼ، پښ، کټ اوبدونکی تیږې جوړوونکی او عادي مزدوران وو. ګوبار خپل امید له لاسـه ورکـړ. ده څه چانس درلود؟ ده هیڅ سامان یا شیان نه درلودل څو د هغه په اثر ځـان یـو څـه وښیي. یو یو، دوه دوه، یو په بل پسې کار ته بیول کېدل. ګڼه ګوڼه کمه شـوه یـوازې زاړه ضعیف او ورځ تېروونکی پاتې شول. ګوبار هم د دوی په منځ کې و. وروسته میرزا خورشید ناڅاپه راپیدا شو. هغه دوی ټول د لاس په ښورولو د ځان خوا ته راوبلـل او اعلان یې وکړ: ((های! تاسو، څوک چې کار غواړئ، ما پسې راشئ. په ورځ کـې شـپږ آنې. پنځه بجې به مو رخصت کړم.))

له یو موټی ختګر او ترکاڼ نه پرته نورو ټولو دغه پیشنهاد ته ور ودانګل. په لږ وخـت کې یو لوی لښکر جوړ شو او د مارش لپاره لیکه شول. میرزا مخکې شو او د سوالګرو ډله ورپسې، لکه پسونه چې په شپانه پسې روان وي. له هغو نـه یـوه لـه میـرزا نـه وپوښتل: ((ښاغلیه، دا څه کار دی؟))

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه ځواب دوی ته غولوونکی و. خو له دوی څخه غوښتل کیدل چې د کبـادي پـه لوبه کې ګډون وکړي ! ټول کار همدومره و. شپږ آنې د کبادي د لوبې لپاره که چېـرې رښتیا وي، خو ښه کار دی. څه لېونی سړی دی؟ دوی شکمن شول چې کوم چال ورته جوړ شوی دی. ډېرې زیاتې پیسې. یا پوهه هم کله کله سړی نه عجیب شی جوړوي. ګوبار زړه نا زړه میرزا ته وویل چې دی ورې دی او خپله مزدوري پیشکي غواړي څو د خوړو لپاره څه پرې واخلي. شپږ آنې یې ورکړې. میرزا اعلان وکړ چې ټولو تـه بـه د مزدورۍ پیسې پیشکې ورکړي. میرزا دوی د ښار نه دباندې یوې تـوټې زمکــې تـه بوتلل. د دغې زمکې پر شاوخوا باندې کتاره راچاپیره شوې وه.

په دغې زمکه کې یوه کوچنۍ د لوخو خونه وه چې د شا خوا نه په غځیـدونکو بوټـو پوښول شوې وه. خونه خالي وه، یوازې یوه جوړه څـوکۍ او یـو کـوچنی میـز هلتـه ایښودل شوي وو چې یو څو کتابونه پرې پراته وو. په یوه خوا کې د ام او لیمو نیالګي شنه ولاړ و او په بله خوا کې یې یو څو ګلدانونه ایښودل شوي وو. خو د زمکې زیاتره برخه وچه پاتې وه.

میرزا کارګران کتار ودرول او هغوی ته یې د مزدورۍ پیسې ور وو بشلې. هغو سره نو اوس بیخي شک نه و پاتې چې دا سړی په رښتیا لیونی دی. ګوبار ته وویل شول چــې ګلدانونو ته اوبه ورکړي. دی به د کبادي له لوبې نه خوند واخلي خو پروا یې نه درلوده هغه په کوچینوالي کې د کبادي لوبه ډېره زیاته کړې ده. هغه څه چې اهمیت درلــود، هغه د مزدورۍ پیسې وې.

وروسته له ډېرو کلونو دغو انډیوالانو ته د کبادي د لوبې وخت پــه لاس ورغلــی و. د ډېرو لپاره د کبادي نه یوازې خاطره پاتې وه. ټوله ورځ دوی په ښار کې مزدورۍ پسې سرګردانه وو. ماښام به ناوخته کور ته را ستانه شول. ستړي ستومانه به وو. وبــه یــې خوړل او ویده به شول. بله ورځ به بیا دغه کار له سره پیل شو. د دوی سوړ ژوند چــې د لمر له تودوخې نه محروم و. دوی یې په یوه اتوماتیک ماشین کې بدل کړي وو. دوی چې نیم ژوندي د زاړه فکر خاوندان بې غاښو او مړاوي شوي انسانان وو. د مسابقې د ډګر برید یا سرحد او دوه د لوبې د ډلو مشران وټاکل شول. ټیمونــه تشــکیل شــول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غرمې ته نږدې لوبه تياره وه. د ژمي موسم و د لمر وړانګې هم ښې لګيدلې او د لوبې د اجرا لپاره څه مساعده هوا وه.

ميرزا په خوشحالۍ سره دا د جال په وره کې ټکټونه خرڅ کړل. ده به تل د شتمنو څخه د پيسو د راشکلو لپاره ځينې ليوني پلانونه سنجول او هغه به يې د خوارانو په منځ کې وېشلې. هغه دغه د زړو خلکو د کبادي د لوبې اعلان د لوبو پوسترونو او پاڼو په واسطه ډېر زيات خپور کړی و. په پوسترونو کې داسې راغلي وو: (( يوه بې سارې لوبه، د دغې لوبې ننداري سره به تاسو ووينئ چې زموږ زاړه خلک لا تر اوسه هم غښتلی او پياوړي کيږي.))

ټکټونه له لسو روپو نه تر دو آنو پورې. د نکټايي لورنکي نندارچيانو لپاره کوچونه او چوکۍ شته. د درې بجو په شاوخوا کې د مسابقې ميدان له خلک ډک شو او په کتاره راختل د ننداري لپاره د موټرونو او څلور ارابه ييزو ګاډيو کاروان راغلی و. پيغله مالتي، مهتا، کهنه او رای هم راغلي وو. کله چې لوبه پيل شوه، ميرزا مهتا ته بلنه ورکړه چې د کبادي لوبه له دې سره اجراء کړي. پيغلې مالتي وويل: (( يو فيلسوف بايد يوازې له بل فيلسوف سره لوبه وکړي.))

ميرزا خپل بريتونه تاو کړل: (( ستاسو مقصد دا دی چې زه فيلسوف نه يم؟ رښتيا، د مهتا غوندې په نامه مې د دکتورا ليک نه شته، خو د دې مانا دا نه ده چې زه فيلسوف نه يم. که غواړې ازمايښت يې کړه.)) ميرزا له کهنه نه وپوښتل کــه چيــرې د يــو وار مسابقې لپاره حريف په کار وي.

مالتي ناڅاپه له خپلې څوکۍ نه راپورته شوله: (( ښه مفکوره! له تانکا سره يو وار .))

کهنه له وارخطايۍ نه تک سور شو او ويې ويل: (( ما پريږدئ.))

ميرزا او مهتا خپل کالي سره وايستل او ميدان ته سره ووتل. هر يو د مسابقې د ليکې خوا ته ودريدل. ننداره چيانو پر دې بې مهارته او بې خونده ننداري باندې غوغا جوړه کړې وه. دوی لاسونه پړکول په پيسو باندې شرطونه وهل. يوه به ويل: (( زاړه بابا تــه ګوره خنګه په نخرو راځي! ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل به ویل: (( او آبلي خوا ته هغه ګوره. هغه باید د هغه مشر ورور وي. د دوی هډوکي لا تر اوسه پورې د پولادو په شان دي. ښایي دوی په ژوند کې دومره غـوړې خـوړلي وي لکه چې موږ اوبه څښلي دي!))
د مهتا ټیم بد حال درلود. له نیمایي نه زیات د هغه لوبغـاړي مـړي شـوي وو. مهتـا هیڅکله د کبادي لوبه نه وه کړې.
میرزا د لوبې په هر اړخ پوهیده. مالتي په عصبانیت سره رای ته وویل: (( مهتـا ښـه لوبه نه کوي.))
رای د هغه مداخله ژر په خوښې سره ومنله، هغه له ځـای نـه راپورتـه شـوه: (( زه پوهیږم چې میرزا یو پیاوړی لوبغاړی دی.))
کهنه وویل: (( ولې مهتا له مخکې نه فکر ونه کـړ. هغـه لـه خپـل ځـان نـه احمـق جوړوي.))
مالتي وویل: (( په دې کې څه حماقت دی؟ اخر یوه لوبه ده.)) یو څو شیبې غلې شوه، بیا یې وویل: (( آیا په دې لوبه کې د تفریح وخت نه شته؟))
کهنه وویل: ((چارت ته ګوره! له میرزا سره مسابقه هغه فکر کاوه چـې دا بـه هـم د فلسفې د درس په شان اسانه کار وي.))
مالتي بیا وویل: (( آیا دوی تفریح نه لري؟))
کهنه وځوروله: (( لوبه ژر پای ته رسیږي. دخندا وړ هغـه وخـت ده چـې میـرزا دی ښکته او پورته کش کړي، سر دې په زمکه ووهي او په زوره دې راپورته کړي.))
مالتي د بدخویۍ له مخې وویل: (( تا سره څوک خبرې کوي؟ ما له رای نـه پوښـتنه وکړه. آیا هاف ټایم شته؟ ))
هغه څواب ورکړ: (( نه، زه فکر نه کوم.))
هغې وویل: ((د مهتا په ټیم کې چې په وروستیو پښو ولاړ و یوازې شل کسه ژونـدي پاتې وو. د لوبې په وروستۍ برخه کې هیجانات زیات شول. نندارچیانو د لوبې اخرینۍ نتیجې ته په بې صبرۍ سره را نږدې شوي وو او یو څو شیبې وروسته مهتا یـوازینی ژوندی پاتې و. د ټیم سرنوشت په ده پورې تړلی و. دی مجبور و چې د دښمن کمپ ته لاړ شي، د دښمن لوبغاړي ګیر کړي او بیرته خپلې لیکې ته ځان راورسوي. هر څومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوبغاړي چې دی ګیر کړي، هغوی مړه کیږي او که چیرې روغ رمټ خپلـې خـوا تـه راستون شو، په هماغه اندازه د ده د ټیم لوبغاړي بیرته ژوندي شمیرل کیږي.))
د ټولو سترګې مهتا ته وې. هغه په آرامۍ سره د دښمن د کمپ خوا ته لاړ. خلک ډېر هیجاني شوي وو، خو د دښمن لیکې هماغسې ټینګې ولاړې وې او له هغو نه تېریدل اسانه کار نه و. دا هیله چې ښايي د خپل ټیم یو څو کسه بیا ژوندي کړي نه وه پـاتې. میرزا ټوپ وواهه، هغه له ملا نه ونیو. مهتا په نا امیدۍ سره ورغښت او میـرزا یـې د لوبې لیکې ته راکش کړ. په عین حال کې د میرزا د ټیم غړو ناڅاپه پرې ورټوپ کړ او هغه یې په بېړه ونیو. مهتا لا تر اوسه هم پر زمکه اوږد غورځیدل و. بیا یـې خوشـې هڅه وکړه چې د لوبې اساسي لیکه ماته کړي. که چیـرې ده دغـې لیکـې تـه ځـان رسولی وای، د خپل ټیم پنځوس کسه یې بیا را ژوندي کول. خو دی یو انچ هم وړاندې نه شوای تللی. میرزا یې پر شا ناست و. مالتي په خواشینۍ سره هغوی تـه ورغلـه او ویې ویل: (( میرزا خورشید، دا ښه کار نه دی. لوبه خلاصه شوې ده.))
میرزا د مهتا اورمیږ ټینګ کړ او ویې ویل: (( زه به یې تر هغو پورې پرې نه ږدم، څو چې دی ووایي، لوبه یې بایللې ده. دی ولې نه وایي چې ما بایللې ده؟))
مالتي چې نږدې راغله ویې ویل: (( دومره بې رحمه او سخت زړه مه اوسه. ته خو نـه غواړې چې دی په زوره ماتې ته اړباسې؟))
میرزا چې د مهتا پر شا شلم ناست و ویې ویل: (( زه د قواعدو سره سم لوبه کوم. هغه ته ووایه چې ووایي ما بایلوده، بیا به یې خوشې کړم.))
مهتا هڅه وکړه چې ځان پورته کړي او په چل ول ځان خـلاص کـړي. میـرزا د هغـه اورمیږ ښکته خوا ته پورې واهه . مالي هڅه وکړه چې میرزا کش کړي.
هغې وویل: ((دا لوبه نه ده وحشت دی.))
ناڅاپه تا به ویل چې کومه معجزه وشوه میرزا پراخ پر زمکه راولوید او مهتا د لیوني په شان د اساسي کرښې خوا ته وځغاسته. ننداره چیانو خپلـې خـولۍ هـوا تـه پورتـه واچولې. هیڅوک پورته نه شو چې حالت څنګه سرچپه شو.
میرزا، مهتا راپورته کړ او دا بریالی قهرمان یې قرګاه ته بوته. نن د مهتا ورځ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهتا وویل: ((نن مې یوه نوې تجربه زده کړه. د یوې ښځې زړه سوی کولی شي زما لوری په بریالیتوب بدل کړي.))

میرزا، مالتي او بیا یې مهتا ته وکتل او ویې ویل: (( پوه نه شوم. ښه نو د بریالیتوب راز همدا و، زه اریان وم چې تا څنګه وکولی شوای ما داسې پورته واچوې. ))

چای خلاص شو او میلمانه هم رخصت شول. میرزا وویل: (( واده څه وخت دی؟))

مهتا اریان شوه (( د چا؟))

((البته ستا.))

((زما واده ! له چا سره؟))

(( خومره معصوم ښکارې! په دې کې څه د پټېدو خبره ده؟))

((زه هیڅکله نه پوهېږم چې زه هم واده کوم.))

(( آیا ته فکر کوي چې مالتي به په دې قناعت وکړي چې له تا سره د یوې دیني خور په شان ژوند وکړي؟))

مهتا جدي شو او ویې ویل: (( میرزا چوپ ته بیخي تېروتلی یې. په خپله مالتي یوه ښکلې، خوشحاله، ذکي او د آزاد فکر خانده نجلۍ ده او برسیره پر دې ډېر نور صفتونه هم لري. خو هغه صفتونه چې زه یې د خپل ژوند د شریک په ځان کې لټوم په دې کې نه شته. زما په فکر او عقیده ښځه باید د مصیبت او ځان هیروني تجسم او ښکارندوی وي. په خپل شخصیت یې محو او د خپل مېړه له شخصیت سره یوځای کړي وي، بدن د مېړه او روح د ښځې. ته به وپوښتې چې ولې نارینه باید ځان محوه نه کړي؟ ولې ښځه؟ دا ځکه چې هیڅ نارینه د هغې وړتیا نه لري. که چېرې دی ځان محوه کړي له ده نه به یو تش شی جوړ شي. دی به ځان یوې سمڅې ته ننباسي او له ستر روح سره به د خپل روح د یوځای کېدو خوبونه ویني.

خو ښځه لکه زمکه صبرناکه او زغمونکې ده، ارامه او ځان ژغورونکې ده. که چېرې د ښځې زیاتره صفتونه او ممیزات په نارینه کې وي. له ده نه مهاتما جوړیږي. خو که چیرې د نارینه صفتونه او مشخصې په ښځه کې وي، له هغې نه شیطان جوړیږي. یو نارینه په واقعي توګه یوازې د ښځې خوا ته راکښل کیږي چې په هغې کې د ښځې لازمې مشخصې موجودې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه تر اوسه پورې د مالتي خوا ته نه يم راکښل شوی. څنګه کــولی شــم خپــل ځــان تشريح کړم؟ په هر هغه شي کې چې په دې دنيا کې ښکلی دی زه له ښځې تصوير او خيال وينم. آن که زه هغه مړه کړم په هغې کې بايد بدله او کسات اخيســتلو روحيــه هيڅ راپيدا نه شي او نه را وپاريږي. آن که چېرې زه د هغې په مخ کې له بلې ښــځې سره مينه وکړم، دا کار بايد د دې حسادت را ونه پاروي، که زه له داسې ښځې ســره مخامخ شم، د هغې په پښو کې ځان وغورځوم.

زه داسې ښځه نه غواړم چې د انشتين په باره کې بحث وکړي يا زما د کتابونو ليکنې اصلاح او تاييد کړي. زه داسې ښځه غواړم چې زما روح لوړ کړي او زما د ژوند د پاکی او صفا سبب وګرځي. ))

خورشيد ميرزا خپله ږيره وښوروله او ويې ويل: (( زه ستا د عقيدې قدرداني کوم. که چيرې له داسې ښځې سره مخامخ شوم، زه به هم واده وکړم.))

مهتا په خندا سره وويل: (( راځه دواړه به پسې ګرځو. څوک څه پوهيږي چــې يــوه ورځ مو بخت خلاص شي!))

((خو پيغله مالتي به دې داسې په اسانه خوشې نه کړي، که غواړې ليکلی سند به هم درکړم.))

(( له داسې ښځې سره زه يوازې ځان مشغولوم. البته چې واده بيخي بله موضوع ده. واده د روح وقف کول دي.))

(( نو مينه څه شی ده؟))

(( تر هغو پورې چې مينه د دوو روحونو د يوځای کيدو په مکمليدو کــې ځــای ونــه مومي، تکامل ناممکن برينښي. پرته له دې نه مينه شهوت دی.))

مهتا خپل کالي واغوستل او لاړ. ماښام و ګوبار لا تر اوسه پورې هــم ګلانــو تــه اوبــه ورکولې. ميرزا چې ترې نه خوشحاله و ويې ويل: (( ته اوس تلی شې.))

ګوبار د کار غوښتنه وکړه. ميرزا وويل: (( اوه، ته کار غواړې. ډېر ښه زه به تا استخدام کړم.))

((ښاغليه څومره به راکړې.))

(( څومره غواړې؟))

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( ځومره ویلی شم؟ هر څومره چې ستاسو زړه وي. ))

((زه به تا ته پنځلس روپۍ در کړم. خو ته مجبور یې چې زیات کار وکړې.))

ګوبار وویل دی له سخت کار ه نه ډاریږي د پنځلسو روپو لپاره هغه تیار دی چې ځان مرګ ته ورکړي.

میرزا هغه ته وویل: (( ته به د دغې کوټې په کونج کې اوسې.))

دیارلسمه برخه

هوري چې ټول حاصل یې د جرمانې په پوره کولو کې ورکړی و یوه میاشت یې په هغو لږو شیانو تېره کړه چې په یوه لوښي کې یې ساتلي وو. خو د جون د میاشتې له پیـل کیدو سره حالت بیخي خراب او له زغم نه ووت. پنځه میاشتې د نسونو مړول او یـوه ټوټه ډوډۍ هم په کور کې نه وي. دی چې له پخوا نه هم پور کې ډوب و، د بل پور وار راورسید. کار یې هم په اجاره نه شوای نیولی. د هغه د ګنیـو کرونـده اوس تـر اوبـو لاندې وه او د ده ټول وخت دغه کار نیولی و، وجود یې د اوسپنې دی! آن د خپل کـار د اجراء لپاره د ده بدن تر ټولو لومړی خوراک ته اړتیا لري. تیاره ماښام و، کوچني ژړا انګولا کوله. خو د ډوډۍ د نشتوالي له امله د جونیـا تـې هـم وچ شـوی و. هـوري د دولاري هټۍ ته منډه کړه. د هغو هټۍ تړل شوې وه. د اخرینۍ هڅې په توګه منګـرو، پور ورکوونکي ته ورغی. منګرو نه یوازې هغه په نیغه له ځان نه وشاړه، بلکـې یـوه خبره یې هم لا ورته وکړه هغه ورته وویل: (( باید درتهووایم چې تـا دا درې کالـه د پیسو سود هم نه دی راکړی. څومره زړه ورتوب! بل پور هم غواړې! خپلې ګـروۍ تـه دې پام وکړه. د منافق او بې اعتباره سړي همدا حال وي کوم وخت چې ناظر تا تهدید کړي بې له خوله ښورولو نه پیسې ورته را باسې. زما پیسې څنګه کیږي؟))

هوري خواشینی او خپه راستون شو. هغه د وره په زینه کې ناست و چې پونیـا، د ده ورینداره راغله. د هغې پام شو چې په پخلنځي کې اور نه بلیږي لـه دهنیـا نـه یـې پوښتنه وکړه: (( بابي ولې دې په نغري کې اور نه دی بل کړی؟ د پخلي وخت دی.))

دهنیا وویل: (( څه شی پاخه کړم. میتو هر څه چې درلـودل ټـول پـه جریمـه کـې ورکړل. بې له دې چې د کوچنیانو د مړینې او ژوند خیال ورسره وي. سړ کال د پونیـا

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاصلات ښه وو هغې په ښکاره دا خبره تایید کړې وه چې دا د هوري د زیار ګاللو لــه برکته دي کله چې هیرا دا زمکه کرله حاصلات د دې په نیمایي هم نه و.))

هغې وویل: (( ولې دې څوک د یو څه غلې دانې لپاره زما کره را ونه لیږه؟ څه چې زما دي هغومره د میتو هم دي. په بد وخت کې موږ باید خپل غمونه سره ووېشو. زه ړنده نه یم. زه د یوه انسان په ښېګڼې او مېړانې اعتراف کوم، که چیرې میتو زما د ژغورنې لپاره را دانګلي نه وي زما حال به اوس څرنګه و؟))

هغې سونا له خپل ځان سره بوتله. هغوی له دوو ډګو ټوکریو اوربشــو ســره راســتانه شول مخکې له دې نه چې دهنیا ترې نه مننه وکړي هغــه لاړه. کــوم وخــت چــې د اوربښت موسم راورسید او د باران د نه اوریدو حالت ډېر بحراني شو. د تودوخې مــوج پر شا وخوا سیمه باندې راغی. تود باد پر کروندو باندې لګیده، د ګنیو کښت وچ شو. د کښت د اوبو لګولو لپاره د سیند له اوبو نه استفاده په نوبت شــوه. پــه نتیجــه کــې شخړې او کړکیچونه زیات شول، تر هغو پورې چې د ابو دا منبع هم وچه شوه. غلاوې او د ډاګوانو حملې په ټول ولایت کې پراخې شولې. د خلکو خوابدې او خپګان زیــات شو. څه موده وروسته باران و اورید. مړاوی روحونه راژوندي شول. د کروندګرو لپــاره دا بارانونه د سرو زرو اوربښت و. داسې ښکاریده چې دا وچه او نینې شوې زمکــه بــه هیڅکله بیا خړوبه نه شي. یوې د باندې ووتلې کوچنیان په منــډه لاړل، څــو د اوبــو ټانکونه وګوري. دوی ببر ته راغلل، نارې یې وهلې او لاسونه یې پړکــول چــې: (( تــر نیمایي پورې ډک شوي!))

وچکالي خپل کار کړی و، د ګنیو کښت له منځه تللی و، د خلکو ژوند زیاتره د ګنیو پر کښت پورې اړه درلوده. دوی په سختۍ سره کولی شوای د جوارو او ږدنو له خــرڅلاو نه مخکې مالیه ورکړي، د پوروړیو د پور بیرته ورکول امکان خو ډېر کم و. دوی خپلو ځانونو ته په دې هیله تسلي ورکوله چې لږ تر لږه د مالدارۍ لپاره شنه واښه خــو بــه پیدا شي.

د جنوري میاشت هم تیره شوه او بولا چې لا تر اوسه پــورې پیســې نــه وې ورکــړل شوې، یوه ورځ په عصبانیت سره د هوري کور ته راغی. هغه په قار وویل: (( تــه پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خپل لوز همداسې ولاړ یې! تا ما ته وعده راکړه چې د ګنیو د کښت لـه ریبلـو څخـه وروسته به زما پیسې راکړې. ګني لا ډېر مخکې ریبدل شوي دي. پیسې راکړه.))**
**هوري د وخت مهلت وغوښت. بولا ورته غوږ نه نیوه. هوري په غمولي حالت وویل: (( زه درته وایم چې پیسې نه لرم. زه آن پور هم نه شم اخیستی، څه وکړم. زه د خوراک لپاره څه شی نه لرم. که چیرې باور نه لرې، زما کور ولټـوه کـه چیـرې څـه دې بیـا وموندل ستا دې وي.، یو یې سه.))**
**بولا وویل: (( ستا کور ولې ولټوم؟ زما یې څه، چې ته پیسې نه لرې؟ زه تا ته ستا لوز در په یادوم. د کښت ریبل خلاص شوي دي. زه خپلې پیسې غواړم.))**
**(( ته ماته ووایه څه وکړم.))**
**(( نور څه پاتې دي چې درته ویې وایم؟))**
**(( زه اختیار تاته پریږدم.))**
**((نو بیا زه ستا غوایان اخلم.))**
**هوري ورته وکتل. هغه باور نه شو کولی چې دا خبره یې په غوږو اوریدلې ده. تـا بـه ویلي چې ګنګس شوی دی سر یې ښکته کړ. آیا بولا غواړي چې له ده نه سوالګر جوړ کړي؟ د غوایانو بیوول، د ده د لاسونو د پرېکولو مانا لري. هغه وویل: (( کـه چیـرې ستا دهرما حکم کوي چې ښه کار دی، بو یې څه؟))**
**(( په ما یې څه چې ته خوار یې او که بډای. زه خپلې پیسې غواړم.))**
**(( څه به وکړې که زه هر چا ته ووایم چې ما ستا پیسې وختـه درکړي دي؟))**
**بولا ټګان وخوړ. دا یې هیڅکله په ماغزو کې نه وو ګرځیدلي چې ښایي هوري داسې دوکه ورکړي.**
**بولا په خوابدۍ سره وویل: (( دا حقیقت نه لري، خو که چیرې ته د ګنګا په پاکو اوبو قسم وخورې ما ته بل څه نه دي پاتې، پرته له دې چې داتاوان ومنم.))**
**(( ډېر زیات مې زړه غواړي، خو دا کار نه کوم.))**
**(( ته یې نه شې کولی.))**
**(( هو، کولی یې نه شم. ما فقط ټوکې کولې.))**

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه شیبه داسې ښکاریده چې په چورت کې تللی وي. بیا یې وویـل: (( بـولا وروره، ولې دې ماته دومره زړه ډک دی. جونیا چې ما کره راغلې ده، زما لپاره یې څـه ګټـه رسولې ده؟ زوی مې له لاس لاړ. د دوو سوو روپیو جریمه مې پرې کړه. برباد شـوم او اوس ته غواړې چې زما اخیرنۍ ریښې هم را وباسې. په ما باور وکړه زه د خپل زوی د کړو وړو په باره کې هیڅ نه پوهیدم. ما فکر کاوه دی د ساز مجلسونو ته ځي، زه هغـه وخت په حقیقت پوه شوم چې جونیا په هماغه شپه نا وخت زما کره راغله. راته ووایه، که چیرې ما هغې ته پناه نه وای ورکړې دا نور چیرته تللی شوای؟ آیا کوم بل چا یـې هم پروا کوله؟))

جونیا چې د غوجلې د وره ترڅنګ ولاړه وه، ټولې خبرې یې واوریدې. اوس دې بـولا ته هیڅ احترام نه درلود هغه دوی دښمن وو، بولا وویل: (( تاسو جونیا په هماغه لاره مو چې راوستلې بیرته راولئ، هغه راوباسئ، زه به نه ستاسو غوایان بوزم او نه به د غوا بیه واخلم. زه دا نه شم زغملی چې دا دې دلته لکه شهزادګۍ ناسته وي او مور دې له شرمه چا ته کتلی نه شو. هغه زما لور ده. هغه زما په غیږ کې لویه شوې ده. خدای خو شاهد دی چې له زامنو نه مې را باندې کمه ګرانه نه ده. خو نن زه غواړم چې د کلي له یو سر نه تر بله سره پورې یې کش کړم، دا مجبوره کړم چې صدقه او د غوایي خیرات وغواړي او د چټلۍ او مردارۍ په کوټو او دیرو کې د خوراک په لټه کـې سـرګردانه او لالهانده وګرځي. زه د هغې پلار یم! هغې زه وځورولم، خپل پلار! هغه شـرم چـې دې نجلې زما کور ته راوړی، په اوو نسلونو کې به پرې نه ولل شي او تاسو په بـې شـرمۍ سره هغه په خپل کور کې ساتئ. ستا دا کار پرته له سپکاوي او توهین نـه نـور څـه دي!))

دهنیا لکه چې غوښتل هره خبره یې د بولا په زړه کې داغ کیدي په خبرو راغلـه: (( میتو، ګوره. زه هم دومره نرمه ښځه نه یم. هغه څه چې ته غواړې، هیڅکلـه بـه ونـه شي. جونیا مور ته له خپل ژوند نه را ته ګرانه ده. که چیرې زموږ غوایان کـولی شـي ستا د نیکونو د عزت او پت تلافي وکړي او له منځ نه تللی پت او حیثیـت دې بیرتـه لاس ته درځي، دوی بوزه . زه هم وایم چې جونیا تیروتلې ده. کله چې هغه زموږ کور ته راغله، غوښتل مې چې له کور نه یې وباسم. خو هغې وژړل او زه هم زړه لرم هغـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته مې پناه ورکړه. ته، ميتو، چې اوس يو زوړ سړی يې، لا تر اوسه پورې ښځه غواړې او د ښځې په باره کې خپل احساسات نه شي کنټرولولی، نو څنګه جرآت کوې چې دا ځوانه نجلۍ محکومه کړې؟))
بولا په ځوريدلې، غمجنې او غلې لهجه هيله وکړه: (( هوري، د هغې خبرې دي واريدې؟ اوس نو ما مه ملامتوه. غوايان راوباسه.))
هوري په قار سره وويل: (( بو يې څه.))
(( يو ځل بيا فکر وکړه.))
(( ما فکر کړی.))
بولا چې روان شو د غوايانو پړی راخلاص کړي، جونيا چې له پاوليو او ستارو نه ډک ساري يې اغوستی او هلک يې په غيږ کې و، د هغه په مخ کې ودريده او په لړزيدلې غږ يې ورته وويل: (( کاکا، غوايان مه بيا يه، زه ځم. زه به صدقه او د غوايي خيرات ټول کړم. که چيرې په صدقه او د غوايي خيرات مې ژوند ونه شوی کړای، ځان به په اوبو کې ډوب کړم.))
بولا په لوړ آواز ورته وويل: (( زما له مخې نه لرې شه. بيا دې هيڅکله ستا مخ ونه وينم، ته نفرين شوې او لعنتي ښځه! تا ته ډوبيده هم کم دي.))
جونيا هغه ته ونه کتل. هغې غوښتل چې د خپل قار او غوسې په اور کې وسوځي، هغه غوسه چې د تشدد او سپکاوي نه، بلکې د ځان هيرونې نښه نښانه وه.
دې دوه ګامونه نه وو اخيستې چې دهنيا راونيوله، هغې وويل: (( لورې، چيرته ځې؟ دا کور ستا دی، همداسې اوس او زموږ له مړينې وروسته هم. ته ولې ځان په سيند کې لاهو کړې؟ پر ېږده، هغه پلار چې خپل اولاد رټي په کې ډوب شي.))
هغې بولا ته وويل: (( ته بايد له خپل ځان نه وشرميږې. غوايان بوزه او وينې يې وڅښه.))
جونيا چې سلګۍ وهلې ويې ويل: (( که زما خپل پلار ما نفرين کوي، دا سمه نه ده چې زه ژوندۍ پاتې شم. پريږده چې لاړه شم او مړه شم. ما تاسو ته ډېرې ستونزې راپيدا کړې. خومره چې تاسو له ماسره داسې په مهربانۍ رويه کړې ده چې آن زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل پلار هم نه شوای کولی. زه دعا کوم او له خدای نه غواړم چې که زه بیا راژوندی شم ستاسو لور دې و اوسم.))

دهنیا چې جونیا خپلې خوا ته را کشوله، وویل: (( هغه ستا پلار نه دی. هغه دې دښمن دی. که چیرې مور دې ژوندۍ وای، هیڅکله به یې نه و پرې ایښی چې داسې کار وشي. پریږده چې دی بیا واده وکړي. وبه یې وینې چې دی په خپله سزا ورسیږي!

جونیا خپلې خواښې پسې دننه کاله ته لاړه او بولا د غوایانو پړي را خلاص کړل او د کور خوا ته روان شو تا به وی له هغې میلمستیا نه راستون شوی چې هلته یې د خوړو پر ځای وهل خوړلي وي.

راځئ اوس هوري پریږدو چې خپل لاسونه یې په کار اچولي او په آرامۍ سره ژوند وکړي! هغه پوهیده چې دا خلک غواړي دی وشرموي، ځکه هر شریف سړی باید ولې داسې یوه نجلۍ په خپل کور کې وساتي ؟ دوی نه شي کولی د دوی د زور لپاره یوه شریفه نجلۍ راپیدا کړي. هغه غوایانو ښه مزي غوایان دي، ښه جوړه ده. هر وخت کولی شي په سلو روپیو یې خرخ کړي. په هر حال دا اتیا روپو نه یې زیات شي لاس ته راوړي دي.

د کلي نه د باندې یې پر داتادین، پاتیشواري، سوبا او څو نورو باندې سترګې ولګیدې چې پر ده پسې یې منډې وهلې، ښه وډار شو. د ستونزې بوی یې تر سپږمو شو. آیا دوی به دی ووهي او غوایان به بیرته ترې نه بوزي؟ ودرید. دی به له هغو سره جګړه وکړي داتادین را نږدې شو: (( بولا، دا څه خبره ده؟ تا غوایان را خلاص کړل او هغه چوپ پاتې شو. آیا همداسې د ده چوپ پاتې کیدل و چې ته دومره زړه ور شوې؟ موږ په خپلو کارونو لګیا وو. که چیرې هوري فقط یوه اشاره کړې وای، ستا د بدن هر وېښته به مو در نه راشکولی وای. که نه غواړې چې ستونزه راپیدا شي، نو همدا اوس غوایان بیرته ورستانه کړه، ته شرم نه لرې؟))

پاتیشواري وویل: (( هغه د هوري له ساده توب نه ګټه اخلي. که چیرې دی، ستا پوروړی دی نو لاړ شه عریضه پرې وکړه او د هغه په مقابل کې دعوا وکړه. ته څه حق لرې چې په غوایانو باندې لاس کیږدې؟ ولې، که چیرې دی تا باندې جنایي عریضه وکړي، پولیس به تا ته ښه درس درکړي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

بولا چې لږ کمزوری شوی و، وویل: (( لالا، ما هغه نه دی مجبوره کړی چې غوایان راکړی. په زور مې نه دي ترې اخیستي. هغه په خپله وغوښتل چې غوایان راکړي.))

پاتیشواري ځواب ورکړ: (( هیڅ یو بزګر په خپله رضا او خوښه غوایان له لاسه نه ورکوي. دی به بې له هغو څه کار وکړي؟ آیا د یوې کولو لپاره ستا پر اورمیږه باندې څغ کیږدي؟ سوبا، غوایان ترې واخله.))

سوبا ور وړاندې شه: (( پړی راکړه. که چیرته خپلې پیسې غواړي، عریضه وکړه، کنه تر مرګه پورې به دې ووهم. آیا تا هغه ته نغدې پیسې ورکړي؟ یوه بد شګونه او بد مرغه غوا دې پرې ور بار کړه او اوس یې غوایان هم غواړي.))

بولا له ځای نه ونه خوځید. هغه د غوایانو تر منځ چوپ ولاړ و له پاتیشواري سره دعوا ګټه نه درلوده.

داتادین خپله ملا نیغه کړه او په هیجان سره یې راتوب کړ او ویې ویل: (( د څه لپاره منتظر یاست؟ ویې وهئ. دی څنګه جرآت کوي چې زموږ له کلي نه غوایان بوزي؟))

پانشي چې یو تکړه ځوان و، په شدت سره یې بولا ته اوږه ورکړه او پر زمکه یې را وویشت، هغه راپورته شو او بل ګوزار پرې حواله شو. دوی وکتل چې هوري د دوی خوا ته منډې راوهي، بولا راپورته شو او د هوري خوا ته په خاپوړو او پورې وهلو روان شو: (( هوري، دوی ته حقیقتووایه، آیا ما ستا غوایان په زوره اخیستي؟))

داتادین وویل: (( هوري، دی کوښښ کوي موږ وغولوي.))

هوري لږ څه وځنډید. د رامنډې وهلو په حال کې وویل: (( ښه، حقیقت دا دی چې ده له ما نه وغوښتل چې جونیا ورستنه کړم، کنه دی به زما غوایان واخلي. ))

دوی ټولو هوري ته په سپکه سترګه وکتل. بولا خپله غاړه جګه کړه، په مغروری سره په لاره روان شو او غوایان ورپسې وو.

خوارلسمه برخه

د ټولو په نظر د (ټپنک) په شاني مالتي په حقیقت کې اقتصادي او زیارکښه وه. د دې ژوند یوازې د آس د ځغاستې میدان نه و. څوک ټول وخت په خوړو باندې ژوند نه کوي. د دې لپاره، ساتیري د ژوند ستر هدف نه و او نه شخصي ګټه. خو ابتذال په یقیني ډول د ژوند د ترخو ناخوالو په کمولو کې مرسته کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغې پلار له هغو فوق العاده او کمیابو کسانو نه و چې به لکهــاوو روپــۍ عایــد یــې درلود. ده به د زمیندارانو لپاره پورونه برابرول، د دوی شته او ملکیت به یې خرڅول د عالیرتبه مامورینو په مرسته به یې له ستونزو نه خلاصول، همدا د ده د ژوند کار و بار و، د بیلګې په توګه، دوی د راجاګانو او آیالتي شهزادګیو تر منځ د واده بنــدو بســت کوي او په دې معامله کې په خالصه توګه زر روپۍ لاس ته ورځي. د معاملاتو کــوچنۍ چلوونکی دلال بولي، خو هغه دلالان چې لوړې او سترې معاملې سرته رســوي لکــه کاول، له راجاکانو سره کار کاوه او له والي سره به یې چای څښه.

کاول درې لوڼې درلودې او غوښتل یې چې دوی په انګلستان کې زده کــړه وکــړي. د نورو شتمنو په شان دی هم په دې باور و چې انګریزي زده کړه یو سړی بیخي بدلوي ښایي انګلستان اقلیم په دې کار کې څه رول ولري، وایي د سړي ذکاوت زیاتوي. خو د ده د دې ارزو له درې برخو نه دوه برخو یې تحقق ونه موند. مالتي لا په انګلســتان کې وه چې په ژوند کې معیوب وه، ګونګۍ هم شوه. د خبرو کولــو د تــوان لــه لاســه ورکول په دې مانا و چې د ژوند د معشیت او کاروبار سره هم خــدای پامــاني وکــړه. دعایداتو انډول یې له خرڅ سره برابر و. د بدې ورځې لپاره سپما د هغې عادت نه و.

نتیجه دا شوه چې دوی په دې څو وروستیو کلونو کې مازې خپله ګوزاره کولــه یــانې خوله او لاس و د کورنۍ د خرڅ ټول بار په مالتي باندې پروت و په میاشت کې د هغې له څلورو تر پنځو سوو روپو عاید سره د لوړې سطحې ژوند اوس ممکن نه بر ېښــیده. خو دی په یو ډول سره د هغې د دوو خونیدنو د زده کړې خرڅ برابراوه.

شپه وه خو هوا تر اوسه پورې هم توده وه. مالتي او خویندې یې په چمن کې ناســتې وې. د چمن واښه د نه پاملرنې له امله مړاوي او وچ شوي وو، ځای ځای واښه دومــره وچ شوي وو چې خاوره ورڅخه را پورته کیده. مالتي وویل: (( آیــا بــاغوان د چمــن ساتنه او پاملرنه نه کوي؟))

دوهمې خور ساروج وویل: (( هغه ټول وخت ویده وي. هغه تیار دی چې د هغو کارونو د نه اجرا کولو لپاره چې باید کړي یې وي شل دلیله درته ووایي.))

ساروج په اجتماعي علومو کې د لیسانس زده کړه کوله. هغه د لــوړ قامــت خاونــده، ډنګره او نرۍ او په طبیعي ډول ژر خوابدې کېدونکې وه. په هر شي باندې شکمنه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټرانو ورته ویلي وو چې زیات فکر ونه کړي او غرنیو سیمو ته لاړه شي، خو کورنۍ یې دومره پیسې نه درلودې چې دا هلته ولیږي.
کوچنۍ خور وار دا فکر کاوه چې ساروج ته ډېره پاملرنه کیږي. که په ناروغ کیدو سره څوک کولی شي دومره د نورو زړه سوی لاس ته راولي، نو ولې دا خپل ځان ناروغ نه اچوي! پر ته له ساروج نه هر شی په دې ګران وو. سترګې یې له ځلا نه بر بښیدلې او پوستکی یې ځلیده. هغې وویل: (( پلار تېوله ورځ هغه د بل چا د کارونو لپاره د باندې لیږي. هغه آن د ساه ایستلو وخت نه لري او تاسو وایئ چې ویده ده. ))
ساروج په تونده مزاجۍ سره وویل: (( پلار هیڅکله هغه د باندې نه لیږي. دا دروغ دي.))
وار دا ځواب ورکړ: (( هغه یې هره ورځ لیږي هو، دا کار کوي. نن هم هغه تللی و، پوښته ترې نه وکړه.))
((ولې وکړم.))
مالتي په هوښیارۍ سره موضوع بدله کړه. د ښځو لیک په دې وروستیو وختونو کې زیاتره د مالتي د هڅو له امله منځ ته راغلې وه. د ښار زیاتره تعلیمیافته چې په کې راتولې شوې وې. د مهتا پخوانۍ وینا د نیولو احساسات راپارولي و.
لیک پر بکړه وکړه چې ده ته غاښ ماتوونکی قانوني ځواب برابر کړي. د دغې ځوابیه وینا دنده د مالتي په غاړه وه. د ورځو ورځو لپاره مالتي د موادو په تېولو لګیا وه او مناقشې یې تنظیمولې. نورې ښځې هم وې چې وینا ته یې تیاری نیوه. کوم وخت چې مهتا د ښځو لیک ته راغی اډیټوریم ډک و هغه د غرور احساس وکړ. د ګډون کوونکو او اوریدونکو علاقمندي نه یوازې د دوی په مخونو کې له ورایه ځلیده، بلکې د دوی کالي اغوستل هم د هغوی د علاقمندۍ ښکارندوی و، ښځو ښه کالي اغوښتي وو او داسې یې ځانونه په زیور او ګاڼو بار کړي وو تا به وې د واده محفل ته راغلي دي. دوی خپل ټول کوښښ کړی و څو ډاکټر مهتا پړ کړي او پر هغه باندې بری ومومي. څوک ویلی شي چې برم او جلال قوي وسله نه ده؟ مالتي یوه نوې ساري او آخرین مود بلوز اغوستی و. د هغې مخ له ورایه د ناوې غوندې ښکاریده ډاکټر مهتا یوازې و او یوې ډلې ښځې یې په مقابل لوري کې. خو ښځې لا تر اوسه پورې پر ځان ویسا نه وې. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقیقت یوه سپرغۍ او شغله کولی شي د بې کفایته او ناوړتوب غر میده میده کــړي.
میرزا، کهنه او د بریښ مدیر مسوول په اخرینې کتار کې ناست وو. رای لــږ وروســته راغی او شاته ودرید. میرزا هغه په اشاري سره کښیناستلو ته راوباله.
رای ځواب ورکړ: (( شکریه، زه ډېر راحت یم. ګنه ګونه زیاته ده او د هال هوا بنده ده. مالتي د جلسي ریاست کوي. کهنه، مبارک دې وي!))
کهنه په تریوتندي وویل: (( هغه اوس په مهتا سترګې پټې کړې دي. زه یې له نظر نه لویدلې یم.))
مهتا په خپله وینا پیل وکړ: (( دیوې صاحبانو. کله چې زه تاسو ته د الهې خطاب کوم. دا کومه غیر معمولي خبره نه ده. دا درنښت او عزت ستاسو حق دی. خو آیا تاسو کله اوریدلی دي چې یوه ښځه نارینه ته د الهې خطاب وکړي؟ که چیرې تاسو هغه تــه د الهې خطاب وکړئ. هغه تېر باسئ ځکه زړه سوی، فدا کاري او قرباني د یــوې ښــځې ارزښتناک خصلتونه دي. او نارینه څنګه؟ هغه څه ورکوي؟ هیڅ. ورکړه د هغه کار نــه دی، بلکې هغه اخیستونکی دی. هغه مبارزه کوي، څو خپل حق له نورو واخلي. مبارزه د هغه د کرکټر اساسي خصلتونه دي.))
(( توپاني چکچکې او شاباسي.))
رای وویل: (( دا سړی پوهیږي چې څرنګه د ښځو زړونه لاس ته راوړي.))
د بریښ مسوول مدیر چې د رای خبرې خوند ور نه کړ، وویل: (( هغه کومه نوې خبره نه ده. حقیقت دا دی چې ما په څو محفلونو کې عین همدا مفکوره وړاندې کړې ده.))
مهتا وړاندې لاړ: (( نوځنګه کله چې زموږ منورې ښــځې ویــنم چــې د فــداکارۍ او قربانۍ له ژوند سره قناعت نه لري او د مبارزې په ژوند پسې منډې وهي او ټول وخت داسې فکر کوي چې نابېره د خوښۍ پر ګودر ور برابر شوې دې. ولې، بخښنه وغــواړم ډېره زیاته بخښنه غواړم، زه فکر نه کوم چې دا به دوی ته د مبارکۍ ویلو موقع وي.))
میرمن کهنه په ډېر ځیر او غرور سره مالتي ته وکتل. مالتي خپل سر ښکته واچــاوه.
میرزا وویل: (( مهتا یو زړه ور او بې باکه سړی دی. حقیقت تاسو ته مخامخ وایي.))
د بریښ مسوول مدیر وویل: (( هغه وختونه تېر شوي دي چې کولی مو شوای ښــځې په اسانۍ سره تېر باسئ.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهتا وینا ته ادامه ورکړه: (( دا چې وینم یوه ښځه د نارینه په شان چلند کوي دومره مې ځوروي، لکه چې ووینو نارینه د ښځې په شان چلند وکړي. زه پوهیږم چې په تاسو کې به یوې ته هم داسې نارینه د باور او مینې ارزښت او وړتیا ولري. زه په عین وخت کې تاسو ته ډاډ درکوم چې داسې یوه ښځه هم نه شي کولی د یوه نارینه اعتماد او تلپاتې مینه لاس ته راوړي.))

د کهنه مخ تک سور شو: (( د انساني تمدن د تکامل په دوران کې زه د ښځو موقف لوړ ګڼم. دا به ټولنې ته هیڅ ګټه ونه رسوي که چیرې ښځې د پیدایښت او تکوین معبد خوشې کړي او پریکړه وکړي چې د جګړې میدان ته ور ودانګي زه په دې باره کې مثبت نظر لرم له افتخار نه لیرې ده چې نارینه خپلو تخریبي او ورانوونکو تمایلاتو ته زیات اهمیت او ارزښت ورکړی دی. د خپل ورور د ازادۍ په اخیستلو او د هغه د وینې په زبېښلو باندې فکر کوي په هغه باندې یې یو ستر بری مونډلی دی. کله چې دی همدا کوچنیان چې میندو د دوی له وینو نه روزلي او پاللي دي. د زرهاوو ماشیندارو په ګولیو ووژني هغه قهرمان بلل کیږي او کله چې میندې د هغه پر وچولي زایواني رنګ راکاږي او د خپلې دعا په وسیله یې د جګړې میدان ته لیږي. دی فکر کوي چې ورانی او تباهي هغه شي دی چې نړۍ ورته اړتیا لري او د بریا دې تباهۍ لپاره د هغه غوښتنه او تمایلات لا نور هم پیاوړی کیږي.

نن مور څه ونیو؟ دې شیطاني غریزې د زړه لړزوونکی، ویجاړونې او ورانی راپه برخه کړی دی. نفوس یې پوپناه کړی، زمکه یې سوځولې او ښارونه یې د خاورو سره برابر کړي دي. د یوې صاحبانو له تا سونه پوښتم. آیا غواړئ د دغه شیطاني نڅا ته د تلپاتې کیدو بنه ورکړئ؟ زه له تاسو نه هیله لرم چې دا شیطاني قوتونه یوازې پریږدئ او په خپلو هغو دندو پورې ونښلئ چې ستاسو حقیقي میراث دی.))

کهنه وویل: (( مالتي آن سر هم نه پورته کوي.))

رای وویل: (( هغه څه چې مهتا وایي واقعیت دی.))

د بر ښې مسوول مدیر وار په وار لمبه کیده: (( په دې کې هیڅ نوی شی نه شته. هر هغه څوک چې د ښځو د نهضت ضد وي داسې بې مانا خبرې کوي. زه دا نه منم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نړۍ د مينې او فداکارۍ له لارې پرمختګ کړی دی. په واقعيت کـې دنيـا د ټينګـار مېړانې او عقل له مخې وړاندې تللې ده. ))**
**د کهنه ايسار شوي احساسات راوپاريدل او ويې ويل: (( هغه اصلي فيلسوف نـه دی، بلکې نقلي فيلسوف دی. فيلسوف داسې انسان وي...))**
**اون کارناتهـ پرې ور زياته کړه: (( ... چې له حقيقت نه انحراف نه کوي.))**
**کهنه چې د اون کارناتهـ تعريف يې د بشپړ قناعـت وړ ونـه ګرځيـد وويـل: (( زه د حقيقت او نه حقيقت په باره کې څه پوهيږم.))**
**فيلسوف هغه څوک ساروج چې خپلې خور ته د احترام نه پرته غلی ناسـته وه، ونـه شوای کولی نور زغم وکړي او ځان ونيسي. هغې نارې کړې: ((موږ د رای ورکولو حـق غواړو. د نارينه سره برابر !))**
**د هال له هرې ګوښې نه په لوړ اواز همدا خبره تاييد شـوه: (( هـو. مـوږ د رای حـق غواړو!))**
**اون کارناتهـ ودريد او په لوړ اواز يې نارې کـړې: (( مـړه دې وي د ښـځو د نهضـت دښمنان!))**
**مالتي خپل لاس پر مېز وواهه: (( نظم. نظم! هغه کسـان چـې غـواړي وينـا وکـړي وروسته به موقع ورکړل شي.))**
**مهتا وويل: (( د رای حق د نوي عصر مود دی. دا يو سراب دی. ټګي او چلبـازي ده. څوک وايي چې ستاستو شخصيت بشپړ رول نه شي لوبـولی. ځکـه چـې ستاسـو د فعاليت ساحه محدوده ده؟ موږ مخکې له دې نه چې هر څه و اوسو. لومړی تـر ټولـو انساني موجودات يو. زموږ ژوند په کور کې پيل کيږي. همدلته ده چې موږ نـړۍ تـه راځو او روزل کيږو. همدلته ده چې د ژوند له مهمو مرحلو نه تيريږو. که چيرې دې ته محدوده ساحه وايي. زه نه پوهيږم چې کومې ساحې ته نامحدوده وويل شـي. تاسـو غواړئ دا فابريکه ودروئ چې د انسان سرنوشت په کې ټاکل کيږي او جوړيږي او هغو فابريکو ته منډه واخلئ چې هلته انسان ټوټې ټـوټې کيـږي او وينـې يـې زبېښـل کيږي؟))**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**میرزا نارې کړې: ((دا د نارینه وو استبداد او ظلم دی چې په ښځو کې یـې د بلـوا او راپاریدنې روحیه خلق کړې ده.))**

**مهتا ځواب ورکړ: (( زه موافق یم. نارینه د ښځو په مقابل کې له ظلم او بې عدالتۍ نه کار اخیستی دی. موږ باید خپله بې عدالتي له منځه یوسو نه دا چې کوچنی د حمـام له اوبو سره یوځای ایسته وغورځوو.))**

**مالتي وویل: (( ښځې حقوق غواړي د دې لپاره چې له هغو نه په ښې ګټـې اخیسـتو سره وکولی شي د نارینه وو مخه ونیسي څو د دوی حقوق تر پښو لاندې نه کړي.))**

**مهتا ځواب ورکړ: (( په دې نړۍ کې ستر حقوق د خدمت او فداکارۍ له لارې لاس ته راغلی دي. او تاسو همدا اوس د دې حقونو څښتنان یاست. د رای ورکولـو حقـوق د هغو په پرتله کم ارزښته دي. زه ډېر خواشینی شم چې وایم زموږ ښځې غرب خپـل ایډیال ګرځولی دی. هلته ښځې د خپل پټ او عزت له مقام نه رالویدلې دي. هغه نوره د کور میرمن نه ده. بلکې د ځان ښودنې او ننداړې یوه ټوټه ده. د جایزې نندارتون او د ساتیرۍ او خوشحالۍ وسیله ده. په غرب کې ښځه غواړي چې ازاده و اوسـي څـو وکولی شي د ژوند تر اخیرنۍ حده پورې خونـد واخلـي، خـو جسـماني خوشـحالي هیڅکله زموږ د ښځو ایډیال نه دی ګرځیدلی، راځئ هغه شیان را واخلو کوم چې په غربي کلتور کې ګټور دی. تل د یوه او بل کلتور تر منځ راکړه ورکړه نه شته. خـو پـه پټو سترګو د نورو پیښې کول د اخلاقي کمزورتیا او افلاس نښه ده. د غرب ښځې نور نه غواړي چې د کور د میرمنو په حیث پاتې شي. کله چې زه تعلیمیافتـه ښـځې پـه غرب کې وینم چې په ښکاره سره د خپل بدن لاسونو پښو ښکلا او طلسم ننداړې ته ږدي. د دوی لپاره خواشینی کیږم. د جذباتو او پاریدنې لپـاره د دوی لوالتیـا د دوی سترګې دومره پټې کړې دي چې نور د حیا په باره کې فکر نه شي کولی. د ښځو لپاره تر دې نه لوی اهانت بل نه شته. ))**

**هال بیا له چک چکو ډک شو. میرزا اون کار ته وویل: (( شکمن یم چـې دا مناقشـې هم رد کړای شي.))**

**اون کار د ضد او کینې له مخې وویل: (( دا یوازینۍ معقوله خبره وه چـې ده پـه دې وینا کې وکړه. ))**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**میرزا وویل: (( نو یوه خبره په تاپور ته شوه.))**
**اون کارناتهـ وویل: (( زه هیڅا ته غاړه نه ږدم. زه به هغه تکی پیدا کړم. انتظار وباسه او سیل کوه. سبا بیا د بر ښې ورڅپانې ورکوه.))**
**(( ستا مقصد دا دی چیرته چې حقیقت تا رابولي چیغې او ناري نه وهي؟ ستا یوازې هغو مناقشو ته پام وي کوم چې ستا مړاوی شوی نظر یې را ویښ کړی.))**
**مهتا خپلې وینا ته دوام ورکړ: (( دا یوه دسیسه او توطیه ده چې د نارینه وو له خوا تنظیم شوې ده هغه نارینه چې د جنسي تمایلاتو لاره تعقیبوي لکه غوایي چې د نورو په کروندو کې خوشې شي او هر شي چې پر مخه ورشي حمله پرې وکړي. د نارینه وو دسیسه پخوا غبر کې بریالۍ شوې ده. هلته ښځې انځور شوې نانځکې دي. زه شرمیږم چې دا ناوړه باد اوس په هند کې په لګیدو پیل کړی، څو د توبې او فداکارۍ عنعنه له منځه یوسي. تعلیمیافته ښځې په خاص ډول ډېر ژر په دې ناروغتیا اخته کیږي. د کورنۍ میرمنې ایډیالونه له لاسه ورکوي او خپل ځانونه په بې مناسبه پتنګانو بدلوي.))**
**ساروج په قار سره خپل اواز پورته کړ: (( مور د نارینه وو سلا مشورې نه غواړو. که نارینه غواړي آزاد و اوسي، مور هم غواړو. زمور نجونې نور نه غواړي واده ته حرفوي بنه ورکړي. وروسته له دې نه مینه به د واده یواځینی اساس وي!))**
**له هرې خوا نه. په خاص ډول مخکې کتارونو نه چې هلته میرمنې ناستې وې ډېر لاسونه پورکیدل.**
**مهتا چې آرامه او کراره ولاړ و په سره سینه یې ځواب ورکړ. (( هغه څه ته چې تاسو مینه وایي. یو ابهام دی د تمایل اوښتنې لوڅ مخ دی. همداسې چې زیاتره وخت له نفسي کارونونه لاس اخیسته یا انکار د مادي محرومیت یوازینی چاڼ شوی نوم دی. واقعي خوښي او رښتیاني تسلي او ډاډګیرنه له ځان نه فارغ خدمت څخه لاس ته راځي. له ځان نه فارغ خدمت د حقوقو سرچینه او د قدرت منبع ده. چیرته چې خدمت نه وي هلته بې اعتمادي وي. څرنګه چې تاسو د نارینه وو ژوند رهبري کوئ. ستاسو مسوولیت زیات دی. که تاسو وغواړئ کولی شئ د ژوند بېړۍ له منځه نه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنجات ساحل ته ورسوئ. خو په یوه ښویېدنه به ببړۍ ډوبه شي او تاسو به هم له ځان سره ډوب کړي.))

وینا پای ته ورسیده. دا چې موضوع د شخړې او مخالفت وړ وه. ډېرو ښځو د خبرو کولو اجازه غوښتې وه. ډېره ناوخته شوې وه. مالتي هم جلسه له ډاکتر مهتا نه په مننې سره پای ته ورسوله. مخکې له تمامیدو نه هغې اعلان وکړ چې راتلونکې یکشنبه به یو ځو کسه میرمنې په همدې موضوع پورې اړوند خپل نظریات وړاندې کړي.

رای مهتا ته مبارکي ورکړه او ویې ویل: (( زه له هرې خبرې سره چې تا وویل موافقه لرم.))

مالتي وخندل: (( که چیرې تاسو مبارکي ور نه کړئ، نو څوک یې ورکړي؟ کهنه په ځیر سره مالتي ته وکتل لکه چې کوښښ یې کاوه د هغې ماغزه ولولي. نو بیا یې جرآت وکړ او ویې ویل: (( زما په نظر داکتر مهتا له زمانې نه وروسته پاتې دی.))

د مالتي لهجه تنده غوندې شوه: (( کومې نظریې؟))

(( زما منظور خدمت او فداکاري او نور ټول دي.))

( (که چیرې تاسو فکر کوئ چې د مهتا نظریات د سل کاله پخوا لـه مـوده لویـدلي نظریات دي. موږ به خوشحاله شو چې ستا نوي او له مود سـره برابـر نظریـات واورو. څنګه څوک کولی شي په واده ژوند بریالی شي ته کومه خاصه نسخه لرې؟))

کهنه وشرمید. د هغه مقصد د مالتي خوشحالول و، خو د هغې په قار کیدو تمامه شوه. میرمن کهنه خپل مېړه پسې د موټر خوا ته لاړه میرزا هم لاړ. مهتا خپلـه امسـا لـه ستیج نه را واخیسته او د تګ په حال کې و چې مالتي له لاسه کلک ونیو. په سـترګو کې یې تمنا او هیله له ورایه بر ېښیده. (( ته داسې نه شې تلی. راځه چې پلار ته دې ور وپیژنم. د ماښام ډوډۍ له مور سره وخوره.))

مهتا په ساتیرۍ او شوخۍ سره خپل غوږونه راکش کړل: (( که نه خپـه کیـږې. نـن ساروج به زما سر وخوري. زه له دغو نجونو نه ډاریږم.))

(( نه، هوش کوم. زه یې ځارنه کوم چې څه ونه وایي. ولې. هغه به آن خپلې شـونډې هم بیرته نه کړي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( ډېر ښه. زه به يو څو شپې وروسته درشم.))

(( نه، ما يوازې مه پرېږده ساروج زما موټر بيولی. ته به ما کورته ورسوې.))

دوی د مهتا به موټر کې سپاره شول.

پنځلسمه برخه

هغه شپه چې را ورسيده چې د کليوالي جرګې مشرانو هوري جريمه کړی دی. نوکي رام ناظر پسې يې سړی ور وليږه. د هغه نه خوښيده چې په داسې يوه موضوع کې دی په تياره کې پاتې شي .هغه نوکي رام ته اخطار ورکړ: (( زما په دربار کې د هغو کسانو لپاره چې دوی هغه کارونه چې بايد وکړي، نه کوي؛ ځای نه شته.))

نوکي رام چې له دننه خوټيده په نري اواز وويل: (( په دې کې زه يوازې نه وم. ما د دومره ډېرو په مخکې څه کولی شوای؟))

رای د هغه وتلې خېټې ته په ځير وکتل او ويې ويل: (( مرداره خوله دې وتړه! تا بايد يو ځل دا موضوع ما ته ويلې وای. زه به د جرګې مشرانو ته اجازه ور نه کړم چې جريمه ولګوي، څو موضوع اړوندو مقاماتو ته ونه رسوله شي. د جرګې مشران څه حق لری چې زما او زما د کروندګرو په منځ کې ودريږي؟ زه پرته له دغو جريمو نه څه عايد لرم؟ که چيري جريمې ستاسو خلکو په جېبونو کې ولويږي. نو زه څه کاره شوم؟ آيا زه په هوا باندې ژوند وکړم؟ دوی له هوري نه څومره اخيستې دي؟))

(( صاحب. اتيا روپۍ.))

((نغدې؟))

(( صاحب. نغدې يې نه درلودې. لږ څه يې جنس ورکړ. د پاتې په مقابل کې يې خپل کور ګرو کړ.))

رای ژر خپله خبره واړوله او د هوري خوا يې ونيوله: (( پوه شوم! نو تا او ستا ټګمارو د جرګې مشرانو زما يوه با اعتباره کروندګر لا پخوا برباد کړی دی! زه ستاسو نه پوښتم چې تاسو څه حق درلود چې پرته زما له مشورې زما د کروندګر په کارونو کې لاس ووهئ؟ زه کولی شم ستاسو ټولو دار او دسته د دې کار له امله اووه کاله په بنديخانه کې واچوم. ودريږه. هوري او د هغه زوی ما ته راوليږه.))

نوکي رام چې ډېر کم راغلی و، وويل: (( د هغه زوی د پېښې په شپه تښتيدلی دی.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

رای له قاره وپړسید: (( ما ته دا چټي دروغ مه وایه! هیڅ ځوان وروسته له دې نه چې خپله د ژوند ملګری کور ته راولي. نه تښتي. که چیرې دی تښتیده، نو ولې یې هغــه کور ته راوستله؟ په دې کار کې ستاسو نه د یوه لاس شته. آن که تاسو د خپلــې بــې ګناهۍ د ثبوت لپاره ځان د ګنګا اوبو ته هم ور وغورځوئ په تاسو باور نه کوم. له رای سره مناقشه ګټه نه درلوده بادار تل رښتیا وایي او حق په جانــب وي. کلــه چــې یــو شتمن راوپاریږي هغه به تر هغو پورې ارامه نه شي، څو قار او غضب یې خپل معراج ته ونه رسیږي.

کله چې د جرګې مشرانو د رای پریکړه واوریدله. له ډار نه کرخت شول. غله یو ځــای وه. خو پیسې دوی لا پخوا سره وېشلې او خرڅې کړې وې. په دې کې هیڅ شک نه و چې د هوري کور تر ګروۍ لاندې وه. د هوري لپاره په لکهاو ارزیده، خو د دوی لپــاره هیڅ. دلته رای و چې غوښتل یې خپله برخه یو پاو غوښه واخلي. هوري بایــد د ده د غضب اور ته لمن وهلي وای. پاتشیواري لال تر ټولو زیات ویریدلی و. هغه ښــایي آن خپله دنده له لاسه ورکړې وای.

پاتیشواري خپله غاړه جګه کړه او ویې ویل: (( ما تاسو ته خبرتیا درکړې وه چې ځان د دې غوا په کار کې مه داخلوئ، خو حرص ستاسو سترګې ړندې کړې وې. اوس هــم چانس شته. هر یو شل روپۍ راوباسئ. که چیرې رای پولیسو ته لاړ شي، زمــوږ کــار خلاص دی.))

داتادین په ډېر قار او غضب وویل: (( شل روپۍ! زه شل پیسې نه لرم. موږ مجبوره یو برهمیانو ته میلمستیا ورکړو او مذهبي مراسم پر ځای کړو. دا ټول پیسې غواړي. آیا رای جرآت کولی شي چې ما بندیخانې ته ولیږي؟ د برهما د ورانوونکي په شان به یې کور له خاورې او ایرو سره برابر کړم! آیا دی پوهیږي چې له یوې برهمن ســره نــاوړه چلند څه مانا لري؟))

جهنګوري سنګ هم همدا شان خبرې وکړې. هغه وویل چې د رای نوکر نه دی. نه یې هوري وهلی او نه یې له جبر او زور نه کار اخیستی دی. له بلې خوا دوی هغه ته موقع ورکړې ده چې د خپلې ګناه متلافي وکړي. دوی ولې د دې کار لپاره بندیخانې تــه لاړ شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوکي رام ډاریده چې ښايي ونه کولی شي دومره ژر په چل ول بانـدې ځـان خـلاص کړي. د ده تنخوا په میاشت کې ایله لس روپۍ کیده. خو کلنی عاید یې د شکونې لـه مدرکه له زرو روپیو کم نه و. هغه د خپلې ګروندې کارونه د اجباري کار له لارې سر ته رسول او کوم وخت به چې د پولیسو دفتر ته وغوښتل شو. آن د پولیسو آمر به ده ته ځوکۍ تعارف کړه. خو پاتیشواري د مالیي د کاتب په توګه موقف درلود او د ســاتیرۍ په ډول یې په پور ورکولو ځان مشغول کړی و. که چیرې دی له خپلې دندې نه ګوښه کړای شي د ده بده وضع به څنګه وي؟ دوه ورځې په دغو اندېښنو کې راګیر شــوی و او بیا نا ببره یوه عالي مفکوره یې په ماغزو کې راوځرخیده. کلــه کلــه بــه یــې چــې محکمې ته تګ راتګ کاوه یو ځل به د بریښ دفتر ته ور ننووت. ولې د بریښ مسوول مدیریت ته یو بې نومه لیک ونه استاوه او په هغه کې ولیکو چې رای څنګه له خپلــو کروندګرو نه پیسې شکوي؟

دا به څه وکړي. د نوکي رام دا مفکوره خوښه شوه. د همدې مفکورې پر بنـا دوی یــو لیک برابر کړ او هغه یې د بریښ دفتر ته ولیږه. پنډت اون کارناتهـ د داســې لینونــو لپاره شین ټاکو ناست و. هغه ژر تر ژره رای ته یو یادداشت ولیږه او په هغه کې یــې د لیک مهم ټیکي ولیکل. لیکونکی د خپلو ادعاګانو د ثابتولو لپــاره داســې انکــار نــه منونکي حقایق لیکلي دي چې دی دې ته اړباسي چې ویې مني. د یوه مسوول مــدیر په حیث د ده مسوولیتونه حکم کوي چې دا لیک د عامه خلکو د ګټــو لپــاره خپــور کړي. البته که چیرې رای په دې باره کې څه ویل لري. دی بــه هغــه هــم پــه ډېــرې خوشحالۍ سره خپور کړي. خو دوستي او ملګرتیا به دی د حقیقت له لارې نه منحرف نه کړي.

رای په خواشینۍ سره خپل سر وټکاوه. د ده لومړنی عکس العمل او پریکړه دا وه چې اون کارناتهـ ته ښه وهل ورکړي او هغه ته ووايي چې اوس آزاد دی چې د وهلو خبــر له لیک سره یوځای خپور کړي. دوهم ځل یې چې له ځان سره ښه فکر وکړ پریکــړه یې وکړه چې اون کارناتهـ سمدستي راوغواړي، هر ډول څنګ ښايي د ده پــه زیــاتې بدنامۍ تمام شي. اون کارناتهـ چې له چکر وهلو نه راستون شوی و کښیناست څو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ورځې د سرمقالې په باره کې يې يو لږ څه په ماغزو کې را وگرځې. خو د ده مـاغزه لا لهانده او سرگردانه وو. له دباندې نه يې د موټر د دريدو آواز تر غوږو شو.**
**هغه خپل کاغذونه تيار کړل او په ليکلو يې پيل وکړ. راى بـې خبـره راننـووت . اون کارناتهـ د هغه د سترې مشې لپاره ورجگ نه شو او نه يې هغه ته څوکۍ تعارف کړه. په سر سري ډول يې ورته وکتل. ته به وايې په زمکه کې يوه متهم ته گوري. پـه لـوړ آواز يې ترې نه وپوښتل: (( زما يادداشت دررسيد؟ ما اړتيا نه درلوده چې تا ته ليک درولېږم. ما بايد لومړى حقايق څېړلي واى، خو دوو ملگرو پـه مـنځ کـې ....... هـيڅ ارزښت نه لري؟))**
**راى له هوري نه پيسې نه وې اخيستې او هغه کولى شواى دا الزامونه په اسانۍ سـره رد کړي. خو هغه په دې لته کې و چې په دې منځ کې اون کار پـه څنگـه خپـل رول ولوبوي. اون کارناتهـ په خواشينۍ سره وويل: (( نو زه بله لار نه لرم پرته لـه دې نـه چې دا خبر خپور کړم. زما نه خوښيږي چې له يوه ملگري سـره دا کـار وکـړم، خـو حقيقت د خلکو شا او مخ نه گوري. که چيرې زه د خپلو دندو په سـرته رسـولو کـې ناکامه شم د مسوول مديريت څوکۍ د ساتنې هيڅ حق نه لرم.))**
**راى کښيناست او ويې ويل: (( دا به کومه گټه ونه رسوي. مخکې له دې نـه چـې زه وځوريږم ته به د دغې ورځې چې دا گام دې اخيستې افسوس وکړې. که چيرې تـه د دوستانو او ملگرو خيال نه ساتې. زه يې هم پروا نه لرم.))**
**اون کارناتهـ د يوه سرښندوکي او سرتيري حالت ونيو او ويې ويل: (( ما مه تهديدوه! هغه ورځ چې ما د ورځپاڼې مسوول مديريت دنده په غاړه اخيستله. ماله خپل ژونـد سره خداى په امانې وکړه. د يوه مسوول مدير لپاره تر دې نه د شرافت او پت نه ډک انجام نه شته چې د حقيقت او عدالت لپاره د مبارزې په لار کې مړ شي؟))**
**(( خبره خلاصه شوه. زه ستا چلنج منم تر اوسه پورې ماته د يوه ملگـري پـه شـان گڼلې، خو که چيرې د جگړې خبر وي. راځه. زما دوسته چې وجنگيږو! زما دوسته. آيا ته اريان شوى نه يې چې زه ولې ستا د دې عالي پنځو گنو کې گډون کوم؟ زه پيسـې نه لرم. خداى به ماته پيسې راکړي. ستا د خولې پټولو لپاره پنځه اويا روپۍ درکـوم. اون کارناتهـ را پاريدلى او هيجاني شوى و: (( زه فاسد کيدونکى نه يم.))**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رای لهجه د تورې به شان تیره وه: (( زما ګرانه دوسته. دا تا ته د بدې ورکولو مانا نه لري. ))

((نو مانا یې څه ده؟))

(( راځه. راته ووایه چې څه مانا لري؟ آیا احمق یې چې فکر کوې هغه کسان چې پــه آرامۍ سره ستا تاوانونه ګالي ټول احمقان دي؟ د حساب دفتر دې راوباسه، زه به تاته در وښیم چې زما له دارایي نه دې څومره اخیستې دي. په زرهاوو په لس هاوو زره .))

اون کار چې لږ غوندې نرم شوی و، وویل: (( رای صیب ته ښه پوهیږې چې وخت یې راغلی ما دا کار کړی دی.))

(( زه یې منم په یو دوه پېښنو کې تا زیات تثبیت کړی دی. خو تل دی د عامه خلکو له ګټو نه خپله ګټه معتبرې ګڼلې دي. هر وخت چې ته یوې شــخړې او جنجــال تــه ور دانګې. د ځان لپاره دې زیات عاید او عزت ګټلی دی. که چیرې غواړې همدا چال پــر ما باندې هم ووهې. زه نه غواړم چې تا سره مرسته وکړم. البته زه به تا ته پیسې در نه کړم. ځکه هغه تا ته د بدې ورکولو مانا لري. د هغې پر ځای به ستا د میرمنــې لپــاره ګاڼه تحفه درکړم. کوم اعتراض شته؟

دغه خبرونه چې تا تر لاسه کړي دي. هیڅ بنیاد نه لري. د نورو زمیندارانو په شان زه هم جریمې لګوم او هر کال یو څو زره پیسې راټولوم. که چیرې ته وغواړې چې مــا د عاید له دې منبع نه محروم کړې. ته به هم تاوان وکړې. زما دوســته. ژونــد وکــړه او پریږده چې ژوند وکړو. په دې خندوونکي لوبې او ډرامې کې څه پراته دي چې ننداري ته یې راباسې او خپل او زما موقف هم پرې کمزوری کوې؟))

رای پورته شو او اون کارناتهــ له لاس نه راونیو: (( هیله کوم کښینه زه غواړم خپــل موقف هم توضیح کړم. په دې کې شک نه شته چې تا له ما سره ډېره مهرباني کــړې ده او د هغې لپاره زه ستا مننه کوم. خنګه چې ته پوهیږې زه به د دغو پرنســیپونو د دفاع په خاطر آن خپل ژوند له لاسه ورکړم. ))

رای چې بیرته کښیناست په نرمۍ سره یې وویل: (( ډېر ښه زما دوسته. هرڅه چــې دې زړه غواړي ویې لیکه. زه نه غواړم چې زما د پت د ساتلو لپاره ته خپل پرنسیپونه تر پښو لاندې کړې. که چیرې ته پر ما باور او اعتماد لرې. دا ځل له دې خبرونو نه تېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

شه که چیرې کوم بل د اخبار مسوول مدیر وای ما به د خلکو په مخ کې دربولی وای، خو ته زما ملگری یې، ستا حالات بیخي جلا دي. دا د ورځپاڼو عصر دی. راځه نـور د دې موضوع په هلکله ونه غږېږو. را ته ووایه تیراژ څنگه دی؟))

اون کارناتهـ د کینې سره سره اعتراف وکړ چې ده څه نا څه کارونه سمبال کـړي دي هغه زیاته کړه: (( په اوسنۍ حالت کې له دې نه زیات ښه توب انتظار نه لري. مـا پـه دې مفکوره ژورنالیزم نه دی غوره کړی چې پیسې وگټم. که چیرې وکولی شم له هغو ټولو شتو او عاید سره چې زه یې لاس ته راوړم د خلکو لپاره خدمت وکړم. زما هیلـه دا ده چې زما وطن پرمختگ وکړي او سمسور شي.))

د رای زړه سوی زیات شو: (( زه ستا د احساساتو ستاینه کوم، خو د ښه خدمت کولو لپاره یو سړي باید آرام ژوند ولري. که چیرې هغه پـه مـالي سـتونزو کـې ورک وي. څنگه کولی شي ښه خدمت وکړي؟ ولې، آیا تیراژ تر اوسه پورې هغومره پاتې دی؟))

(( اصلي خبره خو داده چې زه نه غواړم د خپل اخبار ستندرد او معیار ټیټ کړم. کـه چیرې پرېکړه وکړم چې زه د سینما د لوبغاړو راپاروونکي عکسونه خپاره کړم. تیراژ به هغو ته پورته شي. زه پوهیږم دا زما د اخبار پالیسي نه ده. د لوستونکو د راجلبولو لپاره ډېرې نورې د مهارت نه ډکې لارې هم شته، زه هغه د اخبار لـه شـان نـه لـرې بولم.))

(( ستاسو ډېره زیاته ایمانداري ډېره د ستاینې وړ ده. زه یو نظر لرم: د اخبار د گډون کوونکو په لیست کې سل نومونه زما له خوا شامل کړه، زه بـه یـې د گـډون پیسـې درکړم.))

اون کارناتهـ په مننې سره خپل سر ښکته کړ: (( شکریه، دا د ډېرې خواشینۍ ځـای دی چې له اخبارونو سره د خلکو مینه کمه شوې ده. زمـو د ښـوونځیو، پوهنځیـو او معبدونو لپاره د بودیجې لړوالی نه شته. خو یو هم را وړاندې نه شو چې د اخبـارونو د پراختیا لپاره څه مرسته وکړي. اخبارونه د ټولنیزې زده کړې لپاره تر ټولو ارزانه لاره ده. که چیرې اخبارونه هم د پوهنځیو په شان مرستې تر لاسه کـړای شـي. دوی بـه خپل وخت د اخبار مخونه په اعلاناتو ضایع نه کړي. زه ستا له دې مهربانۍ نه شکریه کوم.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

رای لاړ. د اون کارناتهـ مخ د خوشحالۍ نښې نښانې نه شوای پټولی. د رای پیشنهاد د تېر ایستنې نه و. اون کارناتهـ له هغو کړو وړو خبرو سره سره چې مخکې یې وویل شوې، دغه پیشنهاد ومانه. حقیقت دا و چې اون کارناتهـ سخته مالي ستونزه درلوده. هغه په دې دریو وروستیو میاشتو کې د اخبار د کارکوونکو تنخوا نه وه ورکړې د کاغذ د سوداګر صورت حساب چې نه ړدې زرو روپیو ته رسیدلی و لا تر اوسه پورې همـدا شان بې ورکړې پاتې و.

دا پیشنهاد لکه باد راوړې ګټې په شان هغه وخـت را ورسـید چـې دی یـې د پـور غوښتلو له اهانت نه خلاص کړ.

شپاړلسمه برخه

په کلي کې دا خبر خپور شو چې رای د کلیوالي جرګې مشران ورغوښـتي دي. دوی یې توهین کړي او هغه پیسې یې چې له هوري نه شکولې وې ترې نه اخیسـتې دي. انګازې داسې هم وې چې دوی یې بندیان کړي وو. خو دوی د هغه پښو ته ور ولویدل خپلې ناړې یې ښتلې او بیا را وتښتیدل. دهنیا چې لږ څه آرامه شوې وه د جرګـې د مشرانو په باره کې غرېده. هغې به ویل: (( ښایی د بې وزلو چیغې او فریادونـه وا نـه وري، خو خدای یې اوري. دوی فکر کاوه چې په دې پیسو بانـدې بـه مـزې چړچـې وکړي. خدای داسې لړزوونکي ښپیړه ورکړه چې پیسې هم ترې نه په خوا شوې. کـه غواړې کولی شي زما پر کور هم قبضه وکړې او دیوالنه یې وڅتې.))

د کرکیلې وخت رارسیدلی و. خو هوري غوایان نه درلودل. د سپټمبر په میاشت کـې له یوه کروندګر نه د هغه غوایی اخیستل د هغه د لاسونو د پرېکولو په مانا وه. په نورو کرندو کې یوې روانې وې په ځینو کروندو کې به بزګرانو د کښت د کرلو په وخت کې سندرې ویلې، خو د هوري زمکه وچه کلکه دښته وه.

پونیا یوه جوړه غوایي درلودل او سوبا هم. خو دوی له خپلو کارونو نه وزګاریـدل څـو دوی سره مرسته وکړي. ټوله ورځ به هوري له دې کروندې نه ابلې کرونـدې تـه پـه لیوالتیا سره چټي او خوشې ورته. په ځینو کروندو کې به یې کار وموند او په نور کـې به وزګار او خوشې ناست و. له هغې غلې دانې سره چې ده تر اوسه پورې ټوله کړې وه د کورنی د غړو نسونه یې مړول. دهنیا، روپا او سونا هم په همدې ډول ځان تـه کـار

(c) ketabton.com: The Digital Library

موندلی و. تر هغه پورې چې د کښت موسم دوام درلود. ډوډۍ پیدا کول ستره ستونزه نه وه.

دباندې د دوی ماغزه یاغي کیدل او د شپې له خوا به د ښځې او مېړه پــه مــنځ کــې شخړه راپیدا کیدله. سپټمبر تیر شو. له عملي پلوه کار پیدا کول نا ممکــن و. د دوی برخه لیک د ګنیو په دغه کښت باندې چې اوس ولاړ و، تړلی و.

د ژمي یخه شپه وه او په کور کې د خوراک لپاره د هیڅ شي نښې نښانې هم نه موندل کیدې. ورځ یې په نخودو تیره کړه. روپا د ساړه نغري تر څنګ کښیناستله او له لوږې نه نا ارامه وه. د وره تر څنګ یې غلي غلي وژل. د خوراک لپاره هیڅ شی نــه مونــدل کیده. کوم وخت چې دې ونه شو کولی نوره د لوږې زغم وکړي د پونیا کور ته یــې د اور غوښتلو په پلمه ورغله. پونیا په لوښي کې سابه اچول او د ږدنو چپاتی یې پخوله. د دغو خوراکي شیانو بوی سره د روپا خولې اوبه وکړې.

پونیا ترې نه وپوښتل: (( آیا تر اوسه پورې مو په نغري کې اور نه دی بل کړی؟))

روپا په خاکسارۍ سره وویل: (( د پخولو لپاره څه شی نه و. نو اور مو بل نه کړ.))

هوري پخپلو فکرونو کې ډوب و چې داتادین، رای او نور د څه لپاره څه نوې ســتونزه راپیدا شوې ده؟ هغه د داتادین پښو ته ور ښکته شو او هغه ته یې څوکۍ تعارف کړه.

داتادین په مهربانه لهجه وویل: (( دا وخت ستا زمکه شاړه پرته ده. تا هیڅکله زمــوږ مرسته ونه غوښته. که چیرې تا زموږ مرسته غوښتې وای. بولا به هیڅکله حرکت نه و کړی چې ستا غوایانو ته لاس وروړي. هوري زه تا ته په دې پاک او سپیڅلي تار قسم خورم چې ما هیڅګله پر تا باندې جریمه نه ده ایښې. دهنیا د هیڅ شي لپاره زه بدنام کړی یم.

لا لا پاتیشواري او جهنیګوري څنګه دا کار کړی دی. زه یوازې د نصاب د پوره کولــو لپاره هلته وم، خلکو غوښتل چې نور هم له تا سره سخت چلند وشي. ما د هغو نظــر وغانده اوس دوی خواشیني دي. دوی فکر کاوه چې کولی شي کارونه هماغسې وشي چې دوی غوښتل. خو دا یې هیر کړي وو چې دلته کوم څوک هم شــته چــې پــر دې سیمه باندې حکمروایي لري. ته د خپلې کرکیلې په باره کې څه نظر لرې؟))

د هوري اواز ډېر شو: (( زه نه پوهیږم. زمکه به همداسې شاړه پاتې وي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( ستا زمکه به تر هغو پورې چې زه دلته یم شاړه نه شي. سبا بــه زه ســتا د کښــت بندوبست وکړم. زمکه تر اوسه پورې هم نمجنه ده. هیڅ تاوان نه لري یوازې دومره به وشي چې د حاصل اخیستل به لس ورځې ټال وخوري. موږ به په نیمایي سره شریک شو. فکر کوم دا مناسب کار دی. همدا نن ماته دا فکر راپیدا شو. زه ډېر ځوریږم چې ستا شودیاره شوې زمکه شاړه پاتې شي. دا واقعاً ځوروونکې ده.))

هوري چې د باراني موسم په وخت کې زمکې ته سره ورکړې او بیا یې یــوې کــړې وه اوس په دې معامله باندې موافقه وکړه. داتادین په خوشحالۍ سره وویل: (( راځه، زه به تُخم درته وتلم. ته کولی شې سبا سهار لومړنۍ کار چې کوي هغه تُخم شیندل وي. ډوډۍ خو به دې خوړلې وي؟ ))

هوري په بې میلۍ سره وویل : (( دوی نن شپه نغری نه دی لګولی.))

داتادین د غندنې په توګه ورته وویل: (( زه ستا دښمن نه یم. ما ځوروې. په دې کــې څه خبره ده چې دومره حساس یې؟ په موږ ټولو دا حال راځي. همداسې نه ده؟ څــه فرق کوي که چیرې ته له ټیټې فرقې نه یې او زه یو برهمن یم. موږ ټول د یوې کورنۍ غړي یو. موږ د ژوند له ترخو او خوږو سره مخامخ کیــږو. کــه ســبا ورځ ماتــه کومــه ستونزه راپیدا شي. که چیرې ستا مرستې ته را ونه دانګم بل چا ته به ورشم؟ په هــر صورت ته هرڅه چې شوي، شوې. راځه زه به یو یا دوه مونډه غله درکړم.))

هوري وروسته له نیم ساعت نه له یوې ټوکرۍ سره چې یو منډه اوربشې په کــې وې راستون شو. دهنیا چې اوربشې میچن کولې ژړله یې سبا ته د کښت کاروبار پیل شو. هوري او د هغې کورنۍ دومره په شوق او زیار سره ضربتې کار کاوه چې تا بــه ویلــې ټول حاصل به د دوی وي. څو ورځې وروسته دوی کښت ته هم پــه همــدې شــوق او مزې اوبه ورکړې. داتادین بې بیه ډېر ښــه مــزدوران درلــودل. اوس نــو د هغــه زوی مادادین د هوري کره ډېر تګ راتګ درلود.

ماتادین چې بې باکه او څو ژبی و. هغه څه چې له ښې یا بدې لارې نه راپیدا کول پــه شرابو او ساتیرۍ یې لګول. یوه موچي ښځه د ده معشوقه وه او ده تر اوســه د ځــان لپاره ښځه هم نه وه موندلې. ټول کلی پرې خبر و. خو ټولو ځان غلی نیــولی و. زمــوږ خوراک زموږ دهرما ده؛ که چیرې موږ خپل خوراک سپیڅلی وســاتو. نــاروا او منــع شوي شیان ونه خورو، زموږ دین سپیڅلی پاتې کیږي. زموږ خــوراک د دهرمــا نــه د خلاف کارونو په مقابل کې یو پوښ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داتادین چې اوس د هوري شریک و. ډېر ځله به دا موقع ورته برابره شوه چې له جونیا سره خبرې ورکړي. هغه به په ځیرکۍ سره د هوري کره د خپل راتګ وختونه داسې عیار کړل چې څوک به په کور کې نه و. جونیا په رښتیا ښکلې نه وه، خو ځوانه وه او له موچي نه ښه ښکاریدله، ښاري ژوند هغې ته د ښه اغوستلو او په زړه پورې خبرو کولو کره وړه ور زده کړي وو. هغه حیاناکه وه. کوم چې د یوې ښځې تر ټولو ستره ګاڼه ده. کله کله به چې داتادین د هغې کوچنی په غیږ کې اخیسته، هغه به ډېره خوشحاله شوه. یوه ورځ هغه له جونیا نه وپوښتل: (( ته څه شي دې ته اړ ایستلې چې له ګوبار سره را وتښتې؟))
هغې په شرمناکه توګه ځواب ورکړ: (( قسمت دلته راوستلم. نور څه ویلی شم؟))
داتادین چې غمجن ښکاریده، وویل: (( څومره بې وفا دی. د تاغوندې لکشمي یې دلته یوازې پرېښودلې ده او په خپله کله یوې خوا او کله بلې خوا ګرزي هغه له خپل لوز نه اوښتی دی. فکر کوم چې کوم بل چیرته یې سر ګرم کړی دی. داسې خلک باید په ګولۍ وویشتل شي.))
جونیا په ژړا پیل وکړ. داتادین شاوخوا ته وکتل او د هغې لاس یې ونیو: (( که چیرې هغه تللی پریږده چې تللی وي تا هیڅ شی له لاسه نه دي ورکړی. زه به تا ته هر هغه څه چې ستا هیله وي در کړم. پیسې، کالي، ګاڼه او نور هر څه چې ته وغواړې))
جونیا په ارامۍ سره خپل لاس ترې نه خلاص کړ او شا ته ودرید: (( مهاراج ته ډېر مهربانه یې. زه د دوو وندیو په منځ کې ورکه شوې یم.))
داتادین دلاسا کړه: (( هغه یو بدماش دی. ساده انسان دی. کله کله به یې له خپل مور او پلار سره شخړه کوله. بد اخلاقي د هغه عادت دی. که مداخله نه وای کړې او دی مو نه وای ژغورلی د پولیسو امر به دې نیول و. ولې. آن هغه د غلا کار هم کاوه. ))
ماتادین په دفاعي حالت کې وویل: (( د باراني موسم په وخت کې آن لرګی هم نم اخلي. نو غله یې ولې وا نه خلي؟ ))
هغه ووت سونا د هغه مجلس ورګډوډ کړ. په راتلونکي موسم کې د بورې نوکې فابریکې چې د ښاغلي کهنه ملکیت و په تولید پیل کاو د فابریکې نماینده ګان له یوه کلي نه بل کلي ته سرګدانه و او د ګنیو ولاړ کښت یې اخیسته. یوه ورځ دوی د هوري کلي ته راغلل د خبرو اترو په لړ کې کروندګرو ته معلومه شوه چې په ګوړه باندې د ګنیو بدلو په فابریکه باندې د کښت له خرڅلاو نه زیاته ګټه نه درلوده. څرنګه چې ګنې او ګوړه عین بیه لري، نو په ګوړه باندې د ګنیو بدلولو زیار او ربړ ګلل څه ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري. که آن چیرې دوی په دې کې لږ غوندې پیسې تر لاسه کوي. نقصان یې په فوري نغدو پیسو اخیستلو کې وځي. یو کروندګر کولی شي پر دغــو پیســو بانــدې غــوایی واخلي. بل کولی شي د زمکې اجاره ورکړي. بل یو کولی شي د پور ورکوونکو تنده لږ غوندې ورماته کړي.

د هوري زیاته غوښتنه او هیله د یوې جوړې غوایانو اخیستل وو. ده هیله درلوده چې د ګنیو له خرڅلاو نه د سلو روپو په شاوخوا کې لاس ته ورشي، دا به ده ته یوه جــوړه غوایي شي. خو پور ورکوونکي به څنګه شي؟ داتادین دا ټولې پیســې بــه آن د دوی سود هم پوره نه کړي. ده په خپل ژوند کې داسې لاره چاره نــه شــوی مونــدلی څــو پیسې لاس ته راوړي او څوک پرې خبر نه شي. ستره مسئله د غوایانو اخیستل وو.

خو څنګه؟ دوی به ټول له کراچیو نه د هغه مال ښکته کیدل او د تلې پر ســر د هغــه پیسې اخیستل وګوري. همداسې هم کیده داتادین او ملګرو به د ســیوري غونــدې هغه تعقیب کړی او سم په هغه وخت کې به ځانونه را ورسوي چې پیسې له یــوه لاس نه بل لاس ته راځي.

مانښام ګیردار وویل: ((هوري کاکا. ته څه وخت خپل ګني فابریکې ته وړې؟))

هوري ځان تیر کړ: (( ما تر اوسه فکر نه دی کړی. ته څنګه؟))

ګیردار په تیر ایستونکې لهجه وویل: (( کا کا، ما هم تر اوسه په دې باره کې فکر نــه دی کړی. ))

نور کلیوال تیر ایستونکي وو. ټول یو پر بل شکمن وو. د ټولو چې تر پور لاندې ډېــره ستره غوښتنه دا وه چې د جهینګوري سنګه له څوکیدارو سترګو نه ځان وغړوي.

سوبا له هوري نه وپوښتل: (( آیا نه شې کیدای چې جهینګــوري ســنګ کــولرا مــړ کړي؟))

هوري په موسکا شو: (( په هغه صورت کې به د ده له کورنۍ نه څوک ساتنه وکړي؟))

(( آیا موږ باید د هغه د کورنۍ په فکر کې و اوسو او که د خپلې؟ هغــه پــه آرامــۍ او راحت سره دوه ښځې ساتلې. موږ ته د یوې نس مړول ګران کار دی. زموږ ټول حاصل به دی واخلي. موږ ته به هیڅ شی پاتې نه شی. ))

(( ماته خو نه وایې. وروره. زه آن غوایي هم نه لرم.))

د ګنیو وړل به لږ تر لږه دوه یا درې ورځې ونیسي. ولې د تلې جمادار ته ونه وایو چې د تللو په کار کې لږ بیړه وکړي؟ (۱۲: انیس اخبار)

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه

انیس اخبار، کال: ۱۳۷۰ لمریز، د ثور، جوزا، سرطان، اسد او سُنبلې میاشتې پرله پسې ګڼې.

خموش، عبدالقدیر، ۱۳۸۸ هجري لمریز، د ژباړې فن، نا چاپ اثر.

رهپو، محمد صدیق، ۱۳۶۹ لمریز، فالبین( ګزینه داستان های کوتاهه نویسنده ګان هند) مطبعه دولتي، مخ (د).

سکسینا، رام بابو، د میرزا محمد عسکري ژباړنه، د اردو ادب تاریخ، ۵۴۰ مخ، چاپ ځای: انتظارلاج، غفار منزل.

غوربندي، میراجان، ۱۳۸۸ لمریز ، د نړۍ ادبیات،جهان دانش خپرندویه ټولنه.

کریم، قیوم، ۱۳۶۹ لمریز، د لیکوال عزت (د منشي پریم چند غوره کیسې)، د چاپ ځای دولتي چاپخونه ـ لینو ټایپ.

مجروح، سید شمس الدین، ۱۳۹۱ لمریز، مجموعه مقالات علمي، سیاسي و اجتماعي، چاپ ځای افغانستان، کابل، مطبعه افغانستان تایمز.

نیازی، رفیع الله ،۱۳۹۴ لمریز، پښتو ژبې ته د روښن لال ملهوتره خدمتونه، د ماسترۍ تیزس، افغان ـ هند فونډېشن، افغانستان ټایمز مطبعه.

وجیندر سناتک، مترجم خورشید عالم، ۱۹۹۹میلادي، هندي ادب کي تاریخ، ساهیته اکاډمي.

هېوا دمل، زلمی، ۱۳۷۹ لمریز، د پښتو ادبیاتو تاریخ(لرغوني او منځنۍ دوره)، لومړی ټوک، دانش خپرندویه ټولنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک له هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (حکم خان حبیبي ) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له ژباړونکي، سمونچاري او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د ژباړلو، سموولو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خپرونو لړ: ۱۱۹

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**